# د افغانستان
# منازعه او پخلاینه

(د نوي نسل او ځوانانو د غوښتنو ځانګړې څېړنه)



د سولې لپاره د اړیکو ګروپ
او د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه

د ۱۴۰۱ ل. ل اوړی

بسم الله الرحمن الرحيم

# د افغانستان منازعه او پخلاینه

**د نوي نسل او ځوانانو د غوښتنو ځانګړې څېړنه**

**۱۴۰۱ ل.ل اوړی**

**د افغانستان منازعه او پخلاینه**

د نوي نسل او ځوانانو د غوښتنو ځانګړې څېړنه

---

د سولې لپاره د اړیکو ګروپ او د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه

کابل - ۱۴۰۱ ل.ل اوړی

---

www.contactgroup.af

info@contactgroup.af , ycg۴peace@gmail.com

## مننه او درناوی

د یادونې وړ ده، چې د دې سـتر څېړنیز کار بشـپړول، چې په کې په افغانسـتان کې د سـولې د ټینګښـت لپاره د نوي نسـل او ځوانانو د هڅو، زیارونو او غوښـتنو څېړل، د سـولې بهیرونو او په دوحه کې د افغانسـتان د سـولې بهیر د ناکامۍ لاملونو ته لنډه کتنه، په افغانسـتان کې د اوږدمهاله کړکیچ او واک پر سـر شـخړو ته بیا کتل، شـامل دي، د سولې لپاره د اړیکو ګروپ او د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې د همکارانو هر اړخیزو مرسته پرته شوني نه وو.

ځای لري، چې د ښـاغلي اسـتاد نعمت الله سـلطاني له نه سـتړي کیدونکیو هڅو او زیارونو څخه، چې د دې څېړنې د سمون او معلوماتو د ارزونې لپاره یې ترسره کړي دي، مننه وکړو او د لوی څښتن تعالی له دربار څخه په چارو کې ورته بریالیتوب غواړو. همدارنګه د همایون میاخیل او احســـان الله حکمت له هڅو څخه مننه کوو، چې دا څېړنه یې پښتو ته ژباړلې ده.

همدارنګه د سولې لپاره د اړیکو ګروپ او نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې له ټولو همکارانو، د سولې جرګو او سولې غوښتلو غونډو د جوړولو کمیسیونونو له رئیسانو او غړیو، د ولایتي همکارانو او د سکرتریتونو له مسؤلینو او مشـرتابه، د دې څېړنې د تدوین، اوډونکیو او چاپ له تخنیکي همکارانو څخه مننه او قدرداني کوو. په افغانسـتان کې د تل پاتې او سراسري سولې په هیله.

**په ګډه د افغانستان لپاره**

**په درناوي**

**د سولې لپاره د اړیکو ګروپ**

**او د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې مشرتابه**

## لنډیز


دا څېړنه « د افغانستان منازعه او پخلاینه؛ د نوي نسل او ځوانانو د غوښتنو ځانګړې څېړنه» تر سرلیک لاندې، د کیفي منځپانګې تحلیل په میتود ترسره شوې ده. د دې څېړنې د موندنو پر بنسټ؛ په وروستیو دوو لسیزو کې د افغانستان د سولې هڅې د وخت د حکومتونو، د امریکا متحده ایالتونو او د ملګرو ملتونو د سولې ماموریت لخوا د طالبانو اسلامي تحریک سره پر مخ تللې. د افغانانو په اړخ کې، د سولې بهیر په حکومت کې شامل ټکنوکراټانو، جهادي تنظیمونو او یا هم د هغوی استازو او د طالبانو اړخ د نوي نسل او ځوانانو له اغیزناکه ګډون پرته پر مخ وړل کېدې. د افغانستان نوي نسل او ځوانانو په (۱۳۹۰) کې د افغانستان ځوانانو ملي کنفرانس څخه بیا په (۱۳۹۱) کې د افغانستان ځوانانو د سولې جرګې پورې او بالاخره د سولې لپاره د ځوانانو د اړیکو ګروپ جوړېدو (اوس مهال د سولې لپاره د اړیکو ډلې باندې مختصر شوی) (۱۳۹۸ تر اوسه) پورې په ۳۰ ولایتونو کې د «نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې» او د سولې غوښتلو غونډو، ناستو، کنفرانسونو په جوړولو، د اعلامیو په خپرولو او په رسنیزو ناستو کې د ګډون له لارې په هېواد کې د «سولې او ثبات» ټینګښت لپاره هڅې کړې دي.

د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګو او د سولې غوښتلو ناستو له پریکړه لیکونو څخه داسې جوتیږي، چې د نوي نسل او ځوانانو غوښتنو کې «د خبرو او سیاسي هوکړو له لارې د جګړې حل، ټول ګډونه سیاسي نظام رامنځته کېدل، اوربند او په بشپړ او تل پاتې ډول د جګړې پایته رسیدل او د تل پاتې سولې ټینګښت، د ټول کټو بنسټونو له ورانیدو مخنیوی او د پوځي بنسټونو، اداري نظام او ملکي ادارو ساتل، له ټاکنو او اساسي قانون څخه ملاتړ، د ټولنیزو، اقتصادي او سیاسي لاسته راوړنو په ځیر د وروستیو دوو لسیزو لاسته راوړنو خوندیتوب، د وګړیو په ځانګړي ډول د ښځو حقونه، د مطبوعاتو او رسنیو خپلواکي، د سولې بهیرونو څخه څارنه او د نړیوالو مالي ملاتړ دوام » شامل دي.

په هېواد کې پراخو سیاسي بدلونونو ته په کتو، نوی نسل او ځوانان وړاندیز کوي، چې د سولې ټینګښت «تل پاتي سوله او دوامداره ټیکاو» لپاره، اسلامي امارت د نورو اغیزناکو خوځښتونو، نوی نسل او ځوانان او د افغانستان ښځو سره په سلا مشورو او ګډه پریکړه، «د سولې خبرو نوی بهیر پیل او ټول ګډونه، ځواکمن، دوامداره او ځواب ویونکي حکومت جوړولو نوښت» تر لاس لاندې ونیسي.



**کلیدي ویونه:** منازعه، پخلاینه، د واک پر سر شخړې، ناکامه سوله او نوی نسل او ځوانان

# لړلیک

سریزه ........ ۱
د څېړنې طرحه ........ ۳
۱. د مسئلې بیان........ ۳
۲. د څېړنې پوښتنې........ ۵
۳. د څېړنې فرضیې........ ۵
٤. د معلوماتو د را ټولولو میتود........ ٦
٤-۱.وګړي ........ ٦
٤-۱.نمونه ........ ٦
۵. د معلوماتو د ارزولو میتود........ ٦
٦. د څېړنې موخې........ ٦

لومړی څپرکی

د څېړنې نظري چوکاټ

۱. د سولې په برخه کې څېړنه........ ۷
۲. د منازعې نظري چوکاټ........ ۸
۲-۱. د منازعې پېژند ........ ۸
۲-۲. د منازعاتو ډولونه........ ۸
۲-۳. په منازعاتو کې د ښکیلو ټولنو ځانګړتیاوې ........ ۹
۲-٤. د منازعاتو د ارزونې چوکاټ........ ۱۰
۳. د مصالحې نظري چوکاټ........ ۱۱
۳-۱. د سولې پېژند ........ ۱۱
۳-۲. د سولې دولونه ........ ۱۲
۳-۳. د پخلاینې د تحلیل چوکاټ........ ۱۳

دویم څپرکی

د واک پر سر شخړو او د سولې ناکامو بهیرونو ته کتنه

۱. په افغانستان کې د واک پر سر شخړو ته کتنه........ ۱٦
۱-۱. د داوود خان له کودتا څخه د نجیب الله د حکومت تر نسکوریدو........ ۱٦
۱-۲.واک ته د جهادي تنظیمونو رسیدل........ ۱۷
۱-۳.د طالبانو اسلامي تحریک او د امارت رامنځته کیدل........ ۱۸
۱-٤.د افغانستان اسلامي جمهوریت جوړیدل........ ۱۹
۱-۵.د اسلامي امارت بیا جوړیدل........ ۲۰
۲. د افغانستان د سولې ناکام بهیرونه ........ ۲۱
۲-۱. د جینیوا تړون........ ۲۲
۲-۲. د ملي پخلاینې او مصالحې طرحه ........ ۲۲
۲-۳. د ملګرو ملتونو د سولې طرحه او د بنون سیوان هڅې........ ۲۳
۲-٤. د راولپینډۍ – پېښور او اسلام آباد سیاسي هوکړې........ ۲۳
۲-۵. له بن نه تر دوحې له طالبانو سره د افغانستان د سولې بهیرونه........ ۲۵

دریم څپرکی

د معلوماتو ارزونه

۱. د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګو او د سولې غوښتلو غونډو ځانګړنې ........ ۳۷
۱-۱. نوی نسل او ځوانان........ ۳۷
۱-۲ د پروګرامونو ځانګړنې ........ ۳۷

۱-۳. د ګډونوالو ځانګړنې.............................................................. ۳۷
۱-٤. د څېړنې د ترسره کولو جغرافیه...................................................... ۳۸
۱-٥. د څېړنې د ترسره کولو موده........................................................... ۳۹
۱-۶. د پرېکړه لیکونو د لیکلو کړنلاره..................................................... ۳۹
۱-۷. د پوښتنو محور ............................................................................. ۳۹
۲. د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې او د سولې غوښتلو غونډو د پرېکړه لیکونو ارزول ........... ٤۰
۲-۱. د نوي نسل او ځوانانو انسجام ............................................................ ٤۰
۲-۲. د نوي نسل او ځوانانو نیوکې.............................................................. ٤۱
۲-۳. د نوي نسل او ځوانانو غوښتنې........................................................... ٤۳
۳. ګروپي مرکې........................................................................................ ٥۲
۳-۱. د سولې بهیرونو د ناکامۍ لاملونه ..................................................... ٥۳
۳-۲. د نوي نسل او ځوانانو له انده د واک پر سر د شخړو لاملونه ................................ ٥۹
۳-۳. د واک لپاره شخړو کې د سیمه ییز موقعیت ونډه............................................ ۶۲
۳-٤. د واک پر سر شخړو کې د قومي، ژبني او سمتي مسائلو کارول................................ ۶٥
۳-٥. له زلمي خلیلزاد سره د اړیکو ګروپ د ناستې معلومات ..................................... ۶۶
۳-۶. د نوي نسل او ځوانانو له نظره د افغانستان د سولې راتلونکی ................................ ۶۷

## څلورم څپرکی

## پایله او وړاندیزونه

پایله ................................................................................................... ۷۰
وړاندیزونه............................................................................................... ۷٤
د څېړنې محدودیتونه ................................................................................ ۷۷
سرچینې.................................................................................................. ۷۸
ضمایم: د جرګو او سولې غوښتلو غونډو پریکړه لیکونه .................................. ۸۱
د سولې جرګې او غونډې ........................................................................... ۱۳٥

# سریزه

وروستۍ نیمه پیړۍ په افغانستان کې د واک پر سر د شخړو شاهده ده. دا شخړې د کودتا، یرغل او ښکیلاک، د ختیځ او لویدیځ سیاسي نظام او ایدئولوژیو پلي کول، پراخ بنسټه سیاسي نظام نه رامنځته کیدل او له هېواده بهر د حکومتونو مالي، پوځي او سیاسي ترلاو او ملګرتیا په چوکاټ کې رانغښتي دي. له بلې خوا د ګاونډیو، سیمې او نړۍ هېوادونو د شخړو په سیمه کې د افغانستان جغرافیایي موقعیت د دې لامل شوی، څو په دې هېواد کې د جګړې اور بل وساتل شي او جګړه ایز کړکیچ دوامداره کړي. سربېره پر دې د جګړې اړخونو قومي، ژبني او سمتي مسائلو ته لمن وهلې، چې د نورو ستونزو سربېره، فرهنګي تاوتریخوالی یې هم رامنځته کړی دی. بلاخره افغانستان د واک پر سر شخړو او دوامداره جګړو کې را ښکیل شوی دی.

له بلې خوا په وروستۍ نیمه پیړۍ کې، د افغانستان د سولې هڅې د جینوا له تړون (۱۳۶۷) څخه، چې په پایله کې له افغانستان څخه د پخواني شوروي پوځیان ووتل، د ډاکټر نجیب الله د ملي پخلاینې طرحه، د ملګرو ملتونو او بنون سیوان طرحه، د پېښور او اسلام آباد هوکړې، د بن کنفرانس او هوکړو، بیا په دوحه کې د امریکا او طالبانو ترمنځ تړون (۱۳۹۸) پورې، چې په پایله کې یې امریکایي او ناټو ځواکونه له افغانستان څخه ووتل، خو هیڅ کوم یې په افغانستان کې د سولې د ټینګښت سبب نه شو.

په وروستیو دوو لسیزو کې د افغانستان د وخت حکومتونو له طالبانو سره د نوي نسل او ځوانانو اغیزناکه ګډون پرته په حکومت کې ښکیلو ټکنوکراټانو او جهادي تنظیمونو په ګډون د سولې پیل شوې هڅې سنتي او مړه ډیپلوماسي رامنځته کړې وه او بلاخره د طالبانو د تحریک پوځي واک په پراختیا او د ولایتونو او کابل په نیولو سره د افغانستان د سولې بهیر د یو شمېر لاملونو له امله ناکامه پاتې شوو.

افغانستان کې اوس هم د واک لپاره شخړې شتون لري. ځکه له پوځي لارې د طالبانو تحریک واکمنیدل له یوې خوا د مخکیني حکومت زیات شمېر چارواکي له هېواده وتښتیدل او د جهادي تنظیمونو او سیاسي خوځښتونو یو شمېر مشران او د هغوی استازي، چې پاکستان ته په یوې ناسته کې د ګډون لپاره بلل شوي وو، بیرته افغانستان ته را ونه ګرځیدل. د حکومت امنیتي او دفاعي ځواکونو لوړپوړي غړیو هم هېواد پرېښود. د

بهرنیو ځواکونو همکاران، څارنوالان، قاضیان او د رسنیو یو شمېر فعالان هم له هېواده بهر شول. عام وګړي د خپلو ټولنیزو خپلواکیو له لاسه ورکولو او بې وزلۍ او وزګارۍ سره مخ شوي، له همدې امله رواني امنیت نه لري او د نوي نسل او ځوانانو مدني – سیاسي فعالان په هېواد کې روان وضعیت ته په کتو، د خپل برخلیک او سیاسي مشارکت، د پراخ بنسټه نظام او دولت نه رامنځته کېدلو، د حکومتوالۍ بڼې، سوله او ټیکاو او نورو ټولنیزو، اقتصادي او سیاسي مسائلو څخه اندېښمن دي. له بلې خوا یو شمېر بنسټپالي او سخت دریځې ډلې د غږیو د جذبولو په لټه کې دي او د افغانستان، سیمې او نړۍ د امنیت او ثبات پر وړاندې د خنډ رامنځته کولو هڅه کوي. دې ته په کتو وسله والو جګړو[۱] ته د بیرته را ګرځېدو بالقوه ځواک تر اوسه هم شتون لري.

د یادو لاملونو سربېره، اوس هم د طالبانو تحریک د اسلامي امارت داعیې په لرلو، د خپلې پخوانۍ حکومتوالۍ پر پلونو ګام ږدي. بیاځلي په هېواد کې پراخ بنسټه دولت او سیاسي جوړښت د افغانانو د هوکړې پر بنسټ نه دی رامنځته شوی. له بلې خوا کورني او نړیوال مشروعیت لپاره روښانه طرحه، اساسي قانون، د افغانانو د ټولو اړخونو د هوکړې پر بنسټ سیاسي جوړښت، ټاکنو او یا هم ټول ګډونه لویې جرګې لپاره د لارې نقشه نه ده وړاندې شوې او تر اوسه هم د اسلامي امارت داعیه پر نورو اړخونو تپل شوې ده. دا امکان شته، چې په لنډمهاله کې ځواب ویونکي وي، خو په اوږدمهال کې به په هېواد کې د بلې وسله والې جګړې او د واک پر سر شخړې رامنځته کړي.

پورته ویل شویو مسائلو ته په کتو، دا څېړنه په افغانستان کې د سولې د ټینګښت لپاره د نوي نسل او ځوانانو د کړنو، هڅو او غوښتنو د څېړلو، په لنډ دول د افغانستان د سولې بهیرونو ته کتنه او په دوحه کې د افغانستان د سولې بهیر نه بریالیتوب لاملونو ارزول او په افغانستان کې د اوږدمهاله کړکیچ او واک ترلاسه کولو پر سر د شخړو د لاملونو څېړل دي.

دا څېړنه په څلورو څپرکیو کې ترتیب شوې ده. لومړی څپرکی، د څېړنې نظري چوکاټ. دویم څپرکی، د واک ترلاسه کولو پر سر شخړې او د افغانستان د سولې بهیرونو ته کتنه. دریم څپرکی، د معلوماتو تحلیل؛ د نوي نسل او ځوانانو د غوښتنو موندلو په موخه د پریکړه لیکونو تحلیل او ګروپي مرکې. بلاخره، څلورم څپرکی د څېړنې پایلې او وړاندیزونو ته ځانګړی شوی دی.

---

۱. Armed disputations

## د ځيرنې طرحه

### ۱. د مسئلې بيان

افغانســـتان د خپلو بدلونونو د تاريخ په زياته برخه کې، له بهرنيو يرغلونو او کورنيو جګړو څخه رنځ وړی دی. په وروستۍ نيمه پيړۍ کې؛ د افغانستان د پخواني شاه محمد ظاهر شاه حکومت پر وړاندې د سردار محمد داوود خان کودتا (۱۳۵۲ ل.ل) سره، له هېواد څخه نسبي سولې او ټيکاو، ټولنيز جوړجاړي او همپالنې کډه وکړه. د دې پيښې وروسته؛ د مشروعيت مسئلې، د سياسي نظام جوړښت، د حکومتوالۍ ډول، په واک او پريکړو کې د ګډون ميکانيزم، بهرني مالي، پوځي او سياسي تړاو يا ملاتړ او په افغانستان کې د تاوتريخوالي دوام، د واک پر سر د شخړو د دوام لامل شوی دی. کله ناکله يوه جګړه پايته رسيږي، خو تر هغه توده جګړه پيليږي. افغانستان سربېره پر دې، چې يوه اوږدمهاله منازعه کې را ښکيل دی، په داسې جغرافيه کې موقعيت لري، چې په کې نښتې، شخړې، تاوتريخوالی او د سيمې او نړۍ ترمنځ د سياليو ډګر دی. دا لاملونه د دې سبب شوي، چې افغانستان د يوې ورانونکې او خونړۍ، داړونکې جګړې او لنډمهاله سياست کولو په ډګر بدل کړي.

يو پخوانی امريکايي متل د جګړې وضعيت داسې بيانوي: «کله چې دوه فيلونه له يو بل سره جګړه کوي، زور يې له کروندو وځي.» د افغانستان په وسله والو جګړو کې، د کورنيو او بهرنيو اړخونو د ځاني او مالي زيانونو د ګاللو سربېره، اصلي قربانيان يې افغانستان او خلک دي. د منازعاتو له امله؛ مليونونه افغانانو خپل ژوند له لاسه ورکړی، ميليونونه افغانان بې پلاره، کونډې او بې سرپرسته شوي او يا په جلا وطنۍ کې اوسيدلې، کډوال او خپلو کورونو پريښودلو ته اړ شوي دي. بلاخره، افغانستان په داسې هېواد بدل شوی، چې په کې حکومتونه دوام نه کوي، پرمختګ نه کوي او خلک يې په ۲۱ پيړۍ کې اوس هم په سخته بې وزلۍ کې اوسي او روغتيايي، ښوونيزو، ټرانسپورټي، برېښنا او د هوسايني نورو خدمتونو ته په سختۍ لاسرسی لري.

له بلې خوا په وروستۍ نيمه پيړۍ کې؛ د افغانستان د سولې هيڅ کومه هڅه په افغانستان کې د دايمي سولې د ټينګښت لامل نه ده شوې. د جينيوا تړون د پخواني شوروي اتحاد او د امريکا متحده ايالتونو د ګډون سربېره، د افغانستان او پاکستان دولتونو ترمنځ (۱۳۶۷ ورى) لاسليک شو، چې په پايله کې يې د پخواني شوروي ځواکونه له افغانستان څخه ووتل، خو د سولې د ټينګښت لامل نه شو. د افغانستان د ډموکراتيک جمهوري دولت رئيس ډاکټر نجيب الله احمدزي «د ملي پخلاينې طرحه» ۱۳۶۵ وږي) د هماغه وخت د جهادي تنظيمونو او

اغیزناکه شخصیتونو لخوا د اعلامیو په اعلانولو رد شوه. د ملګرو ملتونو د سولې طرحه او د بنون سیوان هڅې (۱۳۶۹ د لړم ۱۵) هم پلې نه شوې. د جهادي تنظیمونو او ګوندونو ترمنځ د راولپنډي – پیښور سیاسي هوکړې (۱۳۷۱ د غويي ۶) او اسلام آباد (۱۳۷۱ کب) تړون، نه یوازې په افغانستان کې د دولت او سیاسي جوړښت د رامنځته کیدو لامل نه شو، بلکې کورنۍ جګړې یې له ځانه سره لرلې. د تفرقې او واک لپاره د شخړو دوام او کورنۍ جګړې، له شر او فساد سره د مبارزې تر سرلیک لاندې، د طالبانو اسلامي تحریک، د مجاهدینو د حکومت پر ضد وسله واله منازعه پیل کړه. په پایله کې واک یې ترلاسه کړ او په (۱۳۷۵) کال کې یې د وخت اسلامي امارت جوړ کړ. خو د هماغه وخت اسلامي امارت و نه توانید، څو کورنۍ او نړیوال مشروعیت ترلاسه، ټول ګډونه سیاسي جوړښت رامنځته او د افغانستان د جګړې نورو اړخونو سره هوکړې ته ورسیږي. په دې پړاو کې هم د سولې د ټینګښت کوم پروګرام تر لاس لاندې و نه نیول شو. بلاخره، د هماغه وخت اسلامي امارت د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر ۱۱ پیښې وروسته، د امریکا په مشرۍ د نړیوالو ګډو ځواکونو تر برید وروسته، ړنګ شو. له همدې امله، افغانانو ته د هېواد سیاسي مدیریت لیږد لپاره، د طالبانو تحریک او اسلامي حزب د استازو پرته د افغان اړخونو ترمنځ د بن کنفرانس جوړ شو. په دې دول، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د جوړیدو لپاره لومړنی ګام پورته شو.

په وروستیو دوو لسیزو کې؛ د امریکا په مشرۍ د نړیوالو ګډو ځواکونو، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او د طالبانو اسلامي تحریک ترمنځ سختو وسله والو جګړو دوام درلود. د جګړو سربېره، په کلونه کلونه طالبانو سره د افغانستان جمهوري دولت د سولې هڅې پر مخ وړل شوي دي. په کورني اړخ کې، د افغانستان د سولې بهیر کې په واک کې ښکیل ټکنوکراټان، جهادي تنظیمونه او د هغوی استازي او د طالبانو تحریک ګډون درلود، خو د افغانستان نوی نسل او ځوانان، چې د دې منازعاتو په اړخونو کې یې زیات زیانونه ګاللي، د افغانستان د وګړیو څه باندې نیمه برخه جوړوي او د تولنې هڅانده ځواک ګڼل کیږي، په پریکړو کې یې مشارکت نه درلود. سربېره پر دې، له حکومتي پروګرامونو څخه بهر د افغانستان نوي نسل او ځوانانو، هېواد کې د سولې لپاره زیاتې هڅې ترسره کړي او ځانګړې غوښتنې لري، چې په دې ځیرنه کې ځیرل کیږي.

په وروستیو شلو کلونو کې؛ د نوي نسل او ځوانانو پر مخ نوی څپرکی پرانیستل شو. له یوې خوا نوي نسل او ځوانانو په بیلابیلو برخو لکه پوهنه او لوړې زدکړې، نوې ټکنالوژي، اقتصاد او سوداګري، روغتیا، کرنه، ادبیات او فرهنګ، په دفاعي او امنیتي ځواکونو کې ګډون، مدني – سیاسي او رسنیزو فعالیتونو کې د پام وړ پرمختګ کړی وو. له بلې خوا هغوی د منازعاتو په اړخونو کې بې شمېره قرباني ورکړې دي. خو د «سولې غوښتلو» په برخه کې، نوی نسل او ځوانان خواره وو، د هغوی ترمنځ همغږي او همپالنې شتون نه درلود. بلاخره نوي نسل او ځوانانو په پریکړو او د سولې په بهیرونو کې د پام وړ ګډون نه درلود او د هغوی غږ او غوښتنو ته د پام وړ پاملرنه نه ده شوې.

د سولې هڅو په دوام؛ د پیر سید احمد ګیلاني په مشرۍ د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د سولې عالي شورا د ۱۳۹۵ ل.ل د تلې میاشتې په ۱ نیټه د حکمتیار په مشرۍ له اسلامي ګوند سره د سولې هوکړه وکړه او د امریکا متحده ایالتونو د ۱۳۹۸ کال د کب په ۱۰ له طالبانو سره په دوحه کې هوکړې ته ورسیدل، خو جمهوري دولت د یو شمېر لاملونو له امله، د طالبانو اسلامي تحریک سره د سولې سیاسي هوکړې ته و نه رسیدل. بلاخره، طالبانو د خبرو میز او د جګړو په ډګر کې د سختو مبارزو په ترسره کولو سره، له ولایتونو څخه کابل ته د خپل واک په پراخولو، یو ځل بیا واک ترلاسه کړ.

په لنډ ډول؛ له یوې خوا د افغانستان جګړه او سوله؛ د ښکیلاک، د مشروعیت بحران، د سیاسي نظام او جوړښت ډول، په پریکړو کې د ګډون میکانیزم، د حکومتوالی ډول او مالي تړاو په محور کې «د افغانستان جګړه او سوله» په ورانونکیو او وژونکیو خونړیو شخړو تبدیل کړې او له بلې خوا د افغانستان د سولې ناکام بهیرونه د ګرداب په څېر ورستی نیمې پیړۍ حکومتونه ډوب کړي او د افغانستان پر خلکو یې بې شمېره ستونزې تپلي دي.

## ۲. د څېړنې پوښتنې

څنګه مو، چې د مسئلې په بیان کې وویل، تر اوسه هم د افغانستان جګړه په بنسټیز ډول پایته نه ده رسیدلې. له همدې امله دا پوښتنې لا تر اوسه نه دي حل شوي، چې څنګه د افغانستان جګړو ته د پای ټکی کیږدو؟ د افغانستان د وسله والو جګړو، خونړیو شخړو او اوږدمهاله کړکیچ د پایته رسیدو حل لاره څه ده؟ د افغانستان د سولې ناکام بهیرونو کومې لوړې او ژورې لرلې او کومو اړخونو د سولې په هڅو او پریکړو کې ګډون درلود؟ په وروستیو دوو لسیزو کې نوي نسل او ځوانانو افغانستان کې د سولې راوستو لپاره کومې هڅې ترسره کړې دي؟ د نوي نسل او ځوانانو له انده، په دوحه کې د افغانستان د سولې بهیر د ناکامی لاملونه کوم دي؟ بلاخره، تل پاتې سولې او دوامداره ثبات راتلو په موخه د افغانستان د نوي نسل او ځوانانو نیوکې، غوښتنې او وړاندیزونه څه دي؟

## ۳. د څېړنې فرضیې

داسې ښکاري:

۱. اوس هم افغانستان د واک لپاره په اوږدمهاله شخړو کې دی، د واکمنیو د رامنځته کیدو سربېره، په دې هېواد کې تل وسله والو منازعاتو ته د بیا راګرځیدو ځواک شتون درلود او لري. د فرصت په رامنځته کیدو سره، وسله والو مبارزاتو ته د بیرته راګرځیدو او د جګړې اور بل ساتلو اسانتیا چمتو ده. په وروستۍ نیمه پیړۍ کې، د افغانستان منازعات د مشروعیت بحران، د نظام ډول، د پراخ بنسټیزه او کاریدونکي سیاسي جوړښت، له هېواده بهر د حکومتونو مالي تړاو او ملګرتیا، د ترهګرۍ د پټنځایونو شتون او له شخړو ډکه سیمه کې د افغانستان جغرافیایي موقعیت سره تړاو لري.

۲. د افغانستان د سولې بهیرونه، د جینوا له تړون څخه بیا د بن تر کنفرانس پورې، هیڅ کوم یې په افغانستان کې د سولې د ټینګښت لامل نه شو. له بلې خوا د بن کنفرانس وروسته له طالبانو سره د افغانستان دولت د سولې بهیرونه، په پریکړو کې د نوي نسل او ځوانانو اغیزناکه ګډون پرته، په واک کې شریک ټکنوکراټانو، جهادي تنظیمونو او د طالبانو اسلامي تحریک په ګډون د سولې جوړولو مړه او ناکامه ډیپلوماسي رامنځته کړې وه، چې د جمهوري دولت او طالبانو ترمنځ د سولې سیاسي هوکړه یې له ځانه سره نه درلوده.

۳. په وروستیو دوو لسیزو کې، که څه هم د افغانستان نوي نسل او ځوانانو په پریکړو کې اغیزناکه ګډون نه درلود، خو د بنسټونو په جوړولو، خوځښتونو، پروګرامونو، ناستو، کنفرانسونو، جرګو او غونډو په ترسره کولو او لاریونونو او اعتراضونو په لاره اچولو سره، په هېواد کې د سولې او ټیکاو راوستو لپاره هڅې کړې دي.

٤. په دوحه کې د افغانستان د سولې بهیر د ناکامۍ لاملونه درې اړخونو ته را ګرځي؛ د جمهوریت اړخ او د افغانستان د وخت د حکومت مشرتابه، د افغانستان د سولې بهیر کې بشکیل هېوادونه او د امریکا متحده ایالتونه او د طالبانو اسلامي تحریک، خو د افغانستان د وخت حکومت مشرتابه ونډه د دې بهیر په ناکامۍ کې رغنده وه.

٥. که څه هم د افغانستان نوي نسل او ځوانانو په لیوالتیا، د خبرو، مذاکراتو او سیاسي هوکړو له لارې د افغانستان د کړکیچ د حل لپاره هڅې او ملاتړ کړی او کوي، خو د افغانستان د سولې بهیرونو په ناوړه مدیریت باندې نیوکې لري. بلاخره داسې تر سترګو کیږي، چې «د خبرو او سیاسي هوکړې له لارې د منازعاتو پایته رسیدل، ټول ګډونه نظام رامنځته کول، اوربند او په بشپړ ډول د جګړې پایته رسیدل او د تل پاتې سولې ټینګښت، د ټولګټو بنسټونو خوندیتوب او د ادارو او اداري او ملکي نظام ساتل، له ټاکنو او اساسي قانون څخه ملاتړ، د وروستیو دوو لسیزو ټولنیزو، اقتصادي او سیاسي لاسته راوړنو خوندیتوب، د وګړیو په ځانګړي ډول د ښځو حقونو، د مطبوعاتو او رسنیو خپلواکي، د سولې د بهیر څارل او د نړیوالو مالي ملاتړ دوام » د نوي نسل او ځوانانو مهمې غوښتنې دي.

## ٤. د معلوماتو د را ټولولو میتود

د دې څېړنې معلومات په مختلط؛ په کتابتون او هم په میداني ډول را ټول شوي دي. د دې څېړنې وګړي او نمونه په لاندې ډول دي:

### ٤-١.وګړي

د دې څېړنې وګړي، په ۳۰ ولایتونو کې د افغانستان نوی نسل او ځوانان دي.

### ٤-١.نمونه

د دې څېړنې معلومات د نمونه اخیستلو موخه ایز میتود له لارې له ۱۱۲۸۶ کسانو څخه، چې ۸۲۳۵ تنه یې نارینه او ۳۰۵۱ تنه یې ښځینه دي، چې عمرونه یې له ۱۸ ــ ۳۵ کلونو ترمنځ وو، را ټول شوي دي.

## ٥. د معلوماتو د ارزولو میتود

د دې څېړنې معلومات د منځپانګې کیفي ارزونې میتود له لارې تجزیه او تحلیل شوي دي. د منځپانګې تحلیل هغه میتود دی، چې پر بنسټ یې معلومات په منظم، عیني او عمومي ډول ارزول کیږي او د معلوماتو له منځپانګې څخه پوښتنې ځوابیږي. دا څېړنه د منځپانګې ارزونې له میتود څخه په ګټې اخیستنې، لومړی مفاهیم تعریف شوي، دویم، معلومات ډلبندي شوي، دریم، ځانګړتیاوې مشخصې شوي، څلورم، نمونه اخیستل شوې، او بلاخره، د څېړنې موندنې د اړیکو د ګروپ او د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې د مشرتابه له یو شمېر غړیو سره د ډله ایزې مرکې له لارې ملاتړ او پیاوړي شوي دي.

## ٦. د څېړنې موخې

د دې څېړنې موخه د سولې لپاره د نوي نسل او ځوانانو د هڅو څېړنه، د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګو او د سولې غوښتلو غونډو د پریکړه لیکونو او د اړیکو ګروپ او د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې د مشرتابه له یو شمېر غړیو سره د ګروپې مرکې تحلیل او په افغانستان کې د «تل پاتې سولې او دوامداره ټیکاو» رامنځته کیدو لپاره د افغانستان د نوي نسل او ځوانانو د نیوکیو، غوښتنو او وړاندیزونو موندل دي.

# لومړی څپرکی

## د څېړنې نظري چوکاټ

که چیرې په ورځنی ژوند کې، د ټولنیزو رسنیو او ورځپانو پاڼې پرانیزو یا راډیو واورو او ټلویزیون وګورو او یا هم کتابونه او مقالې ولولو؛ د افغانستان د جګړې او سولې په تړاو له ضد او نقیض خبرونو، سرلیکونو، مطالبو او معلوماتو سره مخ کیږو. په تعجب او اندیښنې له ځان او نورو پوښتو، د دې هېواد راتلونکی به څه ډول شي؟ همدا ډول هره ورځ زیاتې پوښتنې را ولاړیږي، چې افغانستان کوم لوري ته رهي دی؟ د جګړې او سولې وضعیت به څنګه شي؟ آیا افغانستان کې به تل پاتې ټیکاو رامنځته شي؟! له اندیښنو سره مل ورته پوښتنې،«د سولې برخه کې د څېړنو» سره را ولاړې شوي او «اوږدمهاله منازعې» او «ناکامه سوله» کې ریښه لري.

له شک پرته، هره علمي او پر اکاډمیکو اصولو ولاړه څېړنه، اړتیا لري، څو د څېړنې ادبیاتو ته یوه کتنه وشي. له همدې امله په دې څپرکي کې دې پوښتنو ته ځواب مومو، چې د سولې څېړل څه دي؟ منازعه او پخلاینه له کومو ځانګړتیاوو او علمي چوکاټ کې د څېړنې او ارزونې وړ ده؟ بلاخره د څېړنې معلوماتو لپاره د نظري چوکاټ او د تحلیل میتود موندلو لپاره پلټنه کوو.

### ۱. د سولې په برخه کې څېړنه

د سولې په برخه کې څېړنه، په نورو برخو کې د څېړنې به څیر ځانګړي پوهه، میتود او مهارت ته اړتیا لري. د سولې مطالعاتو څخه موخه هغه ټولې هڅې، فعالیتونه او اقدامات دي، چې د سولې مفهوم، په هېوادونو کې د سولې شرایط او وضعیت او په هغه ټولنو کې، چې منازعه شتون لري، په لاره اچول کیږي. ( حسرت، ۱۳۹۲: ۱۹۶) په بل عبارت د سولې مطالعات د سولې او سولې ټینګښت په برخه کې فعالیت دی. همدارنګه د سولې په برخه کې څېړنه (د سولې مطالعات)، د سولې ټینګښت او د منازعاتو د ارزونې په موخه د فعالیتونو او هڅو څېړلو ته هم ویل کیږي. (Berghof, ۲۰۱۲:٦۹)

د سولې مطالعات، د شلمې پیړۍ په لومړۍ نیمایي کې د دوو نړیوالو جګړو تر اغیزو لاندې منظم او «د سولې او منازعاتو څېړلو» علمي څانګه رامنځته شوه. د سولې او منازعاتو څېړل د بشري علومو د مطالعاتو او بحثونو یوه برخه ده. د سولې په مطالعاتو کې هغه شرایط، لاملونه او وضعیت بیانیږي، چې په هغه کې د منازعاتو ریښې مطالعه او پیژندل کیږي او وروسته بیا د سولې جوړونې لارې او تګلارې وړاندې کیږي. (Kurtz, ۲۰۰۷:۸۱۰)

د سولې په برخه کې څېړنه، میتود، مفاهیم، نظري بنسټونو، لیدلوري او موډلونو ته اړتیا لري، چې د هغو په کارونې سره د سولې مطالعاتو پروژې او پروګرامونه پیل او سرته رسیږي. د علمي میتود نه شتون، د څېړنې ادبیاتو سره نه پیژندګلوي، د رنې ژبې او مفاهیمو، اندونو، نظرونو او دریځونو څخه څرګندې پیژندنې نه شتون، سره نشو کولای، څو له خلکو، سیاستوالو، عامو وګړیو او بیلابیلو تګلارو سره خبرې وکړو او نه هم کولای شو، څو په ټولنه کې د خلکو کړنې او غبرګونونه بیان کړو. له همدې امله هغه ټول علمي مفاهیم او اصطلاحات، چې

د سـولې مطالعاتو په برخه کې کارول کیږي، په واقعیت کې هغه ټول د شیړنو د موندنو پیژندلو لپاره وسـیله ګڼل کیږي. (Erin McCandless, ۲۰۰۷:۸۵)

د سـولې عملي مطالعات، په بېلابېلو منازعاتو کې بنـکیلو سـیمو او ځایونو کې کار او میداني کړنو ته اړتیا لري. له همدې امله د سولې مطالعاتو کې باید د وګړیو، د وګړیو ځانګړتیاوې، ډلو سره د وګړیو اړیکې، په سولې او منازعاتو باندې د هغوی اغیزې، د شیړنې سـیمه، د شیړنې موده، د زده کړو کچه، جنسـیت او نور اغیزناکه لاملونه په پام کې نیول کیږي. همدارنګه د سـولې مطالعاتي میتودونه باید له هغه ټولو بدلونونو او تحولاتو سـره، چې په یوه ټولنه کې د منازعاتو ډول، شـرایط او موضـوع کې رامنځته کیږي، د انعطاف او بدلون وړتیا ولري. (Galtung, ۱۹۷۳:۴۰۱-۴۰۳)

بلاخره د سـولې مطالعاتو کې د منازعې او سـولې ترمنځ مخامخ اړیکې شـتون لري. د یوه شیړل اړتیا لري، څو بل هم وشیړل شـي. له همدې امله اوس د «منازعې» او «سـولې» مفهومي چوکاټ او د تحلیل موډلونه شیړل کیږي.

## ۲. د منازعې نظري چوکاټ

### ۲-۱. د منازعې پیژند

منازعه؛ په انګلیسي ژبه کې د (Conflict, Battle, Clash, Combat) په مانا او په فارسي قاموس کې د تضـاد، تعارض، اختلاف، تاوتریخوالي، شخړه، فتنه، جګړه او کشکمش په مانا یاده شوې ده. (دهخدا، ۱۳۲۵: م) خو د سولې مطالعاتو په ادبیاتو کې د منازعې لغات زیات کارول کیږي. منازعه هغه مهال راټوکل کیږي، چې د خلکو، ډلو او دولتونو د لیدلوري، کړنو او غبرګونونو ترمنځ اختلاف او تضـاد رامنځته شـي. په دې شیړنه کې «وسله واله منازعه» زیاته کارول شـوې ده.، وسـله واله منازعه د واک ترلاسـه کولو او پلي کولو او د واک په مناسـباتو کې د زور کارولو په موخه یوه لاره ده. د نړیوالو بشـرپالني حقوقو له انده وسـلـه واله منازعه څلور عنصره لري: د جوړښت او تشکیلاتو عنصر (دولتونه، بنسټونه او ډلې)، مادي عنصر (د واک پلي کول)، معنوي عنصر(قصد او نیت) او بلاخره موخه لرل دي. (بیګدلي، ۱۳۹۴: ۲۲-۲۱)

وسـلـه والې منازعې له ډېرې مودې راهیسـې د شیړنکو او لیکوالانو پام ځان ته اړولی دی. د پخوانی نړی لیکوالان لکه: توی سـت زون‌تزو (ری, ۱۹۹۱) د معاصـرو پوهانو لکه: کوین‌سـي رایت (رایت, ۱۹۴۲) او ریچارد بارنت (بارنت, ۱۹۷۸) پورې، ټولو د وسـلـه والو منازعاتو لاملونه، اړخونه، ډولونه او پایلې تحلیل او ارزولې دي.

### ۲-۲. د منازعاتو ډولونه

شیړونکي او پوهان وسله وال منازعات د ځای، لامل، د مرګ ژوبلې شمېر او نورو ځانګړتیاوو پر بنسټ د ویشلو وړ ګڼي. وسله وال منازعات د مرګ ژوبلې د شمېر او کچې پر بنسټ په لاندې دریو ډولونو ویشل کیږي:

۱) کوچني وسـلـه وال منازعات: هغه ډول منازعات دي، چې یو اړخ یې دولت وي او په یوه کال کې له ۲۵ لږ کسان په کې وژل شوي وي.

۲) منځني وسله وال منازعات: په دې ډول منازعه کې په یوه کال کې له ۲۵ کسانو څخه زیات او تر زرو څخه په کې کم کسان وژل شوي وي.
۳) ستر منازعات: په دې ډول منازعاتو کې په یوه کال کې له زرو کسانو څخه زیات وژل کیږي. (لیدراک، ۱۳۹۶: ۲۸)

دا ډول ویشني د څیړونکیو ترمنځ په پراخه کچه، له کوچنیو توپیرونو سره کارول کیږي. په خواشینۍ سره، په وروستۍ نیمه پیړۍ په ځانګړي ډول وروستیو دوو لسیزو کې، د افغانستان حکومتونو او د منازعاتو اړخونو ترمنځ د شدت، د قربانیو او مرګ ژوبلې له اړخه، سترو وسله والو منازعاتو کې ځای لري.

د مرګ ژوبلې کچې له اړخه د وسله والو منازعاتو ویشني ته په کتو، د افغانستان منازعات له ۲۰۰۱ – ۲۰۲۱ ز کال پورې، په هېواد کې په ټولو کلونو کې ستري وسله والې منازعې ترسره شوي. د افغانستان خلک؛ پوځیان او ملکي وګړي، نارینه او ښځینه، کوچنیان، ځوانان او سپین ږیري او پدې وسله والو منازعاتو کې ښکېل ټول اړخونه د دې خونړیو منازعاتو قرباني دي.

**۲-۳. په منازعاتو کې د ښکیلو ټولنو ځانګړتیاوې**

په ټولیز ډول، د هغه ټولو ټولنو ترمنځ، چې په منازعاتو کې ښکیل دي، مشترکات شتون لري. ځکه ډیری وسله والې منازعې له مشخصو موډلونو څخه پیروي کوي او له ورته نړیوالو سرچینو څخه امکانات ترلاسه کوي. څیړونکو د هغه ټولنو یو شمېر ځانګړتیاوې، چې په جګړه کې دي، په لاندې ډول مشخصې کړې دي:

- ډیری وسله وال منازعات په لیري پرتو او منزوي شویو ټولنو کې رامنځته کیږي، چې له بې وزلۍ، نا برابرۍ او «نه پرمختګ» سره لاس او ګریوان دي. ډیر لږ منازعات «د پرمختګ په حال» هېوادونو کې رامنځته کیږي. خو وسله وال منازعات په «پرمختللي» هېوادونو کې ډیر کم رامنځته کیږي. افغانستان د یوه وروسته پاتې یا هم د پرمختګ په حال کې هېواد په توګه تل د کورنیو وسله والو منازعاتو، چې نړیواله بڼه لري، قرباني دی.
- شاوخوا ټول منازعات کورنی اړخ لري؛ په دې مانا، چې منازعات د هغه ډلو ترمنځ رامنځته شوي، چې د یوه هېواد پولو دننه دي. که څه هم په لومړي نظر کې ډیری منازعات کورني وي، خو تر یوې کچې نړیوال اړخ هم لري؛ په ځانګړي ډول وسله والې یا هم مخالفې ډلې په ګاونډي یا د سیمې په هېوادونو کې ژوند کړی یا کوي او پیسې او وسلې ورته له نیږدې یا لیري ځایونو ورکول کیږي. دا ډول وسله والو منازعاتو ته کولای شو، چې «کورني منازعات، چې نړیواله بڼه ولري» ووایو. کورني منازعات، چې نړیواله بڼه ولري، نه یوازې په هېواد کې دننه، بلکې په سیمه او نړۍ کې بې ثباتي ته لمن وهي. په وروستۍ نیمه پیړۍ کې د ظاهر شاه واکمنۍ پر وړاندې د سردار محمد داوود خان کودتا، لویدیځ ته د داوود خان نیږدې والی او د خلقیانو او پرچمیانو ترمنځ د مخالفتونو رامنځته کیدل، د ښکیلاک پر وړاندې جهاد او وروسته بیا کورني وسله وال منازعات، چې نړیواله بڼه لري، رامنځته شول. د افغانانو د اسلامي او جهادي ګوندونو رامنځته کیدل او پاکستان او ایران سره د هغوی اړیکي د دې ډول منازعاتو بیلګه ده.
- د وسلو کارولو ته مشروعیت ورکول؛ په ځانګړي ډول د دولت – ملتونو لخوا د امنیت ټینګښت او دفاعي موخو لپاره. نړۍ تل د وسلو تولید ته د یوه مشروع او ګټور کار و بار په توګه کتلي دي. په اسانه ډول وسلو ته لاسرسی کولای شي، چې په منازعاتو کې د تاوتریخوالي کچه لوړه کړي. په افغانستان کې د څو بهرنیو

تیریو په لړ کې، هېواد ته بې شمیره وسلې او پوځې مهمات راوړل شوي دي. له بل لوري هغه هېوادونه، چې د افغانستان د جګړې تر شاه دي، د منازعاتو غاړې تمویل او په وسلو سمبال کړي او حتی په هېواد کې د وسلو بازارونه رامنځته شوي دي. له همدې امله، په منازعاتو کې د نورو ښکېلو ټولنو په ځیر، وسلو ته لاسرسی ساده او اسانه شوی دی.

- وسله والو منازعاتو کې د ښکیلو ټولنو د خلکو پیژندګلوي د هغوی ملي پیژندګلوي سره نه تعریفیږي. د بیلابیلو ډلو ترمنځ د پیژندګلوي تړاو لړ تر سترګو کیږي، خو ټول وګړي د یوه ملي چتر لاندې نه راځي. د دې ټولنو خلک د امنیت او د هغو پیژندګلویو په لټه کې دي، چې دوی ته نیږدې دي او هغوی پر دې پیژندګلویو کنټرول لري. د پیژندګلویو دغه ځانګې کیدای شي، قبیله، قوم، مذهب، ژبه، جغرافیایي پیوستون یا هم د دې ټولو ترکیب وي. افغانستان هم تر کورنیو جګړو وروسته د ټوټه شویو پیژندګلویو کې په قبیله، قوم، مذهب او ژبې په لمن کې را پریوت. په دې پیژندګلویو کې ډیری وخت داسې فکر واکمن کیږي، چې «که واکمن نشو، نو بل څوک به را باندې واکمن شي.»
- په دې ډول ټولنو کې واک په ډلو ویشل کیږي. د وسله والو منازعاتو د پوهیدو په اړه ستونزه، د سیالو ډلو او ټولنو شمېر په اړه پوهاوی دی، چې د واک پر سر او رسمي پیژندلو لپاره یې، ډیری وخت وسله والې سیالي کوي. د خپل سیال د ګواښونو په ځواب کې یې دښمني، کرکه او ډله ایز پیوستون پیاوړتیا تشخیص کړي دي. د افغانستان په ځیر ټولنو کې د مخالفو ډلو څخه ناسم معلومات، ډله ییزي او ګوندي ګټو اختلاف، د جګړو تور تاریخ او له یو بل څخه ذهني انځور، د منازعاتو دوام یې دوه برابره کړی دی.
- په اوږد مهاله منازعاتو کې ښکیلې ټولنې، د دښمنۍ، کرکې او له قومي، مذهبي او نورو ټولنییزو جوړښتونو څخه د ویرې په ناروغی اخته دي. په ځانګړي ډول هغه ډلې، چې څو لسیزې او یا څو نسلونه، متقابلې دښمنۍ تجربه کړې دي. دې ټولنو کې ډېر وختونه تفکر داسې دی، چې دښمن له پولو هاغه خوا نه دی، بلکې دښمن په همدې ګاونډ کلي او حتی ستاسو په ګاونډیتوب کې ژوند کوي. خلک او ټولنیزې ډلې، چې ورته تفکر له یو بل څخه لري، په اسانی سره د هغه او د دې د لوبولو وسیله کیږي. (لیدراک، ۱۳۹۶: ۶-۴۰)

په منازعاتو کې د را ګیر ټولنو ځانګړتیاوې او د افغانستان له شرایطو سره د هغه پرتله کول د دې ښکارندویي کوي، چې کورنۍ جګړې، چې نړیواله بڼه لري او د ګاونډیو او سیمې هېوادونو لخوا د وسله والو ګوندونو او ډلو مالي او تدارکاتي ملاتړ او له عقیدتي، قومي، مذهبي، ژبنیز او حتی سمتي مسائلو څخه د منازعاتو د ښکیلو اړخونو څخه ګټه پورته کول، د افغانستان ټولنه یې په څو ټوټه شویو ټولنو او خواره واره پیژندګلویو ویشلې ده. له وسلو څخه د کاروني مشروعیت او د جګړې شاته د ګاونډیو، سیمې او نړۍ هېوادونو شتون، په هېواد کې د دوامداره جګړو لامل شوی دی.

#### ۲-۴. د منازعاتو د ارزوني چوکاټ

څنګه مو، چې مخکې وویل، د سولې او منازعاتو مطالعات له یو بل سره مخامخ اړیکې لري. د سولې مطالعاتو ځیرونکي، لکه یوهان ګالتونګ له منازعاتو څخه درې ضلعي انځور په وړاندې کولو: الف. اختلافونه، ب. لیدلوري. ج. کړنو، سره هڅه کوي، څو روښانه کړي، چې سوله څه ده. (Galtung, ۱۹۷۳:۱۶) په همدې چوکاټ کې د منازعې ځانګړتیاوې د ارزوني او ځیرنې وړ دي.

اختلافونه (تناقض)؛ د هغه وضعیت ښکارندوی ده، چې د منازعې اړخونه په دې فکر دي، چې د هغوی موخې د را ټولولو وړ نه دي. کیدای شي، د هغوی موندنې ریښتینې وي او یا کیدای شي ریښتینې نه وي.

ګټې او د ګټو تضـــاد د هغوی ترمنځ دا اختلافونه رامنځته کوي. د بېلګې په ډول: د افغانســـتان د واکمنانو، په منازعاتو کې د ښکېلو ګوندونو او ډلو له انده د مشروعیت مبنا، د نظام ډول، سیاسي جوړښت د مشارکت/ ګډون کړنلاره او د حکومتولی ډول، د اختلافونو او تناقضاتو بېلګه ده.

لیدلوری؛ د منازعاتو په درې ضـلعي انځور کې، لیدلوری د منازعې د اړخونو لخوا، له یو بل او له ځان څخه د درک او ناسم درک څخه عبارت دی. د بېلګې په ډول: له یو بل څخه د افغانستان د منازعاتو اړخونو درک او ناوړه پوهاوی او د کفري او سپکاوي ډک الفاظو کارول لکه، مرتد، اشـرار، شـر او فسـاد، زورواک، نوکر، اجیر او د پردیو مزدوران، هغه څه دي، چې یو بل یې خطاب کړي.

کړنې: د منازعاتو د اړخونو کړنې او غبرګونونه ټول په دې برخه کې راځي. منازعه په خپل ذات کې له تاوتریخوالي سره مل ده. دا تاوتریخوالی کېدای شـي، چې فزیکي وي او یا هم فرهنګي! تاوتریخوالی په خپل ذات کې په درې حالتونو کې؛ مخامخ او فزیکي تاوتریخوالی لکه وسله وال منازعات، د جوړښتونو تاوتریخوالی لکه د حکومت جوړښـــت او تشـــکیلات او فرهنګي تاوتریخوالی لکه جنســـیتي، قومي، ډله ایز، مذهبي او... بڼه را څرګندیږي.

نو په دې توګه د اختلافونو (تناقض)، لیدلوري او له تاوتریخوالي ډکې کړنې یوه منازعه په بشـــپړ ډول رامنځته کوي. د یوهان ګالتونګ د تفکر پر بنسټ، هیڅ کومه پدیده او وضـعیت نه شـي کولای، چې د لاملونو او ځانګړي شرایطو پرته رامنځته شي.

## ۳. د مصالحې نظري چوکاټ

### ۳-۱. د سولې پېژند

ســوله یو مطلق مفهوم نه دی، بلکې یو ذهني مفهوم او له بیلابیلو اړخونو د ځیرلو وړ دی. سـوله په فارســي قاموس کې د جوړجاړي، پخلاینې، مهربانې، د منازعاتو حل او هغه هوکړه، چې پر بنســـټ یې یوه دعوا حل او فصل کیږي. (معین، ۱۳۸۷: ص) همدارنګه سوله د جګړې د پرېښودو، د وسله والو منازعاتو پای او د خلکو له منځ څخه د کرکې د لیرې کولو په مانا هم راغلې ده.(ریګي، ۱۳۸۶: ص)

ســوله د اســلام په مبارک دین کې د خلکو له منځ څخه د کرکې له منځه وړلو، د منازعې د ښــکېلو اړخونو ترمنځ جوړجاړی، د فساد دفع او همدې ته ورته مسائلو ته اشاره کوي. څښتن تعالی(ج) د نساء سورة په ۱۲۸ آیه کې فرمایي: و الصــلح خیر...؛ په ســوله کې خیر دی. دا کوچنی او معنا لرونکې جمله یو کلي او ټوله ییز قانون بیانوي، چې په ټولو ځایونو کې لومړنی اصـل، ســوله، صـفا او دوســتي ده او همدارنګه شـخړې او جلا والی د انســانانو او د هغوی د ســوکاله ژوند خلاف دی. همدارنګه په قرانکریم کې د «صــالحون» کلمه د غوره کســانو، پرهیزګارانو او اولوالعقل (هم د ملائکو، انسانانو او پیریانو) د پېژندلو لپاره کارول شوې ده. د اسلام ستر پیغمبر حضــرت محمد مصــطفی(ص) په خپله د څو ســولو لکه: د «بني ضَــمرة»، «بني مُدلج» او د «حدیبیه» ســولو جوړونکی دی. (حامد، ۱۳۹۵: ۴۳-۴۴) په نورو دینونو کې هم سوله ییز ژوند او سولې ته د پام وړ پاملرنه شوې ده.

د هالنډي فیلسوف باروخ اسپینوزا په وینا؛ «سوله د جګړې نه شتون په مانا نه ده؛ بلکې داسې ښېګنه ده، چې له ځانې ځواک څخه سرچینه اخلي او هماغه ډول، چې خپلواکي په زندان کې د نه شتون په مانا نه ده، سوله هم د

جګړې نه شتون په مانا نه ده. همدارنګه د سولې مفهوم نه باید له اوربند سره یو شان وګڼو، ځکه «سوله» منازعاتو د ختم او جګړې پایته رسیدو په مانا ده.» سوله د ځپلو، زورواکي، جلاوطني، حذف، وژل او د زور له لارې د خلکو محروم کولو په مانا نه ده او همدارنګه سوله په جبر چوپتیا هم نه ده. سوله جوړجاړی، هوکړه، په بنسټیز ډول د شخړې حل او د فتنې له منځه وړل دي. سوله، مشروع، قانوني، سوله ایز او له تاوتریخوالي څخه پرته سیاست دی. بالاخره، سوله د یوې ډلې لخوا پر بلې ډلې د غوښتنو او ارزښتونو تپلو باندې هم نه ترلاسه کیږي.

له سولې سره نظم، یووالي او سوکالي راځي. سوله احساس او بریالیتوب، درناوی او امنیت دی. سوله د لږ شمېر کسانو لپاره نه ده او که چیري سوله د ټولو لپاره نه بلکې د یو شمېر ګټو لپاره، وسائل شي، ټوکې به ننداری ته وړاندې شي. سوله د جګړې ضد ده. هره جګړه پراخه درد او ریښه لرونکي دښمنی له ځانه سره لري. د جګړې طبعیت همداسې دی، چې ګاونډي، ګاونډي ویروي، کله وختونه داسې هم کیږي، چې د کورنۍ یو غړی، بل غړی ویروي او هر څوک وینې تویوي. (لیدراک، ۱۳۹۶: ۴۸-۴۹)

### ۳-۲. د سولې ډولونه

د سولې او منازعاتو د مطالعاتو د ځانګې نظریه ورکوونکي، څېړونکي او پوهان د بیلابیلو ځانګړتیاو ته په پام، سوله یې د مثبته سوله[۲]، منفي سوله[۳]، وسله واله سوله[٤]، غښتلي سوله[٥]، عادلانه سوله[٦]، ریښتیني سوله[۷]، با ثباته سوله[۸]، ولسواکه سوله[۹]، تل پاتې سوله[۱۰]، دایمي سوله[۱۱]، او پایښت لریونکې سوله[۱۲] ویشلي دي. همدارنګه د قلمرو ځانګړني ته په کتو، سوله په نړیواله سوله، سیمه ییزه سوله او هیوادنۍ سوله ویشل شوې ده.

د سولې نظري چوکاټ، چې په دې څېړنه کې یې په لټه کې یوو، پایښت لرونکې سوله ده. له همدې امله د بحث د زیاتیدو څخه د مخنیوي په موخه، د نورو مفاهیمو له تشریح کولو څخه ډډه کوو او د پایښت لرونکې سولې نظري چوکاټ تشریح کوو.

پایښت لرونکې سوله په وروستیو کلونو کې د سولې مطالعاتو کې زیاته شوه. د سولې ذهني مفاهیمو څخه، پایښت لرونکې سولې (عملي او کارونکې) ته ورتګ هغه وخت پیل شو، چې د سوله ساتو نړیوال بنسټونه لکه ملګري ملتونه د سولې ماموریتونو کې، چې څنګه تمه کیده، بریالي نه وو. (حسرت، ۱۳۹۲: ۱۹)

پایښت لرونکې سوله، عملي مفهوم او عملي کړنو پورې اړونده ده. په دې مانا، چې پایښت لرونکې سوله، له منازعاتو څخه د تیریدو لپاره د عملي اقداماتو ترڅنګ، پر دوه اصولو؛ حکومتوالی او پیاوړتیا له نورو څخه زیات ټینګار کوي. کله چې غوره حکومتوالی په ټولو ټولنیزو برخو او کچو څار ولري او له بلې خوا، پیاوړتیا له

[۲] . positive peace
[۳] . Negative peace
[٤] . Armed Peace
[٥] . Brave peace
[٦] . Justice peace
[۷] . True peace
[۸] . Stable/ Steady peace
[۹] . Democratic peace
[۱۰] . Perpetual peace
[۱۱]. Permanent peace
[۱۲]. Sustainable peace

ځانه سره د مهارتونو زده کړه او د امکاناتو ویشل، چې وکولای شي له هغه لارې د منازعې لاملونه وموندل شي او بڼکیل اړخونه ځواکمن کړي، څو خپل منځي منازعات حل او په سوله بيز ډول له دې وضعيت څخه تير شي؛ کولای شو ووایو، چې پایښت لرونکې سولې ټینګښت لپاره عملي بنسټ برابر شوی دی. (Peck, ۱۹۹۸: ۱۵)

په بل عبارت، پایښت لریونکې سوله په دې مانا ده، چې پخواني دښمنان نه یوازې خپلې وسلې پر ځمکه ږدي، بلکې ژورې پخلاینې ته هم رسیږي او دا بهیر د میکانیزمونو او تل پاتې او پراخه ټولنیزو اړیکو په رامنځته کولو سره، چې په کې عدالت ټینګ او دښمني او خصومت له منځه وړي او بیا ورګرځېدل ناممکن کوي، دوام مومي. پایښت لرونکې سوله، له منازعاتو څخه د اوږدمهاله وتلو او سولې ټینګښت لپاره لیدلوری وړاندې کوي، چې پر بنسټ یې ونډه، کړنې او فعالیتونه یو موټی کوي. د سولې رامنځته کول د دې لپاره، چې د وخت اړتیاوې ځواب کړي، باید عملي او تطبیقي وي او په تجربې او دنني واقعیتونو کې ریښه ولري، چې د خلکو لیدلوری او اړتیاوې پوره کوي. (حسرت، ۱۳۹۲: ۲۰)

پخلاینه؛ هغه بهیر دی، چې درېیم کس د دعوا د دوو اړخونو ترمنځ د هوکړې رامنځته کولو لپاره هڅه کوي، د هغوی اختلافونه په غوره ډول حل او فصل کوي. د پخلاینې نظریه د معاصرو منازعاتو د ختډونو په حل کې د «ریښتین پالنې» او «عملي نوښت» ترمنځ د اړیکو ټکی دی. (Slim, ۱۹۹٤: ٤۳)

پخلاینه په ډیره کره ډول کولای شو، له درېو اړخونو وڅېړو. اول، پخلاینه په ټوله بيز ډول، له یوه خوا رنځېدلي مخینې په اړه په خپلواکه توګه بیان او له بلې خوا اوږدمهاله راتلونکې سمون پیاوړی کوي. دویم، پخلاینه رښتینولي او سوکالۍ لپاره شرایط برابروي؛ چېرته چې هغه ټولې اندیښنې، چې مخکې رامنځته شوي بیان او پخوانیو پیښو بیا کتنه او د منازعاتو حل د ګټو لپاره منل شوي دي. درېیم، پخلاینه د وخت اړتیا او د تیروتنو د تاوان پرې کولو شرایط، د عدالت پلي کول او د سولې ټینګښت په رسمیت پیژني. (لیدراک، ۱۳۹۶: ۵۰)

**۳-۳. د پخلاینې د تحلیل چوکاټ**

پخلاینه او د پایښت لرونکې سولې ټینګښت په درې محورو او پړاونو کې: الف، د سولې راوستل، ب. د سولې ساتل، ج. د سولې جوړول د ارزونې او څېړنې وړ دي.

د سولې راوستل؛هغه بهیر دی، چې د منازعې د اړخونو او شخصیتونو ترمنځ هوکړه او روغه جوړه رامنځته کوي. د سولې راوستل د اړیکو ټینګولو، اعتماد جوړولو او خبرو په پړاونو کې جوړیږي. د سولې راوستلو په پایله کې د سولې اصول، شرایط او سیاسي هوکړه رامنځته کیږي. د سولې سیاسي هوکړه کیدای شي، چې ضمایم هم ولري. دا ضمایم کولای شي، چې په رسمي ډول د اړخونو پيژندل، د تاوتریخوالي کمښت، مشروط او غیر مشروط اوربند، لنډمهاله یا تل پاتې اوربند، د اړخونو رسمي پیژندنه، د غرامت او زیانونو د ورکولو منل، د عادلانه محکمې منل او د سولې اړوند نور مسائل شامل وي.

د سولې ساتل؛ د څارنيزو کړنلارو او د سولې سیاسي هوکړې پلي کولو اړوند هوکړو ته ویل کیږي، چې د مخامخ او فزیکي تاوتریخوالي مخنیوی کوي. د سولې ساتل یا د سولې سیاسي هوکړه لیک ساتل کولای شي په بیلابیلو ډولونو: د ملګرو ملتونو سوله ساتو ځواکونو، کورنې تضمینونو او یا هم ځانګړو کړنلارو له لارې ترسره شي. د سولې ساتلو اصلي دنده، د تاوتریخوالی درېدل (اوربند) او د سولې سیاسي هوکړه لیک پلي کولو څخه څارنه ده.

د سولې جوړول؛ د سولې راوستلو په بهير کې مهمه برخه ده. د سولې جوړول فزيکي، جوړښتي او فرهنګي تاوتريخوالی له منځه وړي. يو شمېر څېړونکي «د سولې جوړولو» ته «د منازعاتو حل» هم وايي. د سولې جوړولو سره د سولې د هوکړو او هوکړه ليک پلي کيدل، د جګړې پايته رسيدل، د مشروع نظام رامنځته کيدل، د مشروعيت کسب، په عادلانه ډول د بنسټونو رامنځته کيدل او توپيري چلند ليدلوري له منځه وړلو سره، پايښت لرونکې سوله تينګيږي.

## دویم څپرکی

## د واک پر سر شخړو او د سولې ناکامو بهیرونو ته کتنه

په دې څپرکي کې د واک موندلو پر سر د شخړو پر لاملونو او د افغانستان د سولې ناکامو بهیرونو ته کتنه کیږي. خو په نړۍ کې د جګړه ایزو سیمو اړوند د نړیوال لیدلوري پوهیدو لپاره، دا څپرکی «په نړۍ کې د وسله والو منازعاتو وضعیت په اړه راپور» باندې پیلوو.

د دې راپور پر بنسټ د سړې جګړې پر مهال؛ سترو ځواکونو هیڅکله په مخامخ ډول په خپلو سیمو کې په وسله والو منازعاتو کې ښکیل نه شول. برعکس، ډیری جګړې په هغه کمزورو هېوادونو کې رامنځته شوې، چې د سترو قدرتونو له سیاستونو پیروي کوي. د سړې جګړې پر مهال، جګړه د سترو قدرتونو لپاره سړه، خو د نړۍ یو شمېر برخو لپاره زیاته توده وه. ډېره جالبه ده، چې پوه شوو، چې وسله وال منازعات، زیات زیانمنونکي هېوادونه په نښه کوي. په ځانګړي ډول هغه سیمې، چې بنسټیزو اړتیاوو لکه: ځای، روغتیا او زدهکړې په سختۍ او کمه بڼه موندل کیږي. (یوري، ۱۹۹۲: ۶۷)

د سړې جګړې پر دوام؛ د وسلو سوداګرۍ په یوه پراخه جغرافیایي سیمه کې په یوه څو ملیتي سوداګریزې شبکې تبدیله شوې ده. دا صنعت، د وسلو د تولید کوونکیو هېوادونو او د وسلو سوداګریزو شرکتونو ته بې ساري کچه ګټه ورکړې ده. حتی څو ملیتي بازار او ګټه لرونکی صنعت رامنځته کیږي او سپکې او درنې وسلې له لومړي لاس بازارونو څخه دویم او دریم لاس بازارونو ته لیږل کیږي. هره هغه ډله، چې په کافي اندازه پیسې ولري، په اسانۍ سره ډول- ډول وسلو ته لاسرسی مومي. له همدې امله جګړه مارو ډلو ته د پیسو ترزیق، وسلو لپاره مالي پورونه او وسله والو ډلو سره مالي مرسته؛ بې وزله دولتونه او زرګونه انسانان او جګړه ماران د وسلو بازارونو ته رهي کوي. په پایله کې، داسې ده، چې د جګړې تنور تود ساتل کیږي. (ری، ۱۹۹۱: ۱۲۳)

## ۱. په افغانستان کې د واک پر سر شخړو ته کتنه

په وروستۍ نیمه پېړۍ کې، په افغانستان کې د شخړو شتون او د ګاونډیو، سیمې او نړۍ هېوادوونو سیالیو او ترینګلتیاوو د شتون له اړخه د افغانستان د وسله والو منازعاتو وضعیت، له بهرنیو سرچینو څخه د منازعاتو د اړخونو مالي ملاتړ او سمبالتیا، وسلو ته په اسانۍ سره د ګوندونو او ډلو لاسرسی، خو له بل لوري د بشري بنسټیزو اړتیاوو څخه د محرومیت له اړخه له یاد راپور سره ورته والی لري. دا په افغانستان کې د نظم، امنیت، سولې او ټیکاو پر وړاندې ستر خنډونه وو.

په افغانستان کې ډېری وختونه د کورنیو، سیمه ایزو او نړیوالو بدلونونو له امله، جګړې پایته رسیږي او نوې جګړې پیلیږي. د جګړې ډلې، ونډې، لاملونه، توجیهات او سیمې بدلون مومي، واکمن محکوم او محکوم واکمن کیږي. یوه ډله واک ته رسیږي او بله ډله زنداني کیږي او برعکس! خو جګړه پایته نه رسیږي. بالاخره د پایښت لرونکې سولې پر ځای، پایښت لرونکي جګړې رامنځته کیږي. په شاوخوا وروستۍ نیمه پېړۍ کې؛ د واک پر سر شخړې، په پایښت لرونکیو جګړو تبدیلې شوي دي. دا جګړې ولې په دوامداره ډول په بیلابیلو چوکاټونو، نظرونو او ډولونو کې شتون لرلای دی؟ د دې منازعاتو نه سپړیدونکې غوټه څه ده؟ او دا خونړۍ او ورانونکې جګړې ریښه له کومه ځایه اوبه خوري؟ د پورته پوښتنو ځوابولو په موخه په «په افغانستان کې د واک پر سر د شخړو» پنځه پړاونو ته په لاندې ډول کتنه کیږي:

### ۱-۱. د داوود خان له کودتا څخه د نجیب الله د حکومت تر نسکوریدو

په ۱۳۵۲ کال کې د سردار محمد داوودخان کودتا د دې لامل شوه، چې د ظاهرشاه مشروطه شاهي حکومت نسکور او په افغانستان کې نسبي ټیکاو ګډوډ شي. له دې وروسته په هېواد کې د واک پر سر منازعاتو کې نوي بدلونونه او پیښې رامنځته شوې. له یوې خوا د خلق ډموکراتیک ګوند په اډانه کې د کیڼ اړخو ځواکونو رامنځته کیدل او له بلې خوا د اسلامي خوځښتونو پیاوړتیا، په افغانستان کې د واک پیچلي جوړښت ته نوي لوبغاړیو را ودانګل. لویدیځ ته د داوود خان لیوالتیا او نیږدې والی او د خلقیانو او پرچمیانو ترمنځ د اختلافونو رامنځته کیدل د دې لامل شول، څو د ۱۳۵۷ کال د غويي په ۷ نیټه، کمونیستانو د پخواني شوروي اتحاد په ملاتړ کودتا وکړي او د داوود خان حکومت نسکور کړي. بلاخره، د خلق او پرچم ترمنځ د اختلافونو زیاتیدلو په پایله کې د ۱۳۵۸ کال د جدي په ۶ د شوروي پوځي ځواکونو پر افغانستان تیری وکړ. (تمنا، ۱۳۹۹: ۸۵-۸۶)

د افغانستان خلک د پردیو ضد روحیې په لرلو او د ایدئولوژیکې توجیه څخه په ګټې اخیستنې، د پخواني شوروي لخوا د هېواد ښکیلاک پر وړاندې په «جهاد» او د هغوی لخوا د لاس پوڅیو حکومتونو پر ضد جګړه پیل کړه او په بشپړ ډول د پخواني شوروي د پوځیانو وتلو او د ډاکټر نجیب الله د واکمنۍ تر نسکوریدو (د ۱۳۷۱ د غويي ۸) یې جهاد او جګړې ته دوام ورکړ.(تمنا، ۱۳۹۹: ۸۶) که څه هم د هغه مهال ولسمشر ډاکټر نجیب الله له افغانستان څخه د شوروي ځواکونو په وتلو سره «د ملي پخلاینې طرحه» وړاندې کړه، خو د منازعې اړخونه او د هغه مهال وسله والې ډلې (جهادي ګوندونه او تنظیمونه) د اعلامیو په خپرولو سره رد کړه او د هغوی له ډلې ځینو یې په پوځي لارو د افغانستان د کړکیچ پر حل ټینګار وکړ. (کاکړ، ۱۴۰۰: ۲۱)

د هغه مهال مجاهدینو، د پخواني شوروي پر ضد جهاد او هغوی پورې تړلي حکومتونو پر وړاندې د جګړې لامل، د کمونستانو او د هغوی ملاتړو لخوا د هېواد «ښکیلاک» اعلان کړ. د هغه مهال مجاهدینو، په بشپړ ډول له هېواده د شوروي پوځي ځواکونو وتلو سره هم چمتو نشول، څو د ډاکټر نجیب الله له حکومت سره د سولې خبرې وکړي. د مجاهدینو له انده، د ډاکټر نجیب الله حکومت او ځواکونه یې له مالي، تسلیحاتي او پوځي

پلوه، له کفارو سره ملګري وو او له مسلمانانو سره يې جګړه کړې وه. له همدې امله، د هغه مهال د حکومت تر نسکوريدو پورې يې جګړې ته دوام ورکړ.

مجاهدينو، د هغوی د اند پر بنسټ، په هېواد کې کمونيستي سياسي نظام او د شوروي ښکيلاګرو شتون، نه شو زغملای. مجاهدينو د ليدلورې، ژوند دود، کلتور او هغه باورونه يې چې لرل، نه يې غوښتل، څو د واک په هغه جوړښت کې ګډون ولري، چې د کمونيسم پيروي کوي. د هغه مهال د نظام سره د مخالفت په لړ کې، زيات کلونه سپک، ربړول، وهل او ټکول شوي او زنداني شول او ډيری يې ګاونډيو هېوادونو ته خواره او کډوال شول. بلاخره د انسجام، سرچينو موندلو او د افغانانو اسلامي تنظيمونو په جوړولو سره، په هېواد کې يې وسله وال منازعات پيل کړل.

په ټوله ايز ډول، شاوخوا ټولو مجاهدينو، په جهادي فکر سره را ټول شوي وو. مجاهدينو نه هم د پام وړ اقتصاد او پانګه لرله او نه هم له خپلواکيو، له ښکيلاک څخه د خلاصون څرګندونه پوهه او يا هم د حکومتوالۍ لپاره طرحه او سياسي پروګرام!. په جګړه کې ډيری ښکيل مجاهدين د ليک او لوست له وړتيا څخه بې برخې وو، خو د جهادي تنظيمونو ډيری رهبران، ديني زدکړې کړې وې. له همدې امله سرتيري يې د عقيدې او ايډيولوژيکو دلايلو په رڼا کې جهاد او جګړې ته هڅول، د جګړې امکانات او وسلې يې له ګاونډيو، سيمې او د نړۍ له هېوادونو څخه ترلاسه کولې.

**۱-۲. واک ته د جهادي تنظيمونو رسيدل**

د ډاکټر نجيب الله استعفا او د افغانستان ډموکراتيک جمهوري حکومت ړنګيدو سره، مجاهدين کابل ته ننوتل او واک يې ترلاسه کړ. صبغت الله مجددي، چې په افغانستان کې له شوروي سره د جګړې پر مهال د افغان مجاهدينو له رهبرانو څخه وو او په ۱۳۵۷ کال کې يې د افغانستان له کمونيستي حکومت سره د مبارزې لپاره د ملي نجات جبهه جوړه کړې وه، د مجاهدينو له بريالیتوب وروسته د ۱۳۷۱ کال په پسرلي کې د دوو مياشتو لپاره د افغانستان اسلامي دولت لنډمهاله مشر وټاکل شو. وروسته بيا، برهان الدين رباني، چې د مجاهدينو له اغيزناکه رهبرانو او څه نا څه محافظه کاره شخصيت ګڼل کيده، د يو شمېر اسلامي او جهادي ګوندونو د ائتلاف په پايله او د هغوی څخه د بيعت اخيستلو وروسته واک ته ورسيد. (ايده، ۱۳۹۹: ۲۶)

کله چې له مجاهدينو پوښتنه کيده، چې حکومتوالۍ به څنګه شي، بيلابيلو الفاظو او اندونو سره يې ځواب وايه، هغه ملت، چې وتوانيد شوروي اتحاد مات کړي، حکومتوالۍ هم کولای شي. د جهادي تنظيمونو ډيری رهبران له ځانګړيو ديني تفسيرونو څخه په اغيزې په دې باور وو، چې قلبي اخلاص او تقوا کافي ده، څو د لوی څښتن تعالی مرسته له ځانه سره راوړي او د هغه په مرسته به ټولې ستونزې حل شي. دا غيبي نصرت او وجيزې تمه لرل، په عمل کې ناسم ثابت شوو. بلاخره وليدل شول، چې د جګړې کولو او حکومتوالۍ تر منځ ډير توپير شتون لري. د مجاهدينو او د طالبانو د هغه مهال حکومت دا څرګنده کړه، چې د تقوا او له خدايه ويرې ترڅنګ، کار، مديريت او تخصص هم د دولت والۍ له بنسټيزو اړتياوو څخه دي. (منصور، ۱۴۰۰: ۱۴۰)

مجاهدينو په ايډيولوژيکو دلايلو؛ «د ښکيلاک پر وړاندې جهاد» او «د غير اسلامي حکومت» په ړنګولو وتوانيدل، څو خلک وسله وال پاڅون ته وهڅولې. که څه هم بې شمېره قرباني يې ورکړه، خو يوازې له «ښکيلاک» څخه د هېواد خلاصون او د هغوی د کورنيو لپاره د «شهيد» مقام ترلاسه کول کافي وو. د جګړو په ډګر کې د مجاهدينو له مهارتونو څخه ټول خبر وو، خو په حکومتوالۍ کې ولړزيدل. مجاهدين و نه توانيدل، چې يو پراخ بنسټه حکومت، چې په کې د افغانستان د جهاد او جګړې ټول اړخونه شامل وي، رامنځته کړي. بلاخره

بریا زیات دوام ونکړ او د واک ویش او زیات واک ترلاســـه کولو په موخه د مجاهدینو ترمنځ د هوکړې نه رامنځته کیدو له امله، ترمنځ یې د افغانســتان کورنۍ جګړه پیل شـوه. د حکومت د جوړولو د پوهې او مهارت نه شتون، حکومتوالۍ کړنلارې نه شتون، بیړنیو مالي سرچینو ته نه لاسرسی او واک ویش پر سر هوکړې ته نه رسیدل، د ائتلاف دننه اختلافونه رامنځته او د مجاهدینو حکومت کې ښکیل اړخونو او له حکومته بهر ډلو ترمنځ د وسله والې جګړې لامل شو.

خو لوبې دلته پای و نه موند، د جګړې په چوپړ کې د «قومیت»، لکه پښـــتانه، تاجیکان، هزاره ګان او ازبیکان، کله هم د «مذهب» لکه «شیعه او سني»، ژبه «پښتو – فارسي» او حتی «سمت» هم وکارول شول.

د کورنیو جګړو او نښـتو په لړ کې، کابل د جګړې په ځو سـیمو تبدیله شـوی و. د کابل ډیری برخې د جګړې له امله ړنګې شوې او زرګونه کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړ. د «قومیت»، «مذهب» او «سمت» ګډون په جګړه کې نه یوازې، د وسله والو منازعاتو ډګر تود ساتلی وو، بلکې فرهنګي تاوتریخوالي یې هم له ځانه سره درلود. له همدې امله افغانستان د قومي، مذهبي، سمتي او ژبني تبعیض په ناروغی اخته شو. د منازعاتو اړخونو له مزدور، نوکر، د پردیو غلام او له سپکاوي ډک نورو اصـطلاحاتو څخه د فرهنګي جګړې لپاره ګټه واخیستله او اخلي. دغو شـــیانو، قومي اختلافونه، لیدلوري او جلا والی زیات کړ او د واک لپاره یې کورني وســـله وال منازعات تاوده وســاتل. په ټول هېواد کې خپلســري زیاته شـوه. قومي، مذهبي او سـمتي لیري والی زیات شـو. بلاخره نفاق، کورنۍ جګړې او ناورین د دې لامل شوو، څو د طالبانو اسلامي تحریک لپاره لاره پرانیستل شي.

**۱-۳ . د طالبانو اسلامي تحریک او د امارت رامنځته کیدل**

طالبانو له دین څخه د ځانګړي تفسیر په لرلو سره په ۱۳۷۳ ل.ل کال کې په کندهار کې د شتون اعلان وکړ. د دې ډلې غړي، چې د دیني مدرسو زدکړیالان وو، وویل: «د مجاهدینو د رهبرانو د کړنو پر وړاندې، چې د واک ترلاسه کولو لپاره یې جګړه وکړه، د سپکاوي او نه درناوي احساس کوي. نو پریکړه یې کړې، چې د دې فاسـدو ګوندونو کړنو ته، چې له اســلام څخه د خپلو کړنو لپاره ناوړه ګټه اخلي، د پای ټکی کیږدي.» (مارزدن، ۱۳۷۹: ۵۳)

طالبانو ډیری رضـاکاره غړي سره را ټول کړل، وسله وال ځواکونه یې سمبال او د خپلې مشرۍ لاندې ولایتونو کې یې غوره اتحاد رامنځتـه کړ. (تمنـا، ۱۳۹۹: ۸۹) طـالبـانو کندهـار او غزني په ۱۳۷۳، هرات په ۱۳۷۴، کابل په ۱۳۷۵، مزار شریف په ۱۳۷۶ او بالاخره د افغانستان څه باندې ۹۰ سلنه خاوره یې لاندې کړه. (مارزدن، ۱۳۷۹: ۲۶۰-۲۶۶)

طالبانو د خپلې ادعا پر بنسـټ « داسـي خوځښـت وو، چې له پراخ شـر او فسـاد سـره د مبارزې لپاره رامنځته شوو او ډیر ژر وتوانید، د شر او فساد ډلې له منځه یوسي، نظم او قانون ځای ناستی کړي.» هغوی د مجاهدینو حکومت، واکمن جهادي ګوندونه او تنظیمونه او د هغوی ائتلاف یې د شر او فساد ډلې وګڼلې. له همدې امله د هغوی د له منځه وړلو لپاره یې، وســـله وال منازعات ترســـره کړل. په دې ډول واک ته ورســـیدل او د افغانسـتان اسـلامي امارت یې جوړ کړ او د هغوی په وینا « ۱۵۰۰ دیني عالمانو د اهل و حل عقد په توګه له ملا محمد عمر سره د امیر المومنین په توګه بیعت وکړ.» (احمدي، ۱۴۰۰: ۴۳)

د طالبانو د هغه وخت واکمنی له وژنو، ډول ډول جزاګانو، سنګسار، قصاص، لاس پرې کولو، د ښځو پر وړاندې زور زیاتی، د فلمونو او سندرو پر لیدلو او اوریدلو بندیز او لسګونه نورو بندیزونو سره مل وو. (ایده،

۱۳۹۹: ۲۶) د نشـــه يي توکيو کرکيلي په بې ســـارې ډول وده کړې وه. د نړيوالو لخوا د اړيکو نه ټينګيدل او بد اقتصادي وضعيت وروسته، بې وزلي او روغتيايي خدمتونو ته نه لاسرسی د دې لامل شو، څو د دې هېواد خلک په بې ساري توګه وځپل شي. همدارنګه يو شمېر ترهګرې ډلې د هېواد په بيلابيلو سيمو کې ځالې جوړې کړې وې. له دې ډلې څخه د القاعده ډله توانيدلې وه، څو په افغانســـتان کې خپل شـــتون څرګند کړي. د طالبانو د هغه مهال زورواکه واکمنۍ کې فزيکي امنيت په ښه ډول شتون درلود، خو رواني امنيت او ټولنيزې خپلواکۍ له ټولنې څخه کډه کړې وه. (تمنا، ۱۳۹۹: ۹۳)

څنګه چې يادونه وشوه؛ د طالبانو په هغه مهال واکمنۍ کې، بنسټ پالو او سخت دريځو ډلو لکه القاعده په افغانســـتان کې ځاله کړې وه. د امريکايانو د ادعا پر بنســـټ، القاعده د ۲۰۰۱ کال د ســـپټمبر ۱۱، پر نړيوال سوداګريز مرکز او پنټاګون (د امريکا دفاع وزارت) بريدونه له افغانستان څخه طرحه، مديريت او پلي کړي دي. دې بريد ته په غبرګون کې، له يوې مياشـــتې په لږه موده کې (د ۲۰۰۱ د اکتوبر ۵) د امريکا په مشـــرۍ نړيوالو ائتلافي ځواکونو پر افغانســـتان بريد او پوځي لاسوهنه پيل کړه. د هغه مهال د طالبانو حکومت يې په چټکۍ سره ړنګ کړ. (ايده، ۱۳۹۹: ۲۶)

**۱-٤ . د افغانستان اسلامي جمهوريت جوړيدل**

د امريکا په مشـــرۍ د نړيوال ائتلافي ځواکونو له بريدونو او د هغه مهال د اســـلامي امارت له ړنګيدو وروسته، افغانستان د خپل تاريخ نوي پړاو ته ننوت. د هېواد نوي نظام او سياسي جوړښت رامنځته کولو په موخه د جرمني په بن کې د ۲۰۰۱ زيږديز کال د ډسمبر مياشـــتې په ۱۳ نيټه، له ۹ ورځو بحث او خبرو وروســـته، د غونډې ګډونوالو دوه پړاويزه هوکړه ليک لاســـليک کړ، چې په افغانســـتان کې د نوي نظام جوړولو بنســـټ يې کيښـود. د دې هوکړه ليک پر بنسـټ، د افغانسـتان په مسـائلو کې ښـکيلو اړخونو او ځيرو پر يوه شـپږ مياشـتني لنډمهاله حکومت هوکړه وکړه. په دې ناسته کې بيلابيلو ګډون کوونکيو اړخونو، د افغانستان اسلامي ملي متحدې جبهې څخه نيولې بيا تر نورو جهادي تنظيمونو او د روم شورا غړيو، دا هوکړه ليک لاسليک کړ، خو طالبانو او اســـلامي ګوند په دې ناســـته کې ګډون نه وو کړی. طالبان د ۲۰۰۳ ـــ ۲۰۰۴ کلونو پورې خواره واره وو او له دوی څخه رسمي پته او نښه څرګنده نه وه. (تمنا، ۱۳۹۹: ۱۰۰-۱۰۱) له همدې امله د بن په غونډه کې بلنه نه وه ورکړل شـوې. په اغلب ګمان، که چيري بلنه هم ورکړل شـوې وای، دوی به ګډون نه وو کړی. ځکه د هغوی له انده؛ لومړی، د هغوی مشروع حکومت ړنګ شوی وو. دويم، له دين څخه د طالبانو اسلامي تحريک د تفسير پر بنسټ، په افغانستان کې د بهرنيو ځواکونو شتون د منلو نه وو، او دريم، د افغانسـتان اسلامي ملي متحدې جبهې سره د پراخ بنسټه حکومت رامنځته کيدل له امکان ليرې وه.

په لنډه، د بن کنفرانس په پايله کې، لنډمهاله اداره، انتقالي حکومت او د حامد کرزي او محمد اشرف غني په مشرۍ ټاکنيزو حکومتونه او د ۱۴۰۰ کال د زمري ۲۴ - ۲۰۲۱ کال د اګسټ تر ۱۵ نظام دوام وکړ. د نوي نظام جوړيدو لپاره؛ د امريکا متحده ايالتونو د ترهګرۍ ريښو ته په کتو، يعنې بې وزلي، د نشـه يي توکيو ليږد، د ځواکمن او ځواب ويونکي حکومت نه شتون، بې عدالتي، بې سوادي او نا پوهي، د نرمښت فرهنګ نه شتون، د ترهګرۍ له منځه وړلو لپاره يې د افغانســـتان بيارغونې او په دې هېواد کې د ځواکمن مرکزي حکومت رامنځته کولو لپاره ملا وتړله. په دې پړاو کې د ملي او ځواکمن دولت رامنځته کولو پر وړاندې ســـتر خنډ، د کورنيو جګړو له مهاله د زيات شمېر وسله والو ډلو شتون وو. د بهرنيانو لاسوهنه، کورنۍ جګړې، د ترهګريزو شبکو شتون او وده د دې لامل شوه، څو د واک جوړښت د ځايي قومندانانو شخصي واک پر بنسټ رامنځته شي، چې په پايله کې يې غير قانوني وسله والو ډلو وده وکړه. دا له هغه سترو لاملونو څخه وو، څو ترهګر، پاڅونوال، د نشـه يي

توکیو قاچاق کوونکي او نورو جنایت کارو ډلو اغیزو ته زمینه برابره کړي. وسلو ته د ډېرې خلکو لاسرسی وکولای شوو، څو په بالقوه ډول ټیکاو له ګواښ سره مخ کړي. د افغانستان په بیلابیلو سیمو کې د غیر قانوني وسله والو ډلو شتون، د دې لامل شو، څو ځایي قوماندانانو واکمني او له مرکزي دولت څخه د هغوی نه اطاعت ته زمینه برابره کړي. (تمنا، ۱۳۹۹: ۹۵-۹۶)

طالبانو د خپل حکومت له ړنګېدو شاوخوا درې کاله وروسته، یو ځل بیا خپل انسجام ته مخه کړه. دا هغه وخت دی، چې امریکا پر عراق برید وکړ او د افغانستان له جګړې څخه یې زیاته پاملرنه عراق ته واړوله. له افغانستان څخه عراق ته د هغوی پاملرنه، افغانستان یو ځل بیا د امریکا په بهرني سیاست کې څنډې ته شو. دا وضعیت د افغانستان د منازعاتو سیمه ایزو لوبغاړو ته زیات فرصت برابر کړ، څو په افغانستان کې تر خپلو اغیزو لاندې بنسټونه یو ځل بیا پیاوړي کړي. طالبان د بیا پیاوړتیا او ځواکمن کېدو فرصت وموند او بیا یې د امریکا او په افغانستان کې د واکمن نظام پر وړاندې نور ګواښونه رامنځته کړل. (Sullivan, ۲۰۰۷: ۱۰۳) له بلې خوا د ځایي قوماندانانو خپلسري، د شخصي زندانونو جوړول، پر کورونو هوایي بریدونه، د کورونو تلاشي، په دولتي او امریکایي – افغانستان زندانونو کې له طالبانو سره بد چلند او بلاخره د افغانستان له یو شمېر خلکو سره ظلم، زیاتی، وهل او ټکول، سپکاوی او نه درناوی، د طالبانو په پیاوړتیا او وسله والو مبارزو ته د هغوی بیا راستنیدو کې ونډه درلوده. (امیري، ۱۳۹۰: ۲)

دا ځل طالبانو په دې شعار سره د وسله والو مبارزو ډګر ته ودانګل، چې «اسلامي امارت د کفارو لخوا تر برید او تیري لاندې راغلی، هېواد ښکیلاک شوی او د کافرانو لخوا ولکه شوی دی او د اسلامي امارت نظام هم له حاکمیت څخه لیري شوی دی.» د دې پیښې وروسته، طالبانو د دوو موخو: اول، د کفارو له ښکیلاک څخه د هېواد خپلواکي او دویم، د اسلامي نظام او حاکمیت بیا را ژوندي کولو لپاره بیاځلې خپل جهاد پیل کړ. (احمدي، ۱۴۰۰: ۴۴)

د طالبانو مرکچي پلاوي په دوحه کې د افغانستان د سولې بهیر تر وروستیو ورځو پورې، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د دولت په توګه نه پېژانده. په دې دلیل، چې دا دولت د ښکیلاک محصول دی او د کفارو لخوا تپل شوی دی. خپل جهاد یې له دې امله، چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د مسلمانانو پر وړاندې په جګړه کې د کفارو ملګری او اجیر وو، د اسلامي امارت د رامنځته کېدو پر وړاندې خنډ او د کفارو په چوپړ کې وو، روا ګڼلی دی. دا چې دا ادعا څومره ریښتیا او د واقعیتونو پر بنسټ ده، دې څېړنې کې د قضاوت وړ نه ده. خو ډاکټر امین احمدي «د افغانستان سوله، د جمهوریت او امارت جدال» په کتاب کې د قرانکریم د ایتونو او حدیثونو او همدارنګه دیني عالمانو سره مرکه کې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت پر وړاندې د هغوی «جهاد» رد کړی او هغه یې جګړه ګڼلې ده. (احمدي، ۱۴۰۰: ۴۵-۴۳)

په بل بحث کې به په تفصیل سره بیان شي، چې په وروستیو دوو لسیزو کې د جګړې ترڅنګ، د طالبانو اسلامي تحریک او حکمتیار اسلامي ګوند سره سیاسي هوکړې ته رسیدو په موخه زیاتې هڅې شوي دي. خو د دې ټولو هڅو پایله کې د طالبانو تحریک سره سیاسي هوکړه و نه شوه. بلاخره د امریکایي پوځیانو وتلو لپاره له هوکړې وروسته، طالبانو یو ځل بیا له پوځي لارې واک ترلاسه کړ.

**۱-۵ .د اسلامي امارت بیا جوړیدل**

د شاوخوا دوو لسیزو وسله والو منازعاتو وروسته، کابل ته له ولایتونو څخه د طالبانو د واکمنۍ په پراخیدو او د ۱۴۰۰ کال د زمري ۲۴ – د ۲۰۲۱ د اګست ۱۵ کې د پخواني ولسمشر محمد اشرف غني، د

مخکیني دولت او حکومت چارواکیو، پیژندل شویو سیاسي رهبرانو او څیرو تیښته، طالبان یو ځل بیا واک ته ورسیدل. د کابل تر لاندې کولو وروسته، یو شمېر شخصیتونه، د جهادي خوځښتونو او تنظیمونو یو شمېر رهبران او استازي، چې پاکستان ته په یوې ناسته کې د ګډون په موخه تللي وو، تر اوسه بیرته هېواد ته نه دي راستانه شوي. د وسله والو ځواکونو زیات شمېر ملګري او بهرنۍ موسسې له افغانستان څخه ووتې. همدارنګه زیات شمېر څارنوالان، قاضیان، وسله وال ځواکونه، د رسنیو او مدني ټولنې یو شمېر فعالان د پناه اخیستلو غوښتنه کړې ده. عام وګړي رنځور شوي او له راتلونکي څخه ناهیلي، له زورزیاتي او تاوتریخوالي څخه ویره، سختې بې وزلۍ سره د مخ کیدو او د خپلو حقونو او ټولنیزو خپلواکیو له لاسه ورکولو څخه اندیښمن دي.

هغه څه چې تر اوسه رامنځته شوي، د طالبانو تحریک (اسلامي امارت) د داعیې ترلاسه کول دي، چې په وروستیو دوو لسیزو کې یې په لټه کې وو، خو یو شمېر سیاسي رهبران، د نوي نسل او ځوانانو او د ښځو فعالان، د پراخ بنسټه نظام او دولت رامنځته کیدو، د نظام مشروعیت، اساسي قانون، ټاکنې او د سیاسي مشارکت په لټه کې دي او تر اوسه سیاسي مشروعیت، د دولت او حکومت جوړښت، د حکومتوالۍ ډول، د ګډون او مشارکت او د واک د لیږد لارې او ګڼ شمېر نور مسائل لا تر اوسه حل شوي نه دي.

## ۲. د افغانستان د سولې ناکام بهیرونه

د افغانستان د سولې بهیرونو څېرل د دوو سومالیایانو په یوې کیسې را پیلوو، چې څنګه په خپل جګړه ځپلي هېواد کې د سولې کور جوړ کړي.

یو سومالیایي د سومالیا د نا دولتي بنسټونو په استازیتوب په یوه کنفرانس کې ګډون کړی وو، د کنفرانس په دهلیز کې د خپل تره له زوی سره، چې په سومالیا کې د یوه ګوند مشر دی، مخامخ کیږي. د هغوی له منځ څخه په مسکا یو یې د خپل تره زوی ته وویل: «ښاغلی رئیس تاسې جګړه ماران ولې فکر کوئ، چې تاسې حق لرئ، ستاسو نه یو کس ولسمشر شي؟» دې پوښتنې سره، نوموړي سیاسي بحثونو او مرکو ته اشاره وکړه، چې د سولې هر کنفرانس کې په دې اړه، چې کومه قبیله او بلاخره کوم کس ولسمشر شي، چې په هره غونډه کې رامنځته کیږي او غونډه کې ستونزې را ولاړې شي. په دوام کې یې وویل: «تاسې نه پوهیږئ، چې له یوه چوکاټ پرته د کوټې چت نړیږي؟» د هغه د تره زوی پرته له کوم ځنډه او په ځانګړي مسکا ځواب ورکړ: «تاسې هم په ښه ډول پوهیږئ، چې روغ بدن سر ته اړتیا لري. ما هیڅکله هم نه دي لیدلي، چې یوه پښه له سر پرته ګام پورته کړي یا هم له سر پرته مټ خوځښت ولري.» بل په زور خفګان ځواب ورکړ: « د ګران تره زویه! کور له بنسټ څخه وران شوی، پښې ماتې دي او له متو وینې څڅیږي. بدن شتون نه لري، چې سر ته اړتیا وومي.» (لیدراک، ۱۳۹۶: ۱۷)

دا کیسه په هغه جګړه ځپلو ټولنو کې د سخت او ستونزمن وضعیت ښکارندوي کوي، چې د سولې په لټه کې دي. د افغانستان د اوږدمهاله منازعاتو ناورین، شخړې او د سولې مذاکراتو ناکام بهیرونه له بیلابیلو اړخونو څخه له یادې کیسې سره ورته والی لري. په ځانګړي ډول د منازعاتو د اړخونو دریځ، بربنډه او پټه غوښتنه دا ده، چې د حکومت مشري کومې ډلې سره وي او د واک مشري څوک وکړي.

اوس مهال د دې پوښتنو څېرلو وخت دی، چې د جګړې پایته رسیدو او سولې ټینګښت په موخه څوک، څه وخت او څه ډول هڅې او زیار ترسره کړي؟ کوم کس، څه وخت او ولې له سولې مخ راوګرځوي؟ له همدې امله په دې برخه کې په وروستۍ نیمه پیړۍ کې د افغانستان د سولې بهیرونه څېړل شوي دي:

### ۲-۱. د جینیوا تړون

څنګه، چې مخکې وویل شول، د سردار محمد داوود خان کودتا او د ظاهرشاه حکومت له ړنګیدو وروسته، په افغانستان کې د واک نوي لوبغاړي را څرګند شول. د بنې او کیڼ اړخو (خلق او پرچم) ترمنځ د اختلافونو په رامنځته کیدو او لویدیځ ته د داوود خان لیوالتیا سره، د پخواني شوروي پوځیان افغانستان ته را ننوتل. له څو کلونو جهاد او جګړو او د افغانستان د ناورین د سیاسي حل په موخه له هڅو وروسته د ۱۳۶۷ کال د وري په ۲۵ (۱۹۸۸ د اپریل ۱۴) د جینوا تړون د پخواني شوروي او امریکا متحده ایالتونو سربېره د افغانستان او پاکستان دوو دولتونو ترمنځ په جینوا کې لاسلیک شوو. که څه هم د جینوا تړون په پایله کې له افغانستان څخه د پخواني شوروي ځواکونه ووتل، خو وې نشو کړای، چې په هېواد کې د تاوتریخوالي او جګړې پایته رسیدو سره مرسته وکړي. ځکه د سړې جګړې سیاستونو تر سیوري لاندې؛ د امریکا او د مجاهدینو نورو نړیوالو ملاتړو پاملرنه، له افغانستان څخه د پخواني شوروي د پوځیانو پر وتلو متمرکزه وه او له شوروي وروسته د افغانستان لپاره کوم ځانګړي پروګرام شتون نه درلود. (وفایي زاده، ۱۳۹۵: ۲۵) له افغانستان څخه د پخواني شوروي ځواکونو په وتلو سره د بشپړ او پای ته رسیدو سربېره؛ مجاهدینو د افغانستان دموکراتیک جمهوري حکومت پر وړاندې جګړې ته دوام ورکړ. ځکه مجاهدینو د ډاکټر نجیب الله حکومت د بشکیلاک پاتې شونی او شوروي پورې تړلی حکومت باله. په لنډه، د جینوا تړون له افغانستان څخه د شوروي ځواکونو د وتلو لامل شوو، خو د حکومت د دوام او یا د افغانستان د منازعاتو د اړخونو ترمنځ د پراخ بنسټه اسلامي حکومت جوړیدو لپاره د سیاسي هوکړې لامل نه شو.

### ۲-۲. د ملي پخلاینې او مصالحې طرحه

په افغانستان کې د سولې ټینګښت په برخه کې بله هڅه، د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د هغه وخت ولسمشر ډاکټر نجیب الله احمدزي د «ملي پخلاینې طرحه» وه. په لنډه کې دې طرحې درې برخې لرلې:

۱) د ټولو اړخونو په ګډون د افغانانو ترمنځ مذاکرات؛
۲) د رهبري شورا جوړیدل او پراخ بنسټه لنډمهاله انتقالي دولت رامنځته کیدل؛
۳) د سیمې او ځواکمنو هېوادونو څخه جوړ مذاکرات او نړیوال کنفرانس. (احمدي، ۱۴۰۰: ۷۴)

له افغانستان څخه د شوروي ځواکونو په وتلو، د هغه مهال د ولسمشر ډاکټر نجیب الله لخوا د ملي پخلاینې طرحه په چټکۍ سره پر مخ یوړل شوه. د هغه وخت اسلامي ګوندونو او جهادي تنظیمونو محاسبه دا وه، چې د شوروي ځواکونو په وتلو او د هغوی لخوا د مرستو بندیدلو سره به حکومتي ځواکونه د مجاهدینو پر وړاندې د مبارزې وړتیا و نه لري. له همدې امله د اعلامیو په خپرولو د ډاکټر نجیب الله د ملي پخلاینې طرحه رد کړه او ان یو شمېر د پوځي لارو څخه د افغانستان د کړکیچ پر حل ټینګار وکړ. پخواني پادشاه محمد ظاهر شاه وایي: «تر اوسه تېل شوی کمونیستي نظام په کابل کې پاتې دی.» او د هغه مهال د لنډمهال حکومت مشر صبغت الله مجددي پر څرګندو الفاظو د پوځي مبارزې پر دوام د ټینګار تر څنګ وایي: « موږ به هیڅکله له دوو کمونیستي ډلو خلق او پرچم سره، د هیڅ ډول شرایطو په رڼا کې ائتلاف و نه کړو، بلکې د فشار او مبارزو په ترسره کولو سره به په هېواد کې کمونیستي نظام ړنګ کړو.» له دوی څخه د مجاهدینو اسلامي دولت مشر برهان الدین رباني له سیاسي لارو څخه د افغانستان د ناورین حل «له کمونیزم سره د جوړجاړي» په مانا باله. (کاکړ، ۱۴۰۰: ۲۱)

د منازعاتو له اړخونو څخه یوازې د افغانستان د زحمت کشانو انقلابي سازمان (سازا)، چې مشري یې طاهر بدخشي کوله، د ملي پخلاینې طرحې په اعلان سره د هغه مهال دولت سره یوځای شو. ملګري ملتونه، چې په هغه وخت کې د افغانستان سوله کې فعال و، له لږ سمون سره د ملي پخلاینې طرحه د لنډې مودې لپاره تعقیب کړه. خو د ډاکټر نجیب الله په استعفا او د مجاهدینو لخوا د افغانستان ډموکراتیک جمهوري حکومت په ړنګیدو سره، د سولې کولو بهیر هیر شو.

### ۲-۳. د ملګرو ملتونو د سولې طرحه او د بنون سیوان هڅې

څرنګه، چې مخکې وویل شول، د سړې جګړې د حاکم سیاست درونداوالي ته په کتو، ملګرو ملتونو په افغانستان کې د سولې د یوه لوبغاړي په توګه، په اتیایمه زیږدیزه لسیزه کې و نشو کړای، په افغانستان کې د پخواني شوروي یرغل د غندلو پرته څه وکړي او له بښکیلاک وروسته پروګرام وړاندې کړي. د جینوا تړون د دې ترڅنګ، چې د شوروي ځواکونو پر وتلو او له دواړو خواوو (ډاکټر نجیب الله حکومت او جهادي تنظیمونو) د شوروي او امریکا په مشرۍ د لویدیځو ځواکونو ملاتړ ته د پای ټکی کیږدي، هوکړه وه، خو د شوروي له وتلو وروسته د سولې پروګرام په کې نه وو. د ۱۳۶۹ کال د لړم په ۱۶ (د ۱۹۹۰ د نوامبر ۷) ملګرو ملتونو عمومي اسمبلې د ۱۲/۴۵ پریکړه لیک تصویب کړ، چې پر بنسټ یې د ملګرو ملتونو سرمنشي خاویر پرز ډکوریا، د افغانستان د ستونزې د حل په موخه پنځه ماده ایزه اعلامیه صادر کړه. په دې اعلامیه کې لاندې موارد شامل وو:

۱) د افغانستان د ملي حاکمیت په رسمیت پیژندل؛
۲) د حکومت او سیاسي سیستم ټاکلو لپاره د افغانستان د خلکو پر حق ټینګار؛
۳) لنډمهاله سیستم او له ټاکنو څخه د څارنې لپاره د میکانیزم او پراخ بنسټه حکومت جوړول؛
٤) د ملګرو ملتونو تر څار لاندې اوربند؛
٥) د کډوالو بیا راستنیدو او اقتصادي او ټولنیزې بیا رغونې لپاره مالي مرستې. (Assembly, ۱۹۹۰)

د دې پریکړه لیک د تصویب ترڅنګ، د ملګرو ملتونو لخوا د افغانستان د سولې لپاره کومه طرحه تر هغه مهاله وړاندې نه شوه، څو قبرسي ډیپلومات او د افغانستان په چارو کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي ستر سلاکار بنون سیوان طرحه رامنځته شوه. د «بنون سیوان د سولې طرحې» پر بنسټ، د ټولو قومونو او د ظاهر شاه په ګډون د ټولو ګوندونو او سیاسي خوځښتونو ۱۵۰ کسیزه لیست چمتو کیدو، څو دا کسان په ویانا کې سره جرګه شي او له خپل منځ څخه ۳۵ استازي وټاکي. د دې استازو دنده دا وه، څو د یوې میاشتې په موده کې له بیلابیلو خلکو سره په سلا مشورو، د لویې جرګې د جوړولو زمینه برابره کړي؛ او لویه جرګه به د انتقالي حکومت جوړښت او ترکیب په اړه پریکړه وکړي او په پایله کې به یې ټاکنې او نوی حکومت رامنځته شي. (Gargan, ۱۹۹۲) که څه هم د سولې د دې طرحې هرکلی وشو، خو بریالۍ نشوه.

### ۲-٤. د راولپینډۍ – پیښور او اسلام آباد سیاسي هوکړې

مجاهدینو له شاوخوا درې نیم کلونو ناکامو هڅو او په جګړه کې د بریا هیله مندۍ وروسته، په داسې حال کې، چې د هغوی ترمنځ د واک پر سر سیالیو شتون درلود، د ۱۳۷۱ کال غویي په ۱ د پاکستان په پیښور کې ۵۱ کسیزه قیادي شورا رامنځته کړه. دغې شورا منظم جوړښت په لرلو سره، د ډاکټر نجیب الله لخوا د واک پریښودلو وروسته کابل ته ولیږل شوه او د ۱۳۷۱ کال د غویي په ۸ د بهرنیو چارو وزارت کې د یوې

غونډې په ترڅ کې، واک د ډاکټر نجیب الله د ستري محکمې مشر فضل الله خالقیار لخوا د صبغت الله مجددي په مشرۍ قیادي شورا ته وسپارل شو. د مجاهدینو بریا او د ډاکټر نجیب الله د دولت د ړنګیدو سره سره، مجاهدین و نه توانیدل، یو څواکمن او پراخ بنسټه حکومت، چې ټولو سیاسي اړخونو ته د منلو وي، رامنځته کړي. کابل ته د ننوتلو په لومړنۍ ورځ د مجددي د لیږد پر الوتکې د توغندیز برید په نوې بڼه او چوکاټ کې د منازعاتو د دوام او د سیاسي نظام ترکیب او جوړښت او د هوکړه شوي انتقالي جوړښت څخه د نا خوښي ښکارندوي وه. په دې ډول د واک پر سر د جهادي ګوندونو او د هېواد د سیاسي رهبرانو ترمنځ اختلاف څرګند شو او یوازې د منازعې اړخونو بدلون وموند او په هیواد کې تاوتریخوالی دوام وموند. (وفایي زاده، ۱۳۹۵: ۳۵-۳۶)

د وخت د ولسمشر مرستیال محمد کریم خلیلي، چې د پېښور په ناستو کې یې ګډون درلود، وایي: اصلي ستونزه له ناستې وروسته د عربي هېوادونو په یوې کونسلګرۍ کې رامنځته شوه او وویل شوو، چې له هزاره او شیعه ګانو سره وروسته بیا خبرې کوو! د افغانستان ازبیک توکمه لیکوال اسدالله ولوالجي وايي: په پیښور کې، چې د مجددي په مشرۍ دولت او حکومت رامنځته شو، په کې قومي مسائل تاوده و؛ حتی اوزبیکانو ته یې هم یوه چوکی نه وه ورکړې، چې په دولت کې ونډه ولري او هزاره ګانو ته هم ونډه نه وه ورکړل شوې. په تدریجي ډول په افغانستان کې وضعیت د قومي کیدو خوا ته لاړ. (وفایي زاده، ۱۳۹۵: ۳۷)

د جهادي ګوندونو ترمنځ د جګړو رامنځته کیدو او دوام ته په کتو، چې ډیرۍ یې قومي پیژندګلیو سره تړلي وو، د پیښور له تړون څخه شاوخوا یو کال وروسته، د سعودي عربستان او پاکستان په نوښت، په جګړه کې د ښکیلو جهادي ګوندونو تر منځ د پخلاینې او د هغوی ترمنځ د «پراخ بنسټه» دولت جوړولو او په افغانستان کې د سولې او ټیکاو او امنیت ټینګښت په موخه نوې هڅې پیل شوې. د ۱۳۷۱ کال په کب کې د سعودي عربستان د پادشاه شاه فهد بن عبدالعزیز په بلنه او د پاکستان د لومړي وزیر نواز شریف په کوربه توب د اسلام آباد ناسته جوړه شوه. د دې هڅو په پایله کې د شیعه ګوندونو په ګډون، چې د پیښور په هوکړه کې ورته پاملرنه نه وه شوې، د سیاسي ګوندونو استازو ګډون کړی وو. دا ناسته د جګړې پایته رسیدو او دولت جوړولو په موخه د بنسټیزو او مهمو مسائلو له خبرو او د عربستان او پاکستان دوو هېوادونو له منځګړیتوب وروسته هوکړې ته ورسیدل او د ۱۳۷۱ کال د کب په ۱۶ نیټه په اسلام آباد کې هوکړه لیک لاسلیک شو؛ او له هغه وروسته، په دې ناسته کې ګډون وال جهادي رهبران د سعودي عربستان پادشاه په بلنه د بیت الله شریف زیارت او عمرې حج په موخه مکې ته لاړل. که څه هم جهادي رهبرانو په کعبه کې د ژړا او قسم سره ژمنه وکړه، خو وروسته یې بیا قسم مات کړ. د اسلام آباد د هوکړې اړخونو د ۱۳۷۲ کال د غویي په ۱۰ په جلال آباد کې د کابینې جوړولو په موخه سره جرګه شول او هوکړې ته هم ورسیدل، خو بلاخره دا هوکړه لیک هم په هېواد کې د جګړې پایته رسیدو او تل پاتې سولې لامل نشو. (وفایي زاده، ۱۳۹۵: ۳۹-۳۷)

له جهادي تنظیمونو وروسته، طالبان د فزیکي امنیت په ټینګښت کې بریالي شول، خو و نه توانیدل په افغانستان کې رواني امنیت، تاوتریخوالي پایته رسیدو او تل پاتې سولې لپاره لار پرانیزي. طالبانو پرته له تسلیمي څخه، د افغانستان د وسله والو منازعاتو له هیڅ کوم اړخ سره د سولې او پخلاینې لار غوره نه کړه. (وفایي زاده، ۱۳۹۵: ۴۲)

**۲-۵. له بن نه تر دوحې له طالبانو سره د افغانستان د سولې بهیرونه**

څنګه چې مخکې وویل شــول، د امریکا په مشــرۍ د نړیوالو ائتلافي ځواکونو د بریدونو په پایله کې د طالبانو په مشرۍ د هغه مهال اسلامي امارت رړنګ شو. له هغه وروسته، د بن کنفرانس جوړ شو. د دې کنفرانس اصــلي موخه، د افغانانو مشــروع حکومت ته د ســیاســي مدیریت لیږد وو. د دې کنفرانس په پایله کې د طالبانو اسلامي تحریک مخالفو ډلو ترمنځ د واک ویش او سوله هم وشوه، خو د زیاتو فعالانو او سیاستوالو په اند، د دې کنفرانس اصلي موخه «په افغانستان کې د سولې ټینګښت» نه وو.

د طالبانو په مشرۍ د هغه مهال اسلامي امارت له ړنګیدو وروسته، د طالبانو په اړه خبرې کول هم ښه نه ښــکاریدل. د طالبانو په اړه که چیرې توصــیف یې له ځانه سـره درلود، شــک یې رامنځته کاوه. امریکایانو له هغوی څخه په مســتعارو کلمو «بد خلک» یادونه کوله. بهرنیانو د افغانســـتان د فکر، ژوند ډول او ټولنې په اړه سـمه پیژندنه نه درلوده، په کورنیو اړخونو کې لا هم د بریا خوند، عقدې سړولو، د اقتدار نشـې شـتون درلود. په کورني او بهرني اړخونو کې دې فکر شتون درلود که چیرې «بد خلک» له منځه لاړ شي، ستونزه به حل شي. په داســـي حال کې چې د افغانســـتان د منازعاتو کړکیچ یوازې د طالبانو ماته نه وه، بلکې واک جوړښــت کې د هغوی ګډون، د ټولنې د یوې برخې په توګه د هغوی پیاوړتیا او د افغانستان د نورو وګړیو په شان عادي او هوسا ژوند ته د هغوی د ځواکونو بیرته را ګرځیدو په موخه باید هر اړخیز پروګرام تر لاس لاندې نیول شوی وو، خو داسې ونشول.

د وخت ولسمشر حامد کرزي او یو شمېر نورو سیاستوالو د افغانستان له ټولنې څخه پیژندګلوي په لرلو سره، په دې پوه وو، چې د افغانستان کړکیچ پوځي حل نه لري. کرزي په ځلونه له هوایي بریدونو، د کورونو له پلټلو، د طالب ځواکونو له نیولو او د هغوی زنداني کولو، چې تر شــا یې ســلګونه کورنۍ وې، نیوکې کولې، خو هوایي بریدونه، د کورونو پلټل، کډه کولو ته د طالب مشرانو اړ ایستل، وهل او ټکول، سپکاوی او د زندانونو بد وضعیت، جګړې ډګر ته د طالبانو بیا راستنیدو کې بې اغیزې نه وو. (ایده، ۱۳۹۹: ۳۹۴)

سربېره پر دې، کلیو ته اړینه او د پام وړ پاملرنه و نه شوه، بلکې د کلیو په کچه د خدمتونو وړاندې کول هېر شول. له همدې امله د ښار او کلي، حکومت او خلکو ترمنځ واټن رامنځته شو. بلاخره، د کلیو خلک د وخت له حکومتونو پرته بل اړخ ته کش کړل شول.

په تیرو دوو وروستیو لسیزو کې د سولې بهیرونو، د طالبانو په اړه د خبرو کولو بد برېښیدو څخه بیا په نظام او سیاسي واک کې د هغوی ګډون پورې، زیاتې لوړې او ژورې لرلې دي.

حامد کرزي په ۱۳۸۴ کال کې د لومړي ځل لپاره د مجاهدینو د دولت لومړني مشر حضرت صبغت الله مجددي په مشرۍ او د یو شمېر جهادي شخصیتونو په ګډون «د سولې د ټینګښت او ملي پخلاینې کمیسیون» جوړ کړ. دغه کمیسـیون په ټوله ایز ډول د منازعاتو د اړخونو د بې وسـلو کولو پروګرام تر سـره کاوه، خو له طالبانو سره د سولې په برخه کې، د پام وړ پاملرنه او لاسته راوړنه نه درلوده. دا کمیسیون وروسته «د منازعاتو د حل او له دولت ســره د خلکو د اړیکو کمیســیون» په نوم بدلون وموند او مشــري یې ښــاغلي مجددي او د نوموړي کورنۍ په واک کې پاتې شوه. (محمدي، ۱۳۹۸: ۲)

په ۱۳۸۹ کال کې؛ د افغانســتان د هغه مهال ولسـمشـر حامد کرزي د فرمان پر بنســت، د وخت اسـلامي دولت مشر برهان الدین رباني په مشرۍ او د یو شمېر نورو جهادي تنظیمونو د رهبرانو او غړیو، ځایي مخورو، پخوانیو طالبانو یو شمېر غړیو او ۸ ښځو په ګډون، د سولې عالي شورا جوړه شوه. د سولې مشورتي لویه جرګه (د ۱۳۸۹ د غبرګولي ۱۲-۱۴) د سولې عالي شورا د جوړیدو پریکړه کړې وه. جرګې او د سولې عالي شورا له

وسله والو مخالفانو سره د خبرو او پخلاینې بهیر کې د پرمختګ لپاره هیلې زیاتې کړې وې. (محمدي، ۱۳۹۸: ۳)

برهان الدین رباني د سولې مشورتي لويې جرګې رياست هم پر غاړه درلود، چې حکومت ته د سولې عالي شورا جوړېدل يې له مهمو وړانديزونو څخه وو. دې شورا په افغانستان کې پایښت لرونکې سولې ته د رسيدو او وسله والو نښتو پايته رسيدو لپاره د سوله ايزو لارو موندلو په موخه له طالبانو سره د خبرو دنده پر غاړه درلوده. ښاغلي رباني، لومړی د شورا جوړښت او دننه برخه جوړه او بيا پاکستان او ايران ته يې څو ځله د طالبانو اسلامي تحريک سره د اړيکو ټينګولو لارو موندلو او د خبرو ميز ته د هغوی چمتو کولو په موخه ناستې او سفرونه کړي دي.

د سولې لار هيڅکله له خنډونو خالي نه وه. په هېواد کې د جګړو سکروټو لمبې کولې. د طالبانو د پټې او له استازو سره د اړيکو ټينګولو په برخه کې زياتې ستونزې او د سولې ور پرانيستلو په برخه کې کورني او نړيوال حساسيتونه پراته وو. هغه پيژندل شوې څېرې، چې کولای يې شول، تر يوې کچې د طالبانو استازيتوب وکړي، ډيری يې د ملګرو ملتونو د امنيت شورا د ۱۹۹۹ کال د اکتوبر ۵ د ۱۲۶۷ شمېره پريکړه ليک په ليست او يو شمېر نور بيا د امريکايانو په لست کې شامل وو، په دې منځ کې پر يو شمېر د سفر بنديزونو شتون درلود او امريکايانو بيا د يو شمېر پر موندلو انعام هم ټاکلي وو. په هېواد دننه، يو شمېر کسان له طالبانو سره د اړيکو له امله نيول شوي او زنداني شوي وو. په هر صورت، له طالبانو سره د اړيکو ټينګولو کانالونه محدود وو. (ايده، ۱۳۹۹: ۳۹۶)

يو ځلې د ملا منصور په نوم يو کس، چې ځان يې د طالبانو لوړپوړی استازی پيژندلی وو، له افغان او ايساف چارواکيو سره يې ناستې ترسره کړې وې. څه موده وروسته د دې پيښې اصلي کيسه رسنيو له لارې خپره شوه او څرګنده شوه، چې د ملا منصور په نوم دغه کس جعلي دی! هغه د طالبانو په منځ کې اغيزناکه او واک درلودونکی کس نه دی. دغه جعلي ملا منصور، د پاکستان په کويټه کې يو هټيوال وو. جعلي ملا منصور، مخکې له دې نه، چې د هغه افغانانو لخوا وپيژندل شي او ودرول شي، چې اصلي ملا منصور يې پيژانده، د ايساف او افغان چارواکيو سره ليدنې ترسره کړې وې. د پاکستان د کويټې دغه هټيوال، په کابل کې په کافي اندازه پيسې هم ترلاسه کړې وې. دغه کس افغانانو او نړيواله ټولنه وغولوله. (ايده، ۱۳۹۹: ۲۷۴)

دا چې منصور په رښتيا هم يو ساده هټيوال دی او يا د پرديو د څارګرو ادارو کس، د هېواد د څارګرې ادارې د کړنو نه پاملرنه نندارې ته وړاندې کړه. په هر ډول، د سولې غوښتلو ليدلوري کې دغه پيښه دوه پيغامه رسوي: يو. د سولې لپاره د اړيکو ټينګولو امن او خوندي کانال شتون نه درلود. دويم. افغانان او نړيواله ټولنه په رښتيا هم د سولې په لټه کې شوي وو.

بلاخره د اړيکو ټينګولو نا خوندي کانالونو سره، برهان الدين رباني د ۱۳۹۰ کال د وږي په ۲۹ د هغه ځانمرګي بريدګر د بريد په پايله کې ووژل شو، چې د نوموړي کور ته د طالبانو د استازي او اغيزناکه څيرې په توګه، ورغلی وو. دا پيښه د دې لامل شوه، چې د اړيکو ټينګولو کانالونو باندې بې اعتمادي څو برابره زياته شي. له دې پيښې وروسته د طالبانو اسلامي تحريک سره اړيکې په احتياط ټينګې دي.

د ۱۳۹۱ په وري کې د برهان الدين رباني له شهادت وروسته، د هغه زوی صلاح الدين رباني د سولې عالي شورا د مشر په توګه وټاکل شو. وروسته بيا صلاح الدين رباني او د دې شورا د دارالانشا رئيس معصوم ستانکزي د ملي يووالي په حکومت کې نورو دولتي بستونو کې وټاکل شول. له همدې امله د سولې عالي شورا د يوې مودې لپاره څنډې ته شوه او رئيس يې نه درلود. (صدر، ۱۳۹۷: ۲۹)

په ۱۳۹۴ کې د ملي یووالي حکومت د سولې عالي شورا پر جوړښت او کړنلارو بیا کتنه وکړه. د افغانستان د اسلامي محاذ ګوند مشر پیر سید احمد ګیلاني د دې شورا د مشر او یو شمېر جهادي شخصیتونه او د طالبانو یو شمېر پخواني غړي او ګڼ شمېر دیني عالمان د دې شورا د مرستیالانو او غړیو په توګه وټاکل شول. په دې موده کې د ډاکټر اشرف غني او عبدالله عبدالله په مشرۍ د ملي یووالي حکومت هڅې ډېرې له پاکستان سره پر خبرو او هوکړو را څرخیدې، څو طالبان د خبرو میز ته را وګرځوي. خو د افغانستان په ښارونو کې د ترهګریزو بریدونو زیاتیدل او د پاکستان لخوا د څرګنده ځواب نه ترلاسه کولو له امله د دولت لیډلوري بدلون وموند او دا خبرې ودریدې. (وفایي زاده، ۱۳۹۵: ۵۷)

د سولې د ټینګیدو پخوانیو هڅو پر دوام، له ډیپلوماتیکو لارو د څلور اړخیزو ناستو په چوکاټ کې (د افغانستان، پاکستان، امریکا او چین په ګډون) د دولت هڅې پیل شوې. اصلي موخه یې له وړاندې شرط پرته د خبرو لپاره د طالبانو چمتو کول وو. خو دا خبرې هم د افغانستان له ناهیلۍ او د پاکستان ریښتینولي کې د شک له امله ودریدې. په همدې وخت کې د ګلبدین حکمتیار اسلامي ګوند سره د خبرو او مذاکراتو لپاره د سولې عالي شورا هڅې پیل شوې او له څو پړاونو خبرو وروسته، د ۱۳۹۵ کال د تلې په لومړۍ نیټه د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او حکمتیار اسلامي ګوند سره د سولې هوکړه لیک لاسلیک شو. (وفایي زاده، ۱۳۹۵: ۵۷)

د پیر سید احمد ګیلاني له مړینې وروسته، د افغانستان د اسلامي وحدت ګوند رهبر او مخکیني مرستیال ولسمشر محمد کریم خلیلي د ۱۳۹۶ کال د غبرګولي په ۱۵ نیټه د افغانستان د سولې عالي شورا د مشر په توګه وټاکل شو. ښاغلی خلیلي تر دې وړاندې د دې شورا مرستیال وو. دا مهال محمد اکرم خپلواک د دې شورا د دارالانشا د ریاست دنده پر غاړه درلوده او د هغه له استعفا وروسته، محمد عمر داوودزی د ۱۳۹۷ کال لینډي کې د ولسمشر د فرمان پر بنسټ د سولې عالي شورا د دارالانشا د مشر او د سولې په اړه د سیمه ایزې اجماع په چارو کې د دولت د ځانګړي استازي په توګه وټاکل شو. (محمدي، ۱۳۹۸: ۴)

د ۱۳۹۸ ولسمشریزو ټاکنو وروسته؛ د ډاکټر اشرف غني او ډاکټر عبدالله عبدالله ترمنځ د ټاکنو د پایلو پر سر له ناندریو څخه بیا د ولسمشرۍ د لوړې د دوو مراسمو نمانځلو پورې؛ د بهرنیو هڅو او فشارونو، کورني منځګړیتوب او د ډاکټر اشرف غني او ډاکټر عبدالله ترمنځ په زور او جبر د هوکړې په پایله کې د سولې لپاره د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د آدرس په توګه د ډاکټر عبدالله عبدالله په مشرۍ، «د ملي پخلاینې عالي شورا» رامنځته شوه. د ملي پخلاینې عالي شورا د مشرتابه له کمیټې، عمومي اسمبلې، مرکچي پلاوی او د شورا له مرستیالانو څخه جوړه وه.

د ډاکټر اشرف غني او ډاکټر عبدالله عبدالله ترمنځ سیاسي هوکړې د ټاکنو ستونزه حل کړه، خو د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د سولې ځواکمن او واحد آدرس جوړیدو لامل نه شو. د مصالحې عالي شورا د مشرتابه کمیټه او عمومي اسمبله هیڅکله بشپړه او جوړه نه شوه. د ملي مصالحې عالي شورا ریاست د مخکیني ولسمشر محمد اشرف غني او د هغه د ډلې لخوا د لاسوهنو او خنډونو رامنځته کولو له امله اړین واک نه درلود او زیاتو ستونزو سره لاس او ګریوان وو. محمد اشرف غني په ځلونه اعلان کړی وو، چې «وروستۍ پریکړه د افغانستان ولسمشر او خلک کوي.» او یو ځل اشرف غني د سولې په هوکړه لیک کې «د وروستي لاسلیک» اهمیت په اړه خبرې کړې وې. دا د دې څرګندونه کوي، چې وروستۍ خبره باید د هغه وخت ولسمشر اشرف غني وکړي او د سولې په ټینګښت کې د ملي مصالحې عالي شورا پراخ واک نه لري.

**۲-۵-۱. په دوحه کې د طالبانو اسلامي تحریک سره د سولې بهیر**

په ټولیز ډول د دوحې د سولې بهیر، له بن وروسته د سولې د هڅو دوام دی. خو د سولې هغه بدلونونه، چې په دوحه کې رامنځته شول، اړتیا ده په جلا ډول وڅیړل شي. دوحه له کوم وخت څخه د افغانستان د سولې آدرس په توګه سر را پورته کړ؟ په دوحه کې د طالبانو اسلامي تحریک سیاسي دفتر پرانیستلو په تړاو د افغانستان د منازعاتو اړخونو نظرونه او غبرګونونه څه وو؟ په دوحه کې څه وشول؟

څنګه مو، چې له بن وروسته د سولې بهیر په برخه کې یادونه وکړه، چې د سولې د ټینګښت په برخه کې خنډ له طالبانو سره د اړیکو ټینګولو پته او کانال وو. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د ملګرو ملتونو استازولۍ او امریکا دا خنډ او ستونزه منلې وه. په دې ډول کلونه پاکستان ته مراجعه شوې وه، خو هیڅ ډول پایله نه تر لاسه کیده. د دې غوښتنې رسیدو په موخه، د ۱۳۹۲ کال د غبرګولي په ۲۸ د قطر په پلازمینه دوحه کې، د طالبانو تحریک سیاسي دفتر پرانیستل شو.

د جمهوري دولت اړخ که څه هم د سولې د ټینګښت لپاره زیاته لیوالتیا درلوده، خو له بلې خوا یې نه غوښتل، چې د دولت نړیوال ځای د دوو آدرسونو په لرلو، د دوو لوحو په پورته کیدو او دوو بیرغونو په ریپیدو، داغ داره شي. له همدې امله د طالبانو د پتې او ځای په توګه په دوحه کې د طالبانو سیاسي دفتر پرانیستنه ښه خبر و، خو «د افغانستان اسلامي امارت» نوم او بیرغ پورته کیدل، د افغان سیاستوالو په ځانګړي ډول د پخواني ولسمشر حامد کرزي غوسه را وپاروله.

د هغه مهال دولت د اعلامیې په خپرولو سره، د طالبانو پر اسلامي تحریک تور پورې کړ، چې دغه ځای د یوه «خپلواک دولت» د استازولۍ دفتر په توګه ور پیژني. دا په داسې حال کې وو، چې د امریکا او افغانستان د پلاوي ترمنځ په کابل کې د «امنیتي تړون» څلورم پړاو خبرې رواني وې. دولت د سولې په بهیر کې «په خبرو او کړنو کې د امریکایانو توپیري چلند» په غبرګون کې د امنیتي تړون اړوند خبرې وځنډولې. دا غبرګون د دې لامل شو، چې د امریکا د هغه وخت د بهرنیو چارو وزیر جان کري له ښاغلي کرزي سره ټیلیفوني خبرې وکړي او ژمنه یې کړې وه، چې په دوحه کې د طالبانو اسلامي تحریک له نوي پرانیستل شوي دفتر څخه به د «اسلامي امارت» لوحه او بیرغ لیري شي او له دې دفتر څخه به د سولې مذاکراتو پرته نورو موخو لپاره به کار وا نه خیستل شي. بلاخره د دوحې له دفتر څخه د اسلامي امارت بیرغ او لوحه لیري کړای شوه.

عبدالکریم خُرم، حامد کرزي ته له نیږدې کسانو څخه «څلویښت کاله په توپان کې» کتاب کې لیکلي دي، چې ښاغلي کرزي د قطر دفتر له پرانیستلو سره موافق نه وو. نوموړي ادعا کړې، چې له جرمني څخه د امریکا او طالبانو پټې ناستې پیل او په قطر کې د دفتر پرانیستلو نظریې ته ورسیدې او افغانستان، چې د سولې بهیر ته لیواله وو، خو هغه څه، چې روان وو، د شک په سترګه یې ورته کتل. (خُرم، ۱۳۹۸: ۴۳۶- ۴۳۷)

ښاغلی خُرم لیکي، چې ولسمشر کرزی لیواله وه، که چیرې له افغانستان څخه بهر د طالبانو لپاره دفتر پرانیستل کیږي، ترکیه یا سعودي عربستان ته دې لومړیتوب ورکړل شي، خو دا دریځ د امریکایانو لپاره د منلو نه وو. له بلې خوا ښاغلي کرزي قطر د واک نه لرلو او د امریکا د غوښتنو د پلي کوونکي هېواد په توګه ګاڼه. کله چې ښاغلی کرزی د یوه پلاوي په مشرۍ د ۲۰۱۳ کال د مارچ په ۳۰ نیټه، له طالبانو سره د مخامخ خبرو د تنیظیم لپاره د قطري چارواکیو د راضي کولو په موخه قطر ته لاړ، د قطر د چارواکیو ځواب داسې وو، چې «په دې برخه کې باید له امریکایانو سره خبرې وشي، قطر یوازې کوربه دی.» (خُرم، ۱۳۹۸: ۴۳۸)

د ۲۰۱۳ کال په جولای کې له دوحې څخه په لندمهاله توګه د طالبانو سیاسي دفتر د تړل کېدو، د اسلامي امارت د لوحې او بیرغ را ټیټولو خبرونه خپاره شول. د طالبانو اسلامي تحریک هم پخلی وکړ، چې له دې دفتر څخه کار نه اخلي. خو د هغوی چارواکي په دوحه کې پاتې شول او له دې هېواد څخه بهر نه شول. طالبانو ویل، چې د امریکا پخوانی ولسمشر بارک اوباما او حامد کرزي، د اسلامي امارت بیرغ او لوحه پلمه کړې او د سولې مذاکرات یې له منځه یوړل. په دوحه کې د طالبانو سیاسي دفتر پرانیستلو او تړلو په تړاو، د افغانستان دولت کې له کرزي نه تر غني پورې او امریکا تر منځ له اوباما نه تر ډونالډ ټرامپ پورې، زیاتې نانذرئ شتون درلود.

خو د دوحې دفتر بیرته فعاله شو. د ۱۳۹۷ کال په تله کې د افغانستان د سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د ځانګړي استازي په توګه د زلمي خلیلزاد په ټاکلو سره، د طالبانو له استازو سره د نوموړي تر لیدو وروسته، د سولې بهیر تازه بڼه خپله کړه. د دوحې د سولې په بهیر کې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ځنډه کې وو. د سولې له بهیر څخه ډاکټر زلمي خلیلزاد، پخواني ولسمشر محمد اشرف غني او د ملي مصالحې عالي شورا مشر ډاکټر عبدالله عبدالله ته راپور ورکاوه، خو د هغه مهال حکومت او د افغانانو اړخ د سولې بهیر کې ځنډې ته کېدو له امله خوابدي وو.

له اتلس میاشتو تګ او راتګ او د افغانستان دولت له ګډون پرته د امریکا او طالبانو اسلامي تحریک ترمنځ تر خبرو وروسته، بلاخره د ۱۳۹۸ کال د کب په ۱۰ «په افغانستان کې د سولې را وستلو تړون» په نوم د افغانستان سولې لپاره د امریکا متحده ایالتونو ځانګړي استازي ډاکټر زلمي خلیلزاد او د طالبانو سیاسي مرستیال او د طالبانو اسلامي تحریک سیاسي دفتر رئیس ملا عبدالغني برادر ترمنځ په دوحه کې لاسلیک شو. د دې تړون له لاسلیک سره سم، په کابل کې د کابل، واشنګټن او ناټو ترمنځ ګډه اعلامیه لاسلیک شوه، چې په کې له افغانستان سره د هغوی د ژمنو د نوي کولو ښکارندویي کوله. وروسته بیا، د ملګرو ملتونو امنیت شورا، چې په ۱۳۸۰ کال کې پر افغانستان د پوځي برید اجازه ورکړې وه، د ۱۳۹۸ کال د کب په ۲۰ د یوه لس ماده ایز پریکړه لیک په خپرولو سره، د امریکا او طالبانو ترمنځ هوکړه او د کابل او واشنګټن ګډه اعلامیه تائید کړه.

د دې هوکړه لیک بشپړ نوم په دې ډول دی: «په افغانستان کې د سولې راوستلو لپاره د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پیژني او د طالبانو په نوم یې پیژني، او د امریکا د متحده ایالتونو تر منځ تړون.» د امریکا او طالبانو د تړون په سرلیک کې ټینګار شوی، چې امریکا د طالبانو اسلامي امارت د دولت په توګه په رسمیت نه پیژني. د دې تړون منځپانګه په لاندې څلورو برخو ټینګار کوي:

**۱)** هغه تضمینونه او د پلي کولو میکانیزمونه، چې د هرې ډلې یا شخص لخوا د متحده ایالتونو او د هغوی د متحدینو د امنیت په خلاف د افغانستان د خاورې د کارولو څخه مخنیوی وکړي.

**۲)** له افغانستان څخه د ټولو بهرنیو ځواکونو د وتلو لپاره تضمینونه، د پلي کولو میکانیزمونه او د یوه مهالویش اعلان.

**۳)** د دې ضمانتونو له اعلان وروسته، د نړیوالو شاهدانو په حضور کې، طالبان به له افغان اړخونو سره د ۲۰۲۰ کال د مارچ میاشتې په ۱۰ نیټه بین الافغاني مذاکرات پیل کړي.

**٤)** دایمي او هراړخیز اوربند به د بین الافغاني مذاکراتو په اجندا کې شامل وي او د بین الافغاني مذاکراتو ګډونوال به د دې دایمي اوربند پر نیټې او څرنګوالي بحث او مشخص کوي.

د یورته برخو د پلی کولو لپاره د تړون متن په پای کې درې پلي کوونکې برخې په پام کې نیول شـــوي، چې په دریمه برخه کې یې «له هوکړې وروسته نوی حکومت، چې د بین الافغاني مذاکراتو په پایله کې رامنځته کېږي» پر جوړېدو ټینګار شوی دی.

(USA_Taliban, Agreement for Bringing Peace to Afghanistan, February ۲۹, ۲۰۲۰, www.state.gov/)

د امریکا او طالبانو ترمنځ هوکړه لیک، د اسـلامي امارت د ملاتړو لپاره یوه تاریخي لاسـته راوړنه ګڼل کېږي. د دې تړون په لاسلیک کولو سره، د سولې بین الافغاني مذاکراتو او جګړې په ډګر کې د طالبانو اسلامي تحریک په دریځ کې د پام وړ بدلون راغی. د خبرو او مذاکراتو په بهیر کې د هغوی غوښتنې سترې او د هغوی په اند د مجاهدینو روحیه؛ د جګړې په ډګر کې څو چنده ځواکمنه شـــوه. په ځانګړي ډول د دولت او امریکایي – افغانستان له زندانونو څخه د هغوی د ۵ زره زندانیانو را خوشـي کیدو سره، د جګړې کربښـې پیاوړې شوې او د طالب پلویانو په منځ کې یې ولسـي هرکلی وشـو. په مقابل کې، څنډه کې د افغانسـتان دولت شـتون له یوې خوا، د طالبانو اسلامي تحریک ۵ زره زندانیانو خوشـي کولو ژمنه له بلې خوا او د جګړې د ډګر تود سـاتل، د هغه مهال حکومت پر اوږو بار دروند کړ. د وخت حکومت د یوه بهیر له لارې څه باندې ۴۵۰۰ تنه طالب زندانیان خوشـي کړل، خو د وخت ولسـمشـر محمد اشـرف غني د ۴۰۰ طالب زندانیانو خوشـي کولو په اړه، چې د هغوی په وینا خطرناک دي، د ۱۳۹۹ کال د زمري په ۱۷ مشـــورتي لویه جرګه جوړه کړه او لویې جرګې د زندانیانو خوشـــې کولو ته د تائید رایه ورکړه.

د امریکا او طالبانو د هوکړې پر بنســـټ باید د افغانســـتان د منازعاتو د اړخونو ترمنځ بین الافغاني مذاکرات پیل شـــوي وای. خو دا بهیر د وخت حکومت لخوا د «ناوړه مدیریت» څخه ډک وو. د بیلګې په ډول: کله چې د افغانسـتان دولت یو ۲۵۰ کسـیزه پلاوی د افغانسـتان لخوا د سـولې خبرو لپاره د دوحې ناسـتې ته اعلان کړ، طالبانو په غبرګون کې اعلان وکړ، چې «دا د کابل په یوه هوټل کې د واده یا میلمسـتیا مراسـم نه دي، بلکې یو منظم کنفرانس دی.» که څه هم دا ناسته د یو شمېر لاملونو له امله لغوه شوه، خو د «افغانستان سوله» سترې موضـوع ته د ورته پلاوي ټاکل، د جمهوري دولت لخوا د دې بهیر د ناوړه مدیریت ښـکارندویي کوي. (اطلاعات روز، ۱۳۹۸: ۱)

بلاخره د ډاکټر خلیلزاد د هڅو، د نړیوالو ټینګار او کورني وړاندیزونو او سلا مشورو په پایله کې د ملي مصـالحې عالي شورا د مشر ډاکټر عبدالله عبدالله په مشرۍ «د افغانسـتان اسلامي جمهوري دولت پلاوی» په نوم یو ۲۱ کسـیزه پلاوی، چې په حکومت کې ګډونوال ټکنوکراټان، د جهادي تنظیمونو اسـتازي او یو شـمېر ښـځې شـــاملې وې، دوحې ته لاړل، خو د پریکړو وروســـتی واک په کابل کې پاتې او برمته شـــو. په دې منځ کې د افغانسـتان د نوي نسـل او ځوانانو ریښـتیني اسـتازي، که څه هم د سـولې په برخه کې فعال رول لوبولای شـو، د سـولې مرکچي پلاوي نوم لړ کې نه وو. پلاوی دوحې ته ورسـید، عمومي او لومړنۍ ناسـته د افغانسـتان اسـلامي جمهوري دولت پلاوي او د طالبانو اسلامي تحریک لخوا د مشرتابه بیانیو په لوستلو سره پرانیستل شوه. پریکړه داسـې شـوې وه، چې تر هرڅه وړاندې د افغانسـتان اسـلامي جمهوري دولت پلاوي او طالبانو اسـلامي تحریک ترمنځ د تخنیکي کمیټې لخوا د مذاکراتو میکانیزم جوړ شي.

د افغانســـتان اســـلامي جمهوري دولت پلاوي او طالبانو اســـلامي تحریک ترمنځ د مذاکراتو پر میکانیزم هوکړې ۸۰ ورځې وخت ونیوه. د ځنډ لامـل، پـه دوو روایتونو «جمهوریـت» او «امـارت» کې د ژورو او ستونزمنو توپیرونو ریښې وې. د طالبانو اسلامي تحریک کلونه شعار ورکړی وو، چې اسلامي امارت د مشروع

دولت په توګه د بهرني ښکېلاک او تيري پر وړاندې جګړه کوي او د افغانستان اسلامي جمهوري دولت شتون يې نه مانه. له همدې امله له دولت سره د هر ډول خبرو مخالف وو او د افغانستان اسلامي جمهوري دولت رسمي پلاوي په نوم له هر پلاوي سره خبرې يې نه منلې. نو پام یې د خبرو د بنسټ په توګه د دوحې هوکړه لیک ته را ګرځولی او د افغانستان د منازعاتو اړخونه يې د بين الافغاني مذاکراتو د اړخ په توګه غوښتل، نه د دولت د پلاوي په توګه! (احمدي، ۱۴۰۰: ۳۳۴)

طالبانو خپلې وروستۍ هڅې او هلې ځلې کولې، څو د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په توګه ونه پېژني، څو په دې ډول د دولت مشروعيت تر پوښتنې لاندې راولي او له دولت سره خپلې جګړې ته، چې جهاد يې ګڼې، تر پوښتنې لاندې را نه وړي. بلاخره د کوربه هېواد او د سولې ملاتړو ډلو په منځګړيتوب بيلابيل وړانديزونه تبادله شول، همدارنګه پر ډول - ډول متنونو د اوږدمهاله بحثونو وروسته، پر یوه متن لومړنۍ هوکړه وشوه. په دې متن کې د درې اصلونو (پر افغانستان د امريکا په مشرۍ د ائتلافي ځواکونو پوځي برید په اړه د امنيت شورا پريکړه ليکونه، د کابل او واشنګټن ګډه اعلاميه او د امريکا او طالبانو ترمنځ په افغانستان کې د سولې راوستو هوکړه لیک په اړه د ملګرو ملتونو د امنيت شورا اعلاميه) سربېره د دوحې هوکړه لیک د څلورم اصل په توګه، د مذاکراتو د بنسټ په حيث ومنل شول. که څه هم طالبانو د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د دولت په توګه نه پېژانده، خو په یادو درې سندونو کې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د دولت په توګه یاد شوی وو. بلاخره، د منل شويو اصولو پر بنسټ، د دولت رسمي پلاوی له طالب سره د مذاکراتو د اړخ په توګه ګڼل کېده. خو د وخت د ولسمشر ډاکټر محمد اشرف غني له انده، دا یوه ښه هوکړه نه ګڼل کیده او له بلې خوا طالبانو د مذاکراتو پر ميز پر بل اړخ د خپل روايت د منلو او د جګړې په ډګر کې سرسختانه مبارزه وکړه. (احمدي، ۱۴۰۰: ۳۳۶-۳۳۵)

بلاخره د ۲۰۲۰ د سپټمبر په ۱۳ د افغانستان اسلامي جمهوريت او د طالبانو اسلامي تحريک د پلاوو ترمنځ، د سولې بين الافغاني مذاکرات پيل شول. له رسنيو څخه هیله بخښونکي او خوښونکي شعارونه خپاره شول، خو له دې سره، یوازې شاوخوا ۸۰ ورځې د مذاکراتو د ميکانيزمونو پر جوړولو تېر شول. بلاخره له ولايتونو څخه د کابل لورې ته د طالبانو تحريک د واک په پراخيدو او د مخکيني ولسمشر محمد اشرف غني په تيښتې سره، د افغانستان د سولې د تينګښت بهير د څوم ځل لپاره په هماغه دريدلي او لومړني ځای کې ناکام شو.

**۲-۵-۲. د افغانستان د سولې لپاره غير رسمي ناستې**

په وروستيو دوو لسيزو کې؛ د افغانستان د سولې او کړکيچ لپاره د حل لارو موندلو په موخه په بېلابېلو هيوادونو کې ګڼ شمېر ناستې او کنفرانسونه لکه د عربي متحده امارات، قطر، پاکستان، روسيه، چين، ناروې، جاپان، جرمني او فرانسه کې په پټ او ښکاره ډول جوړ شوي دي. په دې ناستو کې د وخت د حکومتونو استازي، سياستوال او د جهادي تنظيمونو پيژندل شوي شخصيتونو او د طالبانو اسلامي تحريک اړخ او همدارنګه د ګاونډيو، سيمې او نړۍ هېوادونو استازو ګډون کړی دی. همدارنګه ملګرو ملتونو او د دې سازمان امنيت شورا «د افغانستان د جګړې او سولې» په اړه یو شمېر اعلامیې او پريکړه ليکونه صادر کړي دي. یو شمېر مؤسسو لکه پګواش، چې د نړۍ په بيلابيلو برخو کې د سولې او منازعاتو د حل لپاره هلې ځلې کوي، د وخت د سولې عالي شورا د چارواکيو، د جهادي تنظيمونو د استازو، مدني ټولنې او ځوانانو او د طالبانو تحريک په ګډون د سولې غونډو په جوړولو کې له مخکښو بنسټونو څخه وو. دغه بنسټ د افغانستان د سولې په اړه څو مهمې ناستې په دوبۍ، اسلام آباد، کابل او دوحه کې جوړې کړې دي.

### ۲-۵-۳. د سولې لپاره د نوي نسل او ځوانانو هڅې

په حکومت کې ونډه لرونکیو ټکنوکراټانو او د سولې عالي شورا کې بښکیلو جهادي تنظیمونو په ګډون د حکومتي پروګرامونو سربېره؛ ځوانانو د سولې د هڅونکي ځواک په توګه تل په هېواد کې د سولې د ټینګښت هڅه کړې او کوي. څرګنده بېلګه یې «د افغانستان ځوانانو ملي کنفرانس» دی، چې په ۱۳۹۰ کال د غبرګولي په ۲۸ او ۲۹ د دوو ورځو لپاره په کابل کې د هېواد له ۳۴ ولایتونو څخه د سلګونه ځوانانو په ګډون، د سولې او ثبات ټینګښت، په پرېکړو کې مشارکت او یو شمېر نورو ملي مسائلو په اړه جوړ شوی وو. د افغانستان د وخت ولسمشر حامد کرزي په دې کنفرانس کې د ګډون ترڅنګ وینا هم وکړه. په دې کنفرانس کې د ځوانانو د بنسټونو پر لاسته راوړنو، لیدلوري او مسؤلیتونو، د ځوانانو پر وړاندې د شته خنډونو او ستونزو په اړه خبرې او بحثونه وشول. د کنفرانس ګډونوالو د سولې بهیر، د ټیکاو رامنځته کېدل، د عدالت ټینګښت، غوره حکومتوالی، د قانون حاکمیت، رونوالی او ځواب ورکوني، متوازن پرمختګ، له نشه یي توکیو سره د مبارزې، ځوانانو ته کار موندنې او په پرېکړو کې د ځوانانو ګډون په اړه خپل نظرونه او وړاندیزونه د ۲۰ ماده ایز پرېکړه لیک په چوکاټ کې د افغانستان له خلکو، د وخت له حکومت او نړیوالو بنسټونو سره شریک کړل.

د پام وړ بله هڅه؛ «د افغانستان ځوانانو د سولې ملي جرګه» ده، چې په ۱۳۹۱ کال د چنګاښ له ۱۲ څخه تر ۱۵ پورې د څلورو ورځو لپاره، د هېواد له ټولو ولایتونو څخه د ۱۷۰۰ ځوانانو او سلګونه میلمنو په ګډون د لویې جرګې په تالار او ولسمشرۍ ماڼۍ ارګ – په سلام خانه کې جوړه شوه. د ځوانانو استازو په شلو کاري کمیټو کې د هېواد مهمو او لویو خنډونو لکه؛ د سولې د مذاکراتو بهیر، په افغانستان کې د امریکا د حضور څرنګوالی، له اداري فساد سره مبارزه، وزګاري او په هېواد کې ښوونیزو او پوهنیزو ستونزو په تړاو خبرې او بحثونه وکړل. د وخت ولسمشر حامد کرزي د ځوانانو د سولې ملي جرګه کې ګډون او وینا وکړه.

د سترې هڅې په توګه د افغانستان ځوانانو د سولې ملي جرګې مشرتابه، د ځوانانو هر اړخیزې غوښتنې د یوه یو دیرش ماده ایز پرېکړه لیک په چوکاټ کې ترتیب او پخواني ولسمشر حامد کرزي ته وسپارل شوې. په یاده جرګه کې د یو شمېر سیاسي ګوندونو (ځوانانو څانګه) استازي، د سیاسي بهیرونو استازي، د مدني ټولنې فعالان، د ښځو د حقونو فعالان او د ټولنې د بېلابېلو برخو څخه ځوانانو ته بلنه ورکړل شوې وه. د یاد کنفرانس او جرګې وروسته؛ د مدني ټولنې، د نوي نسل او ځوانانو د فعالانو یو شمېر بنسټونه، د ټولنیزو، سیاسي، اصلاح غوښتونکي او سولې غوښتلو مبارزو ډګر ته را ودانګل.

د سولې راوستو په برخه کې د پورته هڅو ترڅنګ؛ لسګونه بنسټونو په افغانستان کې د سولې راوستو په موخه د ناستو، کنفرانسونو، لاریونونو په ترسره کولو او نور تګلارو په کاروني سره هڅې او عدالت غوښتنه کړې ده. په دې کې د هلمند د سولې کاروان په نوم خوځښت، چې د ۱۳۹۷ کال پسرلي کې د هلمند په لوبغالي کې د درنې چاودنې وروسته رامنځته شو. له جګړې سترې ځوانان، د سولې په لټه کې له هلمند څخه کابل ته په پښو مزل وکړ او د سولې غوښتلو غږ یې پورته کړ. د یادو ځوانانو مهمه غوښتنه د جګړې درېدل او د حکومت او د طالبانو اسلامي تحریک ترمنځ اوربند وو.

د دې هڅو سربېره، یو شمېر علمي او څېړنیزو بنسټونو لکه د امریکا د سولې انسټیټوټ – کابل، د افغانستان د ستراتیژیکو څېړنو انسټیټوټ، د کابل پوهنتون د پالیسي څېړنو ملي مرکز، د جګړې او سولې انسټیټوټ، د ټول ګډونه سولې لپاره د افغانستان میکانیزم (AMIP) او یو شمېر نورو پوهنتونونو او څېړنیزو بنسټونو په خپل وار سره د څېړنو په ترسره کولو، د علمي کنفرانسونو په جوړولو او د سولې او منازعاتو د حل په اړه ښوونیزو پروګرامونو په ترسره کولو سره، ونډه اخیستې ده.

سربېره پر دې، د نوي نسل او ځوانانو یو شمېر فعالان، د سمون او بدلون شبکې په فعالانه ګډون او نورو بنسټونو او ځوان محوره سیاسي – مدني بنسټونو او خوځښتونو، روان وضعیت په درک سره او په هېواد کې د تل پاتې نظام رامنځته کېدو او تل پاتې سولې او ټیکاو ټینګښت لپاره اړینو او اغېزناکو اړتیاوو ته په کتو، په هېواد کې د سولې غوښتلو ستر خوځښت او پروګرام په توګه، د سولې لپاره د اړیکو ډله او د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه رامنځته کړه.

د اړیکو ډله/ګروپ[۱۳] د سولې غوښتلو ملي پروګرام په توګه، خپلواک، ناپېیلی او افرادو او سیاسي ډلو پورې تړاو نه لري، چې د نوي نسل او ځوانانو له فعالانو څخه د ۱۳۹۸ کال د زمري میاشتې په ۳۱ نېټه، د سولې لپاره د نوي نسل او ځوانانو ټول ګډونه ادرس رامنځته کېدو او پیاوړتیا، په هېواد کې د تل پاتې سولې او ثبات ټینګښت، د خبرو او سیاسي حل لارو له لارې هوکړې ته رسېدل، د ښځو د سیاسي وضعیت او ګډون پیاوړتیا، د خلکو رایو او غوښتنو ته مراجعه، د ولسواکۍ او د ټاکنو له لارې د سیاسي واک ترلاسه کولو د بهیرونو ساتل او اساسي قانون، چې په کې د ټولو وګړیو حقونه خوندي وي، ملاتړ په موخه جوړ شو.

د اړیکو ګروپ او د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې د مشرتابه په اند؛ په تېرو دوو لسیزو کې څلورو سیاسي اړخونو په افغانستان کې شتون درلود؛ ۱ جهادي رهبران او ګوندونه ۲ د طالبانو اسلامي تحریک ۳ په واک کې شریک ټکنوکراټان او ۴ د افغانستان نوی نسل او ځوانان. له دې څخه، لومړني درې اړخونو د افغانستان په ټولو سیاسي او پوځي پرېکړو کې فعالانه ګډون درلود. خو څلورم اړخ ـــ د افغانستان نوی نسل او ځوانان په داسې حال کې، چې ملي ارزښتونو ته ژمن دي، په سترو سیاسي پرېکړو کې د ټولو قومونو، ښځو او ځوانانو د ګډون او ملي مشارکت غوښتونکي دي؛ تر اوسه فعاله ونډه نه لري او په پرېکړو کې شریک نه دي او تل د یادو دریو اړخونو د پرېکړو قرباني شوي دي.

د اړیکو ګروپ د مشرتابه په اند «د افغانستان ناورین پوځي حل لاره نه لري او د خبرو او سیاسي هوکړې له لارې کولای شوو، چې د هېواد سیاسي واک او ثبات کې د ټولو خلکو او د ټولنې د ټولو برخو ګډون چمتو کړو.» د اړیکو ګروپ د لاندې موخو ترلاسه کولو لپاره د سولې غوښتلو په بهیر کې فعال شو:

۱. د سولې د خبرو او مذاکراتو کې د افغانستان د نوي نسل او ځوانانو له حقونو څخه د دفاع او ملاتړ په موخه د ټول ګډونه ادرس رامنځته کېدل او پیاوړتیا.
۲. سراسري اوربند، په افغانستان کې د تل پاتې سولې او ټیکاو لپاره عدالت غوښتنه، د سیاسي لارو (خبرو او مذاکره) د بین الافغاني هوکړې او سولې غوښتلو هڅو پیاوړتیا او ملاتړ.
۳. د سولې بهیر او د بین الافغاني مذاکراتو د سیاسي هوکړو وروستیو بهیرونو کې د نوي نسل، ځوانانو او ښځو د وضعیت، ګډون او مشارکت پیاوړتیا.
٤. د خبرو او هوکړو له لارې د افغانستان د کړکیچ د حل لپاره د نړیوالو ملګرو په ځانګړې ډول د امریکا متحده ایالتونو، اسلامي هېوادونو، اروپايي ټولنې، ناټو، ګاونډي او سیمې هېوادونو له هڅو ملاتړ.
۵. د سولې او مذاکراتو بهیر او د هغو هوکړو له پلي کولو څارنه.

د اړیکو ګروپ د دې ډلې په جوړېدو، د خپلو پورته موخو ترلاسه کولو او په افغانستان کې د تل پاتې سولې او دوامداره ټیکاو رامنځته کېدو په موخه لاندې ۱۵ غوښتنې مطرح کړې:

---

[۱۳] . تر دې وړاندې یې (د سولې لپاره د ځوانانو د اړیکو ګروپ) په نوم فعالیت کاوه، چې د ۱۴۰۰ کال د زمري میاشتې ۲۴ – د ۲۰۲۱ کال د اګسټ ۱۵ له سیاسي او پوځي تحولاتو وروړته د اړیکو ګروپ او نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې د مشرتابه او همکارانو د پرېکړې پر بنسټ (د سولې لپاره د اړیکو ګروپ) په نوم مختصر شو.

۱. اوربند او له هر ډول شرط او خنډ پرته له بین الافغاني خبرو ملاتړ.
۲. هیڅ اړخ نه باید پر بل لوري د بریا هوډ ولري. موږ د افغانستان له حکومت، د طالبانو اسلامي تحریک او امریکا متحده ایالتونو او د هغوی له متحدینو غواړو، څو د خبرو او هوکړې له لارې دا جګړه پایته ورسوي.
۳. په ملي کچه د سولې هوکړو ته د مشروعیت ورکولو په موخه د ټول ګډونه لویې جرګې جوړولو له لارې د ملت د ارادې تمثیل او همدارنګه په نړیواله کچه د سولې هوکړو تضمین په موخه په ملګري او ناپیيلي هېواد کې د نړیوال کنفرانس جوړول.
٤. د یوه اغیزناکه اړخ په توګه د سولې خبرو، سیاسي هوکړې او د سولې وروسته بهیرونو کې د نوي نسل او ځوانانو اغیزناکه ګډون.
٥. د سولې په خبرو او هوکړو کې د ولسواکۍ او د ټاکنو له لارې د سیاسي واک ترلاسه کولو بهیرونو ساتل.
٦. جمهوري نظام، له اساسي قانون څخه ملاتړ او د ټول ګډونه لویې جرګې له لارې، چې د افغانستان د خلکو رایو او غوښتنو څخه را ټوکیدلي وي او یا هم د ټول پوښتنې له لارې د هغه تعدیل.
۷. د افغانستان د خلکو د بنسټیزو حقونو او وجایبو خوندیتوب.
۸. د سولې په خبرو او هوکړو کې د ښځو بنسټیزو حقونو او خپلواکیو (زدکړه، ښوونه، کار او په مدني، ټولنییز، اقتصادي، فرهنګي، پوځي او سیاسي برخو کې د فعاله ګډون حق) ملاتړ.
۹. د قانون په چوکاټ کې د وینا، مطبوعاتو او رسنیو خپلواکۍ او اطلاعاتو ته د لاسرسي د حق ملاتړ.
۱۰. د افغانستان د امنیتي او دفاعي ځواکونو (ملي اردو، ملي پولیس او ملي امنیت) ساتل، پیاوړتیا او د هغوی غیر سیاسي کول.
۱۱. په مسوولانه ډول له هېواد نه د بهرنیو ځواکونو وتل او د ټول ګډونه لویې جرګې په تائید د نویو هوکړو په چوکاټ کې د امریکا متحده ایالتونو، نړیوالې ټولنې او نړیوالو بنسټونو سره د همکارۍ، ملګرتیا او استراتیژیکو اړیکو دوام.
۱۲. د دواړو اړخونو د ملي ګټو پر بنسټ له اسلامي هېوادونو، د سیمې له هېوادونو او ګاونډیانو سره د دوستانه همکاریو ساتل، دوام، طرح او پراختیا.
۱۳. د سولې، مذاکراتو او له مذاکراتو وروسته سیاسي هوکړو بهیرونو کې د افغانستان د ښځو، نوي نسل او ځوانانو اغیزناکه ګډون په ملاتړ د ملګرو ملتونو د امنیت شورا لخوا د پرېکړه لیک صادرول.
۱٤. د هېواد سترو او برخلیک ټاکونکیو مسائلو کې د ملت رایو او غوښتنو ته مراجعه.
۱٥. که چیري د اوسني حکومت پر ډول هوکړه و نه شي، د دریمي حل لارې منل او د اساسي قانون تعدیل، چې د افغانستان د خلکو پر غوښتنې او رایو ولاړ وي.

د اړیکو ګروپ مشرتابه او همکارانو یې د ۱۴۰۰ کال زمري میاشتې پورې د هېواد ۳۰ ولایتونو ته سفر کړی او د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګو او د سولې غوښتلو غونډو په جوړولو، د ناستو او لاریونونو په ترسره کولو سره هڅه کړې، څو د نوي نسل او ځوانانو ترمنځ انسجام، همغږي او همپالنه رامنځته کړي. د یادو پروګرامونو د جوړولو دارالانشا د اړیکو ګروپ پر غاړه وه او په ولایتونو کې د سولې جرګې د جرګې د جوړولو کمیسیون لخوا؛ چې په کې د بنسټونو، ځوانانو او فعاله سیاسي، مدني او فرهنګي شخصیتونو ګډون درلود، جوړې شوې دي. د جرګې غړي په لسو کاري کمیټو ویشل شوي او له وړاندې مشخصو پوښتنو په اړه یې بحث کړی او په پای کې؛ خپل دریځ، غوښتنې او اندونه د ګډ پریکړه لیک په چوکاټ کې ترتیب کړي دي. همدارنګه د سولې دغه

خوځښت د ترکیې په اسپارتا ښار کې د ځوانانو سیمه ایزې ناستې کوربه توب کړی وو، چې د بیلابیلو هېوادونو زدکړیالانو په کې ګډون درلود او د افغانستان د سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد، په کابل کې د امریکا سفارت د سولې له څانګې او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سیاسي دفتر د سولې برخې له استازو سره مهمې ناستې ترسره کړي دي. د اړیکو ګروپ د فعالیتونو او کړنو او د نوي نسل او ځوانانو غوښتنې په بل څپرکي کې په تفصیل سره څېړل کیږي.

## دريم څپرکی

## د معلوماتو ارزونه

د سولې په اړه د افغانستان د نوي نسل او ځوانانو غوښتنې، نيوکې او وړانديزونه د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګو، د سولې غوښتلو غونډو له پريکړه ليکونو او ګروپي مرکو څخه را اخيستل شوي دي. پرېکړه ليکونه د غوښتنو او دريځونو د څرګندولو لپاره يوه نوې وسيله ده، چې د هغه ټولنيزو او سياسي فعالانو لخوا کارول کيږي، چې سوله ايز ليدلوری لري. په عمومي توګه، پريکړه ليک د ځانګړې جوړښت لرروونکی يو ليکلی پيغام دی، چې د خلکو د يوې ډلې دريځونه او غوښتنې په کې شاملې دي، چې د غونډو، جرګو، لاريونونو او نورو خوځښتونو په پای کې د يوې ټاکلې ډلې له لوري اټکل شويو موخو ترلاسه کولو لپاره صادريږي.

پرېکړه ليکونه په يوه ځانګړي جغرافيه او وخت کې د حالاتو، غوښتنو، کړنو او د پيښو پر وړاندې د عملونو او عکس العملونو د تحليل يوه مهمه سرچينه ده. د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګو او سولې غوښتلو غونډو پريکړه ليکونه د سولې د ټينګښت په بهير کې د عملي اړخونو له امله د سولې جوړونې بهير کې د قضاوت او ارزونې وړ دي.

د دې پريکړه ليکونو تحليل د نورو سرچينو سره لکه: کتابونه، مقالې، هوکړه ليکونه، پر ديوال ليکنې او مطبوعاتي کنفرانسونه کولای شي د سولې او جګړې په مطالعاتو کې نوي اړخونه پرانيزي. د افغانستان د نوي نسل او ځوانانو د پرېکړه ليکونو څېړل له دې اړخه اړين دي، چې د ټولنيزې او سياسي کارولو وړتيا لري او خپلو اوربدونکو ته د "نوي نسل او ځوانانو" پيغام رسوي. د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې او د سولې غوښتنې غونډو پريکړه ليکونو کې لږ تر لږه درې ډلې مخاطبې شوي دي: ۱. د وخت حکومت ۲. د طالبانو تحريک ۳. امريکا، نړيواله ټولنه، د سيمې هيوادونه او ګاونډيان.

په دې څپرکي کې؛ د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګو او سولې غوښتلو پريکړه ليکونه، او په هيواد کې نوي سياسي بدلون(د ۱۴۰۰ د زمري ۲۴ - د ۲۰۲۱ کال د اګسټ ۱۵) ته په کتو؛ ګروپي مرکې تحليل او ارزول شوي دي.

## ۱. د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګو او د سولې غوښتلو غونډو ځانګړنې

د اړیکو ګروپ د سولې په بهیر کې د افغانستان د نوي نسل او ځوانانو د یووالي، پیوستون، همغږي او همپالنې د رامنځته کولو په موخه د هېواد په ۳۰ ولایتونو کې د سولې غوښتلوغونډې، کنفرانسونه، ناستې او جرګې جوړې کړې دي. د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګو او د سولې غوښتلو غونډو ګډونوال د زده کړو، عمر، جنسیت، قوم او ولسوالی د ځانګړتیاوو په پام کې نیولو سره په کاري کمیټو ویشل شوي وو. د کمیټو غړیو له مخکې ټاکل شویو پوښتنو په اړه خپل نظرونه شریک او بحثونه کړي دي. په پای کې ټولو کمېټو د سولې په اړه خپلې غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه په یوه ګډ پرېکړه لیک کې توحید او وړاندې کړي دي. د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګو او سولې غوښتلو غونډو ځانګړنې په لاندې ډول دي:

### ۱-۱. نوی نسل او ځوانان

څنګه چې مخکې ویل شوي، د دې څېړنې وګړي او نمونه اخیستلو ټولنه نوی نسل او ځوانان دي. په دې څېړنه کې د نوي نسل او ځوانانو څخه موخه هغه مدني – سیاسي فعالان دي، چې د ۲۰۰۱ کال تحول وروسته په افغان ټولنه کې راپورته شوي او په سوله ایز ډول مدني – سیاسي مبارزاتو ته یې مخه کړې ده. په بل عبارت، نوی نسل او ځوانان په واک کې د ښکیلو ټکنوکراټو سیاستوالو، جهادي تنظیمونو او د هغوی له استازو او د طالبانو اسلامي تحریک له کټګورۍ څخه بهر دي.

### ۲-۱ د پروګرامونو ځانګړنې

د اړیکو ګروپ د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره په بېلابېلو ولایتونو کې لسګونه جرګې، د سولې غوښتلو غونډې، کنفرانسونه او مطبوعاتي ناستې، لاریونونه او د همغږۍ ناستې او د ترکیې په اسپارټا ښار کې د افغانستان د سولې لپاره د ځوانانو سیمه ییزه جرګه جوړه کړې ده. د یادونې وړ ده، چې دا ټول پروګرامونه د دې څېړنې برخه نه ده او هغه څه، چې په دې څېړنه کې د دې پروګرامونو د ځانګړنو په نوم څېړل کیږي؛ ۲۳ جرګې او د سولې غوښتلو ۸ غونډې دي. د (۱) شمېرې چارټ ته په کتو ۷۴ سلنه پروګرامونه جرګې او ۲۶ سلنه پرګرامونه د سولې غوښتلو غونډې جوړوي. (۱ چارټ)




### ۳-۱. د ګډونوالو ځانګړنې

د دې څېړنې نمونه ټولنه، د غونډو او د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګو ګډونوال دي. د ګډونوالو ځانګړتیاوې په لاندې ډول دي:

د نوي نسل او ځوانانو د سولي جرګو او سولي غوښتلو په غونډو کي ټولو ۱۱۲۸۶ کسانو ګډون کړی، چي د هغي له ډلي څخه يي ۸۲۳۵ نارينه او ۳۰۵۱ تنه يي ښـــځينه دي. د ســـلني له اړخه ۷۳٪ ګډونوال يي نارينه او ۲۷٪ يي ښځينه دي. د عمر له اړخه، د ګډون کوونکيو عمرونه د ۱۸ – ۳۵ کلونو ترمنځ او د زده کړي له اړخه، ګډون کوونکي زدکړيال، ليسانس او د ماسټری تر کچي زده کړي کړي دي. ( ۲چارت)







### ٤-۱. د ځيرني د ترسره کولو جغرافيه

د دي ځيرني معلومات د هيواد په ۳۰ ولايتونو کي د نوي نســـل او ځوانانو د ســـولي جرګو او د ســـولي غوښتني له غونډو څخه راټول شوي دي. له دي ډلي څخه د نوي نسل او ځوانانو د سولي جرګي د الفبا د تورو په ترتيب سره په بادغيس، باميان، بدخشــان، بغلان، بلخ، پکتيا، پکتيکا، تخار، جوزجان، خوست، سمنګان، غزني، غور، فارياب، فراه، کندز، کندهار، کونړ، لوګر، ننګرهار، نيمروز، هرات او هلمند او د سولي غوښتلو غونډي د الفبا په ترتيب سره په اروزګان، زابل، سرپل، کابل، لغمان، ميدان وردګ او نورستان ولايتونو کي جوړي شوي دي.

د یادونې وړ ده، چې د کاپیسا، پروان، پنجشیر او دایکندي ولایتونه په دې څېړنه کې نه دي شامل. که څه هم د دې ولایتونو لپاره پروګرامونه جوړ شــوې وو، خو د حکومت عمر یاري و نه کړه او د هغې په پایله کې په هیواد کې د سولې پروګرامونه ودرېدل. (۳ چارت)

په دې منځ کې زیات ګډونکوونکي د کابل ولایت څخه دي، چې په هغه کې دوه غونډې تر سره شوي او وروســـته په ترتیب ســـره زیات ګډون کوونکي د هرات، ننګرهار، بامیان او بدخشـــان ولایتونو کې دي. لږ ګډونکوونکي په ترتیب سره د میدان وردګو او لوګر ولایتونو کې دي.

له جنسیتي اړخه زیاتې ښځینه ګډونوالې په ترتیب سـره د هرات، بامیان، بدخشـان، بلخ او کابل ولایتونو کې وې او لږې ښځینه ګډونوالې په ترتیب سره د میدان وردګ، لوګر، خوست او کونړ ولایتونو کې وې. د سولې غوښتلو په غونډو کې د ارزګان په ولایت کې کومې ښځینه ګډون نه وو کړی.

**۱-۵. د څېړنې د ترسره کولو موده**

د نوي نســل او ځوانانو د ســولې جرګې او د ســولې غوښــتلو غونډو پریکړه لیکونو په اړه معلومات د ۱۳۹۸ د زمري له ۳۱ مې تر ۱۴۰۰ د زمري تر ۹ پورې راټول شوي دي، ولې د ګروپي مرکو په اړه معلومات د ۱۴۰۰ د زمري ۲۴ ـــ د ۲۰۲۱ کال د اګست د ۱۵مې له سیاسي بدلونونو وروسته راټول شوي دي.

**۱-۶. د پرېکړه لیکونو د لیکلو کړنلاره**

په هر ولایت کې د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې او د سولې غوښتلو غونډو غړي د زدکړو، جنسیت، عمر او ولسوالی ته په کتو په کاري کمېټو ویشل شـوي وو. هغوی په خپلو کاري کمېټو کې د سولې په هکله د اوو مشـخصـو پوښـتنو په اړه خپل اند او لیدلوري شـریک او په پای کې دوی په ګډه خپل نظرونه د یو پرېکړه لیک په چوکاټ کې ترتیب کړي دي.

**۱-۷. د پوښتنو محور**

په جرګو او سوله غوښتونکو غونډو کې له ګډونوالو څخه د سولې په تړاو په اوو برخو کې پوښتنې شوې دي. دا پوښتنې په لاندې ډول دي:

۱) د سولې په بهیر کې د افغانستان ا. ج دولت څخه د نوي نسل او ځوانانو غوښتنه

۲) د سولې په بهیر کې د طالبانو اسلامي تحریک څخه د نوي نسل او ځوانانو غوښتنه

۳) د سـولې په بهیر کې له نړیوالې ټولنې، د امریکا متحده ایالتونو، اسـلامي هیوادونو او ګاونډیو هیوادونو څخه د نوي نسل او ځوانانو غوښتنه

۴) د سولې بهیر په پریکړو کې د نوي نسل او ځوانانو اغیزناکه مشارکت او د ګډون څرنګوالی

۵) پایلې ته د بین الافغاني مذاکراتو رسولو په اړه د نوي نسل او ځوانانو وړاندیزونه او د هغوی مسؤلیت

۶) د ناڅرګنده سیاسي راتلونکي په اړه د نوي نسل او ځوانانو نظرونه؛ د اوسني وضعیت څخه د وتلو حل لاره

۷) په ځایي او ملي کچه د سولې له بهیر څخه د څارنې څرنګوالي په اړه د نوي نسل او ځوانانو وړاندیزونه

له کومه ځایه، چې پورته پوښتنې د څېړنې د پوښتنپاڼې په چوکاټ کې نه، بلکې د بحث او ارزونې په موخه جوړې شوې وې او له بل لوري د ګډونوالو اندونه او لیدلوري د پرېکړه لیکونو په چوکاټ کې راغلي دي، نو د پورته پوښتنو لپاره کمې ځواب ممکن نه دی. په دې توګه د پورته پوښتنو ځوابونه د سولې جرګو او غونډو پرېکړه لیکونو د منځپانګې د ارزونې میتود کې پلټل شوي دي.

## ۲. د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې او د سولې غوښتلو غونډو د پرېکړه لیکونو ارزول

### ۲-۱. د نوي نسل او ځوانانو انسجام

په هیواد کې د تلپاتې سولې او دوامداره ثبات لپاره د نوي نسل او ځوانانو انسجام او همغږي د اړیکو ګروپ، جرګو او د سولې غوښتلو غونډو له مهمو موخو څخه دي. لکه څنګه، چې مخکې یادونه وشوه، په هیواد کې د سولې لپاره د ځوانانو یو له لویو پروګرامونو څخه "د افغانستان ځوانانو د سولې ملي جرګه - ۱۳۹۱" وه. له دې جرګې وروسته په هیواد کې د سولې غوښتلو او تاوتریخوالي ضد ځوانو فعالانو بنسټونه او خوځښتونه جوړ شوي دي. خو په پلازمینه او ولایتونو کې د ځوانانو ترمنځ سراسري انسجام، تلپاتې همغږي او دوامداره اړیکې جوړې نه شوې. په دې توګه یاده جرګه د یو لوی، واحد او اغېزمن فعالیت په توګه په هغه مشخص وخت کې باقي پاتې شو. بلاخره د «سولې» په اډانه کې د هیواد په پلازمینې او ولایتونو کې د ځوانانو بیا ځلې انسجام «د سولې لپاره د اړیکو ګروپ» لیدلوری وټاکل شو.

په ټوله نړۍ کې ځوانان د سولې کلتور خوځونکي په توګه د سولې جوړونې او د تاوتریخوالي څخه ډډه کولو لپاره په فعاله توګه کار کوي. لکه څنګه، چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۲۲۵۰ (۲۰۱۵) او ۲۴۱۹ (۲۰۱۸) پرېکړه لیکونو کې ځوانان، سوله او امنیت ته په کې د ارزښتناکه مسایلو په توګه اشاره شوې ده. د امنیت شورا د دې پرېکړه لیکونو اصلي موضوع د سولې په ټولو بهیرونو کې د ځوانانو اغیزناکه ګډون دی. په هغو هیوادونو لکه افغانستان، چې تر ۶۰ سلنې زیات وګړي یې ځوانان دي، د سولې په بهیرونو کې د هغوی اغېزناکه ګډون، د وګړیو سره تعامل او د هغوی د راتلونکیو پروګرامونو دفاع، اړینه ده. د دې ترڅنګ ځوانان د منازعاتو د اړخونو زیات وسله وال ځواک جوړوي. د سولې خبرو په مېز کې د ګټه اخیستونکیو ډلو په توګه د ځوانانو پېژندنه، د دوی د اړتیاوو او ګټو ادغام او د سولې جوړونې په بهیر کې د راتلونکي نسل برخلیک مهم او حیاتي دی، خو په دوحه کې د افغانستان د سولې په بهیر کې درې لوري؛ د وروستیو شلو کلونو حکومتي ټکنوکراټانو، جهادي تنظیمي څېرو او یا د هغوی استازو او د طالبانو اسلامي تحریک استازو ګډون درلود، ولې نوي نسل او ځوانانو په کې هېڅ ډول ونډه او برخه نه درلوده.

په وروستیو دوه لسیزو کې، د افغانستان نوي نسل او ځوانان «د سولې ټینګښت شورا» څخه بیا «په دوحه کې د سولې بهیر» پورې یې د پام وړ انسجام، همغږي او دوامداره اړیکې نه درلودې. د ګوتو شمېر پرته د نوي نسل سیاسي فعالانو او مدني ټولنو ځانګړي پروګرامونه نه درلودل، خواره وو او همدارنګه بیلابیل آدرسونه یې درلودل. د دې ترڅنګ ټول پروګرامونه او کړنې په مرکز-کابل کې متمرکزې وې.

پورته ننګوونو ته په کتو، د اړیکو ګروپ یوه موخه د افغانستان په ۳۴ ولایتونو کې د هیواد د نوي نسل او ځوانو فعالانو ترمنځ د یو مشخص ادرس رامنځته کول، انسجام، تلپاتې همغږي او دوامداره اړیکو جوړول وو. دې خوځښت په ټولو ولایتونو کې د افغانستان د نوي نسل او ځوانانو غوره څېرې پېژندلي او له دوی سره د اړیکو د ټینګیدو سره په ۳۰ ولایتونو کې جرګې، ناستې، او ګډ فعالیتونه ترسره او د دې اړیکو د تلپاتې کېدو لپاره یې اړوند ولایتي سکرتریتونه جوړ کړي دي. د دې بهیر رهبري په مخامخ او د ارتباطي کانالونو پر مټ

ولايتي سـکرتريتونو سـره په اړيکه کې دي او په پای کې دا حرکت د سـولې او عدالت غوښـتنې په برخه کې د افغانستان د نوي نسل او ځوانانو په ځانګړي ادرس بدل شو.

د نوي نسـل او ځوانانو د سـولې جرګې په پرېکړه ليکونو کې د خوسـت ولايت په ۱، ۲ او ۸ مادو، د ننګرهارپه ۸ ماده، کندز ۸ ماده، بغلان ۴ ماده، د نيمروز ۴ مادې ۲ بند، بدخشـان ۵ ماده، بلخ ۱۶ ماده، سـمنګان ۹ ماده کې او د زابل ولايت د سـولې غوښـتلو غونډې ۳ او ۶ مادو په پريکړه ليکونو کې د نوي نسـل او ځوانانو اجماع، انسجام او همغږي ته په کې اشاره شوې ده.

### ۲-۲. د نوي نسل او ځوانانو نيوکې

دويمه موضوع، چې د نوي نسل او ځوانانو د جرګو او سولې غوښتلو غونډو له پرېکړه ليکونو څخه تر لاسه کيږي، د سـولې په بهير او مذاکراتو کې پر نيمګړتياوو، ګډوډي او په هيواد کې د جګړو بدې پايلو په تړاو نيوکې دي. لکه څرنګه، چې په پرېکړه ليکونو کې ورته اشاره شوې، د افغانستان د نوي نسل او ځوانانو نيوکې په لاندې ډول دي:

۱) د سولې د مذاکراتو او پريکړو په بهير کې د نوي نسل او ځوانانو (له حکومت او جهادي تنظيمونو څخه بهر) د استازو پر نه شتون نيوکه

۲) د جمهوريت په لوري کې د مرکچي پلاوي پر جوړښـت، نه همغږي، ګډوډي او پروګرام نه شـتون، ځان غوښتنه او د ګټو پر پاللو نيوکه

۳) د طالبانو اسـلامي تحريک لخوا د وخت پر ضـايع کولو، نرمښـت نه لرلو او د ډول ډول افکارو پر نه منلو نيوکه

٤) د سولې مذاکراتو په بهير کې د شخصي، ګوندي او ډله ايزو ګټو پر پاللو نيوکه

٥) د سولې بهير او مذاکراتو کې د ښکيلو اړخونو لخوا د نرمښت پر نه څرګندلو نيوکه

٦) خلکو باندې د جګړې پر ناوړه اغېزو نيوکه

٧) د سولې په هوکړو او د مذاکراتو بهير پر نه روښانتيا نيوکه

د جرګو او سـولې غوښـتلو غونډو پريکړه ليکونو کې د زابل ۵ ماده، د ننګرهار ۲۳ ماده، سـرپل ۳ ماده، هرات ۲ ماده، پکتيا ۱ ماده، نيمروز ۱ ماده ۲ بند او ۴ ماده ۱ بند، جوزجان ۵ ماده، لغمان ۳ ماده، ميدان وردګ ۲ ماده، کندهار ۳ ماده، تخار ۴ ماده، لوګر ۵ ماده، پکتيکا ۷ ماده، بلخ ۱ماده، بادغيس ۱ ماده، باميان ۳ ماده، بغلان ۱ ماده، بدخشان ۲ ماده، فارياب ۲ مادې ۱ بند، کابل (۱۳۹۸ زمري ۳۱) ۴ ماده کې د نوي نسل او ځوانانو پر نه شـتون نيوکه  او د سولې بهير او مذاکراتو کې د ځوانانو او ښـځو پر اغيزناکه ګډون ټينګار شـوی دی.

د سـولې جرګو او سـولې غوښـتلو پروګرامونو په پريکړه ليکونو کې د کابل ولايت (۱۳۹۸ کب ۱۳) ۷ ماده، ننګرهار۴ ماده، خوسـت ۶ ماده، فارياب ۱ مادې ۱ بند، او تخار ۸ ماده کې د جمهوريت په اړخ کې د پلاوي پر جوړښت، نه همغږي، ګډوډي او پروګرام نه شتون، ځان غوښتنه او د ګټو پر لټولو نيوکې شوي دي.

د هلمند ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې د پرېکړه لیک په ۴ ماده کې داسې راغلي: « د ښکیلو غاړو څخه غواړو تر څو له خپلمنځي اختلافاتو او پاروونکو ادبیاتو څخه ډډه وکړي او ملي ګټو ته لومړیتوب ورکړي او له سمتي، ژبني، مذهبي تعصوباتو څخه تېر شي... »؛ همدارنګه د کندهار د سولې جرګې د پریکړه لیک په ۱۱ ماده، جوزجان ۱ماده، میدان وردک ۱۱ ماده، کندز ۲ او ۳ مواد، لوګر ۲ ماده، فاریاب ۱ ماده ۳ بند، ۲ ماده ۴ بند او ۶ ماده، پکتیا ۴ ماده، نیمروز ۴ ماده ۴ بند، هلمند ۴ ماده، خوست ۷، ۱۳، او ۱۴ مواد، بغلان ۹ ماده، بادغیس ۶ ماده، بامیان ۵ ماده، ننګرهار ۲ او ۴ مواد، تخار ۳ او ۷ مواد، پکتیکا ۴ ماده، سمنګان ۸، ۱۲ او ۱۵ مواد، نورستان ۴ ماده، بلخ ۴ او ۹ ماده، ننګرهار ۹ ماده، بدخشان ۹ او ۱۱ مواد، غزني ۲ ماده، هرات ۶ ماده، کابل (۱۳۹۸ کب ۱۳) ۲ ماده کې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت او د طالبانو اسلامي تحریک د پلاویو تر منځ د نرمښت پر نه شتون نیوکې شوي او له دوی څخه غوښتل شوي، څو ملي ګټو ته لومړیتوب ورکړي او د شخصي، ګوندي او ډله ایزو ګټو لپاره؛ د سولې د مذاکراتو بهیر له خنډ او ځنډ سره مخ او ړنګ نه کړي.

د لوګر ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې د پرېکړه لیک په ۱ ماده کې داسې راغلي: « موږ د لوګر ولایت اوسیدونکي د نورو ولایتونو په پرتله په هیواد کې د روانې جګړې څخه زیات زیانمن شوي یو. موږ له کلنو راهیسې د اقتصادي، کرنیزو او ښوونیزو ستونزو سره مخ یو. په دې توګه د دې جرګې له لارې د افغانستان پر حکومت، د طالبانو پر تحریک او د افغانستان په جګړه کې پر ټولو ښکیلو غاړو غږ کوو، چې ژر تر ژره دې اوربند وکړي.» د هلمند ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې د پرېکړه لیک په ۵ ماده کې داسې راغلي:« د بشري ناورین او انسان وژنه، د کورنیو بې ځایه کیدل، د کونډو او یتیمانو زیاتوالی، فقر، بېوزلي، اقتصادي بحران، د ټول ګټو تاسیساتو ورانېدل، د ځوانانو بې تعلیمه پاتې کېدل هغه څه دي، چې د وسلوالو نښتو په ترڅ کې یې هلمند ولایت ته زیان رسولای دی.» همدارنګه د نورستان د سولې غوښتلو غونډې د پریکړه لیک په ۱ او ۶ مواد، جوزجان ۶ ماده، لغمان ۱، ۴، ۵ او ۶ مواد، ارزګان ۶ ماده، زابل ۲، ۴ او ۶ مواد، فراه ۵ ماده، بغلان ۱۵ ماده، کندز ۷ ماده، بادغیس ۷ ماده، ننګرهار ۶ او ۲۰ مادو، بلخ ۱۸ ماده، فاریاب ۵ ماده، غزني ۷ ماده، هرات ۱۲ ماده، پکتیا ۲۱ ماده، خوست ۲۱ ماده، غور ۹ ماده، بدخشان ۱۷، ۱۸، او ۱۹ مواد، کې د افغانستان پر خلکو د جګړو د بدو پایلو پر اغېزو نیوکې شوي دي.

د کندهار ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې د پرېکړه لیک په ۵ ماده کې داسې راغلي: « موږ د کندهار ځوانان؛ نه غواړو، چې د سولې په بهیر کې زموږ پر حقونو پټې معاملې وشي. د افغان سولې بهیر دواړه اړخونه دې د سولې بهیر روښانه او شفافه کړي، ابهامات او پټ رازونه دې افغانانو ته روښانه کړي، نړیوالو او کورنۍ ملي او ځایي رسنیو او څارونکیو بنستونو ته دې اجازه ورکړي، څو د افغان سولې له بهیر څخه افغانان په هر اړخیزه توګه باخبره وساتي.» د لوګر ولایت د سولې جرګې د پریکړه لیک په ۸ ماده کې داسې راغلي: «د افغانستان له حکومت څخه غواړو څو په هیواد کې د سولې بهیر ټولو افغانانو لپاره روښانه کړي اوپه دې بهیر کې هېڅ ډول ابهام او نا څرګندتیا زمونږ لپاره د منلو وړ نه ده.» همدارنګه د کندهار ولایت د سولې جرګې د پریکړه لیک په ۶ ماده، فاریاب ۶ مادې ۲ بند، هلمند ۶ ماده، غور ۱۰ ماده او د خوست ۲۲ ماده؛ کې یې د سولې هوکړو او مذاکراتو پر نه روښانتیا نیوکه او همدارنګه په دې برخه کې یې د څرګندتیا غوښتنه کړې.

### ۲-۳. د نوي نسل او ځوانانو غوښتنې

د وخت له دولت او حکومت، د طالبانو اســـلامي تحریک، نړیوالې ټولنې په ځانګړې توګه د امریکا له متحده ایالتونو، اسلامي هیوادونو، سیمې او ګاونډیو هیوادونو څخه د افغانستان د نوي نسل او ځوانانو غوښتنې په لاندې ډول دي:

#### ۲-۳-۱. د مذاکراتو او سیاسي هوکړې له لارې د منازعاتو حل

لکه څرنګه، چې مخکې وڅېړل شوه، په افغانستان کې د واک ترلاسه کولو لپاره وسله وال منازعات، د واک لپاره په شخړو او باطل پړاو را څرخېدلي دي. کله نا کله د کورنیو او بهرنیو لاملونه له امله یوه جګړه پایته رسیږي او بله جګړه پیلیږي. د تاوتریخوالي، پوځي او پرځولو له لارې بریا امکان نه لري او که وشي، تلپاتې به نه وي.

د دوحې د سولې په ناسته کې ټولو اړخونو؛ حکومت، د طالبانو تحریک استازو او د افغانستان سولې ملاتړو هیوادونو دا ومنله، چې د افغانستان کړکیچ پوځي حل نه لري. په خواشینۍ سره، چې خبرې او عمل یو شان نه وو. دې لوري ته د وخت ولسمشر محمد اشرف غني د جګړې اعلان وکړ، هغه لوري د طالبانو اسلامي تحریک هم جګړې ته زور ورکړ.

د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګو او د سولې غوښتلو غونډو اړوند پرېکړه لیکونو کې د سولې څخه د ملاتړ تر څنګ، د « سولې سیاسي هوکړې» له لارې د افغانستان د منازعاتو پر حل ټینګار شوی دی. د افغانستان نوي نسل او ځوانان په دې باور وو او دي، چې د افغانستان کشالې حل او سولې او ثبات ته رسېدل پوځي حل نه لري. په دې توګه د جرګو او سولې غوښتلو غونډو په ټولو پرېکړه لیکونو کې د « خبرو او مذاکراتو» له لارې د افغانستان د کړکیچ پر حل ټینګارشوی دی.

په دې اړه د غور ولایت نوي نسل او ځوانانو، د سولې خبرو زمینه برابرېدل یوه زرینه موقع ګڼي او وايي: « تر کلونو جګړو، تاوتریخوالي او نا امنیو وروسته، په ملي او نړیواله کچه د افغانستان په جګړه او سوله کې ښکېل سترو ځواکونو په منځګړیتوب، د ښکېلو اړخونو؛ د طالبانو اسلامي تحریک او د افغانستان اسلامي جمهوریت ترمنځ د خبرو او مذاکراتو ور پرانیستل شوی، چې دا د افغانستان په معاصر تاریخ کې د یو زرین فرصت په توګه شمېرل کیږي.»

د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګو او سولې غوښتلو غونډو په پرېکړه لیکونو کې د زابل ۱ ماده، ارزګان ۲ ماده، سرپل ۲ ماده، لوګر ۳ ماده، کابل (۱۳۹۸د زمري ۳۱) ۱ ماده، او د کابل (۱۳۹۸ کب ۱۳) ۴ ماده کې د طالبانو اسلامي تحریک سره د سولې مذاکراتو د پیل غوښتنه شوې او د ارزګان ۳ ماده، نورستان ۳ ماده، کنړ ۲ ماده، نیمروز ۱مادې ۱ بند، تخار ۷ ماده، سمنګان ۳ ماده، کندز ۱ او ۶ مواد، بغلان ۲ ماده، پکتیا ۱۹ ماده، فاریاب ۴ مادې ۱ بند، کابل (۱۳۹۸ کب ۱۳) ۱ ماده او همدارنګه د لوګر ولایت د پرېکړه لیک په پیل کې د مذاکراتو او سیاسي هوکړو له لارې د کړکېچ حل او د جګړې پر پایته رسېدو ټینګار شوی دی.

#### ۲-۳-۲. په هېواد کې اوربند او د تل لپاره د جګړې پایته رسیدل

د امریکا په مشرۍ د ناټو ځواکونو د وتلو نېټې تر روښانه کېدو او په پوره ډول له افغانستان څخه د امریکایي سرتېرو وتلو سره تمه کېده، چې د وخت دولت او طالبانو ترمنځ بشپړ او سراسري اوربند واکمن شي او یا لږ تر

لږه اورکم وشـي. څکه نور له یوې خوا د هېواد د ښـکیلاک لپاره پلمې شـتون نه درلود. له بل لوري د اسـلام له نظره د مسلمانانو ترمنځ جګړه او د مسلمان وژل دواړه حرام دي. پر خلکو د هغوی د ارادې خلاف د یو نظام او حکومت تپل مشـروعیت نه لري او له امریکا سـره تر سـولې وروسـته د افغانسـتان له وسـله والو ځواکونو سـره جګړه، نوره له کافرانو سـره د همکارۍ پر دلیل د توجیه وړ نه وه. همدارنګه د عامو وګړیو له انده د بهرنیو او غیر مسلمان ځواکونو سره سوله، خو د افغانستان له وګړیو او مسلمانانو سره جګړې توجیه او منطق نه درلود.

له شک پرته له څلویښت کاله زیات، د افغانستان مسلمان ولس هم نارینه او ښځینه، سپینږیري او ځوانان، ښـار میشـتي او کلیوال ټولو د جګړې تریخ خوند، وینه تویدنه، ویجاړي، ربړونه، زوریدل او سـپکاوی څکلی او لیدلی دی، هېڅ وخت د وینې تویدنې دوام او د سـتونزو غځېدو ته لیوالتیا نه لري او نه یې درلوده. اوربند کولای شو، چې د منازعاتو د ښکیلو اړخونو څخه د وطن پالنې، ولس پالنې او سولې ته د ژمنتیا انځور وړاندې کړي او د سـولې د ټینګښـت او هر اړخیزې سـولې لپاره مخینه برابره کړي. د افغانسـتان نوی نسـل او ځوانانو د جګړو د بدو پایلو په اړه پوهیدو او همدارنګه د جګړې په دواړو اړخونو کې د هیوادوالو له لاسـه ورکول، د ماشـومانو یتیمېدل او د ښځو کونډېدل، د کورونو ورانېدل او د کرنیزو محصولاتو له لاسه ورکول او د جګړې په پایله کې د لسـګونو نورو رنځونو او کړاونو په درک کولو، د جګړې د درېدو، اوربند او یا لږ تر لږه اورکم لپاره یې عدالت غوښتنه کړې ده.

د جرګو او سـولې غوښـتلو غونډو پرېکړه لیکونه ښـیي، چې د غونډو، جرګو، ناسـتو او لاریونونو ګډونوالو؛ د « ژر تر ژره، تل پاتې او هر اړخیز اوربند» او یا لږ تر لږه «اورکم» رامنځته کیدل اړین بللی دی. دا ډول هڅې او د سـولې غوښـتنې نور غږونه د وخت د حکومت، د طالبانو تحریک او د سـولې نړیوالو ملاتړو ترمنځ د «اوربند او اورکم»، رامنځته کیدو په اړه د خبرو اترو لامل شـول، خو په عمل کې د اوربند او اورکم بنسټیزه کولو کې یې ګټه و نه کړه. برعکس دې لوري ته د وخت ولسمشر محمد اشرف غني د «جګړې اعلان» وکړ، له بلې خوا د طالبانو اسلامي تحریک د کابل تر نیولو او پنجشیر ولایت تر لاندې کولو پورې د دولت وسله والو ځواکونو پر وړاندې، چې دوی یې جهاد ګڼي خپلې جګړې ته په ایډیولوژیکې سرسختۍ سره دوام ورکړ.

د سولې جرګو او سولې غوښتلو غونډو په ټولو پرېکړه لیکونو کې اورکم او اوربند راغلی دی. د کندهار ولایت د نوي نسـل او ځوانانو د سـولې جرګې پرېکړه لیک په ۱ ماده کې راغلي دي: «اوس مهال د افغانسـتان د سـولې بهیر کې امریکا نور د مستقیم اړخ په توګه شـتون نه لري، د کندهار ځوانانو یوازینۍ غوښتنه له دولت او طالبانو اسلامي تحریک څخه دا ده، چې ژر تر ژره اوربند او بالاخره دایمي اوربند اعلان کړي. د جنګ پر ځای دې د خبرو اترو له سیاسـته کار واخلي، څو افغان وژنه ودرېږي او دایمي سـولې ته ورسـیږو.» د فراه ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې د پرېکړه لیک په ۲ ماده کې راغلي: « د فراه ولایت خلک په ځانګړي ډول ځوانان د طالبانو له اسـلامي تحریک څخه په ډیر درناوي غواړي، څو اوربند د خبرو او تل پاتې سـولې د پیل په توګه ومني. څکه له اوربند څخه پرته، د سـولې بهیر په شـدت سـره زیان ویني. ... » همدارنګه د نوي نسـل او ځوانانو د سـولې جرګو او غونډو په پرېکړه لیکونو کې د زابل ۳ ماده، جوزجان ۱ ماده، نورسـتان ۱ او ۲ مواد، لغمان ۱ ماده، سـرپل ۱ ماده، میدان وردګ ۱۰ ماده، خوسـت ۱۰ او ۱۵ مواد، کونړ ۳ ماده، نیمروز ۲ مادې ۱ بند، تخار ۲ ماده، پکتیکا ۱ماده، فراه ۴ ماده، سـمنګان ۲ ماده، بادغیس ۲ ماده، هرات ۵ ماده، کندز ۷ ماده، بامیان ۱ ماده، بغلان ۵ ماده، پکتیا ۷ او ۱۱ مواد، بدخشـان ۸ او ۱۰ مواد، فاریاب ۲ مادې ۱ بند، کابل (۱۳۹۸ زمري ۳۱) ۱ ماده، کابل (۱۳۹۸ کب ۱۳) ۴ ماده، لوګر ۱ ماده، غور ۲ ماده، هلمند ۱ او ۲ مواد، ننګرهار ۴ ماده، غزني ۶ ماده او د ارزګان ولایت د پرېکړه لیک په سریزه او پایله کې یې په هیواد کې د اوربند، د تل لپاره د جګړې پایته رسیدل او د وینې تویيدنې ختمولو غوښتنه شوې ده.

**۲-۳-۳. د ټولګټو بنسټونو خونديتوب**

د جګړې شـــدت، د بريد او دفاع ســـنګرونو توديدل او د جمهوري دولت د وســـله والو ځواکونو او د طالبانو اســـلامي تحريک د ځواکونو ترمنځ د ټولګټو ســـيمو او ځايونو لاس په لاس کېدل، د ښـــوونځيو، د ولايتونو او ولسواليو ودانيو، پوځي ودانيو، پلونه او حتی د سړکونو په څېر د ټولګټو بنسټونو ويجاړېدل يې له ځان سره لرل. ډېری ټولګټي بنسټونه ويجاړ يا ورته اور اچول کيده او يا د هغوی مالونه چور او تالان کېدل. عامو وګړيو دا ډول بدې کړنې غندلې دي.

د اړيکو ګروپ هم د سولې جرګو او غونډو د پرېکړه ليکونو او اعلاميو کې د عامه بنسټونو او مالونو د ويجاړې، لوټ او تالان کېدو مخنيوي په اړه خپل غږ پورته کړی دی. د دې خوځښت په څو پرېکړه ليکونو کې د وخت له حکومت او د طالبانو تحريک څخه غوښتل شوي دي، چې د ټولګټو بنسټونو د ويجاړې او د دولتي مالونو د لوټ مخه ونيسي. د افغانستان د نوي نسل او ځوانانو په باور دولتي مالونه، شتمني او ملکيتونه په ټولو افغانانو پورې اړه لري او په «جنګي غنيمت» کې نه شمېرل کيږي.

د ننګرهار ولايت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې د پرېکړه ليک په ۱۰ ماده کې راغلي: « موږ د جګړې له دواړو اړخونو څخه غواړو، څو د عامه بنســـټونو او ملي شـــتمنيو د ورانولو مخنيوی وکړي. ملي، کلتوري ارزښتونو او اسلامي مقدساتو ته دې درناوی وکړي.» همدارنګه د کندهار ولايت د نوي نسل او ځوانانو د سـولې جرګې د پرېکړه ليک په ۸ ماده کې راغلي: « د افغان دولت او طالبانو اسـلامي تحريک څخه غوښـتنه کوو، د نظام د له منځه وړلو لپاره نه، بلکې د ســـمون په موخه دې په جوړښـــت کې د تغيير رامنځته کولو پر حقوقي صلاحيتونو باندې تمرکز وکړي، د اسلام مقدس دين د اصولو او نصوصو په رڼا کې د اساسي قانون او نورو فرعي قوانينو د اصـــلاح لپاره هڅه وکړي، د ملي او عامه شـــتمنيو د ورانولو مخه دې ونيســـي، د طالبانو اسلامي تحريک د سولې د يوه طرف په توګه دې خپل بهرنی سياست واضح کړي، څو د سولې تړون وروسته عامو افغانانو ته د دوی خارجي تګلاره واضح وي.» همدارنګه د نورستان د سولې غوښتلو د غونډې په ۱۰ ماده او د پکتيا د نوي نسـل او ځوانانو د سـولې جرګې د پريکړه ليک په ۱۳ ماده کې د ټولګټو بنسـټونو پر خونديتوب ټينګار شوی دی.

**۲-۳-۴. له ټول ګډونه نظام او دولت څخه ملاتړ**

د افغانستان په جګړه کې د ښکېلو اړخونو ترمنځ د نظام ډول او جوړښت يو له جنجالي موضوعاتو څخه و. په وروستۍ نيمه پېړۍ کې په افغانستان کې ډول- ډول سياسي نظامونه او جوړښتونه تجربه شوي دي، خو يو هم ونشـــو کولای، چې د جګړې ټول اړخونه د واک په يوه ټغر ســـره راټول کړي. په افغانســـتان کې، چې کوم نظامونه ناکام شوي، په نورو ټولنو کې بريالي شوي دي. د نظامونو او جوړښتونو د نه اغېزمنتيا يو لامل، د ټولو اړخونو د هوکړې پر بنسټ نه رامنځته کيدل، او په واک او پريکړو کې د ګډون لپاره د يو مشـخص ميکانيزم نه شتون او له بلې خوا د يو او يا څو لورو لخوا پر يوه يا څو اړخونو د خپلو غوښتنو، ارزښتونو او ګټو تپل دي. په دې توګه داســې ښــکاري، چې په افغانســتان کې به نظام او جوړښــت هغه وخت اغېزناکه وي، چې د افغانســتان د خلکو سره په مشوره د ټولو اړخونو د هوکړې پر بنسټ جوړ شي.

د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګو او غونډو څخه داسې جوتيږي، چې نوی نسل او ځوانان د يو داسې نظام په لټه کې دي، چې د خلکو په اراده رامنځته او ټول ګډونه وي، چې په هغه کې ټول اړخونه د يو لوی ملي او اسلامي چتر لاندې د ټولېدو وړ وي.

په عمومي ډول د سولې جرګو او غونډو په پرېکړه ليکونو کې راغلي دي، چې دوی له داسې نظام څخه ملاتړ کوي، چې په ملي او اسلامي ارزښتونو ولاړ وي او «د سولې سياسي هوکړې» له لارې رامنځته شي او «د ټولو افغانانو د منلو وړ لويې جرګې» او «ټول پوښتنې او رفرانډوم» او يا نورو منل شويو کړنلارو له لارې تائيد شي. په دې توګه په يادو پرېکړه ليکونو کې په ډېر پام سره ورته غوښتنه تر سترګو کېږي:

۱) يو شمېر پرېکړه ليکونه د يوه داسې ټول ګډونه نظام پر جوړېدو ټينګار کوي، چې د اسلامي ارزښتونو پر بنسټ رامنځته شوی وي.

۲) يو شمېر پريکړه ليکونه د اساسي قانون پر بنسټ له جمهوري نظام څخه، چې اسلامي ارزښتونو سره همغږي وي او د ټولو اړخونو د راټولولو لپاره منځنۍ لاره وي او د منازعاتو د اړخونو د اندېښنو له منځه وړلو په برخه کې په لړو جزئياتو سره ټينګار کوي.

نوي نسل او ځوانانو په پرېکړه ليکونو کې ويلي دي، چې نظام بايد ولسي او ديني مشروعيت ولري. ټاکنې بايد په واک کې د ګډون او نظام ته د مشروعيت ورکولو د ميکانيزم په توګه شتون ولري. د منازعاتو اړخونه بايد د سوله ييزې او زور زياتي پرته سيالي له لارې واک ته ورسيږي.

د غور ولايت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې د پرېکړه ليک په ۱ ماده کې راغلي، چې دوی د اسلامي ارزښتونو پر بنسټ ولاړ نظام څخه، چې په هغه کې د دې هيواد د ټولو وګړيو حق او حقونه تامين او تضمين شوي وي، ملاتړ کوي. همدارنګه د نيمروز ولايت د پريکړه ليک ۲ مادې په ۵ بند او د فارياب ولايت د پريکړه ليک د ۴ مادې ۳ بند کې د ټول ګډونه نظام او جوړښت پر جوړېدو ټينګار شوی دی. د پکتيکا ولايت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې د پرېکړه ليک ۳ مادې کې راغلي: «په هېواد کې دې داسې سوچه اسلامي او ملي نظام رامنځته شي، چې په هيڅ يوه اړخ پورې تړلی نه وي، اسلامي، ملي، کلتوري، سياسي او نورو ټولو ارزښتونو ته په کې درناوی شوی وي او د هېواد تيرې لاسته راوړنې په کې خوندي وي او د ولسونو په خوښه او اراده رامنځته شوی وي.» د بلخ ولايت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې د پرېکړه ليک په ۷ ماده کې راغلي: «موږ له ښکيلو خواوو څخه غواړو، څو ټول ګډونه، ګډ او د سراسري حکومت جوړولو لپاره، چې په کې د افغانستان د خلکو مادي او معنوي ارزښتونه خوندي وي، هڅه وکړي.»

خو د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګو او سولې غوښتلو پريکړه ليکونو کې د باميان ۲ ماده، خوست ۱۱ ماده، هلمند ۱ ماده، پکتيا ۷ ماده، هرات ۱ ماده، کابل (۱۳۹۸ کب ۱۳ ) ۶ ماده او د کابل غونډې (۱۳۹۸ زمري ۳۱) ۶ ماده او سريزه کې د جمهوري نظام پر ساتلو، ولسواکه او متکثر جوړښت رامنځته کيدو، د اسلامي ارزښتونو مراعتولو او د منازعاتو اړخونو د اندېښنو د له منځه وړلو په موخه د سمون پر رامنځته کيدو ټينګار شوی دی.

### ۲-۳-۵. له ټاکنو او اساسي قانون څخه ملاتړ

په واک کې د ګډون ميکانيزم او د دولت د جوړښت بنسټ، د دولت مشروعيت، د دولت د مختلفو برخو تر منځ د دندو تفکيک او د وګړيو حقونه هغه موضوع ګانې دي، چې له زيات وخت راهيسې د نظامونو پر وړاندې د يوې ننګونې په توګه پرتې دي. په دې ډول په مطلق ډېرکيو اوسنيو دولتونو کې «ټاکنې» د وګړيو د مشروعيت ترلاسه کولو، په واک او سياسي سوله ييزو سياليو کې د ګډون د يوه ميکانيزم په توګه غوره شوي

دي. همدارنګه اساسي قانون د اقتدار ترلاسه کولو، د دولت د جوړېدو بنسټ، د دولت د دندو ځانګړي کولو، د وګړيو د حقونو او له نړۍ سره د مثبت تعامل د بنسټ په توګه منل شوي دي.

«ټاکنې» او «اساسي قانون» د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګو او سولې غوښتلو غونډو کې د مهمو او بنسټيزو غوښتنو څخه دي. د جرګو او غونډو ګډونوالو په هيواد کې د «ټاکنو» پر شتون ټينګار کوي. د ننګرهار ولايت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې د پرېکړه ليک په ۱۱ ماده راغلي دي: «د طالبانو اسلامي تحريک څخه غواړو، څو د سولې له هوکړې وروسته، واک ته د رسيدو لپاره دې له سياسي، مدني او ټاکنيزو لارو څخه ګټه واخلي.» او د خوست ولايت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې د پرېکړه ليک په ۱۲ ماده کې راغلي دي: « له طالبانو څخه غواړو، څو اوربند وکړي او د آزادو ټاکنو له لارې واک ته ورسيږي.» د هرات ۱۱ ماده، ميدان وردګ ۶ ماده، باميان ۲ ماده، بدخشان ۸ ماده، کابل (۱۳۹۸ زمري۳۱) ۶ ماده کې د خلکوغوښتنو ته پر مراجعه کولو، د رايو پر بنسټ ولاړ نظام او د ټاکنو له لارې د واک په ترلاسه کولو ټينګار شوی دی.

همدارنګه په پرېکړه ليکونو کې د «اساسي قانون» په اړه دوه ډوله نظرونه تر سترګو کيږي. زيات نظريات د ۱۳۸۲ کال تصويب شوي اساسي قانون پر خونديتوب ټينګار کوي او يو شمېر پرېکړه ليکونه سولې ته د رسېدو په موخه بيا د اساسي قانون تعديل ته اشاره کړې ده. د کندهار ولايت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې د پرېکړه ليک په ۸ ماده کې د اساسي قانون په هکله راغلي دي، چې: «له افغان دولت او طالبانو اسلامي تحريک څخه غوښتنه کوو ترڅو د نظام د له منځه وړلو لپاره نه، بلکې د سمون په موخه د په جوړښت کې د تغيير رامنځته کولو پر حقوقي صلاحيتونو باندې تمرکز وکړي، د اسلام مقدس دين د اصولو او نصوصو په رڼا کې دې د اساسي قانون او نورو فرعي قوانينو د اصلاح لپاره هڅه وکړي ...» د هرات ۳ ماده، کابل (۱۳۹۸ زمري۳۱) ۶ ماده، کابل (۱۳۹۸ کب ۱۳) ۶ ماده، نورستان ۷ ماده، باميان ۲ ماده او بدخشان ۳ ماده؛ کې د «افغانستان اساسي قانون» پر خونديتوب او ملاتړ ټينګار شوی دی.

**۲-۳-۶. د وروستيو دوه لسيزو لاسته راوړنو خونديتوب**

په وروستيو دوه لسيزو کې د پراخو منازعاتو او ستونزو سربېره، د افغانستان خلکو او دولت زياتې لاسته راوړنې درلودې. له همدې امله د سولې جرګو او سولې غوښتلو د غونډو په پرېکړه ليکونو کې، د سولې په بهير کې په هر اړخيز ډول د هغوی پر خونديتوب ټينګار شوی دی. د دې خوځښت په پريکړه ليکونو کې د وروستيو شلو کلونو د لاسته راوړنو بيلګې په دې ډول دي:

په سياسي برخه کې؛ په کور دننه د نظام او اساسي قانون، د قووا تفکيک، په قدرت کې د ګډون د ميکانيزمونو جوړښت، رايو او ټاکنو شتون، په سوله ييزو سياليو باور لرل، څوکۍ ته د رسېدو لپاره له شخړو، فزيکي تاوتريخوالي او جګړې ډډه کول، د ښځو او ځوانانو سياسي ګډون، د ګوندونو، ډلو او سياسي فعالانو سياسي فعاليت، د وروستيو دوه لسيزو له لاسته راوړنو څخه شمېرل کيږي. په بهرني سياست کې، افغانستان د وخت د مجاهدينو او د وخت د اسلامي امارت په دورو کې په نړيواله انزوا کې وو. ولې په وروستيو شلو کلونو کې؛ د نړۍ له هيوادونو سره د مثبت تعامل پر بنسټ، په نړيواله ټولنه کې د افغانستان نسبي ځای ثابتيدو سربېره، نړيوالې ژمنې او له ګاونډيو، سيمې او د نړۍ له هيوادونو سره اړيکې او تعاملات پراخه شوي دي، همدارنګه په کورني او بهرني سياست په ځانګړې ډول له ګاونډيو او د سيمې له هيوادونو سره ستونزې او د توازن شتون نه

درلود، بیا هم د دې لاسته راوړنو د خوندیتوب، سمون او پراختیا، له منازعاتو وروسته افغانستان ته پراختیا او پیاوړتیا وربښي.

په اقتصادي برخه کې؛ افغانستان په وروستیو شلو کلونو کې د خصوصي پانګونې، د ګاونډیو او سیمې هیوادونو سره د سوداګریزو اړیکو، ټرانزیټي او سوداګري انحصار له منځه وړل او د افغانستان د یو شمېر صادراتي توکیو لپاره د بازارموندنې په برخه کې د تېر په پرتله پرمختګ شوی دی. د بېلګې په ډول د نسبي اقتصادي ثبات ساتنه، د هوایي ټرانسپورټ په برخه کې پانګونه، د برېښنا نسبي خدمتونه، مخابراتي او انټرنیټي خدمتونه، کرنې او مالدارۍ ته پاملرنه، یو شمېر ښاري بنسټونو جوړول، په نړیوالو نسبي معیارونو سره د یو شمېر ګمرکونو چمتو کېدل، د کانونو د سکتور په برخه کې د پانګونې را جلبول، ښارجوړونه، چاپېریال ساتنه، د فابریکو او صنعتي پارکونو پراختیا، له لاسي صنایعو څخه ملاتړ او په ځینو نورو برخو کې یې ښې لاسته راوړنې درلودې. دا لاسته راوړنې نه یوازې خوندیتوب ته بلکې زیاتې پراختیا ته هم اړتیا لري.

په ټولنیزه برخه کې؛ د قومونو او مذهبونو تعاملات، د دیني مراسمو او مناسکو د ترسره کولو خپلواکي، د عامو خلکو ترمنځ د سوله ییزو او د عدم تشدد اړیکو وده، سوله ییز عدالت غوښتنه، د کډوالو راستنېدل، د سیاسي ګوندونو جوړېدل، د مدني بنسټونو رامنځته کېدل، ښوونیزو او لوړو زده کړو خدمتونو ته د هلکانو او نجونو لاسرسی، د ښځو ټولنیز ګډون، روغتیایي خدمتونو وده، د ورزشي نظام پیاوړتیا او د چاپېریال ساتنې وضعیت په ښه والي کې مو مهمې لاسته راوړنې درلودې. په دې برخه کې د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګو یو شمېر پرېکړه لیکونه، کلیو ته د دولت د پوره او لازمې نه پاملرنې او د خدماتو نه رسول یوه ستونزه یادوي. په دې توګه د سولې په بهیر کې د ټولنیزو لاسته راوړنو او په کلیواله کچه یې پر پراختیا ټینګار شوی دی.

د وینا او رسنیو خپلواکي؛ د سولې جرګو او غونډو په پرېکړه لیکونو کې د وروستیو شلو کلنو بله لاسته راوړنه ګڼل کېږي. افغانستان د چاپي، غږیزو او انځوریزو رسنیو او د وینا خپلواکۍ په برخه کې د تېر په پرتله او د ګاونډیو او سیمې هیوادونو په کچه د پام وړ پرمختګ درلود. له همدې امله په پرېکړه لیکونو کې د وینا خپلواکي او رسنیو په ساتنې او ملاتړ ټینګار شوی دی.

د وسله والو ځواکونو او نظام ساتنه؛ د افغانستان دفاعي او امنیتي ځواکونه په زیاتې پانګونې، د مسلکي زده کړو ترلاسه کولو او په زیاته مېړانه او قرباني سره جوړ شوي وو. دا خوځښت د وسله والو ځواکونو د انحلال ښه یادونه نه کوي. په دې توګه د سولې جرګو او غونډو په پرېکړه لیکونو کې د امنیتي او دفاعي ځواکونو پر ساتلو ټینګار شوی دی. خو په عمل کې، چې څه وشول، ټول یې حیران کړل. ځکه د ټولنې ټول قشرونه، د وخت حکومت او د افغانستان د سولې ملاتړو هیوادونه د امنیتي او دفاعي ځواکونو خوندیتوب پر اړتیا ټینګار درلود، خو امنیتي او دفاعي ځواکونه په نه اټکلیدونکي ډول تسلیم کړل شول او یا یې وسلې پر ځمکه کېښودې، تسلیم او خواره واره شول.

په پرېکړه لیکونو کې د وخت له حکومت، د طالبانو اسلامي تحریک، امریکا او د افغانستان د سولې بهیر له چمتو کوونکیو هیوادونو څخه غوښتل شوي، چې لاسته راوړنې د سولې قرباني نه شي. د افغانستان د نوي نسل او ځوانانو له انده، لاسته راوړنو ته نه پاملرنه به تلپاتې سوله او ثبات له ځانه سره ونلري او د ټولنیز، اقتصادي او سیاسي شاته تګ سبب به شي.

د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګو او سولې غوښتلو پریکړه لیکونو کې د کونړ ۶ ماده، جوزجان ۱ ماده، نورستان۱۲ ماده، میدان وردګ ۹ ماده، فراه ۱مادې ۲ بند، سمنګان ۷ ماده، کندز ۱ ماده، پکتیا ۱ ماده، فاریاب ۲ مادې ۲ بند، تخار ۱ ماده، کندهار ۴ ماده، بادغیس۶ ماده، پکتیکا ۶ ماده، بلخ ۲ او ۶ مواد، غور ۳

ماده، هلمند ۱ ماده، نیمروز ۱ مادې ۳ او ۴ بند، بامیان ۲ ماده او بدخشـــان ۳ ماده کې د دوه لســیزو د لاســته راوړنو پر خوندیتوب او همدارنګه د کابل (۱۳۹۸ زمري ۳۱) ۱۰ ماده، کابل (۱۳۹۸ کب ۱۳) ۸ ماده او د میدان وردګ ۱ ماده کې د افغانستان د امنیتي او دفاعي ځواکونو پر ساتلو، پیاوړتیا او غیر سیاسي کولو ټینګار شوی دی.

د کونړ ۶ او ۱۰ مواد، کابل (۱۳۹۸ زمري ۳۱) ۹ ماده، بلخ ۳ ماده، میدان وردګ ۴ ماده، بغلان۱۰ ماده، نیمروز ۱ او ۲ مواد په ۳ او ۴ بند، پکتیا ۱۲ ماده، ننګرهار ۳ او ۷ مواد او د غور ولایت د پرېکړه لیک په ۳ ماده کې د سیاسي جوړښت، ښوونیز نظام، د بیان او رسنیو خپلواکي، د ښځو حقونه، د قومي اقلیتونو حقونه، د دوه لسیزو لاسته راوړنو پر ساتنې او د ښوونیز سیستم، د ملکي خدمتونو سیستم او نور ملي بنسټونه، د دوو وروستیو لسیزو د لاسته راوړنو په توګه یې پر ساتنې ټینګار شوی دی.

**۲-۳-۷. د ښځو حقونه**

د ښځو حقونه که څه هم د لاسته راوړنو او ټولنیزو حقونو په برخه کې بیان شوي دي. خو د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګو او سولې غوښتلو غونډو کې ورته په ځانګړې ډول پاملرنه شوې ده. په وروستیو دوه لسیزو کې؛ افغانستان د ښځو د حقونو په برخه کې د اقتصادي پیاوړتیا، سیاسي او ټولنیز ګډون، کارموندنې، زده کړو او سیاسي بستونو په برخو کې د پام وړ لاسته راوړنې درلودې.

د جرګو او ســولې غوښــتلو پریکړه لیکونو کې، د جوزجان ۴ ماده، نورســتان ۹ ماده، میدان وردګ ۳ ماده، کونړ ۱۰ ماده، لوګر ۵ ماده، بلخ ۵ ماده، غور ۳ او ۵ مواد، کابل (۱۳۹۸ زمري ۳۱) ۸ ماده، کابل (۱۳۹۸ کب ۱۳) ۱۲ ماده، هلمند ۱ ماده، بامیان ۲ ماده، ننګرهار ۷ ماده، پکتیا ۱۲ ماده، کندز ۱ ماده، بغلان ۱۰ ماده، هرات ۳ او ۸ مواد، نیمروز ۱ مادې ۴ بند او ۲ مادې ۳ بند، بلخ ۳ ماده او پکتیکا ۶ ماده کې د ښځو د ټولنیزو، سیاسي او اقتصادي حقونو پر خوندیتوب ټینګار شوی دی.

د بامیان ولایت د نوي نســـل او ځوانانو د ســـولې جرګې د پرېکړه لیک په ۲ ماده کې راغلي: «موږ په افغانستان کې د وروستیو شلو کلونو لاسته راوړنو، د جمهوري او د خلکو د رایو پر بنسټ نظام ساتنه، په اساسي قانون کې د وګړیو د بنسـتیزو حقونو او د دیني قوانینو د اعتدال، د لږکیو، د محرومو وګړیو او ښـځو د حقونو د سـاتلو غوښـتونکي یو.» او د کابل (۱۳۹۸زمري۳۱) غونډې په ۸ ماده کې راغلي دي: « د ښـځو د بنسـټیزو او اساسي حقونو او ازادیو سـاتنه ( د زده کړو، کار او په مدني او ټولنیزو، اقتصـادي، کلتوري، پوځي او سـیاسـي برخو کې د فعاله ګډون حق)». همدارنګه د کندز ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې د پرېکړه لیک په ۱ ماده کې راغلي: « د وروستیو دوه لسیزو لاسته راوړنې، د ښځو، قومي او مذهبي لږکیو حقونه خوندیتوب او د جګړې پایته رسیدو او تل پاتې سولې راوستو لپاره له ترلاسه شوي فرصت څخه ګټه واخیستل شي».

**۲-۳-۸. د سولې بهیر څارل او راپور ورکول**

د افغانسـتان نوی نسـل او ځوانان او ټول وګړي د یوې داسـې ورځې غوښـتونکي وو او دي، چې په ټول افغانستان کې سوله راشي. له بده مرغه د افغانستان د سولې په بهیر کې د ګډونکوونکیو له لوري زیات انحراف وو او له خپل دریځ څخه شـاتګ شـتون نه درلود. د افغانسـتان نوی نسـل او ځوانان له هغه ځایه، چې له دې بهیر څخه لرې وو او هغه څه، چې په رسنیو کې خپرېدل، په ډېرو برخو کې د هغه څه خلاف وو، چې خلکو د جګړې

په ډګر کې په خپلو سترګو لیدل. د بېلګې په ډول: د وخت د حکومت او طالبانو اسلامي تحریک په بیانو کې به «د مذاکراتو له لارې د مسایلو پر حل» ټینګار کېده او دواړو اړخونو به اعتراف کاوه، چې «د افغانستان کړکیچ پوځي حل نه لري.» خو په عمل کې به جګړې زور اخیسته. «له ویلو تر عمله» تناقض ډېر زیات وو او د سلامت او ملامت ترمنځ توپیر کول هم سخت کار وو. له همدې امله نوي نسل او ځوانانو د سولې له بهیر څخه ځارنه او خلکو ته په دې اړه پر معلوماتو ورکولو ټینګار درلود.

د سولې جرګو او سولې غوښتلو غونډو په پرېکړه لیکونو کې راغلي دي، چې د سولې بهیر باید د نوي نسل او ځوانانو، د سیمې خلکو، رسنیو، ملګرو ملتونو او اسلامي هیوادونو لخوا وڅارل شي. همدارنګه د دې خوځښت په یو شمېر پرېکړه لیکونو کې راغلي دي، چې د ملګرو ملتونو د سولې څانګه، ګاونډي او د سیمې هیوادونه د سولې هوکړه لیک د عملي کېدو ضمانت وکړي. په یو شمېر پرېکړه لیکونو کې راغلي دي، چې خلکو ته باید د دې بهیر په اړه ځواب او راپور ورکول شتون ولري او مذاکرات هم باید د رسنیو له لید څخه لرې نه وي. په ټولیزه توګه د سولې جرګو او سولې غوښتلو غونډو په پرېکړه لیکونو کې د سولې له بهیر او هوکړه لیک پلي کېدو څخه درې ډوله ځارلو یادونه شوې ده:

۱) د نوي نسل او ځوانانو لخوا کورنۍ ځارنه

۲) د رسنیو له لارې ځارنه او له هغې لارې د سیمې د خلکو لخوا ځارنه

۳) د ملګرو ملتونو، اسلامي هیوادونو او بې پرې بنسټونو لخوا ځارنه

د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګو پریکړه لیکونو کې د ننګرهار ۲۱ ماده، غزني ۸ ماده، کابل (۱۳۹۸ کب ۱۳) ۷ ماده، کندز ۱۱ ماده، فراه ۶ ماده، بدخشان ۲۰ ماده، بامیان ۱۰ ماه، بلخ ۱۷ ماده، لغمان ۳ ماده، لوګر ۴ ماده، بغلان ۱۶ ماده، نیمروز ۶ مادې ۶ بند کې د ځوانانو په محوریت د سولې له بهیر څخه د ځارنې میکانیزم پر جوړیدو ټینګار شوی دی.

د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګو پریکړه لیکونو کې د خوست ۲۲ ماده، جوزجان ۷ ماده، کندهار ۵ ماده، هرات ۱۳ ماده، هلمند ۶ ماده، ننګرهار ۲۲ ماده، سمنګان ۱۶ ماده، بلخ ۱۹ ماده، پکتیا ۲۲ ماده او لوګر ۶ ماده کې د رسنیو او خلکو لخوا د سولې بهیر پر ځارلو ټینګار شوی دی. همدارنکه د پکتیکا ۲ او ۵ مواد، کندز ۱۲ ماده، بامیان ۱۳ ماده، بدخشان ۱۴ ماده، فاریاب ۶ مادې ۵ بند او د نیمروز ۶ مادې ۳ بند کې د نړیوالې ټولنې، ملګرو ملتونو او اسلامي هیوادونو لخوا د سولې د بهیر د ځارلو غوښتنه شوې ده.

د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګو او سولې غوښتلو غونډو پریکړه لیکونو کې د خوست ۱۹ماده، فاریاب ۶ مادې ۴ بند، او بادغیس ۸ ماده کې د ځارنې کمېټې پر جوړېدو ټینګار شوی دی. همدارنګه د هلمند ۴ ماده، ننګرهار۱۳ ماده، غزني ۳ ماده، خوست۱۷ ماده، کندهار ۹ ماده، هرات ۱۰ ماده، بلخ ۱۰ ماده او پکتیا ۲۰ماده، کې د ملګرو ملتونو، اسلامي، سیمې او نړۍ هیوادونو له لوري د سولې بهیر تضمین ته اشاره شوې ده.

**۲-۳-۹. له نړیوالې ټولنې سره د همکاریو، مالي ملاتړ او اړیکو دوام**

د افغانستان دولت د لږو مالي سرچینو او عوایدو په لرلو، خو زیاتې بودجې او لګښت ته اړتیا لري. بېوزلي، وزګاري، اقتصادي ستونزې، نه پرمختګ، له ناروغیو سره مبارزه، د عامه خدمتونو دوام او پراختیا او همدارنګه په ملکي، پوځي او قضایي برخو کې د حکومتولۍ د اړتیاوو پوره کول او نورو لګښتونو سره ټولنه لاس او ګرېوان ده. د کورنیو سرچینو او عوایدو له لارې دا کار ممکن نه دی. په دې توګه د افغانستان خلک او دولت نړیوالو مالي میکانیزمونو او د هیوادونو مالي ملاتړ ته اړتیا لري.

د سولې جرګو او سولې غوښتلو غونډو ډېری پرېکړه لیکونو کې تلپاتې سولې ته د رسېدو او د یو باثباته حکومت جوړول او پیاوړتیا، د اقتصادي بنسټونو پراختیا او پرمختګ او د اوږد مهاله کړکېچ د له منځه وړلو او وتلو لپاره د نړیوالې ټولنې په دوامداره همکاري، مرستو او هڅو ټینګار شوی دی. د پکتیکا ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې د پرېکړه لیک په ۵ ماده کې راغلي: «...امریکا باید د نړیوالې ټولنې، ملګرو ملتونو، د اسلامي همکاریو نړیوال سازمان او ګاونډیو هېوادونو سره د دوی تر څار لاندې په ګډه د افغان سولې لپاره رښتینی کار وکړي او د افغانستان معضله د تل لپاره حل کړي او خپلې مالي مرستې په راتلونکي کې هم د افغانستان د پرمختګ لپاره دوامداره وساتي. » همدارنګه د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګو پرېکړه لیکونو کې د غور ۸ ماده، بامیان ۹ ماده، ننګرهار ۱۲ ماده او پکتیا ۱۶ ماده کې له ملګرو ملتونو، اسلامي هیوادونو، سیمې او نړۍ څخه غوښتل شوي، چې له افغانستان سره خپلو مرستو ته دوام ورکړي.

د هرات ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې د پرېکړه لیک په ۹ ماده کې راغلي: « موږ له نړیوالې ټولنې څخه غواړو، څو د دایمي سولې او هر اړخیزې پراختیا او ودې پورې د افغانستان د خلکو ترڅنګ ودرېږي او د دې هېواد ځلوېښت کلنې جګړې د پایته رسولو لپاره له ټولو ډیپلوماتیکو لارو څخه کټه پورته کړي.» همدارنګه د کندز ولایت د پرېکړه لیک په ۴ ماده کې هم راغلي: « موږ له نړیوالې ټولنې په ځانګړې توګه د امریکا له متحده ایالتونو، اسلامي هېوادونو او ګاونډیو هېوادونو څخه غواړو، څو پایلې ته د سولې خبرو د رسیدو لپاره، د افغانستان له خلکو سره مرسته وکړي. » او د بغلان ولایت د پرېکړه لیک په ۱۲ ماده کې داسې راغلي: «له نړیوالې ټولنې او ګاونډیو هېوادونو غواړو، څو د افغانستان خپلواکي او د دې هېواد د خلکو ملي ارزښتونو ته درناوی ولري او سولې ته د رسیدو لپاره د افغانستان له خلکو سره مرسته وکړي.» نوي نسل او ځوانانو همدارنګه د جوزجان ۳ ماده، بغلان ۱۳ ماده، فراه ۳ ماده، خوست ۲۰ ماده، هلمند ۳ ماده، پکتیا ۱۷ ماده او د سمنګان۱۱ ماده کې له نړیوالې ټولنې په ځانګړې توګه د امریکا له متحده ایالتونو څخه غواړي څو د افغانستان د سولې بهیر څخه د ملاتړ په موخه پر ګاونډیو هیوادونو فشار واچوي.

د غزني ۵ ماده، لوګر ۹ ماده، نیمروز ۳ مادې ۱، ۲ او ۳ بندونه، سمنګان ۵ او ۶ مواد، خوست ۱۶ ماده، فاریاب ۳ مادې ۴، ۵ او ۶ بندونه، بادغیس ۳، ۴ او ۵ مواد او جوزجان ۳ ماده کې هم د نړیوالې ټولنې پر دوامداري همکارۍ او په افغانستان کې د تلپاتې سولې او ثبات د رامنځته کولو لپاره پر بشکېلو اړخونو د دوی پر فشار ټینګار شوی دی.

د کابل ولایت (۱۳۹۸ زمري ۳۱) د پرېکړه لیک په ۱۲ ماده کې راغلي: «د دواړو لورو د ملي ګټو پر بنسټ له اسلامي هیوادونو، د سیمې له هېوادونو په ځانګړي توګه له چین او روسیې او ګاونډیو سره د دوستانه همکاریو ساتنه، دوام، طرح او پراختیا.» او د کابل غونډې (۱۳۹۸ زمري۳۱) د پرېکړه لیک په ۱۱ ماده کې هم راغلي: «... د امریکا له متحده ایالتونو، نړیوالې ټولنې او نړیوالو بنسټونو سره د ټول ګډونه لویې جرګې په تایید سره نویو هوکړو د تعریف پر بنسټ د دوستانه او ستراتیژیکو اړیکو دوام.» او همدارنګه د کابل (۱۳۹۸ کب

۱۳) غونډې په ۱۰ ماده کې د ملي ګټو پر بنسټ له ګاونډیو هیوادونو سره د دوستانه اړیکو پر دوام ټینګار شوی دی.

د ارزول شویو معلوماتو پر بنسټ؛ د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګو او سولې غوښتلو پرېکړه لیکونه د جوړښت له اړخه له درې برخو؛ سریزه، منځپانګه او پایلې څخه جوړ شوي دي. په سریزه کې ستونزو، د کړکېچ رامنځته کیدو لاملونه، د جرګو او غونډو جوړولو موخې په لنډه بیان شـوي دي. د پرېکړو په منځپانګه کې د هغه وخت د حکومت، د طالبانو تحریک، امریکا او د سولې بهیر سره نورو مرسته کوونکو هیوادونو څخه «غوښتنې» او «اصلاحي نیوکې» شاملې دي، چې د قانون لیکنې د ادبیاتو په څېر په ماده بیز ډول لیکل شوي دي. خو د پرېکړه لیکونو پایله؛ اساسا په دې برخه کې د استدلال بشپړول، ګواښونه، ضرب الاجل او د مسوولیت لرې کول شامل دي. له دې نظره د نوي نسل او ځوانانو په زیاتو پرېکړه لیکونو کې منطقي خلا او ورته والی لیدل کیږي. ځکه، چې نوي نسل او ځوانانو له کنفرانسونو، مظاهرو او لاریونونو پرته د وخت پر حکومت، طالبانو، امریکا او د سولې بهیر سره مرستندویه هیوادونو باندې د فشار بله لاره نه درلوده.

### ۳. ګروپي مرکې

په هېواد کې وروستي سیاسي بدلون (د ۱۴۰۰ د زمري ۲۴ – د ۲۰۲۱ د اګسټ ۱۵) ته په کتو دا مرکې، د «مرکه کوونکي» په توګه د دې څېړنې د ارزونکي او «مرکه شویو» په توګه د سولې لپاره د ځوانانو د اړیکو ګروپ او د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې د مشرتابه یو شمېر غړیو ترمنځ د ۱۴۰۱ کال د چنګاښ له ۱۳ څخه د ۱۴۰۱ کال د زمري تر ۹ پورې په ګروپي ډول ترسره شوي دي. په مرکه شویو کې لاندې کسان شامل دي:

د اړیکو ګروپ مشر او د سمون او بدلون شبکې پخوانی رئیس محمد سنګر امیرزاده، د اړیکو ګروپ مرستیال خلیل احمد متین، د اړیکو ګروپ د ارتباطاتو، رسنیو او ویاندوی دفتر مشر احسان الله حکمت، د اړیکو ګروپ د همغږۍ او د مالوماتو راټولولو د کمیټې مسؤل همایون میاخیل، د جګړې له قربانیانو سره د همغږۍ کمیټې مسؤل احمد بکتاش بریالی، د بشري حقونو د کمیټې مسؤل وحید الله سهیل، د اړیکو ویاند او د ارتباطاتو، رسنیو او ویاندوی دفتر مرستیال محمد فهیم کریمي او د اړیکو ګروپ او د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې مشرتابه غړو محمد علي فطرت، اجمل سایس، مهنا سوله نیازی، میترا همت، ضیاءالدین جهش، حمید الله مسرور، سونیا احمدي، توریالی هلمند، رقیه غرجستاني، جان محمد جاهد، شبنم شایګان ساعي، محمد اقبال سخي، جهانزیب شریفي، نثار احمد آزاد، سید نورالله باعث، سید جمال‌الدین آصف خیل، لینا حیدري، ساجد الله افغانمل، فروزان آریا، محمد همدرد، امان الله رهګذر، آرش بشریار، محمد اکمل مونس، خلیل الله وهمنش، ظاهر محبوب، حبیب الله اکمل، روکی مصلح، حنیف الله پشه یي او عبدالستار شمال.

په دې مرکو کې هڅه شوې، څو د شپږو موضوع ګانو په تړاو؛ په دوحه کې د سولې بهیر د ناکامۍ لاملونه، په افغانستان کې د اوږدمهاله منازعاتو او د واک پر سر د شخړو لاملونه، د واک پر سر شخړو کې د افغانستان جغرافیایي موقعیت ونډه، د واک پر سر شخړو دوام او فرهنګي تاوتریخوالي کې د قوم، مذهب او ژبې پاللو ونډې په اړه د نوي نسل او ځوانانو اندونه او نظرونه، د افغانستان سولې لپاره د امریکا متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت پخواني استازي زلمي خلیلزاد سره د اړیکو ګروپ د مشرتابه یو شمېر غړیو د ناستې په اړه معلومات او په افغانستان کې د تل پاتې سولې او ټیکاو راتلو په اړه د هغوی نظرونه بیان شوي دي.

### ۳-۱. د سولې بهیرونو د ناکامۍ لاملونه

د څېړنو د موندنو پر بنسټ، په وروستي نیمه پېړۍ کې د افغانستان د سولې بهیرونو زیاتي لوړې او ژورې درلودې. په وروستیو دوو لسیزو کې د جګړې ترڅنګ، د سولې ټینګښت لپاره هم زیاتي هڅې شوي دي. له شک پرته، جګړې د افغانستان د منازعاتو له اړخونو او د افغانستان له خلکو څخه زیاتي قرباني اخیستي دي. بلاخره، د سولې له مهمو هڅو څخه، د دوحې د سولې بهیر وو. په خواشیني سره، د دوحې د سولې بهیر هم د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او د طالبانو اسلامي تحریک ترمنځ د سولې سیاسي هوکړې لاسلیک سبب نه شو. له همدې امله له مرکه شویو څخه د دوحې د سولې بهیر د ناکامۍ لاملونو په تړاو پوښتنه شوې ده.

**کوربه:** تاسې پوهیږئ، چې له ولایتونو څخه کابل پر لور د طالبانو اسلامي تحریک لخوا د واک زیاتیدو او د مخکیني ولسمشر ډاکټر محمد اشرف غني تیښته، د افغانستان د سولې ټینګښت بې پایلې پاتې شو. ستاسو په اند، په دوحه کې د افغانستان د سولې ټینګښت بهیر د ناکامیدو لاملونه څه وو؟

د ځواب ویونکیو له انده، په دوحه کې د افغانستان د سولې بهیر د ناکامۍ لاملونه درې اړخونو؛ د امریکا متحده ایالتونه او د سولې په بهیر کې ښکیل هېوادونه، د جمهوریت او د وخت حکومت او د طالبانو اسلامي تحریک ته ورګرځي، د ځواب ویونکیو ځواب په دې ډول دی:

#### لومړی، د وخت حکومت او نور اغېزمن لوري څنډې ته کېدل

د مرکه شویو له انده، په دوحه کې د افغانستان د سولې بهیر ناکامۍ یو لامل، څنډې ته د جمهوریت اړخ پاتې کیدل دي. ځواب ویونکي په دې باور دي، چې د دوحې د سولې بهیر هیڅکله بین الافغاني نه و، دا بهیر د طالبانو تحریک او امریکایانو ترمنځ و، چې د وخت حکومت او نور افغان اړخونه په کې ښکیل نه و. کله چې د امریکا متحده ایالتونو او طالبانو ترمنځ په دوحه کې د سولې خبرې پیل شوې، د امریکا او طالبانو پرته، نور اړخونو څنډې ته شول. په دې غاړو کې د جمهوریت اړخ؛ د هغه وخت حکومت، پېژندل شوي سیاسي خوځښتونه، مدني ټولنه، ښځې، د افغانستان نوی نسل او ځوانان شامل وو. دوی باید د دریم اړخ په توګه په بهیر کې ښکیل وای، خو له پامه وغورځول شول.

ځواب ویونکي له امریکا سره د طالبانو اسلامي تحریک مذاکراتو په اړه په دې باور دي، چې د دوحې تړون طالبانو ته نړیواله پېژندګلوي ورکړې او هغوی یې له مخکې څخه ځواکمن کړل. هغوی زیاتوي، چې په هغه وخت کې د طالبانو داعیه داسې وه، چې اوس مهال زموږ اصلي لوری امریکایان دي. ځکه زموږ جګړه له امریکاییانو سره ده. په دې دلیل، چې امریکاییانو په ۲۰۰۱ کال کې پر افغانستان «تیری» کړی وو او د طالبانو اسلامي تحریک له انده مشروع حکومت (د وخت اسلامي امارت) یې ړنګ کړی وو او افغانستان یې «اشغال» کړی وو. له همدې امله طالبانو خپل اصلي جهت امریکاییان ګڼل او دعوا یې کوله، چې لومړي پړاو کې باید «ښکیلاک» پایته ورسیږي او دویم پړاو کې «بین الافغاني مذاکرات» پیل شي.

د ځواب ویونکیو له انده، که چیرې امریکایانو فشار راوړی وای، د سولې بهیر په پیل کې د دریم اړخ د ګډون امکان و. ځکه د طالبانو اسلامي تحریک په لوړ او ځانګړي ځای کې نه و، په بل عبارت «ښه ځای کې وو، خو ځانګړی نه وو.» د دې امکان وو، چې د جمهوریت اړخ؛ د هغه وخت حکومت سربېره، مطرح سیاسي خوځښتونه، مدني ټولنه، نوی نسل او ځوانان، د وروستیو شلو کلونو پېژندل شوې ښځې او فعالان هم د سولې

بهیر کې ګډون ولري. بلاخره، د دریم اړخ ګډون کولای شـو، چې د بین الافغاني خبرو او د سـولې بهیر سـم مدیریت لپاره، بې ساري ډول اغیزناکه و اوسي، په خواشینۍ سره هغه وخت داسې و نه شول.

**دویم، د وخت حکومت ناسمه محاسبه**

د ځواب ویونکیو له انده، په تیښتي سره د افغانستان د منازعاتو او د واک لپاره شخړې پای نه مومي. په دې زیاتونې سره، چې د طالبانو اسلامي تحریک له امریکاییانو سره «له افغانستان نه د امریکایي پوځیانو وتلو» په اړه له هوکړې وروسته باور وموند، چې «امریکایان وځي.» له همدې امله د هغوی محاسبه دا وه، چې هغوی کولای شـي، د افغانسـتان د وخت حکومت له پښـو وغورځوي. په ورته حال کې، د افغانسـتان د وخت د حکومت محاسبه ډیره ناسمه وه. ځکه هغوی فکر کاوه، چې «امریکایان نه وځي.» او نوی نسل او ځوانان له امریکا سره د طالبانو اسلامي تحریک تړون، سیمه ایز او نړیوالو بدلونونو او د نړیوالو سرچینو څخه اطلاعاتو ته په کتو دې پایلې ته رسیدلي وو، چې «په ټولیز ډول یوه پریکړه شـته او امریکایان له افغانسـتان څخه وځي.» خو نه په هغه بیړې سـره، چې ووتل، بلکې په بل ډول حتمن وځي. د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسـته د دفاع لپاره د حکومت اوږد مهاله پروګرام نه شـتون له یوې خوا او له بلې خوا د وخت حکومت ناسـمه محاسـبه، پایلې ته د مذاکراتو رسیدو کې منفي اغیزې درلودې.

**دریم، د سولې اطلاعاتو ته کمه لاسرسي**

د ځواب ویونکیو په اند د جمهوریت اړخ؛ د افغانسـتان د وخت حکومت، اغیزناکه سیاسـي خوځښـتونو، نوی نسل او ځوانان او ښځو، د طالبانو اسلامي تحریک او امریکا د استازو ترمنځ د ناستو په اړه ډیرو کمو اطلاعاتو، معلوماتو او جزئیاتو ته لاسرسی درلود. په دې مانا، چې امریکایانو د وخت ولسمشر محمد اشرف غني، د وخت ملي مصالحې عالي شورا مشر ډاکټر عبدالله عبدالله او یو شمېر اغیزناکه سیاسي شخصیتونو او جهادي تنظیمونو پرته له نورو اړخونو لکه سیاسي خوځښتونو، نوي نسل او ځوانانو، ښځو او مدني ټولنې سره، د سولې خبرې او معلومات نه شریکول. که څه هم یو شمېر خوځښتونه ولسمشریزې ماڼۍ او د ملي مصالحې شورا دفتر ته د سولې اړوند غونډو لپاره بلل کیدل، خو اړین معلومات له هغوی سـره نه شـریکیدل؛ دا غونډې د غولونکیو ویناوو کچې ته را ټیټې شوې وې. له همدې امله ډیری سیاسـي خوځښـتونو د حکومت د معلوماتو پر بنسټ دریځ اعلانوه. که چیرې معلومات له نورو اړخونو سره شریک شوي وای، د دې امکان وو، چې ډیری اغیزناکه سیاسي خوځښتونو خپله لار، د حکومت ناسمې لارې څخه جلا کړې وای. سربېره پر دې، که چیرې د افغانسـتان خلکو د سولې بهیر په اړه کره او بشـپړ معلومات درلودل، په جدي ډول او پر وخت به یې «سـلامت او ملامت» پېژندل او د ملامت پر وړاندې به دریدل. که څه هم له حکومتي پروګرامونو بهر یو شمېر خوځښتونو سمون غوښتونکی او ریښتینی دریځ خپل کړی و او ټل یې د سولې بهیر کې د حکومت او یو شمېر اغیزناکه سیاسي رهبرانو ناسمو کړنو څخه، چې ترسره کولې، نیوکې کړې دي.

نو په دې ډول، د ځواب ویونکیو له انده، اطلاعاتو ته محدوده لاسـرسـی او د سـولې معلوماتو ته د نورو اغیزناکه اړخونو نه لاسرسي، د سولې پر بهیر منفي اغیزه کړې ده.

### څلورم، د بهیر ناوړه مدیریت او د همغږۍ نه شتون

په دوحه کې د افغانستان د سولې بهیر ناکامیدو بل لامل، د دې بهیر د ناوړه مدیریت او همغږۍ نه شتون ګڼل کیږي. د ځواب ویونکیو له انده، د وخت حکومت او د جمهوریت اړخ کې د مذاکراتو له پیل نه بیا په دوحه کې د سولې بهیر ناکامیدو پورې، نه همغږي او بې اتفاقي شتون درلود. د وخت د حکومت اړخ په بې ساري ډول د واک پر سر له یو بل سره پر شخړو بوخت وو. پراخ اداري او مالي فساد، لویدیځو متحدینو ته قناعت ورکولو کې د وړتیا نه شتون، په سیمه کې د ګاونډیو ترمنځ د توازن نه رامنځته کیدل، د ارګ میشتو پټه ډیپلوماسي، تعصب او قوم پالنه، شکلي او له منځپانګې پرته فعالیتونه، او په ولسمشرۍ ماڼۍ کې د سیاسي او اقتصادي پریکړو د واک تمرکز د دې لامل شوی وو، څو نه همغږي رامنځته او د سولې بهیر په ناسم ډول مدیریت شي. د حکومت اړخ کې د حکومت دننه او ورځني کارونو کې د سیالیو زیاتیدل د دې لامل شول، څو د سولې زرینه موقع د میاشتو لپاره ضایع شي، خو «واک لرونکی مرکچي پلاوی» رامنځته نه شو.

یو شمېر ځواب ویونکیو د پورته نظر د تائید لپاره، د بیلګې په توګه یادونه وکړه، چې د سولې بهیرونو ته د کتنې په برخه کې مو یادونه کړې وه. یو ځل د سولې مذاکراتو لپاره یو ۲۵۰ کسیزه پلاوی د وخت د حکومت لخوا اعلان شو. د طالبانو اسلامي تحریک د مرکچیانو شمېر په غبرګون کې اعلان وکړ، چې «دا د کابل په هوټل کې د واده او یا میلمستیا مراسم نه دي، بلکې یو منظم کنفرانس دی، دلته موږ او تاسې مذاکره کوو.» بلاخره، په ولسمشرۍ ماڼۍ کې د جمهوري دولت د ۲۵۰ کسیزه پلاوي ترمنځ یوه ناسته جوړه شوه. د پلاوي د لیږلو او په قطر کې د ناستې جوړولو لپاره چمتووالی نیول شوی وو، خو دغه سفر او هاغه ناسته لغوه شوه.

د ځواب ویونکو په اند، د وخت حکومت او جمهوریت اړخ کې نه همغږي هیڅکله حل نه شوه، په هېواد کې ځواکمنه سیاسی اجماع را منځته نه شوه او حتی د ملي مصالحې عالي شورا عمومي اسمبلي جوړه او رامنځته نه شوه. په واقعیت کې، د سولې په برخه کې د حکومت د رهبري ناوړه نیت او په واک کې د حکومت د مشرتابه پاتې کیدو ښکارندويي کوي. له همدې امله د جمهموریت اړخ و نه توانید، څو په منظم ډول ناستې او واحده پریکړه وکړي. د نه همغږۍ، سیاسي اجماع نه شتون او ځان غوښتنو په دوام، د اسلامي جمهوریت پلاوي دوو جلا جلا طرحو سره، یوه د وخت ولسمشر له آدرسه او بله د وخت د ملي مصالحې عالي شورا لخوا په بین الافغاني مذاکراتو کې د ګډون لپاره، دوحې ته لاړل. دا په داسې حال کې ده، چې نورو کورنیو اغیزناکه اړخونو هم خپل نظرونه درلودل.

نو په دې ډول، د ځواب ویونکیو له نظرونو داسې بریښي، چې په دوحه کې د افغانستان د سولې د ناکامۍ بل اغیزناکه لامل، د بهیر ناوړه مدیریت او د جمهوریت اړخ کې د همغږۍ نه شتون، او د افغانستان په نظام کې بیړه او د لارې په اړه معلوماتو نه شتون وو، چې بلاخره رنګ شو.

### پنځم، بې واکه پلاوی

په دوحه کې د افغانستان سولې بهیر کې مهمه موضوع، د پریکړو واک او د سولې په تړون کې وروستی لاسلیک وو. په دې تړاو د جمهوریت په اړخ کې، کله د ولسمشر واک، کله د ملي شورا تصویب او کله هم د لویې جرګې تایید ته اشاره کیده، خو ډیر کمو کسانو د ملي مصالحې عالي شورا او د مرکچي پلاوي واک ته اشاره کوله.

په دې ترڅ او ځواب ویونکي وايي؛ چې د جمهوري دولت د ۲۵۰ کسیزه پلاوي په اړه د طالبانو اسلامي تحریک غبرګون او له مخکې تنظیم شوې ناستې لغوه کیدو وروسته، ډاکټر زلمي خلیلزاد یو ځل بیا هڅه وکړه، څو د سولې مذاکراتو نوی کوچنی پلاوی جوړ شي، چې د پریکړو واک هم ولري. له همدې امله له ګڼو بحثونو او مشورتي ناستو وروسته، نوی پلاوی جوړ شو، خو هغوی ته اړین واک ورنکړل شو. د وخت ولسمشر څو ځله وویل، چې «وروستۍ لاسلیک» مهم ده او وروستۍ پریکړه په «لویه جرګه» کې کیږي. بلاخره د وخت د حکومت اړخ دریځ داسې وو، چې د جمهوریت پلاوی مذاکره کوي، خو وروستۍ پریکړه به د مشرتابه لخوا په کابل کې وشي؛ په داسې حال کې، چې په کابل کې هم یو موټی اړخ شتون نه درلود. د ځواب ویونکیو په اند، د اسلامي جمهوري دولت اړخ کې بې اعتمادي، نه همغږي، بې اتفاقي او ستونزې ډیرې زیاتې وې، خو برعکس د طالبانو تحریک منسجم، واحد اړخ او د پوځي روحیې له پلوه، ځواکمن وو.

نو په دې ډول، ځواب ویونکي د فرصت له لاسه ورکول او په دوحه کې د افغانستان د سولې بهیر د ناکامۍ یو لامل، مرکچي پلاوي ته د واک نه ورکول ګڼي.

### شپږم، د مذاکراتو د فرصت له لاسه ورکول

د مذاکرې او سولې هیلې رامنځته کیدل، په افغانستان کې د سولې ټینګښت لپاره د یو زرین فرصت په توګه ګڼل کیده. له بلې خوا د جګړې شدت، د افغانستان خلکو ته بې ساري ځاني، مالي او نه جبرانیدونکي زیانونه واړول. له دې امله په هغه وخت کې له فرصت څخه ګټه اخیستل، ډیر مهم ګڼل کیده.

د ځواب ویونکیو په باور، په دوحه کې د افغانستان د سولې په بهیر کې زیات فرصتونه له لاسه لاړل. په دې معنا، چې امریکایانو د طالبانو اسلامي تحریک سره د هغوی د پنځه زره زندانیانو خوشې کیدو په تړاو هوکړې ته رسیدلي وو، خو د وخت حکومت مشرتابه د مشهوره متل پر بنسټ، خپلې دوه پښې په یوه موزه کې کړې وې، چې هغوی نه خوشې کوي او په دې تړاو یې پنځو تر شپږو میاشتې وخت له لاسه ورکړ. بلاخره زندانیان خوشې شول، خو فرصت له لاسه لاړ. د ځواب ویونکیو په باور، که چیرې د افغانستان دولت د سولې لپاره د پاک نیت په موخه زندانیان خوشې کړي وای، د سولې په بهیر کې یې خپله ریښتینولي ښودله او نړۍ ته یې څرګندوله، چې افغانستان کې د سولې ټینګښت ته ژمن دی. دا کار له دې غوره و، چې په زور یې خوشې کړل.

د ځواب ویونکو له انده، د زندانیانو خوشې کولو په غبرګون کې، د حکومت، د طالبانو اسلامي تحریک او امریکا ترمنځ لیرې والی رامنځته شو. د هغوی له انده د ۴۰۰ خطرناکه زندانیانو خوشې کولو لپاره د لویې جرګې په جوړولو سره، زیات وخت له لاسه لاړ او بلاخره زندانیان هم خوشې شول. د بریدونو په پراخیدو او ولایتونو لاندې کولو سره، د طالبانو اسلامي تحریک د خپلو زندانیانو خوشې کولو سربېره زرګونه نور زندانیان هم خوشې کړل.

له بلې خوا د مذاکراتو پر میکانیزم هوکړې ته نه رسیدل، پر مخکې شرطونو ټینګار، د مذاکراتو له لارې د جګړې ختمیدو ته نه لیوالتیا او د طالبانو اسلامي تحریک لخوا د جګړې زیاتیدل د سولې لپاره فرصتونه له لاسه ورکړل او د وخت د ضایع کیدو لامل شو.

نو په دې ډول د ځواب ویونکو له انده داسې جوتیږي، چې له یوې خوا د مرکچي پلاوي پر ټاکلو، د طرحې جوړیدو او د حکومت لخوا د زندانیانو خوشې کولو او له بلې خوا د مذاکراتو پر میکانیزم هوکړې ته نه رسیدل او د طالبانو اسلامي تحریک لخوا د جګړې زیاتیدل د دې لامل شوي، څو زیات فرصتونه له لاسه لاړ شي.

**اووم، پر جګړې د ښکېلو اړخونو ټینګار او د جګړې زیاتیدل**

د ځواب ویونکیو له انده، په دوحه کې د ســـولې بهیر د ناکامۍ بل لامل د جګړې په ډګرونو کې د جګړې زیاتیدل وو. په دې مانا، کله چې د امریکا ولســمشــر (جو بایډن) لخوا له افغانســتان څخه د وروســتي امریکایي سرتیري وتلو لپاره چمتوالي نیول کیده، د وخت حکومت مشران په بیړې شوکه شول. ځکه له یوې خوا د حکومت لخوا د بهرنیو ځواکونو وتلو وروســـته د دفاع لپاره کره او منظم پروګرام شـــتون نه درلود او له بلې خوا په بې ساري ډول په ګمارنو کې سیاسي لاسوهنې، پوځي ادارو لوړو پوړونو کې پراخ فساد، په واکونو کې لاسوهنې او په ناوړه ډول د پوځي بنسټونو سوق او مدیریت د دې لامل شو، څو جګړه مدیریت نه شي او نظام ړنګ شي. بل اړخ کې طالبانو هم فکر نه کاوه، څو وکولای شي، چې په لنډه موده کې ټول افغانستان لاندې کړي، خو په ښکاره یې جګړې ته چمتووالی درلود.

د ځواب ویونکیو په باور، د امریکایي پوځیانو د وتلو عملیاتو په لړ کې، د افغانستان د وخت حکومت په خوا کې د سولې ادبیات په یو ځلي ډول بدلون وموند. د وخت ولسمشر د ملي شورا د دواړو جرګو ګډه ناسته را وبلله او د جګړې اعلان یې وکړ او ژمنه یې وکړه، چې د شپږو میاشتو په موده کې وضعیت ته بدلون ورکوي. په دې ډول د وخت ولسمشـر لخوا د جګړې اعلان خطرناکه تمام شـو. بل خوا، د طالبانو اسـلامي تحریک اعلان وکړ، چې «اوس ګورو، چې په جګړه کې څه کیږي.» دا په واقعیت کې د افغانسـتان سـوله کې د ښـکیلو اړخونو د نیت نه څرګندتیا ښکارندویي کوي.

د ځواب ویونکیو له انده، جګړې ته د دواړو اړخونو له خوا لمن وهل کیده. له همدې امله د ســـولې خبرې په ټپه ودریدلې. د افغانســتان اســلامي جمهوریت پلاوي یو شــمېر غړي کابل ته راغلل، یو شــمېر یې قطر کې پاتې شول. یو ځل بیا امریکایانو، ملګرو ملتونو، د سولې ملاتړو هېوادونو، اغیزناکه سیاسي شخصیتونو، د افغانستان نوي نسل او ځوانانو په هېواد کې د اورکم او اوربند غوښتونکي شول. د طالبانو اسلامي تحریک هم اعلان وکړ، چې پر ښــارونو بریدونه نه کوي، خو برید یې وکړ. په دې ډول مهم ښــارونه او نور ښــارونه د وخت حکومت له واکمنۍ څخه ووتل او د طالبانو تر ولکې لاندې راغلل.

**اتم، د نړیوالو او سیمه ایزو لوبغاړو د ریښتیني همکارۍ نشتوالی**

د ځواب ویونکیو په باور، هغه بل لامل، چې په دوحه کې د افغانســـتان د ســولې بهیر د ناکامۍ لامل شـــو، د افغانستان سوله کې ښـکیل نړیوال او سیمه ایزو لوبغاړو له خوا په ریښـتیني ډول د مرستې نه کول وو. دا لامل د زیاتو لوبغاړو شتون، د ناپیلي او ریښتیني منځګړي نه شتون، د ښکیلو هېوادونو د ګټو تضـاد، سیمه ایزې سیالۍ او د ختیځ او لویدیځو قدرتونو ترمنځ ســیالیو څخه اغیزمن شــوي وو او بلاخره، په بنســـتیز ډول د کړکیچ د حل لپاره ترلاسه شوی فرصت له افغانانو واخیستل شو.

**نهم، د طالبانو اسلامي تحریک سرسختي او نرمښت نه ښکاره کول**

د ځواب ویونکیو په اند، په دوحه کې د افغانستان د سولې د ناکامۍ بل لامل دا وو، چې د طالبانو اړخ د سولې په بهیر کې له ځانه هیڅ ډول نرمښـــت نه څرګنداوه او په ســخت ډول یې مبارزه کوله. طالبان په بشــپړ ډول ټول

غوښتونکي ول، سوله او داسې وضعیت، چې په کې ډول - ډول فکرونه او کثرت پالنه واکمنه وي، باور نه درلود. په بشپړ ډول د امریکایي پوځیانو وتلو په اړه له پریکړې وروسته، طالبانو څه ډول، چې اړتیا وه، د سولې مذاکراتو ته ژمن پاتې نشول. طالبانو د یوه افغان اړخ په توګه، په سم ډول یې خپل مسوولیت درک نه کړ او اوربند او د خبرو له لارې د افغانستان د کړکیچ د حل په اړه د افغانستان د خلکو غوښتنه یې و نه منله. یوه زرینه موقع رامنځته شوې وه، چې د امریکایانو او طالبانو ترمنځ د تړون لاسلیک وروسته «بین الافغاني مذاکرات» باید پیل شوي وای، خو طالبانو له یوې خوا په دې باور وو، چې شته حکومت لاس پوڅي حکومت دی او له هغوی سره مذاکره نه کوو، او له بلې خوا له پوځي لارې د جګړې پر ګټلو د هغوی باور، ترلاسه شوی فرصت له لاسه لاړ.

د طالبانو او امریکایانو ترمنځ تړون ته په کتو او د ځواب ویونکو په اند، د بین الافغاني مذاکراتو پر بنسټ، د افغانانو هوکړه باید راتلونکی نظام مشخص کړی وای، په واک او ملي پریکړو کې د مشارکت میکانیزم مشخص شوی وای او د دولت دیني، ولسي او نړیوال مشروعیت د لویې جرګې ټاکنو او نړیوالو میکانیزمونو له لارې ورته حل لاره موندل شوې وای. ځواب ویونکي د طالبانو فرضې ته اشاره کوي او وایي، چې د طالبانو فرضیه داسې وه: «کله چې کولای شو په زور یې ونیسو، نو ولې یې له نورو سره وویشو.» د ځواب ویونکو په اند، د طالبانو دا فرضیه په جګړه کې د بریا لپاره د وخت د اړتیا سره کیدای شي، چې سمه وه، خو په افغانستان کې د واک پر سر منازعاتو د حل لپاره مناسبه نه وه.

نو په دې ډول د جګړې زیاتیدل خطرناکه ثابت شول. کله چې جګړه ښارونو ته را ورسیده، د پوهیدو وړ وه، چې د سولې بهیر ناکامۍ خوا ته رهي دی.

### لسم او وروستی، د انتقالي او توافقي حکومت له جوړولو څخه ډډه

د ځواب ویونکیو په باور، بل لامل، چې د افغانستان د سولې بهیر ناکامیدو کې یې ونډه درلوده؛ «انتقالي او هوکړې پر بنسټ د حکومت له رامنځته کیدو څخه ډډه» وه. د مصالحې او د سولې مذاکراتو بهیر د مدیریت لپاره باید یو انتقالي حکومت جوړ شوی وای، خو په خواشینۍ سره محمد اشرف غني او نیږدې ملګرو یې په ځلونو اعلان کړی، چې «واک یوازې خپل ټاکل شوي ځای ناستي ته سپاري او تر پایه پر خپل دې دریځ ودرید.» انتقالي حکومت کولای شول، څو په سم او موخه ایز ډول له طالبانو سره د سولې بهیر وروستۍ پایلې ته ورسوي. له بلې خوا د طالبانو او امریکا متحده ایالتونو ترمنځ د دوحې تړون او د امریکایي ډیپلوماتانو رسمي دریځو پر بنسټ، ټاکل شوې وه، څو د بین الافغاني مذاکراتو په پایله کې یو توافقي او ټول ګډونه حکومت رامنځته شي، خو د جګړې د زیاتیدو، د وخت حکومت د واکمنۍ را کمیدو او د طالبانو واکمنۍ زیاتیدو سره؛ دا بهیر (بین الافغاني مذاکرات) هم ناکامه شول او هغه توافقي حکومت او «د افغانستان راتلونکي سیاسي لارې نقشه[۱۴]» هم جوړه نه شوه.

هغه څه چې اوس را منځته شوي؛ نه انتقالي حکومت دی او نه هم توافقي او نه ټول ګډونه حکومت، بلکې د طالبانو اسلامي تحریک داعیه (اسلامي امارت) دی. په داسې حال کې، چې له پوځي لارې پر افغانستان د طالبانو

---

[۱۴] د دوحې تړون

واکمنیدو وړاندې د طالبانو د چاړواکو او ویاندویانو بیانیې او خبرې واورو؛ هغوی ویل، چې «د نظام ډول» او نور مسائل په «بین الافغاني مذاکراتو» کې د افغانانو لخوا مشخصیږي او دا د ټولو افغانانو کار دی.

نو په دې ډول، په دوحه کې د افغانستان د سولې بهیر ناکامۍ لاملونه درې اړخونو: الف: د وخت حکومت او د جمهوریت اړخ، ب: د امریکا متحده ایالتونه او د سولې په بهیر کې بشکیل نړیوال او سیمه ایز لوبغاړو او ج: د طالبانو اسلامي تحریک لوري ته را ګرځي. هر یوه د سولې بهیر ناکامۍ کې ونډه درلوده.

### ۳-۲. د نوي نسل او ځوانانو له انده د واک پر سر د شخړو لاملونه

په وروستۍ نیمه پیړۍ کې، افغانستان د واک پر سر د شخړو شاهد وو او دی. له همدې امله حکومتونه په لږه موده کې رامنځته شوي او له منځه تللي دي. کله یوه جګړه پایته رسیدلې او بله جګړه پیل شوې ده. د هوکړې پر بنسټ افغان اړخونه یو مشروع نظام، سیاسي جوړښت، د هېواد په ټولو ملي او سترو مسائلو کې ټول ګډونه کړنلاره، او د حکومتوالۍ ډول، چې ټول اړخونه او د افغانستان خلکو سره د مشورې پر بنسټ رامنځته شوی وي، نه دی موندلی. له بلې خوا په ملي، سیمه ییزه او نړیواله کچه د ملګري او دښمن نه پیژندل او د ملي او ګډو ګټو پر بنسټ له ګاونډیو هېوادونو سره د ښه او تل پاتې اړیکو نه شتون، د تل پاتې جګړو، اوږدمهاله منازعاتو او د واک پر سر د شخړو لامل شوی دی. لاندې د اړیکو ګروپ او نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې د مشرتابه یو شمېر غړیو څخه مو په دې تړاو پوښتنه کړې ده:

> **کوربه:** د موندنو پر بنسټ، په وروستۍ نیمه پیړۍ کې د بهرنیو پوځیانو شتون، د ټول ګډونه نظام نه رامنځته کیدو او بهرنیو هېوادونو پورې د نظامونو تړل کیدو سره په افغانستان کې د واک ترلاسه کولو لپاره وسله وال منازعات یو کړکیچ او واک ترلاسه کولو لپاره په شخړو تبدیل شوي دي. ستاسو نظر په دې تړاو څه دی؟ ولې سولې او ټیکاو ته نه یو رسیدلي او لاملونه يې څه وو؟

د ځواب ویونکیو په باور، له ۱۳۵۷ ل.ل کال راهیسې لاندې لاملونو د واک پر سر شخړو کې اغیزې درلودې:

#### لومړی، د بهرنۍ ایدئولوژۍ تپل

د ځواب ویونکیو په اند، یو شمېر افغان سیاسي اړخونو یوه بهرنۍ ایدئولوژي را وړې؛ هڅه کوي، څو د پوځي زور او یا هم پیسو او نورو زرګونو لارو څخه په بشپړ ډول د ټولو اصولو، ارزښتونو او معیارونو سره په افغانستان کې پلی کړي. دا ایدئولوژي که د ختیځ او یا لویدیځ وي، توپیر نه لري. دا په داسې حال کې ده، چې په هېواد کې دننه د دې ایدئولوژۍ منلو لپاره مناسب بستر او ټولیزه اجماع شتون نه لري. د بیلګې په ډول، نور محمد ترکي د خپل واک په لومړیو ورځو کې فرمان[۱۵] صادر کړی وو، چې څوک نشي کولای له ۳۰ جریبه څخه زیاته کرنیزه ځمکه ولري. د مشخص شویو اصولو څخه زیات درلودونکي ملکیتونه باید د فرمان پر بنسټ مصادره او ویشل شوي وای. له هغه ځایه، چې په افغانستان کې د افراط او تفریط لپاره زمینه شتون لري، ډیر

---

[۱۵] د ځمکو درجه بندي په اړه د نور محمد تره کي ۸ ګڼه فرمان

ژر د پردیو ایدیولوژۍ پر وړاندې دریږي. په پای کې فتوا، آیات او حدیث په رڼا کې د خلکو فکر او باورونو سره تطابق لپاره هڅه کوي، که چیري هیڅ ډول دیني او منطقي اړیکه هم و نه لري.

### دویم، د بنسټ پالنې شتون

د ځواب ویونکیو په اند، په هېواد کې بنسټ پالنه شتون لري او دا ډول ګواښونه ډیری وختونه د کلیو لخوا رامنځته شوي دي! د کلیو او بانډو خلک د وسله وال پاڅون په ترسره کولو سره، د ښارونو حکومتونه له منځه وړي دي. ځکه د افغانستان حکومتونه نه دي توانیدلي، له کلیو او بانډو سره ښه اړیکه ولري. په تېرو دوو لسیزو کې د ښار او کلي ترمنځ واټن رامنځته شو. د افغانستان په کلیو او لیري پرتو سیمو کې د انډول پرمختګ نه پلی کیدو له امله، د کلیو خلک معیاري زدکړو، روغتیایي خدمتونو او نورو ټول ګټو خدمتونو ته لاسرسی نه درلود. دا د دې لامل شوی، څو له حکومت پرته نورو اړخونو سره د کلیو خلک یوځای شي.

همدارنګه ځواب ویونکي په دې اند دي، چې بې سوادي، کمه زده کړه، توکم ییز او قومي توپیري چلند، له عقیدتي زدکړو څخه د خلکو لرې پوهه، د بنسټ پالنې بستر، تعصب او تاوتریخوالي ته زمینه برابره کړې ده. له همدې امله بنسټ پالنه، لوړ ګڼل او په افراطي ډول قوم پالنه او انحصار غوښتنه، د واک لپاره د منازعاتو له لاملونو ګڼل کیږي.

### دریم، له بهرنیانو سره د افغانانو ضدیت

ځواب ویونکي وایي، چې د افغانستان د خلکو فکر، د ژوند ډول او کلتور، تاریخ او پیژندګلوي ته په کتو، افغانان له بهرنیو په ځانګړي ډول د هغوی له پوځیانو سره جوړجاړی نه لري، په لنډمهال ډول، که چیري ملګرتیا ولري، خو بلاخره جوړجاړی له منځه ځي. د بیلګې په ډول: که چیري د څه باندې وروستۍ یوه پیړۍ کې د بهرنیو پوځیانو؛ د بریتانیا، پخواني شوروي او امریکا او ناټو په مشرۍ د نړیوال ائتلاف ځواکونو پوځي شتون او لاسوهنو ته وکتل شي، د هغوی پر وړاندې د افغانستان یو برخه خلکو وسله وال پاڅون کړی دی.

د ځواب ویونکو په باور، د نوي نړیوال نظم پر بنسټ، د افغانستان حکومت او خلک باید له نورو هېوادونو سره اړیکي ولري. یو شمېر افغان شخصیتونه او خوځښتونه، چې له ګاونډیو، سیمې او نړۍ هېوادونو سره اړیکي لري، باید له هغوی څخه د یوې پانګې او فرصت په توګه ګټه واخیستل شي. له شک پرته، چې د ملي ګټو په پام کې نیولو، د اړخونو پیژندګلوي او د هغوی څارنه اړینه ده، خو نه باید پر هر چا د «جاسوس ټاپه» ولګول شي.

د ځواب ویونکیو په اند، د ملي سیاسي هوکړې لپاره د وروستۍ یوې پیړۍ په ځانګړي ډول تېرو شلو کلونو له تجربو څخه ګټه واخیستل شي او بیا ځلې د بهرنیو پوځي شتون ته اجازه ورنکړل شي. د بهرنیو پوځیانو شتون د سیمه ییزو او نړیوالو د سیالیو پر مرکز تبدیلیږي. بلاخره د بهرنیو ځواکونو له شتون څخه، که مسلمان او یا غیر مسلمان وي، باید مخنیوی وشي. افغانستان کولای شي، د نړۍ له هېوادونو سره د ملي ګټو په رڼا کې پیاوړې ستراتیژیکې اړیکي ولري، چې په کې د اړیکو ډول او د اړخونو ګټې تعریف شوي وي.

### څلورم، د واک انحصار

د ځواب ویونکیو په باور، د افغانستان د منازعاتو یو بل لامل د واک انحصار، د حکومتوالۍ سیستم متمرکز توب، د ټولنیز عدالت نه پلي کیدل او په عادلانه ډول د ملي بودجې نه ویشل او د ملي ثروت کاروني ځرنګوالی دی. ځواب ویونکي په دې باور دي، چې کله یو اړخ واک ترلاسه کړی؛ واک یې انحصار کړی او ملي لوی ترون او هوکړې ته نه دي رسیدلي.

د افغانستان قومي مخور تر اوسه له یو بل سره د واک مسئلې حل لپاره هوکړې ته نه دي رسیدلي. په سیاسي واک او دولتي پریکړو کې د قومونو عادلانه او اغیزناکه ګډون کمزورتیا تل د دې لامل شوی، څو نور اړخونه هڅه وکړي، چې په بیلابیلو کچو حتی پوځي او استخباراتي برخو کې له نړیوالو او بهرنیو سرچینو څخه امکانات ترلاسه کړي او واک ته د رسیدو لپاره ورڅخه ګټه واخلي. د بیلګې په ډول: د افغانستان د وروستۍ نیمې پیړۍ منازعاتو کې؛ پاکستان، هند، ایران، سعودي عربستان، روسیه، امریکا، بریټانیا او نورو هېوادونو ونډه درلوده. خپلو کسانو سره یې مالي مرستې کولې او افغان اړخونو له یو بل سره جګړه کوله. بهرنۍ لاسوهنه او کورنۍ بې عقلي د دې لامل شوې وه، څو د افغانستان د منازعاتو لوري د بهرنیو لخوا استخباراتي، سیاسي، ټولنیزې او اقتصادي برخو کې وکارول شي. له همدې امله، د بې کاره رهبرانو شتون، د قومي رهبرانو لخوا پر لږکیو او ډیرکو مسائلو ټینګار، ځان غوښتنه، فساد او د حکومتونو د مشرتابه کمزوري د واک انحصار او د افغانستان د منازعاتو یو له لاملونو ګڼل کیږي.

### پنځم، د پیاوړي، غیر سیاسي او ناپیيلي دفاعي او امنیتي ځواک نه شتون

د ځواب ویونکیو په باور، په خواشینۍ سره په وروستۍ څه باندې یوه پیړۍ په ځانګړي ډول تېرو ۲۰ کلونو کې افغانستان ونه توانید، څو غیر سیاسي او ناپیيلي اردو جوړه کړي. په څه باندې تیره یوه پیړۍ کې، کله چې نوي حکومتونه جوړ شوي، د افغانستان اردو د اړیکو او په واک کې د واکمنو کسانو د اغیزو پر بنسټ جوړه شوې ده. که څه هم دفاعي او امنیتي ځواکونو ښې زدکړې کړي، خو چارې او کار یې په غیر سیاسي او د هېواد ملي امنیت خوندیتوب په رڼا کې په پام کې نه دی نیولی. په خواشینۍ سره په تیرو شلو کلونو کې د افغانستان اردو په جوړولو کې زیاته هڅه او زیار ګالل شوی، خو د هېواد اردو د ارقامو پر بنسټ وده کړې او د هېواد اصلي فرهنګي - ټولنیزو بنسټونو جوړښتونو ته په نه پاملرنې، ډیری پر بهرنیو سلاکارانو او روزونکیو تکیه شوې وه. په مالي، تامیناتي، خدماتي او جنګي برخو کې بهرنیو سره تړاو د دې لامل شوی و، څو پوځ و نه توانیږي، اغیزناکه لوژیستیکي، اکمالاتي، تخنیکي او د اړیکو وړتیا رامنځته کړي او خپل فردي واک او وړتیا باندې تکیه وکړي.

ځواب ویونکي په دې باور دي، چې د هېواد په پوځ کې د نا متجانسو ډلو را ټولیدل، د پیاوړي سیاسي او ستراتیژیک لیډلوري نه شتون، سیاسي کیدل او اړیکو پالل، د اصولو نه مراعتول او د اړین انسجام او همغږۍ نشتون د پراخ اداري او مالي فساد او حتی د پوځ د سرتیرو د اعاشه د ورکیدو لامل شوی دی. کله داسې هم شوي، چې د پوځ سرتیرو د اعاشه او اباطه د غلا کولو او اختلاس له امله بې کفایته جنرالان او قوماندانان نیول شوي، خو د محاکمې او زندان پر ځای نورو لواګانو او قول اردو ګانو ته تبدیل شوي، او همدا کار د دې لامل شوی، څو په لوړو پوړونو کې د شته قوماندانانو زړورتیا زیاته شي او پراخ فساد او اختلاس ته مخه کړي. ځواب

ویونکي په دې برخه کې زیاتوي، چې په تیرو ۲۰ کلونو کې، په خواشینۍ سره د هېواد په لوړو او حساسو پوځي بستونو کې ګمارل او ارتقا د مسلکي – پوځي وړتیاوو پر بنسټ نه، بلکې د واکمن کس، واکمنو ډلو او په واک کې شریک شخصیتونو ته د وفادارۍ پر بنسټ ترسره کېدې.

ځواب ویونکي زیاتوي، چې په تېرو ۲۰ کلونو کې د امنیتي او دفاعي ځواکونو کې د دفاع لپاره پیاوړې روایت رامنځته نه شو، له دښمن، ملي ګټو او ملي امنیت څخه څرګنده تعریف بیان نه شوو. دفاعي او امنیتي ځواکونه په جګړو کې په ناسم ډول کارول شوي دي او په سم ډول د هغوی پیاوړتیا او چمتوالی نه دی شوی. د پوځ کشف او استخبارات په منظم ډول را منځته نه شول او حتی په امنیتي او کشفي ادارو په کچه تر ټولو کمزورې اداره، د پوځ د کشف او استخباراتو څانګه وه. په دې ډول، د هېواد سیاسي جوړښت کې بدلون د هېواد د پوځ او پوځي بنسټونو کې د کمزوري لامل کیده. په ځواکمن، غیر سیاسي او ناپیيلي پوځ جوړولو کې دغه کمزوري او ضعفونه، په وروستۍ یوه پیړۍ کې د واک لپاره د شخړو ستر لاملونه ګڼل کیږي. نو په دې ډول، د ټل پاتې سولې او ټیکاو ټینګښت لپاره، افغانستان پیاوړې، غیر سیاسي او ناپیيلي پوځ، ژمن او غیر سیاسي استخباراتي او امنیتي بنسټ او مسلکي پولیسو جوړولو او رامنځته کیدو ته اړتیا لري، چې د سیاسي تحول او حتی ړنګیدو پر مهال وکولای شي، د هېواد اقتدار، ځمکنۍ بشپړتیا او ملي ګټې خوندي کړي.

### ۳-۳. د واک لپاره شخړو کې د سیمه ییز موقعیت ونډه

افغانستان له جغرافیایي پلوه په داسې سیمه کې پروت دی، چې د سیمه ییزو او نړیوالو شخړو او سیالیو څخه ډکه سیمه ده. له شک پرته، دا مسئله د افغانستان پر کورنیو منازعاتو اغیزې درلودې او لري. له همدې امله په دې برخه کې د اړیکو ګروپ او د نوي نسل او ځوانانو سولې جرګې له مشرتابه څخه په دې اړه پوښتنه شوې ده.

**کوربه:** افغانستان له جغرافیایي پلوه د سیمې او نړۍ د شخړو او سیالي په سیمه کې پروت هېواد دی. ستاسو په اند، افغانستان د پاکستان او هند، ایران او سعودي عربستان ترمنځ شخړو او د ختیځ (چین، روسیه او هند) او لویدیځ (امریکا او اروپا) ترمنځ سیالیو په څیر نړیوالو شخړو کې کوم دریځ خپل کړي؟ افغانستان څنګه کولای شي، له دې شخړو او سیالیو څخه خوندي پاتې شي؟

د ځواب ویونکیو په اند، له شخړو، سیالیو او نیابتي جګړو څخه ډکه سیمه کې د افغانستان موقعیت، د افغانانو لپاره سرخوږی دی. ځکه افغانستان په داسې سیمه کې پروت دی، چې د سیمه ییزو او نړیوالو لوبو، سیالیو او شخړو لپاره مناسبه جغرافیا ده. افغانستان د تاریخ په اوږدو کې د خپل ځانګړي سیمه ییز موقعیت څخه زیانمن شوی دی. ځواب ویونکي د سیمه ییزو سیالیو او شخړو څخه د خوندیتوب لپاره لاندې لارې وړاندیز کوي:

#### لومړی، د پیاوړي او مشروع دولت جوړیدل

د ځواب ویونکیو په اند، د سیمه ییزو ستونزو د مدیریت او سیمه ییزو شخړو له پایلو څخه د خوندیتوب لار، پیاوړی او مشروع دولت دی. افغانستان د ځواکمن دولت په جوړیدو، چې د افغانستان د واقعیتونو څخه را ټوکیدلی وي او د رایو او ټاکنو پر بنسټ جوړ شوی وي؛ هم ملي او هم دیني مشروعیت ولري، کولای شي، څو له سیمه ییزو او نړیوالو سیالیو، شخړو او د هغو له پایلو څخه ځان خوندي کړي. ځواب ویونکي زیاتوي، چې هغه مهال په افغانستان کې ځواکمن او مشروع دولت جوړیدای شي، چې په کې عادلانه قوانین جوړ او پلي شي، سیاسي مشارکت شتون ولري او سیاسي مبارزات او سیاسي واک ترلاسه کول د ګوندونو پر بنسټ وي. ژمن،

غیر سیاسي او ناپیيلي دفاعي او امنیتي څواکونه رامنځته او د قواوو تفکیک، له فکري پلوه د ټولني د ټولو برخو منل، د بشري او وګړو د حقونو رعایت، سوله ییزې سیالۍ، له تاوتریخوالي ډکو سیالیو ډډه او د ښځو، نوي نسل او ځوانانو، سیاسي ډلو او فعالانو اغیزناکه ګډون رامنځته شي.

**دویم، په بهرنیو اړیکو کې د حساسیت له رامنځته کولو ډډه**

د ځواب ویونکو په اند، افغانستان اړتیا لري، څو په بهرنیو اړیکو کې د حساسیت له رامنځته کولو څخه ډډه وکړي او د سیمې او نړۍ په شخړو، منفي سیالیو او پوځي او استخباراتي جګړو کې خپل بې پرېتوب وساتي. افغانستان د ډیپلوماسۍ فعالي او متخصصې ادارې ته اړتیا لري، څو د ملي، سیمه ییزو او نړیوالو لومړیتوبونو ته په کتو خپل بهرنۍ سیاست تعریف کړي.

ځواب ویونکي زیاتوي؛ په سوله کې افغانستان نشي کولای له خپلو ګاونډیو جلا وي او نشي کولای د سیمې هېوادونه څنډې ته کړي. نو په دې ډول موږ اړتیا لرو، څو د ګاونډیو هېوادونو؛ چین، پاکستان، ایران، ازبیکستان، ترکمنستان او تاجکستان سره د دواړو اړخونو د ګټو پر بنسټ، هر اړخیز بهرنۍ سیاست ولرو. د هم پالنې، سیمه ییزو اقتصادي فرصتونو د کارولو او دوستانه اړیکو رامنځته کولو لپاره هڅه شوې او د افغانستان او ګاونډیو هېوادونو په ځانګړي ډول پاکستان سره د شخړو کمیدو لپاره اړین ګامونه اوچت شي؛ خو دا ګامونه باید داسې وي، چې د سیمې هېوادونه په ځانګړي ډول هندوستان را و نه پاروي. همدارنګه افغانستان له چین سره د اړیکو لپاره ځانګړې پالیسي ته اړتیا لري. افغانستان له چین سره په اړیکو کې کولای شي، څو له اقتصادي، ترانزیتي او له نښلونکیو فرصتونو څخه ګټه واخلي.

ځواب ویونکي په دې اند دي، چې افغانستان باید په سیمه کې یو پیاوړی لوبغاړی و اوسي. له سیمې او نړۍ سره د مثبتو او اقتصادي تعاملاتو کې د افغانستان له موقعیت او جغرافیا څخه ګټه واخیستل شي، خو هیڅ وخت د تقابل سیاست غوره نه کړي. زیاتې سرچینې باید د ګاونډیو، سیمې او سیمې ها خوا هېوادونو؛ روسیه، هندوستان، جاپان او عربستان، ترکیه، مصر، عربي متحده امارات، قطر او نورو اسلامي هېوادونو سره په اړیکو کې وکارول شي او د ملي ګټو پر بنسټ اړیکې پراخه او وده وکړي.

د ځواب ویونکیو په باور، افغانستان باید هڅه وکړي، څو په نړۍ کې یې ملګري هېوادونه زیات شي. افغانستان اوس مهال هم د امریکا متحده ایالتونو او د هغه ملګري هېوادونه؛ بریتانیا، کاناډا، استرالیا، د اروپایي ټولنې هېوادونه په ځانګړي ډول جرمني، فرانسه او ایټالیا سره د ستراتیژیکو او ښو اړیکو درلودو ته اړتیا لري. د امریکا متحده ایالتونو سره د ښو او ستراتیژیکو اړیکو لرل یوه پانګه او فرصت دی. نو افغانستان باید د نوي پېژند پر بنسټ، له دې هېوادونو په ځانګړي ډول امریکا متحده ایالتونو سره ښې او ستراتیژیکې اړیکې ولري، خپلې اقتصادي او مالي اړتیاوې پوره، نړیوال باور پراخ او د نړیوالو بنسټونو له فرصتونو او امتیازاتو څخه هم ګټه واخلي.

**دریم، د سیمه ایزو بنسټونو له امتیازونو څخه ګټه اخیستل**

ځواب ویونکي زیاتوي، چې د سیمې او نړۍ په کچه له شته بنسټونو او سازمانونو څخه د افغانستان په ګټه کار واخیستل شي. افغانان تر اوسه نه دي توانیدلي، څو د سویلي اسیا د همکاریو سازمان یا سارک[16] څخه د هېواد په ګټه کار واخلي. د بېلګې په ډول: افغانان تر اوسه د سارک سازمان غړیو هېوادونو ترمنځ له ویزې پرته د سفر امتیاز نه لري. په داسې حال کې، چې دا امتیاز د ډیری غړیو هېوادونو لپاره شتون لري. د ایکو[17] له سازمان څخه څنګه چې اړتیا وه، کار نه دی اخیستل شوی. د بېلګې په ډول: له ترکمنستان سره د افغانستان پوله ډیری وخت تړلې وي یا هم له زیاتو هڅو وروسته افغانانو ته ویزه ورکوي، همدارنګه تاجکستان، اوزبیکستان او د منځنۍ اسیا نور غړي هېوادونه. همدارنګه له شانګهای[18] سازمان څخه د افغانستان په ګټه اړینه ګټنه نه ده شوې.

ځواب ویونکي وايي، چې افغانستان باید په سیمه کې یو پیاوړی لوبغاړی و اوسي. د افغانستان له موقعیت څخه د سیمې او نړۍ هېوادونو سره په مثبتو تعاملاتو کې ګټه واخیستل شي، خو هیڅکله باید تقابل سیاست غوره نه شي. په ګاونډیو او سیمې هېوادونو کې زیاتې سرچینې په کار واچول شي او د ملي ګټو پر بنسټ پراخه او پرمختللې اړیکې رامنځته شي.

**څلورم، له سیمه ایزو خنډونو څخه د اقتصادي فرصتونو پر لور**

ځواب ویونکي وايي؛ د افغانستان جغرافیایي موقعیت ته یوازې باید د جګړې له اړخه و نه کتل شي، تر اوسه همداسې ده. ختیځ او لویدیځ قدرتونه او ګاونډیان نه باید له افغانستان څخه د خپلو ګټو لپاره پوځي ګټه واخلي. په پوځي برخه کې، نړۍ د افغانانو جګړه کتلې ده. نړۍ په دې پوهیږي، چې افغانان ښه جګړه ماران دي، نه خپل مرګ ورته مهم ده او نه هم د نورو! په اقتصادي برخه کې افغانستان ته اړینه پاملرنه نه ده شوې، چې څنګه کولای شي، افغانستان د اقتصاد او ترانزیت څلور لارې په توګه وکارول شي. افغانانو لا تر اوسه له دې ظرفیتونو څخه ګټه نه ده اخیستې او د سیمې او نړۍ هېوادونو لخوا هم د افغانستان جغرافیایي او اقتصادي ظرفیتونو ته د پام وړ پاملرنه نه ده شوې. افغانستان کولای شي، په سیمه بیزه همپالنه کې مهم رول ولوبوي. پروګرامونه او اقتصادي پروژې؛ د انرژۍ لیږد، ترانزیت او د سیمې نښلول د افغانستان په مرسته او ګډون عملي کیدای شي. له بلې خوا، د افغانستان طبیعي زیرمو ته د هېوادونو لیوالتیا ته په کتو، داسې وړتیا رامنځته شي، څو وکولای شي، د کانونو د ایستلو، کرنې او اوبو په برخه کې د افغانستان اقتصاد ته وده ورکړي. که چیرې دا موخې ترلاسه شي، افغانستان تل پاتې سولې او دوامداره ټیکاو ته رسیږي.

نو په دې ډول د ځواب ویونکیو له انده داسې ښکاري، چې افغانستان له خپل سیمه ایز موقعیت څخه زیانمن دی او د سیمه بیزو او نړیوالو شخړو څخه د خوندیتوب لپاره؛ «د پیاوړي او مشروع دولت رامنځته کیدل، په بهرنیو اړیکو کې د حساسیت له رامنځته کیدو ډډه، د سیمو بیزو سازمانونو له امتیازاتو ګټنه او د سیمه ایزو خنډونو څخه د اقتصادي فرصتونو پر لور ګام اخیستل» وړاندیز کوي. همدارنګه ځواب ویونکي سپارښتنه کوي،

[16] . South Asian Association for Regional Cooperation (SAARC)
[17] . Economic Cooperation Organization
[18]. Shanghai Cooperation Organization

چې افغانستان باید له ګاونډیو او د سیمې هېوادونو سره په لویو مسائلو کې خبرو او هوکړو ته ورسیږي او د سیمه ییزې همپالنې لپاره هڅه وکړي.

**۳-۴. د واک پر سر شخړو کې د قومي، ژبني او سمتي مسائلو کارول**

په افغانستان کې د څو لسیزو منازعاتو پایله کې د قوم پالنې سیاستونه او د قوم، مذهب، ژبې او سمت کارول د دې لامل شوي، څو فرهنګي تاوتریخوالی زیات شي. له شک پرته، فرهنګي تاوتریخوالی او زورزیاتی پوځي حل لاره هم نه لري. په دې برخه کې د ځواب ویونکو څخه په دې تړاو پوښتنه شوې ده.

**کوربه:** د څېړنو پر بنسټ، په منازعاتو کې د قوم، مذهب، ژبې او حتی سمت کارول، د افغانستان د خلکو ترمنځ د کرکې، ویرې، تبعیض رامنځته کیدو او فرهنګي تاوتریخوالي لامل شوی دی. په دې برخه کې ستاسو نظر څه دی؟ څنګه کولای شو په سوله کې له ځان او نورو سره ژوند وکړو؟

د ځواب ویونکیو په اند؛ اږودمهاله منازعات، قبیله یي ژوند، په جلا سیمو کې د قومونو میشت کیدل، جغرافیایي لاملونه او د قومي مخورو ناسمې سیالۍ د دې لامل شوي، څو په افغانستان کې ښاري ژوند او ملت پالنه رامنځته نه شي. پر ملي ارزښتونو باور او درناوی بنسټیزه شوی نه دی او ګوندونه، ډلې او افراد په قومي لیدلوري واک ته ګوري. د منازعاتو اړخونو اوس هم واک له قومي او قبیله یي نظره ګوري او دا د دې لامل شوی، څو د افغانانو ترمنځ ګډ ژوند ستونزمن کړي. اوس هم ډیری خلک په قومي ډلو کې له یو بل څخه ناسم انځور لري. خلک د دې پر بنسټ قضاوت کیږي، چې کومې قومي ډلې پورې تړاو لري. تمه کیده، چې نوی نسل به توپیر ولري، خو په تېرو شلو کلونو کې پروګرامونو، حکومتي جوړښتونو او منازعاتو، له قومي اړخه نوی نسل اغیزمن کړی دی. نو په دې ډول د دې ستونزې د حل لپاره، د افغانستان خلک همپالنې، یو بل ته درناوي او د حقونو رعایت، د ټولنیز عدالت ټینګښت، هوکړه او اړیکو ټینګښت ته اړتیا لري. په ورته مهال ډول - ډول فرهنګونو، مذهبونو او قومونو د بنسټیزه کولو لپاره باید مبارزه وشي. عادلانه قانون جوړونې او د قانون حاکمیت دې پلې شي. ملي اقتدار او شتمني دې د قانون پر بنسټ د ټولو وګړیو پورې اړه ولري. ملي ویښتیا لپاره دې هڅې وشي او د افغانستان د بیلابیلو قومونو د مخورو ترمنځ، د یو بل د مادي او معنوي پانګو او اندونو لپاره ښکاره ټولنیز تړون او لیکلې ژمنه رامنځته او ملاتړ یې وشي.

ځواب ویونکي زیاتوي؛ د افغانستان په جګړو کې د خلکو له بې سوادي او د هغوی د علمي او دیني سواد ټیټې کچې څخه ناوړه ګټه اخیستل شوې ده. دا په داسې حال کې ده، چې د مسلمان جګړه د مسلمان پر وړاندې هیڅکله جایزه نه وه او نه ده. د افغانستان د جګړې لویه برخه د ټولنې د بې وزلې برخې محصول دی، چې د سواد له نعمت او پرمختللي تفکر څخه بې برخې وو. له خلکو څخه د ناوړه ګټې اخیستنې او بنسټ پالنې مخنیوي حل لاره؛ متوازن پرمختګ او د کلیو او د هېواد لیرې پرتو سیمو کې د خلکو ستونزو څیړل، د شرعي زده کړو پراختیا، دیني بنسټونو لپاره سمون موندلې او تائید شوي نصاب جوړول، د فقهي عالي شورا او دارالافتاء جوړیدل، د دیني روڼتیا دودول او د ټولنې د اړتیاوو پر بنسټ د پوهنیز او ښوونیز نظام معیاري کیدل دي. په همدې حال کې د جوماتونو امامان باید د یوې ځانګړې مودې لپاره د امامانو ځانګړې ښوونیز مرکز یا پوهنتون څخه فارغ شي. که چیري ورته بنسټ شتون ونلري، نو اړتیا ده، چې داسې بنسټ جوړ شي. د پوهنتون او مدرسې ترمنځ بحث او د دې دوو افکارو ترمنځ باید تعامل رامنځته شي.

نو په دې ډول، پورته ویل شوي موارد د بنسټ پالو افکارو او قومي، سمتي او مذهبي مسایلو پاللو له منځه وړلو کې اغیزناکه دي او خلک روڼتیا او منځني افکارو منلو ته هدایت کوي، څو وارد شوي افکار، چې د پردیو

موخو سره مل دي، خنثی شي؛ له یوې خوا دین د دیني هڅیوالو له منګولو وژغورل شي او له بلې خوا له قوم، سمت او ژبې څخه د ناوړه ګټې اخیستنې مخنیوی وشي. په دې سره کولای شو، څو فرهنګي تاوتریخوالی را کم او له یو بل سره په سوله کې ژوند وکړو.

**۳-۵. له زلمي خلیلزاد سره د اړیکو ګروپ د ناستې معلومات**

د اړیکو ګروپ او د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې د مشرتابه یو شمېر غړیو د ۱۴۰۰ کال د وري میاشتې په ۲۱ نیټه د افغانستان د سولې لپاره د امریکا متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت د پخواني ځانګړي استازي ډاکټر زلمي خلیلزاد سره ناسته درلوده. له هغه ځایه، چې ډاکټر خلیلزاد د سولې په بهیر کې د امریکا استازی او امریکا د افغانستان په جګړه او سوله کې مهم اړخ او د افغانستان دولت ملګری او ملاتړی وو، د افغانستان جګړې او سولې په اړه د هغوی د نظرونو په فهم او درک پوهېدل زیات اهمیت لري. له همدې امله په دې برخه کې د دې ناستې معلوماتو په اړه پوښتنه شوې ده.

**کوربه:** تاسو د ۱۴۰۰ کال د وري په ۲۱ د افغانستان د سولې لپاره د امریکا متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت پخواني ځانګړي استازي ډاکټر زلمي خلیلزاد سره مو ناسته درلوده. د هغې ناستې مهمې برخې څه وې؟ خلیلزاد د افغانستان د سولې په تړاو څه وویل؟

ځواب ویونکي وایي، چې هغوی د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګو او د سولې غوښتلو ناستو کې د جرګو له غړیو او ګډونوالو سره ژمنه کړې وه، چې د هغوی غوښتنې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د طالبانو اسلامي تحریک او امریکا متحده ایالتونو او د هغوی ملګرو هېوادونو سره شریکوي. په دې توګه موږ د افغانستان د سولې لپاره د امریکا متحده ایالتونو ځانګړي استازي سره ناسته وکړه، څو د نوي نسل او ځوانانو پیغام ورته ورسوو.

ځواب ویونکي وایي، چې هغوی د نوي نسل او ځوانانو پیغامونه ډاکټر خلیلزاد ته ورسول. هغه ته یې ویلي دي، چې د افغانستان سیاسي مسائلو کې څلور محورونو شتون درلود؛ په وروستیو دوو لسیزو کې په واک کې ښکیلو ټکنوکراټانو، د طالبانو اسلامي تحریک اړخ، جهادي تنظیمونو او د مجاهدینو پېژندل شویو شخصیتونو او نوی نسل او ځوانان. د افغانستان د سولې بهیر او مذاکراتو او نورو مسایلو کې درې لومړني محورونه ګډون لري، خو د نوي نسل او ځوانانو استازي، چې په وروستیو شلو کلونو کې په ټولنیزو او سیاسي برخو کې فعال دي، ونډه نه لري.

ځواب ویونکي وایي، چې ډاکټر خلیلزاد زیاته کړې، چې افغانستان هغه هېواد دی، چې د وګړیو ډېری فیصدي او له نیمایي څخه زیات یې ځوانان جوړوي. له بلې خوا د افغانستان منازعاتو کې د ښکېلو اړخونو څخه ځوانانو قرباني ورکړې او ورکوي او راتلونکی هم د همدې نوي نسل او ځوانانو ده، چې زدکړه یې کړې او د انعطاف او یو بل منلو وړ دي او غواړي له طالبانو او نورو افغان اړخونو سره په سوله کې ژوند، کار او سیاست وکړي. له همدې امله نوی نسل او ځوانان باید په هغه بهیر کې ګډون ولري، چې د هغوی سیاسي او راتلونکي برخلیک باندې اغیز کوي.

ځواب ویونکي زیاتوي، دوی د افغانستان د نوي نسل او ځوانانو اندیښنې له ډاکټر خلیلزاد سره شریکې کړې او له هغه یې غوښتي، څو پریکړې په یو اړخیز ډول ونکړي او د سولې بهیر د افرادو او اشخاصو ګټو لپاره و نه کارول شي، چې دا بهیر ړنګیږي. ځواب ویونکو څرګنده کړې، چې د واک ترلاسه کول باید له وسلې پرته بله

لار وي. په وروستۍ نیمه پیړۍ کې د واک پر سر شخړو، افغانستان وران او ړنګ کړی دی. ټاکنې باید یو اصل وي. د بین الافغاني مذاکراتو په لړ کې باید «د سولې هر اړخیز سیاسي ترړون» او «د سیاسي مشارکت او واک ویشلو میکانیزم» ته لاسرسی وموندل شي. همدارنګه ټینګار شوی، چې امریکایي پوځیان باید له افغانستان څخه بهر شي، د هغوی د شتون دوام، د جګړې د شدت او دوام لامل کیږي، خو وتل باید په مسوولانه ډول وي.

ځواب ویونکي وايي، چې ډاکټر زلمي خلیلزاد په دې ناسته کې په تفصیل سره خبرې ونکړې. د ځواب ویونکو په وینا، چې ډاکټر خلیلزاد د اړیکو ګروپ او د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې مشرتابه ته ویلي، چې طالبانو ته ویل شوي: «که تاسې د زور له لارې د افغانستان د منازعاتو د حل لپاره ګام پورته کړئ، د نړیوالې ټولنې ملاتړ به له ځان سره و نه لرئ.» یوازې یوه لاره شتون لري او هغه د مذاکراتو لار ده. دویمه لار شتون نه لري یا مذاکرات یا د مرستو بندیدل! خلیلزاد د اړیکو ګروپ او جرګې مشرتابه غړیو ته د راتلونکي نظام په اړه ویلي، چې «زموږ لخوا هیڅ هم نه ټپل کیږي. هر څه باید په بین الافغاني مذاکراتو کې حل شي.» او پر «بین الافغاني مذاکراتو» یې ټینګار کړی دی.

ځواب ویونکي زیاتوي، چې ډاکټر خلیلزاد له دوی څخه زیات واوریدل. داسې ښکاریدل، چې ډاکټر خلیلزاد د سولې خبرو نه خوښ نه وو او ناهیلی بریښیده. ځواب ویونکو له ډاکټر خلیلزاد څخه پوښتلي وو، چې تاسو د طالبانو اسلامي تحریک سره په دوحه کې ترړون لاسلیک کړ، خو تاوتریخوالی زیات شو، جګړه و نه دریده او یا هم کمه نه شوه. که چیرې حکومت او د طالبانو اسلامي تحریک سوله ونه کړي، څه به کیږي؟ وضعیت کومې خوا ته روان دی؟ او بلاخره څه به کیږي؟ په ځواب کې ډاکټر خلیلزاد خپله نا خوښي په دې ډول بیان کړه، چې «یو ځلې، د سولې ژمنو په تړاو د جهادي تنظیمونو رهبرانو د سعودي عربستان د هغه وخت د پاچا په بلنې د کعبې زیارت او عمرې حج ته لاړل، په کعبه کې یې قسم وخوړ. د هغه سربېره، کله چې افغانستان ته راستانه شول، جګړې ته یې دوام ورکړ.» د خلیلزاد له دې پیغام څخه داسې ښکاري، چې «افغان اړخونه خپلو ژمنو ته ژمن نه دي، خبرې، ژمنې او کړنې یې له یو بل سره توپیر لري.»

### ۳-۶. د نوي نسل او ځوانانو له نظره د افغانستان د سولې راتلونکې

دې ته په پام، چې د افغانستان د سولې هڅې وروسته له هغه ناکامه شوې، چې له ولایتونو څخه کابل ته د طالبانو اسلامي تحریک واکمنۍ پراختیا وموندله او مخکینی ولسمشر محمد اشرف غني او د وخت حکومت د رهبرۍ غړي له هېواده وتښتیدل. اوس د افغانستان د سولې جوړونې راتلونکي په اړه د مرکه شویو کسانو نظر پوښتل شوی دی.

**کوربه:** د لوی بدلون په پام کې نیولو او واک ته د طالبانو په رسیدو سره، د افغانستان د سولې جوړونې لپاره څه کول په کار دي؟ ستاسو وړاندیزونه څه دي؟

**لومړی سناریو،** که اسلامي امارت/طالبانو اړخ غواړي، چې په افغانستان کې تل پاتې سولې او ثبات ته ورسیږي، نو باید له نورو افغان اړخونو سره د تل پاتې ثبات ټینګښت لپاره د سولې خبرو یوه با صلاحیته شورا او کمېسیون جوړ کړي.

تل پاتې سوله او ثبات هغه وخت ټینګېدای شي، چې ټول اړخونه د خو لسیزو ناورین ته د خبرو اترو له لارې د پای ټکی کېږدي. نو له همدې امله طالبان په کور دننه له نورو اغېزناکو خوځښتونو، ښځو، نوي نسل او ځوانانو سره په مشورې د ملي پخلاینې، سولې او د یوه ټول ګډونه دولت د رامنځته کولو نوښت تر لاس لاندې ونیسي. د

وګړو حقونه، د ښځو حقونه، د وینا خپلواکي او د افغانانو د نظر څرګندولو حق ته درناوی وکړي او ملي انسجام او په واحده توګه د ملت جوړوني لپاره دې زیاته زمینه برابره کړي. په شرعي چارو کې دې له زور زیاتي تېر شي، په دوامداره توګه دې د نړیوال سیاست له غوښتنو سره سم عمل وکړي. د حکومتوالی په برخه کې دې شوي تړونونه او میثاقونه ومني. د طالبانو اسلامي تحریک دې د ټاکنیزې سیاسي او سوله ایزې لوبې قاعدې ته ژمن پاتې شي. د خلکو د رایو پر بنسټ دې نظام جوړ او له ټولو خوځښتونو سره په مشورې دې، د اساسي قانون پر جوړېدو ژر تر ژره کار پیل کړي. که دغه نوښت تر لاس لاندې و نه نیول شي، نو افغانستان به یو وار له سختو او جدي ستونزو سره مخ شي.

ځواب ویونکي د بن تجربې ته اشاره کوي: په ۲۰۰۱ ز کال کې د بن کنفرانس پرمهال د طالبانو اسلامي تحریک او د ګلبدین حکمتیار په مشرۍ اسلامي حزب له پامه وغورځول شول، دا خپله په هېواد کې د جګړې یو لامل وو. د طالبانو اسلامي تحریک غړي سپک او تحقیر شول، کورنۍ او کورونه یې تلاشي او دغه راز وځورول شول، د ځو کلونو لپاره زنداني شول او ډېری یې د هېواد پرېښودو ته اړ شول. حتی په لرې پرتو سیمو کې پر عامو خلکو د طالب په نوم ظلم وشو. که دا ځل دغه سناریو د اسلامي امارت سرتېرو او قومندانانو له لوري تکرار او دوام پیدا کړي او په ترڅ کې یې خلک بې‌عزته شي، ښایي یو وار بیا خلک وسلې ته لاس کړي. د وروستۍ نیمي پېړۍ د اختلافونو له امله، په افغانستان کې وسلو ته لاس کول یو اسانه کار شوی. پر دې سربېره، یو شمېر هېوادونه او ترهګرې ډلې هم چمتو دي او ښایي ځیني کسان د دوی له لوري جذب او تمویل شي.

د ځواب ویونکو په باور که افغانان غواړي، چې افغانستان سولې ته ورسېږي، نو د سولې نیمګړې پاتې بهیر باید په ښه توګه بیاځلي پیل شي. اوس هم د سولې بحث دوام لري او موږ باید سولې غوښتنې ته د یوې ملي داعیې په توګه دوام ورکړو. که د سولې بهیر او په ځانګړې توګه سیاسي سوله بشپړه نه شي، نو ثبات ته هېڅکله نه شو رسیدلی.

ځواب ویونکي وایي که کوم افغان لوری سیاسي غچ واخلي، نو مقابل لوری به یې هم یوه ورځ خپل غچ واخلي او دا کار د شخړو د دوام سبب کېږي. برعکس، که ټولو ته د ټولنیز ژوند او سیاسي فعالیتونو لپاره باعزته زمینه برابره شي او د نویو ځېرو، نوي نسل او ځوانانو په شمول ټولو افغان اړخونو ته په واک او سیاسي پرېکړو کې د ونډې اخیستو فرصت برابر شي او ګوندونه هم په منظمه توګه بېرته فعال شي، کولی شو چې تل پاتې سولې او ثبات ته ورسېږو. سربېره پر دې، اسلامي امارت باید هغو کسانو ته چې طالبان نه دي او نېوکې کوي، غوږ ونیسي او د سیاسي مخالف په توګه دې ومني. د تعامل او خبرو اترو لار دې نه بندوي. اوس اسلامي امارت باید په پوره سیاسي زغم سره د دوامداره خبرو اترو او د هغو هېوادونو له تجربو څخه په ګټنې، چې د افغانستان په څېر له یوه وضعیت تېر شوي، د دایمي سولې او ثبات په موخه جدي او ریښتیني هڅې وکړي.

**دویمه سناریو**، د مرکه شویو کسانو په نظر، که طالبان فکر کوي، چې افغانستان یې په زور نیولی او هر څه یې، چې زړه غواړي کوي یې، نو دا ډول فرضیه د سولې لار نه ده. تاریخ ښودلې، چې په افغانستان کې د زور له لارې حکومت دوام نه کوي؛ لکه څنګه چې د کمونیستانو حکومت او مطلقه جمهوریتونو دوام و نه موند او د امریکا په ګډون ناټو پر خپلو ټولو امکاناتو سربېره هم له ننګونو سره مخ شو.

مرکه شوي زیاتوي، د جګړې له لارې واک ته د رسېدو او یا هم له دې لارې د واک لېږدول، د هېواد او خلکو لپاره وېجاړې او تباهي له ځان سره لرلې دي او په راتلونکي کې به یې هم ولري. اوس طالبان په یوه داسې ځای کې دي چې خلک ترې کار، ډوډۍ، امنیت، عدالت، مشارکت، پراختیا او د هوساینې خدمتونه غواړي. بل

خوا افغانســتان یوازې طالب نه دی، بېلابېل خوځښــتونه په کې شــته، بېلابېل قومونه په کې ژوند کوي او بېلابېل فکرونه په کې شــتون لري. که په دې خاطر یوه ښــه او غوره لار ونه لټول شــي، نو په افغانســتان کې به ناکامې تجربې بیا تکرار شي.

ځواب ویونکي د اسـلامي امارت په لاس د سـولې نوښـت او د لومړۍ سـناریو وړاندیزونو په اړه داسـې جزیات ورکوي: ټیکاو ته د رسېدو لپاره باید د یوه لارې نقشه مشخصه شي. د دوحې تړون د افغانستان راتلونکي سیاسي لار نقشې پر سر د هوکړې پر بنسټ او د نوي حکومت جوړول، چې د بین‌الافغاني مذاکراتو پر مټ له تر لاسه شــوې هوکړې وروســته مشــخصــیږي، عملي او د طالبانو او نورو افغان اړخونو ترمنځ دې نوي بین‌الافغاني مذاکرات پیل شــي. ټول افغان لوري دې په یوه داســې لویه جرګه کې راټول شــي چې ټولو اړخونو ته د منلو وړ وي. ټاکنې باید ضــرور ترســره شــي. که طالب لورى په تېرو ټاکنیزو بهیرونو کې د فســاد او بهرنۍ مداخلې پر شتون نیوکې لري، اوس دې په خپله له فساد او بهرنۍ مداخلې پاکې ټاکنې ترسره کړي. نو په دې توګه دې داسې یو نظام، چې هم ملي او هم دیني مشروعیت ولري، تاسیس شي. داسې چې پر نوموړي سیاسي نظام ټول اړخونه سلا وي او هېڅ لورى خپلې غوښتنې په کې پر نورو تحمیل نه کړي. په هېواد کې باید د واک ترلاسه کولو تنده ماته شي او د عاجزۍ، زغم، یو بل منلو او کثرت پالنې روحیه باید دود شي.

په پای کې؛ سیاسي واک ته د رسېدو په موخه باید له تاوتریخوالي پرته بله بدیله لار وکتل شي. داسې سیاسي نظام باید جوړ شــي، چې په کې نور ســیاســي اړخونه له طالبانو او طالبان له نورو ســیاســي افغان اړخونو ســره په ګډه ژوند، کار او سیاست وکولای شي.

# څلورم څپرکی

## پایله او وړاندیزونه

### پایله

دا څېړنه د دې پوښتنو د ځوابونو په لټه کې وه، چې څنګه د افغانستان منازعاتو ته د پای ټکی کېږدو؟ د افغانستان د وسله والو منازعاتو، د واک پر سر د شخړو او اوږد مهاله کړکېچ غوټه څه ده؟ د افغانستان د سولې ناکامو بهیرونو کومې لوړې او ژورې درلودې او کوم لوري د سولې په هڅو او پریکړو کې ښکېل وو؟ په وروستیو دوه لسیزو کې؛ په افغانستان کې د سولې راوستو لپاره نوي نسل او ځوانانو کومې هڅې کړې دي؟ د نوي نسل او ځوانانو له انده په دوحه کې د افغانستان د سولې بهیر د ناکامی لاملونه څه وو؟ په پای کې دایمي سولې او تلپاتې ثبات د ټینګښت لپاره د افغانستان د نوي نسل او ځوانانو غوښتنې او وړاندیزونه څه دي؟

په افغانستان کې د واک پر سر شخړې په بهرني یرغل او ښکیلاک، په افغانستان کې د پردیو ایډیولوژیو تپل او پلي کول، پراخ بنسټیزه او د منازعاتو اړخونو ته د منلو وړ نظام او جوړښت نه رامنځته کېدل، د مشروعیت کړکېچ او په مستقیم او غیر مستقیم ډول، په مالي، پوځي سرچینو او نړیوالو مرستو د حکومتونو تړاو کې ریښه لري. د ګاونډیو، سیمې او نړۍ د هیوادونو ترمنځ له سیالیو او شخړو ډکه سیمه کې د افغانستان جغرافیایي موقعیت، د لاسوهنې او منازعاتو له کورني اړخ څخه د ملاتړ لامل شوی او کورنۍ جګړې یې، چې نړیواله بڼه لري، رامنځته کړې دي. د جګړې او فزیکي تاوتریخوالي ترڅنګ، د توکم، مذهب، ژبې او سمتي مسائلو څخه د منازعاتو د اړخونو ګټه اخیستنه د دې سبب شوه، څو په افغانستان کې فرهنګي تاوتریخوالی هم رامنځته شي.

د افغانستان د سولې ناکام بهیرونه، د افغانستان او پاکستان دولتونو ترڅنګ د پخواني شوروي اتحاد او امریکا متحده ایالتونو په ګډون د جینوا تړون (۱۳۶۷ وري)، چې په پایله کې یې له افغانستان څخه د پخواني شوروي اتحاد ځواکونه ووتل، د ډاکټر نجیب الله احمدزي « د ملي پخلاینې طرحه» (۱۳۶۵ وږي)، چې د مجاهدینو او د منازعاتو د اړخونو له لوري رد شوه، د ملګرو ملتونو د سولې طرحه او د بنون سیوان هڅې (۱۳۶۹ لړم ۱۶) پلې نه شوې، د جهادي ګوندونو او تنظیمونو ترمنځ د راولپنډۍ – پېښور (۱۳۷۱ غوايي۶) او

د اسلام اباد (۱۳۷۱ کب) سیاسي هوکړې، نه یوازې د سولې او پراخ بنسټه دولت د جوړېدو لامل نه شوو، بلکې کورنۍ جګړې یې هم له ځان سره لرلې.

له بن وروسته د طالبانو اسلامي تحریک سره، په پریکړو کې د نوي نسل او ځوانانو اغیزناکه مشارکت پرته، په واک کې ښـــکیلو ټکنوکراټانو، جهادي تنظیمونو او د طالبانو اســـلامي تحریک د اســـتازو په ګډون د افغانســـتان دولت د ســـولې بهیرونو مړه او ناکامه ډیپلوماســـي رامنځته کړې وه، چې د وخت جمهوري دولت او د طالبانو اسـلامي تحریک ترمنځ د سـولې د سیاسـي هوکړې لامل نه شـوه. په وروسـتیو دوه لسـیزو کې؛ د وخت حکومت د حکمتیار اسـلامي حزب (۱۳۹۵ تله ۱) او امریکا د طالبانو اسـلامي تحریک (۱۳۹۸ کب ۱۰) سـره سیاسي هوکړو ته ورسیدل.

د دوحې د سولې بهیر، چې په افغانستان کې د سولې راوستو لپاره یوه زرینه موقع وه، د وخت د حکومت اړخ، امریکا او د افغانستان په سوله کې ښکېلو نړیوالو او سیمه ییزو لوبغاړو او د طالبانو اسلامي تحریک اړخ لخوا د یو شـمېر لاملونو له امله، د وخت د حکومت او د طالبانو اسـلامي تحریک ترمنځ د سـولې د هوکړه و نه شـوه. په دوحه کې د افغانســـتان د ســـولې بهیر د ناکامۍ لاملونه دریو اړخونو، د جمهوریت اړخ او د افغانســـتان حکومت د وخت مشرتابه، د امریکا متحده ایالتونو او د افغانستان د سولې په بهیر کې ښکېل نړیوال او سیمه ییز لوبغاړي او د طالبانو اسلامي تحریک اړخ ته ورګرځي.

اوس مهال، چې د طالبانو اسـلامي تحریک د اسـلامي امارت داعیي د بیا جوړولو سـره واک ته رسـیدلي دي. افغانســـتان اوس هم په اوږدمهاله شـــخړو کې را ګیر دی. ځکه له یوې خوا د تېر حکومت زیات شـــمېر لوړ پوړي چارواکي تښتېدلي. د جهادي تنظیمونو او د سیاسـي خوځښـتونو یو شـمېر رهبران او اسـتازي، چې د یوې ناسـتې لپاره پاکسـتان ته بلل شـوي وو، له هغه ځای هیواد ته راسـتانه نه شـول. د حکومت لوړ پوړي امنیتي او دفاعي چارواکیو هم هیواد پرېښـود. د بهرنیو ځواکونو همکاران، څارنوالان، قاضـیان او یو شـمېر رسـنیز فعالان هم له هیواده ووتل. عام وګړي د ټولنیزو خپلواکیو له لاسه ورکولو، له سختې بې وزلۍ او وزګارۍ سره مخ کېدو له ویرې رواني امنیت نه لري او د نوي نسل او ځوانانو مدني- سیاسـي فعالان په هیواد کې روان وضـعیت ته په کتو، له خپل برخلیک او مشـــارکت څخه، د پراخ بنســـټه نظام او دولت نه جوړېدو، پر رســـنیو د محدودیتونو له وضـعه کیدو، د حکومتوالۍ له ډول، سوله او ټیکاو او په هیواد کې د نورو ټولنیزو، اقتصـادي او سیاسـي مسایلو په اړه اندېښمن دي. له بلې خوا یو شـمېر سخت دریځه او بنسټپاله ډلې د افغانسـتان، سیمې او نړۍ د امنیت او ثبات ګواښلو او خنډونو رامنځته کولو او د خپلو لیکو د پیاوړتیا هڅې کوي. په دې توګه وسله والو منازعاتو ته د بیا را ګرځیدو ځواک تل شـتون درلود او لري. د فرصـت په رامنځته کیدو، د وسـله والو منازعاتو ډګر ته سـتنېدل او د جګړو اور بل ساتلو زمینه برابره ده.

د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګو او د سولې غوښتلو غونډو له پرېکړه لیکونو څخه داسې جوتیږي:

لومړی، په هیواد کې د تلپاتې سولې او ټیکاو لپاره د نوي نسل او ځوانانو پر انسجام، پیوستون، همپالنې او همغږۍ ټینګار.

دویم، د افغانسـتان نوي نسـل او ځوانانو د سـولې بهیر په پریکړو او سـولې مذاکراتو کې د نوي نسـل او ځوانانو د استازو(د حکومت او جهادي تنظیمونو څخه بهر) له نه ګډون، د جمهوریت اړخ کې د مرکچي پلاوي له جوړښـت، ګډوډي او د پروګرام نه شـتون، ځان غوښـتنه، پر ګټو ټینګار او نه همغږي او د طالبانو په اړخ کې د نرمښت نه شتون او د ډول ډول فکرونو نه منل، د سولې په بهیر کې د شخصـي، ګوندي او ډله ایزو ګټو لټول، پر خلکو د جګړې د ناوړه پایلو او د سولې هوکړو او خبرو اترو نه روښانتیا څخه نیوکې درلودې.

دریم: د نوي نسل او ځوانانو غوښتنې د جرګو او سولې غوښتلو د پریکړه لیکونو څخه داسې موندل کیږي، چې د سولې په لټه کې ځوانان « د خبرو اترو او سیاسي هوکړې له لارې د منازعاتو د حل، اوربند او په هیواد کې په بشپړ او د تل لپاره د جګړې د پایته رسېدو، د ټول ګټو بنسټونو خوندیتوب، له ټول ګډونه نظام او دولت څخه ملاتړ، له ټاکنو او اساسي قانون څخه ملاتړ، د وروستیو دوه لسیزو لاسته راوړنو لکه د ټولنیزو، اقتصادي، سیاسي، د وګړیو په ځانګړې توګه د ښځو د حقونو، د بیان او د رسنیو د خپلواکیو ساتل او د نظام او وسله والو ځواکونو ساتنه، د سولې له بهیر څخه څارنه او راپور ورکول او له نړیوالې ټولنې سره د همکاریو، مالي ملاتړ او دوستانه اړیکو دوام» په لټه کې وو او د اړیکو ګروپ او جرګې د مشرتابه له یو شمېر غړیو سره د ګروپې مرکو څخه د نوي نسل او ځوانانو د غوښتنو جزئیات په دې ډول تر لاسه کیږي:

۱. د خبرو اترو او سیاسي هوکړې له لارې د منازعاتو حل، د سولې خبرو او مذاکراتو او د ملي پخلاینې د نوي بهیر پیلولو، د هر اړخیزې لارې پر نقشې هوکړې، او په دایمي ډول د جګړې پایته رسولو او د نورو اغېزناکو افغان اړخونو سره د نوي اساسي قانون د تسوید او تصویب د څرنګوالي په اړه هوکړې سره د با ثباته سیاسي راتلونکي لپاره د اسلامي امارت (د طالبانو اړخ) لخوا د عملي، ریښتیني او ژمنو ګامونو اوچتیدل.
۲. یوې لویې سیاسي هوکړې ته د رسېدو لپاره د اسلامي امارت (د طالبانو اړخ) او نورو اغېزناکه افغان اړخونو لخوا د ځان غوښتنې او د واک له انحصار څخه ډډه، نرمښت او ملت ته ځواب ورکونه.
۳. د ټاکنیزې او عدم تشدد سیاسي لوبې پر قاعده ولاړ د ټولو سیاسي اړخونو هوکړه او ژمنه.
٤. د سیاسي جوړښت او حکومتوالي د ډول تعریف او د عادلانه قوانینو د تصویب او پلي کېدو پر بنسټ د دولت په سیاسي واک او پریکړو کې د ټولو قومونو اغېزمن ګډون تعریف او ورته زمینه برابرول.
۵. د ولسواکۍ بهیر ساتنه او پلي کول او د ټاکنو له لارې د سیاسي واک تر لاسه کول، ټاکل شوی دولت (چې هم ملي او هم دیني مشروعیت ولري) ټاکل شوي او ځواب ویونکي رهبران، د دولت د ارکانو تعریف او د قواوو تفکیک، د سراسري او عادلانه ټاکنو ترسره کول او د هیواد سترو او برخلیک ټاکونکیو مسایلو کې د ملت غوښتنو او رایو ته مراجعه کول.
٦. د ملي او ګډو ارزښتونو تعریف او درناوی، همپالنه، د یو بل فکري، سیاسي، کلتوري او ټولنیزو ارزښتونو او توپیرونو ته د ټولو قومونو او خوځښتونو درناوی او د یو با ثباته او پرمختللي افغانستان لپاره هڅه.
۷. په افغانستان کې د مذهبونو د پیروانو وروروليي او یووالی په سیمه کې ساری نه لري او نه بېلېدونکی دی. په دې توګه د حنفي مذهب او اهل سنت ترڅنګ د جعفریه مذهب او اهل تشیع هم باید د هیواد د رسمي مذهب په توګه وساتل شي او درناوی یې وشي.
۸. په شرعي چارو کې د اعتدال ساتنه، له جبر څخه ډډه کول او د افراط او تفریط مخنیوی.
۹. د عادلانه قوانینو په چوکاټ کې د مطبوعاتو، رسنیو او د بیان خپلواکي ساتنه او پراختیا، معلوماتو ته د لاسرسي حق، د ټولنیزو، مدني، سیاسي خپلواکیو ساتل او د افغانستان ټولو وګړیو ته د سولییز اعتراض حق ورکول.
۱۰. د ښځو د بنسټیزو حقونو او ازادیو (زده کړه، ښوونه، کار، په سیاسي، مدني، ټولنیزو، اقتصادي، کلتوري او نظامي برخو کې اغېزمن ګډون) ملاتړ او ساتنه.
۱۱. د ملي بهیرونو په پرېکړو کې د اغیزناکه اړخ په توګه د نوي نسل او ځوانانو ګډون او مشارکت، د نوي نسل او ځوانانو اغیزناکه څیرې باید له فردي او جلا جلا هڅو او فعالیتونو لاس واخلي (که چیرې په یوه واحد صف کې د را ټولیدو امکان نه وي، د خپلو ملګرو سره د ګوتو په شمېر موخه لرونکي

سیاسي – مدني خوځښتونه جوړ کړي، چې د دولت کولو ډول او سیاسي اقتدار ترلاسه کولو لپاره څرګنده اجنډا ولري) او په متحدانه ډول په هېواد کې سیاسي ثبات او تل پاتې سولې ته د رسېدو په برخه کې مبارزه او هڅه وکړي. څنګه چې مخکې وویل شول، په وروستیو دوو لسیزو کې (د افغانستان اسلامي جمهوریت له جوړېدو سره) په افغانستان کې څلورو سیاسي محوررونو شتون درلود؛ ١ په واک کې ښکیلو ټکنوکراټانو ٢ جهادي تنظیمونو او رهبران ٣ د طالبانو اسلامي تحریک او ۴ د افغانستان نوی نسل او ځوانان. له دې ډلې څخه لومړیو دریو محوررونو د افغانستان په ټولو سیاسي او پوځي پړیکړو کې فعاله ګډون درلود. خو څلورم محور – د افغانستان نوي نسل او ځوانانو تر اوسه فعاله او اغیزناکه ونډه نه درلوده، په پریکړو کې ښکیل نه وو او تل د لومړیو دریو محوررونو د پریکړو بیه پرې کړې ده.

۱۲. د افغانستان مسایلو په تړاو په سیاسي پریکړو کې د ښکیلو او پورته یادو شویو دریو محورو څخه بهر، په ملي ناستو او پریکړو کې او په نړیوالو ناستو او غونډو کې د نوي نسل او ځوانانو سیاسي ګډون او مشارکت.

۱۳. له هر ډول توپیري چلند پرته، په افغانستان کې د څو لسیزو منازعاتو له امله د جګړو د قربانیانو، د شهیدانو د وارثینو او معلولیت لرونکیو وګړیو د حقونو ساتنه او د هغوی د ستونزو حل.

۱۴. د غیر سیاسي او ناپیيلي امنیتي او دفاعي ځواکونو، استخباراتي او اطلاعاتي ادارو او مسلکي ژمن پولیسو جوړول.

۱۵. د فرهنګي او هنري فعالیتونو د محدودولو او منعه کولو څخه ډډه او د افغانستان د فرهنګي، هنري او لرغوني شمتنی ساتنه.

۱۶. د ملي ګټو پر بنسټ له ګاونډیو، سیمې او نړۍ له هیوادونو سره د دوستانه اړیکو ساتل، دوام، پراختیا او جوړول.

۱۷. په بهرنیو اړیکو کې د حساسیت رامنځته کولو څخه ډډه او د سیمې او نړۍ هېوادونو په شخړو، منفي سیالیو، وسله والو او استخباراتي جګړو کې ناپیيلي.

۱۸. د افغانستان له خلکو، ښځو او نوي نسل او ځوانانو څخه د ملګرو ملتونو په ځانګړې ډول د امنیت شورا او نورو نړیوالو بنسټونو غوڅ ملاتړ.

۱۹. د نړیوالو د مالي ملاتړ دوام او تلپاتې سولې او ثبات ته د رسېدو په لار کې د افغانستان له خلکو سره د نړیوالې ټولنې جدي او رېښتینې همکاري.

په پای کې؛ افغانستان به هغه وخت د سولې او ثبات پر خوا رهي شي، چې د سولې نوښت بیاځلې تر لاس لاندې ونیول شي او په افغانستان کې د منازعاتو د ټولو اړخونو د هوکړې پر بنسټ ټول ګډونه نظام جوړ شي. خو په دې ډول جګړه او د واک پر سر شخړو ته د پای ټکی کېښودل شي. د یوې سیاسي هوکړې په پایله کې پیاوړی دولت او ملي نظام جوړ شي. د میکانیزم په جوړولو سره دې په پریکړو او واک کې د ګډون مسئله حل شي. ټول اړخونه باید د فزیکي تاوتریخوالي (وسله والو جګړو) څخه لاس په سر شي، په بل ډول په هیواد کې د جګړې ټغر باید را ټول شي او سیاسي مبارزه، چې د یوې سیاسي ټولنې بنسټ دی، په سوله ییز ډول او له تاوتریخوالي پرته په هیواد کې ترسره شي. په پای کې د کورنیو ستونزو په حل او د یو پیاوړي ملي دولت په

جوړېدو، د نړیوال مشـــروعیت او له ګاونډیو، ســیمې او د نړۍ له هیوادونو ســره دوســتانه اړیکو لپاره زمینه برابریږي.

د افغانستان د سولې راتلونکی، د سولې بهیر پر مخ وړونکیو کې بدلون ته اړتیا لري، چې د سولې سنتي او دودیزو فعالیتونو، چوکاټ او پر مخ وړونکیو څخه، چې مړه ډیپلوماسي یې جوړه کړې، ور هاخوا لاړ شي. د ټولنې ټولې برخې باید د ســـولې په ټینګښـــت کې برخه واخلي. په دې توګه د لوړپوړو افرادو یعنې مخکښ او لومړۍ درجه رهبرانو؛ د قدرت تړیو او په منازعاتو کې ښکېل اړخونو په پرتله د ټولنې منځنۍ برخه ( نوی نسل او ځوانان او نوي را ټوکېدلي ځیرې) زیات رول ولوبوي. په دې برخه کې نه یوازې په بیړې د منازعاتو د حل مسئله (د واک ویش) شـامل نه وي، بلکې د هغو اندېښـنو حل کول هم شـامل وي، چې وسـله والو منازعاتو او د واک پر سر شخړو ته د بیا ستنېدو لامل کیږي.

## وړاندیزونه

### ۱- د سیاسي لارې نقشه

په وروســتي نیمه پېړۍ کې افغانســتان د واک پر ســر  شــخړو سـره لاس او ګرېوان وو. له همدې امله دولتونه په لنډو وختونو کې رامنځته او له منځه تللي دي. کله یوه جګړه پای ته رســـیږي او بله جګړه پیلیږي. ټول افغان اړخونه د یو مشروع نظام، سیاسي جوړښت، د هیواد په ټولو ملي او لویو مسائلو کې د ټول ګډونه میکانیزم او د دولت والۍ او حکومتوالۍ ډول په اړه، چې ټول منلی وي، هوکړې ته نه دي رســـیدلي. په افغانســـتان کې د څو لســیزو منازعاتو د پایته رســـولو په موخه د اســـلامي امارت (د طالبانو اړخ) او نورو افغان اغیزناکو اړخونو ( جهادي تنظیمونه او رهبران، په وروستیو دوه لسیزو کې په واک کې شامل ټکنوکراټان، ښځې او د افغانستان نوی نسـل او ځوانان)، د یو ټاکنیز نظام، چې هم ملي او هم دیني مشـروعیت ولري او ټول اړخونو پرې هوکړه ولري او هېڅ اړخ خپلې غوښتنې په بل لوري و نه تپي، لپاره د مذاکراتو او سیاسي هوکړې له لارې د ملي پخلاینې او د منازعاتو د حل په موخه عملي او ریښتیني ګامونه پورته کړي. تواضع، تساهل، یو بل منلو او ډول ډول افکارو منل په پام کې ونیول شي، منازعات دې د خبرو اترو او سیاسـي هوکړو له لارې حل شي او په پای کې سیاسـي واک ته د رسېدو لپاره باید په سـولییز ډول او له تاوتریخوالي پرته، چې په افغانسـتان کې تلپاتې او دایمي سـوله تضمینوي، واضح شي او په لاندې ډول د سیاسي لارې نقشه روښانه او (۱ نه تر ۵ کلونو) کې عملي شي:

- د طالبانو اړخ او د افغانســـتان نور اغیزناکه ســیاســـي اړخونه یو ځلې او د تل لپاره د جګړې پر پایته رسیدو او تل پاتې سولې ټینګښت لپاره پریکړه وکړي. ټول اړخونه باید په افغانستان کې د واک ستونزې د حل لپاره د غوڅ، هر اړخیزې او جدي خبرو لپاره چمتو شـــي. د همدې موخې لپاره، د طالبانو اړخ د افغانستان له نورو سیاسي اړخونو او د افغانستان نور سیاسي اړخونه له طالبانو سره، په افغانستان او بهر (په افغانستان کې د سولې او ټیکاو ملاتړي هېوادونه؛ ګاونډیان، سیمه او نړۍ) کې د خبرو او باور جوړونې ډیالوګ د پیل لپاره ګامونه اوچت کړي.
نو په دې ډول، د ملګرو ملتونو سازمان، په نړۍ کې د سولې ملاتړي نړیوال بنسټونه، په افغانستان کې د تل پاتې سولې او ټیکاو ملاتړي هېوادونه او په افغانستان کې د سوله پالو او منځګړیو شخصیتونو ډله، د دې خبرو لپاره اسانتیا او زمینه برابره کړي.

- د ملګرو ملتونو په مرسته او تر څار لاندې له نورو افغان اړخونو سره د اسلامي امارت لخوا د نوي بين الافغاني مذاکراتو پيل.
- د ټول ګډونه حکومت (تر ټاکنو پورې د يوې مشخصې مودې لپاره د سرپرست/ لنډمهاله/ انتقالي په نوم حکومت) جوړيدل، چې په کې د قومونو، اړخونو او د نوي نسل او ځوانانو او نوېو څېرو په ګډون د سياسي لوړيو اغېزناکه ګډون او ونډه په پام کې ونيول شي.
- د اړخونو د هوکړې پر بنسټ د لويې جرګې د جوړولو کميسيون رامنځته کول.
- د ټول ګډونه حکومت د تائيد او د اساسي قانون د تسويد ملي کميسيون د جوړولو لپاره د منلو وړ لويې جرګې جوړول.
- د منلو وړ لويې جرګې، ټول پوښتنې او يا هم د اسلامي امارت او نورو اغيزناکو افغان سياسي اړخونو لخوا د نورو منل شويو ميکانيزمونو له لارې د عادلانه اساسي قانون تصويب.
- د سراسري او عادلانه ټاکنو تر سره کول او د نوي اساسي قانون پر بنسټ د راتلونکي دولت جوړيدل.

### ۲- سياسي جوړښت

د واک انحصار، د حکومتوالۍ سيستم متمرکز توب، د ټولنيز عدالت نه بنسټيزه کيدل، ناانډول پرمختګ، په ناعادلانه ډول د ملي بودجې ويش او له ملي شتمنيو څخه د ګټې اخيستنې څرنګوالی، په سياسي واک او د دولت په پريکړو کې د قومونو عادلانه او اغېزمن ګډون کمزورتيا تل د دې لامل شوي دي، چې نور اړخونه هڅه وکړي، څو په بيلابيلو حتی پوځي کچه کې له نړيوالو او بهرنيو سرچينو څخه تغذيه او واک ته د رسېدو لپاره ترې ګټه واخلي. بهرنۍ لاسوهنې او کورنۍ بې عقلي د دې لامل شوي، څو د افغانستان د منازعاتو اړخونه د بهرنيانو لخوا په استخباراتي او سياسي برخو کې وکارول شي. په دې توګه د بې کفايته مشرانو شتون، د قومي رهبرانو له خوا د لرکيو او ډيرکيو پر روايتونو ټينګار، د حکومتونو د مشرتابه ځان غوښتنه، فساد او ناپوهې د واک د انحصار سبب او د افغانستان د منازعاتو له لاملونو څخه يو دی. نو د يو متحد، يو موټي او باثباته افغانستان لپاره د لاندې سياسي جوړښت چې په بيلابيلو نظامونو کې د پلي کيدو وړ دی، وړانديز کيږي:

۱ د دولت رئيس او مرستيالان ۲ لومړی وزير او مرستيالان ۳ ملي شورا ۴ د فقهې او دارالافتاء عالي شورا ۵ د سترې محکمې عالي شورا ٦ واليان ۷ ښاروالی ۸ ولايتي شوراګانې ۹ د ولسواليو شوراګانې ۱۰ ولسوالان په ټاکنيز ډول په اساسي قانون کې د روښانه واکونو په لرلو سره، د افغانستان د خلکو لخوا په مستقيمي يا غير مستقيمي رايې سره وټاکل شي.

### ۳- سياسي واک ترلاسه کولو څرنګوالی

سياسي واک ترلاسه کولو لپاره، د طالبانو اسلامي تحريک او د افغانستان اغېزناکه سياسي محورونه دې د ټاکنيزې لوبې پر قاعده هوکړه وکړي. افغانان د ټاکنو له لارې د واک ترلاسه کولو پرته بل منل شوی اصل، چې په هيواد کې تلپاتې سوله او ټيکاو تضمين کړي، نه لري. په دې توګه ټاکنې دې د يو اصل په توګه د ټولو اړخونو لخوا ومنل شي او واک ترلاسه کولو لپاره سياسي مبارزه دې د قانون په چوکاټ کې د سياسي ګوندونو له لارې ترسره شي، نه د افرادو لخوا.

**٤- متوازن پرمختګ او په عادلانه ډول د ملي شتمنیو څخه ګټه اخیستل**

ملي شتمني؛ د ځمکې لاندې سرچینې، اوبه، ځمکه، لرغوني او کلتوري اثار، دولتي بنسټونه، انساني سرچینې او د دولت مالي عواید د افغانســـتان د خلکو له عامه ملکیتونو او ګټو څخه ګڼل کیږي، چې د قانون په چوکاټ کې ورڅخه په عادلانه ډول ګټنه او ساتنه شي.

د ملي بودجې عادلانه ویش او په عادلانه ډول د ملي شتمنیو د عوایدو کارول او له مرکز څخه ولایتونو ته د انډول پرمختګ لپاره؛ په داسې ډول وي، چې د قانون په چوکاټ کې اړوند ولایتونه د هغې د لګولو بشپړ واک ولري.

**٥- فقهي او د دارالافتاء عالي شورا**

د افغانستان خلک په شرعي او فقهي مسایلو کې له مختلفو ادرسونو څخه ګڼو روایتونو او تعریفونو په منځ کې راګیر دي. په افغانستان کې د موجوده شرایطو په پام کې نیولو سره، شرعي او فقهي فتواوو عالمان او پوهان دې د افغانستان خلکو ته اړینې لارښوونې او مشورې په واک کې ورکړي. نو په دې ډول په افغانستان کې د فقهي او دارالافتاء د عالي شورا د جوړولو لپاره اړتیا ده، چې د واکونو، فعالیتونو او جوړښت په اړه یې په اساسي قانون کې وړاندوینه شوې وي.

**٦- له ګاونډیو، سیمې او نړۍ سره اړیکې**

افغانستان له جغرافیاوي پلوه د سیمې او نړۍ د شخړو او سیالیو په ډکه سیمه کې پروت دی. بې له شکه، دا مسئله د افغانستان په کورنیو منازعاتو بې اغېزې نه وه او نه ده. افغانستان اړتیا لري، چې په خپلو بهرنیو اړیکو کې د حساسیت پیداکولو څخه ډډه وکړي او باید د سیمې او نړۍ په ترینګلتیاوو، منفي سیالیو، پوځي او استخباراتي جګړو کې خپل بې پریتوب وساتي. افغانستان یوې فعاله او تخصصي ډیپلوماتیکي دستګاه ته اړتیا لري او د ملي، سیمه ییزو او نړیوالو لومړیتوبونو په پام کې نیولو سره خپل بهرنۍ سیاست روښانه تعریف کړي.

په سوله کې افغانستان نشي کولای له خپلو ګاونډیو جلا وي او نشي کولای د سیمې هېوادونه څنډې ته کړي. نو په دې ډول موږ اړتیا لرو، څو د ګاونډیو هېوادونو؛ چین، پاکستان، ایران، ازبکستان، ترکمنستان او تاجکستان سره د دواړو اړخونو د ګټو پر بنسټ، هر اړخیز بهرنۍ سیاست ولرو. د هم پالنې، سیمه ییزو اقتصادي فرصتونو د کارولو او دوســـتانه اړیکو رامنځته کولو لپاره هڅه شــوې او د افغانســـتان او ګاونډیو هېوادونو په ځانګړې ډول پاکستان سره د شخړو کمیدو لپاره اړین ګامونه اوچت شي؛ خو دا ګامونه باید داسې وي، چې د سیمې هېوادونه په ځانګړي ډول هندوستان را و نه پارول شي. همدارنګه افغانستان له چین سره د اړیکو لپاره ځانګړې پالیسي ته اړتیا لري. افغانستان له چین سره په اړیکو کې کولای شي، څو له اقتصادي، ترانزیتي او له نښلونکیو فرصتونو څخه ګټه واخلي.

افغانستان باید په سیمه کې په یو پیاوړي لوبغاړي بدل شي. له سیمې او نړۍ سره د مثبتو او اقتصادي تعاملاتو کې د افغانســتان له موقعیت او جغرافیا څخه ګټه واخیستل شــي، خو هیڅ وخت د تقابل سیاسـت غوره نه شــي. زیاتې سرچینې باید د ګاونډیو، سیمې او سیمې ها خوا هېوادونو؛ روسیه، هندوستان، جاپان او عربستان، ترکیه، مصر، عربي متحده امارات، قطر او نورو اسـلامي هېوادونو سـره په اړیکو کې وکارول شــي او د ملي ګټو پر بنسـټ، پراخه او پرمختللې اړیکې رامنځته شي.

افغانســتان باید هڅه وکړي، څو په نړۍ کې یې ملګري هېوادونه زیات شــي. افغانســتان اوس مهال هم د امریکا متحده ایالتونو او د هغه ملګري هېوادونه؛ بریتانیا، کانادا، اســترالیا، د اروپایي ټولنې هېوادونه په ځانګړي ډول جرمني، فرانسه او ایټالیا سره د ستراتیژیکو او ښو اړیکو درلودو ته اړتیا لري. د امریکا متحده ایالتونو سره د ښو او ستراتیژیکو اړیکو لرل یوه پانګه او فرصت دی. نو افغانستان باید د نوي پېژند پر بنسټ، له دې هېوادونو په ځانګړي ډول امریکا متحده ایالتونو سره ښې او ستراتیژیکې اړیکې ولري، خپلې اقتصادي او مالي اړتیاوې پوره، نړیوال باور پراخ او د نړیوالو بنسټونو له فرصتونو او امتیازاتو څخه هم ګټه واخلي.

## د څېړنې محدودیتونه

**۱. له هغه ځایه، چې د افغانستان په هر ولایت او ولسوالی کې د نفوسو شمیر او احصایه کره نه ده. له دې امله، دا ممکنه نه وه، چې د وګړیو او نمونې تر منځ تناســب او یا فیصــدي رامنځته شي.**

**۲. د څېړنې ادبیات او د هغو کلیمو او اصطلاح ګانو کارول، چې د سـولې غوښـتلو له روحیې سـره په ټکر کې نه وي او په ټولنه کې شـته ټولنیز او سـیاسـي حساسـیتونه په پام کې ونیسي، د څېړنې په بشپړولو کې یو بل محدودیت وو.**

۳. په ځینو پرېکړه لیکونو کې علمي جوړښت په پام کې نه و نیول شوی، چې د نیوکو، غوښتنو، وړاندیزونو او ګوابښونو د یوځای کېدو لامل شوی دی.

۴.

۵. د څېړنې په بشپړولو کې بل محدودیت د ۱۴۰۰ د زمري ۲۴ ـ د ۲۰۲۱ د اګسټ ۱۵ بدلون وو، چې د ګروپي مرکو په ترسره کولو سره تر یوې زیاتې کچې رفع شوی دی.

۶. د څېړنې پر وړاندې د امنیت، مالي محدودیتونو او د نوي نسل او ځوانانو نه همغږي هغه نور محدودیتونه دي، چې د څېړنې د معلوماتو ترتیب یې له ستونزو سره مخ کړی وو.

**د افغانستان د سولې او ثبات په هیله**

**و من الله توفیق**

## سرچینې

١. Assembly, G. (١٩٩٠, November ٧). Resolution ٤٥/١٢. *United Nation General Assembly*.

٢. Barash, D. P. (٢٠٠٢). *peace and Conflict studies*. London: Sage publications, Inc.

٣. Berghof, F. (٢٠١٢). *Berghof Glossary on conflict Transformation: 20 notions for theory and practice*. Berlin: Berghof Foundation Operation GmbH.

٤. Erin McCandless, A. (٢٠٠٧). *Peace research for Africa, Critical Essays on Methodology*. Geneva: University for peace.

٥. Galtung, J. (١٩٧٣). *Theory of Conflict: Difinations, Dimentions, Nagations and Formations*. Hawaii: University of Hawaii.

٦. Gargan, E. A. (١٩٩٢). *Whisper of Hope is Echoing in War-Scarred Afghan Hills*. New York: New York Times, .

٧. Kurtz, L. (٢٠٠٧). *Encyclopedia of Violence, peace and conflict: Volumw 2 (F-P)*. San Diego: Academic press.

٨. Peck, C. (١٩٩٨). *Sustainable Peace: The Role of UN and Regional Organization in Preventing Conflict*. New York: LITTLEFIELD PBLISHERS, INC.

٩. Slim, H. S. (١٩٩٤). *From Civil War toward Civil Society*. Washington, D.C: American Enterprise Institute for Public Policy Research.

١٠. Sullivan, D. p. (٢٠٠٧). The Mysterious Rise of the Taliban. *Journal of peace Research*, Vol. ٤٤, no ١, january ٢٠٠٧.

١١. USA_Taliban, Agreement for Bringing Peace to Afghanistan. (February ٢٩, ٢٠٢٠)

١٢. https://www.state.gov/wp-content/uploads/٢٠٢٠/٠٢/Agreement-For-Bringing-Peace-to-Afghanistan-٠٢,٢٩,٢٠.pdf

١٣. احمدی, م. (١٤٠٠)، طرح آشتی ملی داکتر نجیب الله و درس‌های صلح در جوابیه پوهاند کاکر. در ح. کاکر, *تلاش افغان‌ها برای صلح* (ص. ٧٤-٧٩). کابل: انتشارات امیری.

**۱٤.** احمدی, م. ا. (۱٤۰۰). *صلح افغانستان؛ جدال جمهوریت و امارت*. کابل: انتشارات مقصودی.

**۱۵.** اطلاعات‌روز. (۲۸ حمل ۱۳۹۸). *طالبان در واکنش به هیأت ۲۵۰ نفری حکومت: نشست دوحه پلان شده است نه مهمانی*. کابل: اطلاعات روز.

**۱٦.** امیری, م. (۱۳۹۰). *روایت زندانیان*. کابل: هشت صبح.

**۱۷.** ایده, ک. (۱۳۹۹). *کشمکش بر سر قدرت در افغانستان، ترجمه: محمد عارف منصوری و فرحناز منصوری*. هرات: انتشارات قلم.

**۱۸.** بارنت, ر. (۱۹۷۸). *آمار ریشه‌های جنگ*. نیویورک: پنگوئن.

**۱۹.** بیگدلی, ر. ض. (۱۳۹٤). حقوق *بین الملل بشر دوستانه؛* چاپ سوم. تهران: کتابخانه گنج دانش.

**۲۰.** تمنا, ف. (۱۳۹۹). *معمای صلح و امنیت افغانستان*. کابل: انتشارات امیری.

**۲۱.** حامد, م. (۱۳۹۵). دکترین *جنگ و صلح در اسلام*. کابل.

**۲۲.** حسرت, س. ر. (۱۳۹۲). *مطالعات صلح و منازعه و آموزش صلح*. کابل: دهکده چاپ.

**۲۳.** خُرم, ع. (۱۳۹۸). چهل *سال در طوفان،* چاپ دوم. کابل: مطبعه وایگل.

**۲٤.** دهخدا, ع. ا. (۱۳۲۵). *لغت نامه*. تهران: موسسه انتشارات و چاپ دانشگاه تهران.

**۲۵.** رایت, ک. س. (۱۹٤۲). *تحقیقی در جنگ*. شیکاکو: انتشارات دانشگاه.

**۲٦.** ری, س. ت. (۱۹۹۱). *هنر جنگ: ترجمه: توماس کلی*. نیویورک: شمباهالا.

**۲۷.** ریگی, م. ب. (۱۳۸٦). *فرهنگ عربی - فارسی* . تهران: انتشارات اندیشه.

**۲۸.** سیگار. (۷ نوامبر ۲۰۲۱). *٦۰ تا ۷۰ هزار سرباز افغان طی ۲۰ سال کشته شدند* . نیویورک: بازرس ویژه امریکا در امور بازسازی افغانستان.

**۲۹.** صدر, ع. (۱۳۹۷). فرایندهای صلح در افغانستان. کابل: انستیوت مطالعات استراتیژیک افغانستان.

**۳۰.** کاکر, م. ح. (۱٤۰۰). *تلاش افغان‌ها برای صلح*. کابل: انتشارات امیری.

**۳۱.** لیدراک, ج. (۱۳۹٦). *استقرار صلح: ترجمه حسن رضایی*. کابل: نشر گوهرشاد.

**۳۲.** مارزدن, پ. (۱۳۷۹). *طالبان؛* جنگ، مذهب *و نظم نوین در افغانستان. ترجمه: نجله خندق*. تهران: وزارت امور خارجه.

**۳۳.** محمدی, ج. (۱۳۹۸). *از کمیسیون تحکیم صلح تا وزارت دولت در امور صلح؛ نهادسازی های ناکام صلح در افغانستان*. بستر تعاملی و خدمات محور فارسی زبانان, ۲.

**۳٤.** معین, م. (۱۳۸۷). *فرهنگ فارسی؛* چاپ ۲۷. تهران: امیر کبیر.

**۳۵.** منصـــور, ع. (۱٤۰۰). امکان تکرار خطای گذشـــته. در ح. کاکر, *تلاش افغان‌ها برای صـــلح* (ص. ۱۳۹-۱٤۳). کابل: انتشارات امیری.

**۳٦.** نامه جوابیه پوهاند محمد حسن کاکر به به داکتر نجیب الله. (۱٤۰۰). در م. ح. کاکر, *تلاش افغان‌ها برای صلح* (ص. ۱٦-۳۳ ). کابل: انتشارات امیری.

**۳۷.** وفایی‌زاده محمد قاسم, ح. ع. (۱۳۹۵). *بررسی گفتگوهاي صلح در افغانستان در چهار دهۀ گذشته*. کابل: انستیتوت مطالعات استرتیژیک افغانستان.

**۳۸.** وفاییزاده, م. (۱۳۹۳). *سیاست ورزی قومی و بنای صلح در افغانستان*. کابل: موسسه حقوق بشر و محو خشونت.

**۳۹.** یوری, د. ا. (۱۹۹۲). *گزارش وضعیت منازعات در جهان*. اتلانتا: شبکه مذاکرات بین المللی مرکز کارتر.

**٤۰.** یوناما. (۲۰۲۱). *تلفات افراد ملکی در شش ماه نخست سال ۲۰۲۱* . کابل: نمایندگی سازمان ملل متحد در افغانستان.

# ضمایم: د جرگو او سولې غوښتلو غونډو پریکړه لیکونه

## د سولې لپاره د ځوانانو د اړیکو ګروپ د پرانیست غونډې بیانیه

د جګړې ختمول او تلپاتې سولې او ثبات ته رسیدل د افغانانو د ټولو قشرونو هیله او ارمان ده. د افغانستان خلک په ځانګړې توګه ځوان نسل د جګړې له امله تر ټولو زیات زیانمن شوی دی. موږ د افغانستان نوی نسل او ځوانان، له سراسري سولې او حتی د هغې سولې، چې د یو انسان د وینې د تویېدنې مخنیوی وکړي ملاتړ کوو. موږ اندېښنه لرو، چې د سولې پروسه د جګړې د نوي پړاو پیل له خاته سره ونلري. د افغانستان نوی نسل او ځوانان د افغانستان د اسلامي جمهوریت د حاشیې او لرې کولو لپاره د شکمنو هڅو په اړه اندېښنه لري. همدارنګه نوي نسل او ځوانان د سولې په بهیر کې د اغېزمن ګډون نه شتون په اړه جدي اندېښمن دي.

### د افغانستان د نوي نسل او ځوانانو اندېښنې او د سولې لپاره د ځوانانو د اړیکو ګروپ د جوړولو څرنګوالی:

د افغان سولې بهیر ملي، سیمه ییز او نړیوال اړخونه پیدا کړي دي. په همدې موخه د افغانستان نوی نسل او ځوانان له طالبانو سره د امریکا د خبرو اترو ملاتړ کوي، خو دا مذاکرات هغه مهال د داد وړ او اغېزمن تمامیږي، چې افغان حکومت او نظام، چې د خلکو اصلي استازی دی، په مستقیم ډول ښکېل وي.

له بلې خوا د حکومت، د طالبانو اسلامي تحریک، د سیمې او نړۍ هېوادونه په ځانګړې توګه د امریکا متحده ایالات او همدارنګه بېلابېلې داخلي ډلې ښکېلې شوې دي. ولې د افغانستان نوی نسل او ځوانان د افغانستان اسلامي جمهوریت ګوښه کول، د ځوانانو حاشیې ته کول، د افغانستان په اوسني او راتلونکي سیاسي برخلیک کې اغېز لرونکو په توګه د نوي نسل او ځوانانو له پامه غورځول او د ځینو احتمالي منفي او سختو پایلو په اړه اندېښنه لري. د دغو اندېښنو د له منځه وړلو په موخه، د سولې په بهیر کې فعاله شتون او د سولې په پروسه کې له ښکېلو خواوو سره خبرې اترې او په دې بهیر کې د ځوانانو او نوي نسل رول پیاوړي کول؛ د سولې لپاره د ځوانانو د اړیکو ګروپ د نوي نسل د یو ګروپ فعالیتو او د یو شمېر ځوان محوره فعالو بنسټونو له لورې د یو مشخص ادرس په توګه، چې د سولې بهیر او مذاکراتو کې د افغانستان د ځوانانو او نوي نسل له حقونو څخه په ریښتنې توګه دفاع او استازیتوب وکړي جوړ شوی دی.

### د سولې لپاره د ځوانانو د اړیکو ګروپ اصلي موخه په لاندې ډول ده:

د افغانستان اسلامي جمهوریت د حکومت له مشرتابه او لوړ پوړو چارواکو، نړیوالې ټولنې او د طالبانو اسلامي تحریک له سیاسي دفتر سره د افغانستان د نوي نسل او ځوانانو (ښځو او نرو په ګډون) د ونډې او اغېزمن ګډون، دریځ او دفاع د پیاوړتیا په موخه د افغانستان په اوسنیو او راتلونکو مهمو ملي پرېکړو په ځانګړې توګه د سولې بهیر او د طالبانو اسلامي تحریک سره د سولې او خبرو اترو ملاتړ او په افغانستان کې د سراسري او تلپاتې سولې او ثبات د تامین لپاره د نوي نسل د همغږي پیاوړي کولو په اړه خبرې اترې.

### د سولې په بهیر کې د سولې لپاره د ځوانانو د اړیکو ګروپ غوښتنې:

۱. د اوربند ټینګول او بې له قید او شرطه د بین الافغاني خبرو ملاتړ.
۲. هیڅ اړخ باید پر بل اړخ د بریا په فکر کې ونه اوسي. موږ د افغانستان حکومت، طالبانو اسلامي تحریک، د امریکا متحده ایالاتو او د هغوی له متحدینو څخه غواړو، چې دا جګړه د خبرو او هوکړې له لارې پای ته ورسوي.
۳. په ملي کچه د سولې هوکړو ته د مشروعیت ورکولو لپاره د پراخ بنسټه لویې جرګې له لارې د ملت د ارادې تمثیل او همدارنګه په نړۍ واله کچه د سولې هوکړو د تضمین په موخه په یوه دوست او بې طرفه هېواد کې د نړۍ وال کنفرانس جوړول.

۴. د سولې په خبرو، سیاسي هوکړو او له سولې وروسته پروسو کې د یوه اغېزمن لوري په توګه د نوي نسل او خوانانو اغېزمن ګډون.

۵. د ډیموکراسۍ د پروسې ساتل او د سولې په خبرو اترو او هوکړو کې د ټاکنو له لارې سیاسي واک ترلاسه کول؛

٦. جمهوري نظام، د اساسي قانون ملاتړ او د پراخ بنسټه لویې جرګې، چې د افغانستان د خلکو د رایو او غوښتنو پر بنسټ وي تعدیل او یا د ټولپوښتنې ترسره کول.

۷. د افغانستان د اتباعو اساسي حقونو او وجایبو ساتنه.

۸. د سولې په خبرو او هوکړو کې د ښځو د بنسټیزو حقونو او آزادیو (د زده کړې، تحصیل، کار او په مدني، ټولنیزو، اقتصادي، کلتوري، نظامي او سیاسي برخو کې د فعاله ګډون حق) څخه ساتنه.

۹. د بیان، مطبوعاتو او رسنیو دازادۍ ساتنه او د قانون په چوکاټ کې معلوماتو ته لاسرسی.

۱۰. د افغانستان د امنیتي او دفاعي ځواکونو (ملي اردو، ملي پولیس او ملي امنیت) ساتل، پیاوړي او غیر سیاسي کول.

۱۱. د لویې جرګې د تائید او نوې هوکړې د تعریف پر بنسټ له هیواد څخه د بهرنیو ځواکونو با مسؤلیته وتل او د متحده ایالاتو، نړیوالې ټولنې او نړیوالو بنسټونو سره د همکارۍ او دوستانه او ستراتیژیکو اړیکو دوام.

۱۲. د دوارو خواوو د ملي ګټو پر بنسټ له اسلامي هېوادونو، د سیمې له هېوادونو، په تېره بیا له چین او روسیې او ګاونډیانو سره د دوستانه همکاریو ساتل، دوام، پلان او پراختیا.

۱۳. د سولې په بهیر، مذاکراتو او تر خبرو اترو وروسته سیاسي هوکړو کې د افغان میرمنو، نوي نسل او خوانانو د اغېزمن ګډون د ملاتړ په موخه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له لورې د پرېکړه لیک صادرېدل.

١٤. د هېواد لویو او برخه لیک ټاکونکو مسایلو کې د ملت رایو او غوښتنو ته مراجعه.

۱۵. د اوسنې حکومت د ماهیت او ډول په اړه د اختلاف په صورت کې، دریمې حل لارې ته تلل او د افغانانو د رایو او ارادې پر بنسټ د اساسي قانون تعدیل.

په پای کې د افغانستان د نوي نسل په استازیتوب خوانانو، مدني او سیاسي بنسټونو د سولې لپاره د خوانانو د اړیکو ګروپ په رسمي توګه اعلانوي او دوی مني، چې زموږ په اند د جګړې شدت او دوام په هېڅ صورت د حل لاره نه ده. دا ستره ستونزه باید د خبرو اترو او د افغانانو تر منځ د مذاکراتو، چې د افغانستان اسلامي جمهوري نظام ګوښه نشي او هېڅ لورې باید پر یو بل باندې د تسلیمې په فکر کې نشي، تر سره شي. زموږ له نظره د هر ډول تاوتریخوالي شدت، وینې تویېدنې او د وطن ورانې رد ده.

و من الله توفیق
د سولې لپاره د خوانانو د اړیکو ګروپ
د ۱۳۹۸ د زمري ۳۱/ ۲۰۱۹ د اګست ۲۲
کابل- افغانستان

## د ارزگان د سولې او خوانانو غونډه

د ارزگان ولایت خوانان او د نوي نسل اغیزناکه څېرو د روان ۱۳۹۸ لمریز کال د وږي میاشتي په ۲۱ نیټه، چي د ۲۰۱۹ زیږدیز کال د سپتمبر میاشتي ۱۲ سره برابره وه، د "سوله او خوانان " تر سرلیک لاندي غونډه وکړه او د ژر تر ژره اوربند او د بین الافغاني سولې خبرو پر پیلېدو یې ټینګار وکړ. په ارزگان ولایت کي خوانو فعالانو ټینګار وکړ، چي د هېواد د رواني ورانونکي جګړي اصلي قربانیان خلک په ځانګړي توګه د هېواد خوانان او نوی نسل دی. د ارزگان ولایت خوانانو په دې غونډه کي لاندې غوښتني وکړې:

۱- د هېواد په لویو ملي مسائلو، د سولې بهیر او بین الافغاني خبرو کي د خوانانو او نوي نسل د اغیزناکه ګډون غوښتونکي یو؛

۲- موږ د ټل پاتي سولې ټینګښت په موخه په افغانستان کي د بین الافغاني خبرو د پیلېدو غوښتونکي یو؛

۳- له طالبانو سره د سولې له خبرو، چي په هېواد کي جګړه پایته ورسوي؛ د افغانستان د ټولو خلکو غوښتنه ده او ملاتړ یې کوو؛

٤- موږ له با عزته او ټل پاتي سولې ملاتړ کوو، خو په هیڅ ډول د لنډمهاله سولې، چي د بلې جګړي لامل شي، پلوي نه یوو؛

٥- د سولې لپاره د سالم چاپیریال را منځته کولو په موخه د افغانستان ټول وګړي، په جګړه کي ښکیل اړخونه او نړیواله ټولنه باید په منظم ډول هڅه وکړي؛

٦- په جګړه کي ښکیل اړخونه باید پوه شي، چي جګړه د حل لار نه ده او د دې نا مشروع جګړي دوام د هیڅ ښکیل اړخ په ګټه نه ده.

په پای کي د دې ناستي ګډونوالو یو ځل بیا د اوربند، سولې او سترو ملي پریکړو کي د خوانانو په اغیزناکه ګډون ټینګار وکړ. دا ناسته د سولې لپاره د خوانانو د اړیکو ډلې د (ارزگان) ولایتي دفتر د رهبري پلاوي په تاکلو او د افغانستان خلکو ته د خیر او هوساینې په دعا کولو سره پایته ورسیده.

په درنښت
د سولې لپاره د خوانانو د اړیکو ګروپ رسنیز دفتر
د ۱۳۹۸ د وږي ۲۱ / د ۲۰۱۹ د سپتمبر ۱۲

## د زابل د سولې او خوانانو غونډه

د زابل یو شمېر خوانانو او د نوي نسل پېژندل شویو څېرو د ۱۳۹۸ لمریز کال د وږي میاشتې په ۲۹، چې د ۲۰۱۹ زېږدیز کال د سپتمبر میاشتې له ۲۰ سره برابره ده، د "سوله او خوانان" تر سرلیک لاندې په جوړه شوې غونډه کې ګډون وکړ او لاندې وړاندیزونه او غوښتنې یې کړې دي:

۱- زابل یو له هغه ولایتونو څخه دی، چې تل په کې جګړې او نا امنۍ شتون درلود او په ځانګړې توګه په وروستیو کلونو کې یې له دې امله زیاتې قربانۍ ورکړې دي. موږ د دې ولایت له ټولو مشرانو او مخورو، چې د غیر مسوولو وسله والو او یا هم د طالبانو په خوځښت کې فعالیت کوي او یا هم د حکومت یوه برخه ده، غواړو، څو د سولې ټینګښت او د سولې بین الافغاني خبرو پیل لپاره هڅه وکړي؛

۲- د زابل ولایت خلک په ځانګړې توګه د دې ولایت خوانان هره ورځ د جګړې او نا امنیو له امله قرباني ورکوي. دا د دې لامل شوی، چې زموږ خوانان او نوی نسل د زدکړو، ښوونې او روزنې له ډګر څخه لیرې پاتې شي؛

۳- امنیت زموږ د بنسټیزو او مهمو حقونو څخه دی. له همدې امله موږ د زابل ولایت له خلکو، هم له ښځو او نارینه وو او په ځانګړې ډول د هېواد له نوي نسل څخه غواړو، څو خپل غږ پورته کړي او په یوه غږ د جګړې پایته رسیدو او سولې د خبرو پیل غوښتونکي شي؛

٤- د زابل خلکو په دې تېل شوې جګړه کې له هر چا ډېره قرباني ورکړې ده. د خپلو کورنیو غړي یې له لاسه ورکړي. خپل ملکیتونه یې له لاسه ورکړي دي. له خپلو سیمو کډوال او خواره شوي دي. موږ د زابل خوانان له خپلو ټولو هېوادوالو غواړو، څو په دې برخه کې زموږ سره ګډ غږ اوچت کړي؛

۵- خوانان د افغانستان د وګړیو د ستري برخې په توګه د سولې په خبرو کې هیڅ ډول ونډه نه لري او یا هم ډېره کمه ده. موږ غواړو، چې خوانان د سولې په برخه کې فعالانه او اغېزناکه ګډون ولري، ځکه خوانانو په دې جګړه کې ډېره قرباني ورکړې او هیڅ بل اړخ نشي کولای، څو له خوانانو څخه استازیتوب وکړي او یا هم د هغوی له وضعیت څخه سم درک ولري؛

٦- د جګړې او نا امنیو په برخه کې زموږ د خوانانو اصلي مسوولیت دا دی، څو د افغانستان په کلیو او بانډیو کې د رواني جګړې اصلي انځور نړیوالو او ارګ میشتو ته ښکاره کړو. دا تېل شوې جګړه زموږ نه ده، خو قرباني موږ ورکوو؛ اور د بل دی، خو په کې موږ سوځېږو. قرباني او سربښندنې زموږ دي، خو ګټې د بل دي. هیڅوک موږ ته سوله نشي راوستلای، خو تر هغه مهاله، څو د افغانانو په محوریت د سوله غوښتونکي هڅې پیل نه شي؛

۷- د سولې ټینګښت او د سولې خبرو لپاره د خوانانو یوازینۍ آدرس سولې لپاره د خوانانو د اړیکو ګروپ دی. سولې لپاره د خوانانو د اړیکو ګروپ د افغانستان خوانانو په استازیتوب غوښتنه کوي، څو بیا ځلې نیابتي جګړې پر افغانانو و نه تېل شي او بیا ځلې قرباني نه شو.

په پای کې یو ځل بیا ټینګار کیږي، څو ورته غونډې او ناستې دوام وکړي او له ټولو عالمانو، مشرانو، استادانو، خوانانو، کسبه کارانو او د هېواد له نورو وګړیو څخه غواړو، څو خپل د سوله غوښتونکي غږونه اوچت کړي او په دې برخه کې خپل ایماني او وجداني مسوولیت ترسره کړي. د امریکا له متحده ایالتونو، دولتي چارواکیو او د

طالبانو له تحریک څخه غواړو، څو د سولې خبرې بیا خلې پیل او د بین الافغاني خبرو د پیل لپاره هڅه وکړي او د افغانستان د سولې په بهیر کې له اغیز لرونکیو هېوادونو غواړو، څو د افغانستان د سولې بهیر بشکېل اړخونه وهڅوي، څو بین الافغاني خبرې بیا خلې پیل کړي.

په درنښت
د سولې لپاره د خوانانو د اړیکو گروپ رسنیز دفتر
د ۱۳۹۸ د وږي ۲۹ / د ۲۰۱۹ د سپتمبر ۲۰

## د سولې او خوانانو د غونډې پریکړه لیک - لغمان ولایت پرېکړه لیک

موږ د لغمان ولایت یو شمېر دیني عالمان، خوانان، تولنیز، مدني او سیاسي فعالان او په دې ولایت کې د سولې لپاره د خوانانو د اړیکو ګروپ ملاتړي؛ د سولې د خبرو او مذاکراتو بیا خلې پیل او د لاندې مواردو غوښتونکي یوو:

۱. د لغمان ولایت خلک د نورو هېوادوالو په شان د جګړې او نا امنیو له امله زیات زیانونه ګاللي، چې د دې زیانونو ډېره برخه یې د جګړې په دواړو خواوو کې خوانان وو او دي؛ نو په دې توګه موږ خوانان او د دې ولایت اوسېدونکي د جګړې ښکیلو خواوو (د امریکا متحده ایالتونو، د افغانستان دولت او طالبانو تحریک) ترمنځ د جګړې پای او ژر تر ژره د اوربند غوښتنه کوو؛

۲. موږ د لغمان ولایت خوانان او خلک د امریکا متحده ایالتونو او طالبانو تحریک ترمنځ د سولې خبرو او مذاکراتو د بیا پیل غوښتنه کوو، چې په دې مذاکراتو کې د افغانستان دولت هر اړخیز پلاوی او نور اغېزناکه افغانان ګډون ولري او د تل پاتې سولې د ټینګښت لپاره د هر ډول ریښتینو هڅو څخه خپل ملاتړ اعلانوو؛

۳. موږ د لغمان ولایت خوانان د هېواد د نورو خوانانو او نوې نسل استازو ترڅنګ، د سولې په بهیر کې د خوانانو پر ګډون د سولې لپاره د خوانانو د اړیکو ګروپ له دریغ څخه ملاتړ کوو او د افغانستان دولت، نړیوالې ټولنې او د طالبانو تحریک څخه غواړو، تر څو خوانان د اغېزناکه ټولنیز قشر په توګه د سولې په مذاکراتو او خبرو کې مهم رول او د مخامخ څارنې ونډه ورکړل شي؛

٤. په لغمان ولایت کې زیات شمېر ملکي خلک او کورنې په جګړو کې زیاتې قرباني ورکړې دي، موږ د جګړې له ښکیلو خواوو (حکومت او طالبانو) غواړو، تر څو د خلکو له کورونو څخه د پټنځایونو په توګه ګټه وانخلي او د بې ګناه او ملکي خلکو د قرباني لامل نشي؛

۵. موږ د لغمان ولایت خوانان او خلک د هغه شپنیو عملیاتو، چې په پایله کې یې ملکي او بې ګناه خلک له منځه خي، خپل مخالفت اعلانوو او له چارواکیو، په خانګړې توګه له امنیتي بنسټونو څخه غواړو، څو په دې برخه کې جدي پاملرنه وکړي؛

٦. په لغمان ولایت کې د جګړې له امله، زیات شمېر بې ګناه خلکو او کورنیو خپل کورونه پرېښي او بې خایه شوي دي. موږ د خلکو او نورو مرستندویه بنسټونو څخه غواړو، تر څو بې خایه شویو کورنیو ته ژر تر ژره پاملرنه وکړي؛

۷. موږ د لغمان ولایت خوانان او خلک د جګړې د ښکیلو خواوو ( افغان دولت، د امریکا متحده ایالتونو او د طالبانو تحریک) ترمنځ د باور رامنځته کولو هر ډول اقدام څخه، چې په پایله کې یې په هېواد کې تل پاتې سوله رامنځته شي، ملاتړ اعلانوو.

درنښت

یو شمېر دیني عالمان، تولنیز، مدني او سیاسي فعالان او د سولې لپاره د خوانانو د اړیکو ګروپ ملاتړي

لغمان - افغانستان

د ۱۳۹۸ د لیندۍ ۱۵ / د ۲۰۱۹ د ډسمبر ۶

## سوله او خوانان غونډې پریکړه لیک - سرپل

موږ د سرپل ولایت یو شمېر خوانان، ښځې، مخور، دیني عالمان او د سولې لپاره د خوانانو د اړیکو گروپ غړي او ملاتړي د سوله او خوانان تر سرلیک لاندې د سولې غوښتلو غونډې په ترسره کولو سره، د سولې د خبرو او مذاکراتو د غوښتلو ترڅنگ د لاندې مواردو غوښتونکي یوو:

۱. موږ د سرپل ولایت خلک، له هر هغه گام څخه، چې په هېواد کې د تاوتریخوالي د کمېدو لامل شي، ملاتړ کوو او د ټل پاتې اوربند او سراسري سولې غوښتونکي یوو.

۲. بین الافغاني مذاکرات باید له هر ډول خنډ او شرط پرته پیل شي.

۳.موږ د سولې په خبرو او مذاکراتو کې د نوي نسل او خوانانو د استازو د گډون غوښتونکي یوو. لوړپوړي حکومتي چارواکي د افغانستان د نوي نسل له آدرسه نشي کولای، چې د سولې په خبرو کې زموږ (نوي نسل) استازیتوب وکړي.

۴. موږ د سرپل خلک محرومه یوو، که چیرې په هېواد کې سراسري سوله او ثبات ټینگ شي، موږ کولای شوو، څو د پوهې، مالداري، کرنې، او ... له لارې د افغانستان د هوساینې او په خان بسیاینې کې اغېزناکه رول ولرو.

په درنښت

دیني عالمان، خوانان، ښځې، مخور او د سولې لپاره د خوانانو د اړیکو گروپ ملاتړي

د ۱۳۹۸ د سلواغې ۲۹ / د ۲۰۲۰ د فبرورۍ ۱۸

## د سولې ترون؛ د نوي نسل اندیښنې او غوښتنې

د سولې لپاره د ځوانانو د اړیکو ګروپ د افغانستان د نوي نسل او ځوانانو د ټول ګډونه بهیر په توګه، د ځوانان محوره لسګونو بنسټونو، د افغانستان د نوي نسل او ځوانانو د استازو په همکارۍ، د ۱۳۹۸ ل.ل د زمري په ۳۱ مه جوړ او په افغانستان کې د تلپاتې او سراسري سولې د ټینګښت او د سولې خبرو اترو بهیر څخه یې د ملاتړ هڅه کړې او په پلازمېنه او ولایتونو کې یې له زرګونو ځوانانو سره مشورې کړې دي.
موږ یو شمېر ځوان محوره بنسټونه، د نوي نسل فعالینو او د سولې لپاره د ځوانانو د اړیکو ګروپ د سولې خبرو اترو، چې په افغانستان کې د تلپاتې سولې او جګړې د پای ته رسولو سبب کېږي هرکلی کوو؛ د سولې پروسې د ګړندي کولو لپاره، د لاندې کارونو د تحقق غوښتونکي یو:

۱. موږ د دې ترڅنګ، چې د طالبانو تحریک او د امریکا متحده ایالاتو ترمنځ د سولې هوکړې هرکلی کوو، موږ په بین الافغاني خبرو کې د دې هوکړې پر خینو برخو د جدي بحث او هوکړې غوښتونکي یو؛
۲. موږ د طالبانو تحریک څخه په کلکه غوښتنه کوو ترڅو د کرکې او ناغوښتل شوې جګړې ادبیاتو ته د پای ټکی کېږدي. په داسې جګړه کې، چې هره ورځ د افغانستان خلک شهیدان او ټپیان کېږي. هیڅ لوری د جګړې فاتح ندی. له همدې امله له طالبانو سره د امریکا د سولې له هوکړې وروسته د افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو پر وړاندې د طالبانو هر ډول پوځي عملیات نه بښوونکې جنایت دی؛
۳. موږ د دولت له رهبرۍ او پخپله له ولسمشر څخه غواړو ترڅو د حسن همکارۍ او د وروګلوۍ د روحیې د جوړولو لپاره له هغه ادبیاتو څخه ډډه وکړي، چې د سولې پروسې او مذاکراتو ته زیان رسوي؛
٤. د سمدستي اوربند او بین الافغاني مذاکراتو پیل: موږ له دفاعي او امنیتي ځواکونو او همدارنګه د طالبانو تحریک څخه جدي غوښتنه کوو، چې وروور وژنه بنده کړي او پرېږدي، چې بین الافغاني مذاکرات پیل او یوې مثبتې پایلې ته ورسیږي. په ورته وخت کې موږ له ښکېلو لورو (د افغانستان حکومت او د طالبانو تحریک ) څخه غواړو تر څو پر یو بل باندې هر ډول برید ودروي او د پخلاینې او تلپاتې سولې د تحقق فضا د رامنځته کولو لپاره کار وکړي؛
٥. په ملي کچه د سولې هوکړې ته د مشروعیت ورکولو لپاره د یوې پراخ بنسټه لویې جرګې رابلل او همدارنګه په نړۍ واله کچه په هېواد کې د سولې د تضمین او جګړې د پایته رسولو په موخه په یوه بې طرفه هېواد کې د نړۍ وال کنفرانس جوړول؛
٦. د اسلامي نظام او جمهوریت ساتنه، د اساسي قانون ملاتړ او د لویې جرګې له لورې د هغه تعدیل؛
۷. د بین الافغاني مذاکراتو لپاره د یوه ټول شموله پلاوي جوړول: موږ پر افغان حکومت غږ کوو، چې د افغانستان د ځوانانو او نوي نسل د استازو په اغېزمن ګډون د حکومت په دننه او بهر کې د سیاسي جریانونو او پېژندل شوو سیاسي څېرو د استازو په ګډون، چې ریښتیني استازیتوب وکړای شي، جوړ کړي. موږ د افغانستان پر حکومت، د طالبانو تحریک او د امریکا په مشرۍ پر نړیوالې ټولنې غږ کوو، چې نوي نسل ته د سولې مذاکراتو کې د اغېزمن ګډون ترڅنګ له دې مذاکراتو څخه د څارلو حق هم ورکړي. د یادونې وړ ده، چې جهادي تنظیمونه او ورسره تړلي کسان، ازمایل شوي تکنوکراتان او دولتي مامورین د سولې په پروسه کې زموږ (نوي نسل) استازي نه دي او له موږ څخه استازیتوب نه شي کولای؛
۸. د افغان وسله والو ځواکونو (ملي اردو، ملي پولیس او ملي امنیت) ساتل او ملاتړ کول او د یو ځانګړي میکانیزم له لارې د عمومي بې وسلې کولو لپاره د زمینې برابرول؛
۹. په مسوولانه توګه د بهرنیو ځواکونو وتلو څخه ملاتړ او همدارنګه د پراخ بنسټه لویې جرګې د پرېکړې سره سم د نوي تعریف پر بنسټ د امریکا متحده ایالاتو، نړیوالې ټولنې او نړیوالو بنسټونو سره د دوستانه او ستراتیژیکو اړیکو او همکاریو دوام؛

۱۰. موږ د افغانستان له ټولو دوستو او متحدو هیوادونو، چې په افغانستان کې د سولې لپاره هلې ځلې کوي، مننه کوو. د افغانستان خلک له ګاونډیو هېوادونو سره د متقابلو ګټو پر بنسټ د دوستانه اړیکو غوښتونکي دي، ولې د سولې په بهیر کې د غلطې لاسوهنې حق نه ورکوو. تېرو تجربو موږ افغانانو ته ثابته کړه ده، چې پاکستان په هیڅ صورت له موږ سره صادق نه دی او نه په افغانستان کې رښتیني سوله غواړي. له همدې امله موږ د پاکستان حکومت د بهرنی پالیسی له دستګاه څخه په کلکه غوښتنه کوو، چې زموږ په کورنیو چارو کې لاسوهنه ونه کړي؛

۱۱. د منطقي او سنجول شوي تدبیر پر بنسټ د طالبانو تحریک بندیانو خوشې کول: د طالب بندیانو خوشې کېدلو د افغانانو لپاره اندېښنې راولاړې کړې دي. له همدې امله موږ د افغانستان له حکومت او د امریکا متحدو ایالتونو څخه غواړو، چې د طالب بندیانو د خلاصون لپاره د باور او ښې همکارۍ د فضا د رامنځته کولو لپاره یو منطقي او سنجول شوی میکانیزم طرحه او عملي کړي، تر څو د دغو بندیانو خوشې کول په هیواد کې د جګړې د شدت او دوام سبب نشي او د پخلاینې او ورورولئ او سولییزې فضاء د جوړېدو سبب شي؛

۱۲. د ښځو د زده کړې، تحصیل، کار حق او په سیاسي، مدني، ټولنیزو، اقتصادي، او نظامي برخو کې د ښځو، ځوانانو او نوي نسل فعاله ګډون په موخه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له لورې د پرېکړه لیک صادرول.

درنښت

یو شمېر ځوان محوره بهیرونه او د سولې لپاره د ځوانانو د اړیکو ګروپ

مطبوعاتي ناسته – کابل -افغانستان

۱۳۹۸ د کب۱۳ سې شنبه/ ۲۰۲۰ د مارچ ۳

## د لوګر ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې پرېکړه لیک

موږ د لوګر ولایت یو شمېر ځوانان د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه کې، د ۱۳۹۹ لمریز کال د وږي میاشتې په ۶ نیټه د پنجشنبې په ورځ سره را جرګه شوي وو او د سولې په روان بهیر کې له افغان حکومت، د طالبانو تحریک او له نړیوالې ټولنې څخه د ځوانانو پر غوښتنو، د افغانستان د جګړې د پایته رسیدو پر څرنګوالي، په دې ولایت کې له جګړې څخه راتوکیدلو زیانونو او د سولې له بهیر څخه د ځوانانو څارنیز ګروپ رامنځته کیدلو په تړاو خبرې او سلا مشورې وکړې او لاندې پرېکړو ته ورسیدلو:

۱. موږ د لوګر ولایت اوسیدونکي له روانې جګړې څخه د نورو هېوادوالو په پرتله زیات زیانمن شوي یوو. موږ له اقتصادي، ښوونیز او کرنیزو ستونزو سره مخ شوي یوو. نو له همدې کبله د دې جګړې له لارې پر افغان حکومت، د طالبانو پر تحریک او په جګړه کې پر نورو ښکیلو خواوو غږ کوو، څو ژر تر ژره دې اوربند وکړي؛

۲. موږ د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې ګډونوال د افغانستان پر حکومت او د طالبانو پر تحریک غږ کوو، څو په خپلو دریځونو کې نرم والی راولي او د افغانانو ترمنځ د مخامخ خبرو د پیل پر وړاندې دې ټولې پلمې له منځه یوسي؛

۳. موږ په لوګر ولایت کې د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې غړي د افغانستان پر حکومت او د طالبانو پر تحریک غږ کوو، څو ژر تر ژره دې بین الافغاني خبرې پیل کړي او همدارنګه له نړیوالې ټولنې، د امریکا متحده ایالتونو، د اسلامي کنفرانس او ګاونډیو هېوادونو څخه غوښتنه کوو، څو د طالبانو پر تحریک او افغان حکومت د بین الافغاني خبرو د پیل کیدو لپاره فشار زیات کړي؛

۴.موږ د لوګر ولایت اوسیدونکي له افغان حکومت او د طالبانو تحریک څخه غواړو، څو ځوانانو ته د سولې په بهیر کې ځانګړې پاملرنه وکړي او هغوی ته د دې بهیر د څارنې حق ورکړي؛

۵. موږ د جرګې غړي د ټولو افغانانو په ځانګړي ډول د ښځو له بنسټیزو حقونو څخه ملاتړ او غوښتنه کوو، څو د سولې په بهیر کې ښځو او ځوانانو ته اغېزناکه رول ورکړل شي؛

۶. موږ د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې ګډونوال هڅه کوو، څو د لوګر ولایت د کلیو او بانډو په کچه ځایي څارنیزې ډلې رامنځته کړو، څو وکولای شي، چې د سولې له بهیر څخه څارنه وکړي؛

۷. موږ د جرګې ګډونوال پر افغان حکومت غږ کوو، څو ژر تر ژره دې د مشورتي سولې لویې جرګې پرېکړې پلې او ژر تر ژره دې پاتې ۴۰۰ طالب زندانیان خوشي کړي؛

۸. له افغان حکومت څخه غوښتنه کوو، څو د افغانستان د سولې بهیر ټولو افغانانو ته څرګند کړي او موږ ته په دې بهیر کې ابهام او ناڅرګندتیا په هیڅ ډول د منلو وړ نه ده؛

۹. موږ د جرګې ګډونوال د ټولو هغه اشخاصو، هېوادونو او د افغانستان د ګاونډیو هېوادونو له هڅو څخه، چې د هېواد د سولې بهیر کې له شخصي اهدافو پرته ترسره کوي؛ مننه او ملاتړ کوو، خو هیڅ فرد، هېواد او ګاونډي ته اجازه نه ورکوو، څو د افغانستان د سولې له بهیر څخه ناوړه ګټه واخلي.

د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه

د سولې لپاره د ځوانانو د اړیکو ګروپ

د ۱۳۹۹ د وږي ۶/ د ۲۰۲۰ د اګست ۲۷

لوګر – افغانستان

## د بدخشان ولایت د نوي نسل او خوانانو د سولې جرګې پریکړه لیک

موږ د بدخشان ولایت خوانان د بدخشان د نوي نسل او خوانانو د سولې په جرګه کې، چې د ۱۳۹۹ لمریز کال د وږي میاشتې په ۱۶ نیټه، چې د ۲۰۲۰ زیږدیز کال د سپتمبر میاشتې له ۶ سره سمون خوري، د سولې لپاره د خوانانو د اریکو ګروپ لخوا جوړه شوې وه، ګډون کړی او د سولې په بهیر کې د افغانستان حکومت، د طالبانو تحریک او نړیوالې ټولنې څخه د بدخشان ولایت خوانانو غوښتنې، په هیواد کې د جګړې پایته رسیدو پر څرنګوالي او په دې ولایت کې له جګړې څخه د را ټوکیدلو زیانونو په اړه خبرې او لاندې پریکړې وکړې:

۱. موږ خوانان د پراخ بنسټه او ټول شموله سولې غوښتونکي یوو، چې د اسلامي او انساني ارزښتونو پر بنسټ رامنځته شي؛

۲. موږ د سولې په بهیر کې د خوانانو د اغیزناکه ګډون غوښتنه کوو؛

۳. موږ د اساسي قانون د ساتنې، د سولې په بهیر کې د بیلابیلو قومونو د ګډون، د ۱۹ کالو د لاسته راوړنو ساتنه، عدالت، یوشانوالي او د سولې په بهیر کې د مختلفو قومونو د ګډون غوښتنه کوو؛

۴. موږ د افغانستان له حکومت څخه غواړو، څو سولې ته لومړیتوب ورکړي؛

۵. موږ د افغانستان له سیاستوالو غواړو، څو له طالبانو سره له خبرو وړاندې په خپل منځ کې اجماع او سوله وکړي او هوکړې ته ورسیږي؛

۶. موږ غواړو، چې بین الافغاني مذاکرات د رسنیو پر وړاندې په څرګند ډول تر سره شي او د افغانستان خلک له دې بهیر څخه معلومات ولري؛

۷. موږ د افغانستان اسلامي جمهوریت څخه غواړو، څو د دولت مرکچي پلاوي په مشرتابه کې اغیزناکه، وړ او مدبر کسان وټاکي؛

۸. موږ د طالبانو پر تحریک غږ کوو، څو د ولسواکۍ او نویو اصولو ته درناوی وکړي او د خبرو پر مهال د هغوی لخوا د اورکم د پلي کولو غوښتنه کوو؛

۹. موږ د طالبانو تحریک څخه غواړو، څو د سولې بهیر ته ژمن پاتې شي او د دې بهیر پر وړاندې د خنډونو له رامنځته کولو څخه ډډه وکړي؛

۱۰. موږ د جګړې له ښکیلو لوریو څخه د دوه اړخیز اوربند غوښتنه کوو؛

۱۱. موږ د خبرو پر مهال د حکومت او طالبانو څخه غواړو، څو له نرمښت څخه کار واخلي او د خبرو اړوند خپل حسن نیت خلکو ته څرګند کړي؛

۱۲. موږ له نړیوالې ټولنې، د سیمې او ګاونډیو هیوادونو څخه غواړو، څو په افغانستان کې خپلې نیابتي او استخباراتي جګړو ته د پای ټکی کیږدي؛

۱۳. موږ له اسلامي هېوادونو څخه غواړو، څو د افغانستان د سولې بهیر او جګړه کې له دین څخه د تاوتریخوالي له تفسیرولو څخه ډډه وکړي او له موږ سره سولې ته د رسیدو په برخه کې همکاري وکړي؛

۱۴. موږ له نړیوالې ټولنې څخه غواړو، څو د افغانستان د سولې له بهیر څخه په جدي او کره ډول څارنه وکړي؛

۱۵. موږ د نړۍ له ټولو هېوادونو څخه غواړو، چې ټولو هغو کسانو ته پناه ځایونه ور نه کړي، کوم چې په افغانستان کې جنګي جنایتونه او د بشریت ضد جنایتونه ترسره کړي وي؛

۱۶. موږ د مذاکره کوونکو څخه هیله کوو، چې د خبرو پر مهال اغېزناکې څېرې، سیاسي ګوندونه، او ټولنېزې ډلې له پامه و نه غورځوي؛

۱۷. په بدخشان ولایت کې جګړه د دې لامل شوې، چې انجونې له زده کړو بې برخې، په زوره واده شي، کرکیله له منځه تللې او د دې ولایت اقتصاد پرمختګ نه دی کړی.

۱۸. په بدخشان ولایت کې جګړه د دې لامل شوی، چې طبعیي زیرمې په غیر قانوني توګه لوټ او وویستل شي.

۱۹. جګړې په بدخشان ولایت کې د خلکو څخه روغتیایي امکانات او هوساینه اخیستې ده.

۲۰. موږ د سولې په خبرو کې د ځوانانو د اغیزناکه رول غوښتنه کوو او له ځوانانو څخه غواړو، څو له دې بهیر څخه په جدي ډول څارنه وکړي.

درنښت

د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه

۱۳۹۹ لمریز کال د وږي میاشتې ۱۶ / د ۲۰۲۰ کال سپتمبر ۶

## د باميان ولايت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې پرېکړه‌ليک

د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه د ۱۳۹۹ لمريز کال د وري په ۲۵، چې د ۲۰۲۰ زېږديز کال د سپتمبر له ۱۵ سره برابره ده، د باميان ولايت د سلګونو ځوانانو په ګډون جوړه شوه. دا جرګه د سولې لپاره د ځوانانو د اړيکو ګروپ لخوا جوړه شوې وه، چې په کې د دې ولايت له ۸ اداري واحدونو څخه د نوي نسل او ځوانانو استازو ګډون کړی وو او د افغانستان له حکومت، د طالبانو تحريک او نړيوالې ټولنې په ځانګړې توګه د امريکا متحده ايالتونو څخه يې خپلې غوښتنې او پرېکړې په لاندې ډول بيان کړې.

۱ .موږ د جګړې له ښکېلو خواو څخه د ژر تر ژره اوربند غوښتنه کوو؛

۲ .موږ په افغانستان کې د وروستيو شلو کلونو لاسته راوړنو، د خلکو رايو پر بنسټ او د جمهوريت نظام ساتنه، په اساسي قانون کې د وګړيو د بنسټيزو حقونو او د ديني قوانينو د اعتدال، د لږکيو، د محرومو وګړيو او د ښځو حقونو د ساتنې غوښتونکي يو؛

۳ .موږ د سولې په بهير کې د ځوانان د اغېزناکه ګډون غوښتونکي يو؛

۴ .موږ د جګړې له ښکېلو خواو څخه غواړو، ځو ملي ګټو ته لومړيتوب ورکړي او د ترلاسه شوي فرصت څخه د دوامداره او با عزته سولې لپاره ګټه واخلي؛

۵ .موږ د جګړې له ښکېلو اړخونو څخه غواړو، چې د خبرو پر مهال ملي ګټې په پام کې ونيسي، پر يو بل د برياليتوب هڅه دې نه کوي او دواړه لورې دې په خبرو کې نرمښت څرګند کړي؛

۶ .موږ د طالبانو تحريک، د افغانستان حکومت او سياستوالو څخه غواړو، چې د سولې په بهير کې رښتيني و اوسي او په خپلواک ډول او د بهرنيو له فشار پرته دې عمل وکړي؛

۷ .موږ له ګاونډيو او د سولې په بهير کې له ښکېلو هېوادنو څخه غواړو، چې له فشار اچولو او لاسوهنې څخه ډډه وکړي او افغانان پرېږدي، چې خپل راتلونکی په خپله وټاکي؛

۸ .موږ له خپلو نړيوالو ملګرو څخه غواړو، چې له افغانستان سره دې خپلو مرستو ته دوام ورکړي او نه دې پرېږدي، چې په افغانستان کې نوې ترهګريزې ډلې رامنځته شي؛

۹ .موږ د امريکا له متحده اياالتونو او نورو نړيوالو او سيمه ايزو ملګرو څخه غواړو، چې پايلې ته د بين الافغاني خبرو رسېدو پورې د بېلابېلو برخو په ځانګړې ډول د پوځي او امنيتي ځواکونو ملاتړ په برخه کې خپلو مرستو ته دوام ورکړي او د افغانستان خلک دې يوازې نه پرېږدي؛

۱۰ .موږ د افغانستان له نوي نسل او ځوانانو څخه غواړو ځو په هېواد کې د سولې د ټينګښت په برخه کې خپل رول ترسره او د سولې بهير څخه ملاتړ او څارنه وکړي.

۱۱ .موږ د طالبانو تحريک او د افغانستان حکومت څخه غواړو، ځو د کابل ـ باميان لويې لارې امنيت ته جدي پاملرنه وکړي او په لارو کې د عامو خلکو د تلاشي کولو او زورونې مخنيوی وکړي؛

۱۲ .موږ له مرکزي حکومت څخه غواړو، څو د مالي سرچینو د ځانګړي کولو په برخه کې دې د متوازني پراختیا اصل په پام کې ونیسي او ځوانانو ته دې د کارموندني په برخه کې اړین ګامونه اوچت او د کډوالی او نورو هغه لاملونو، چې د جګړي د زیاتیدو لامل کیږي، مخنیوی وکړي؛

۱۳ .موږ د جګړي له ښکیلو اړخونو او نړیوالي ټولني څخه غواړو، څو د سولي په بهیر کې د باور جوړوني او رونوالي په موخه، ملي او بې پري بنسټونو، رسنی، مدني ټولنو او د بشري حقونو بنسټونو ته د سولي له بهیر څخه د څارني زمینه برابره کړي .

په درنښت
د بامیان ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولي جرګه
۱۳۹۹ لمریز کال د وږي ۲۵ / د ۲۰۲۰ کال د سپتمبر ۱۵

## د نوي نسل او خوانانو د سولې جرګې پریکړه لیک ـ سمنګان

د سمنګان ولایت د نوي نسل او خوانانو د سولې جرګه د ۱۳۹۹ لمریز کال د تلې په ۳ نېټه د دې ولایت د سلګونو خوانانو په ګډون جوړه شوه. دا جرګه د سولې لپاره د خوانانو د اړیکو ګروپ لخوا جوړه شوې وه، چې پدې جرګه کې د سمنګان ولایت د ۷ اداري واحدونو څخه د نوي نسل او خوانانو استازو ګډون درلود او خپلې غوښتنې او پرېکړې يې د افغانستان حکومت، د طالبانو تحریک او له نړیوالې ټولنې په ځانګړې توګه د امریکا متحده ایالتونو څخه په لاندې ډول بیان کړې:

۱. موږ د دواړو مذاکره‌کوونکو ټیمونو څخه غواړو، چې خوانان له سولې وروسته په راتلونکي حکومت کې بنسټیز رول ولري؛

۲. د جګړې پایته رسیدل او دایمي اوربند زموږ له مهمو غوښتنو څخه دي؛

۳. په نرمښت د مرکچي پلاوو ترمنځ د خبرو ترسره کېدل او د کرکې او زورزیاتي د ادبیاتو نه کارول؛

۴. د سولې خپل منځي خبرو د ترسره کوونکیو لخوا ټولو مذهبونو ته درناوی؛

۵. د افغانانو د خپل منځي خبرو پایلې ته رسیدو لپاره د نړیوالې ټولنې د فشار راوړل؛

۶. د طالبانو تحریک پر پوخې ملاتړ کوونکیو هېوادونو د نړیوالې ټولنې د فشار راوړل؛

۷. د وروستیو ۱۹ کلونو د لاسته راوړنو ساتنې ته د مذاکره کوونکو لخوا ژمنتوب؛

۸. موږ د دواړو خواوو له مرکچیانو څخه غواړو، چې د سولې بهیر کې ترلاسه شوی فرصت د بله ایږو او شخصي ګټو قرباني نه کړي؛

۹. موږ له خوانانو څخه غواړو، چې د سولې په بهیر کې مرسته وکړي؛

۱۰. موږ له حکومت څخه غواړو، چې د سولې بهیر تر پای ته رسیدو پورې د ناوتریخوالي کمولو په موخه امنیتي خواکونه پیاوړي او ملاتړ ترې وکړي.

۱۱. موږ له ګاونډیو هېوادونو څخه غواړو، چې د افغانستان خلکو سره د سولې په بهیر کې مرسته وکړي او د سولې په بهیر کې له لاسوهنو څخه ډډه وکړي؛

۱۲. موږ له دواړو خواو څخه غواړو، چې د شخصي او فردي ګټو په پرتله د هېواد ملي ګټې غوره کړي؛

۱۳. موږ د طالبانو تحریک څخه غواړو، چې سولې ته رسیدو لپاره خپل حسن نیت، په عمل کې وښيي.

۱۴. امریکا متحده ایالاتونه باید د سولې په بهیر کې حسن نیت ولري، د سولې په بهیر کې ریښتني عمل وکړي او د سولې په بهیر کې د افغانستان د خلکو ګټې په پام کې ونیسي؛

۱۵. موږ له دوارو مرکچي پلاوو څخه غواړو، چې د سولې په خبرو کې له خپلو دریځونو څخه تېر شي او د خان غوښتني او پر یو بل د خپلو دریځونو منلو او تحمیل څخه ډډه وکړي؛

۱۶. موږ له نړیوالې ټولنې څخه غواړو، چې د سولې خبرو څخه د څارنې په موخه د متخصصو، تجربه لرونکو، د باسواده خوانانو، ښځو او د ټولنې زیانمنو کسانو څخه د یوه گډ کمیسیون له جوړېدو ملاتړ وکړي؛

۱۷. موږ داسې سوله غواړو، چې اسلامي، فرهنگي، ملي او انساني ارزښتونه له لاسه ورنکړو؛

۱۸. موږ له افغان حکومت څخه غواړو، چې د کابل ـ سمنگان د لویې لارې د امنیت ټینگښت ته جدي پاملرنه وکړي. په همدې حال کې د طالبانو تحریک څخه غواړو، چې د خپل واک په سیمو کې له ویرې پرته د خلکو تگ راتگ ته زمینه برابره کړي.

درنښت

د سمنگان ولایت د نوي نسل او خوانانو د سولې جرگه

۱۳۹۹کال د تلې ۳ / د ۲۰۲۰ کال د سپتمبر ۲۴

## د بلخ ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې پریکړه لیک

د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه د ۱۳۹۹ لمریز کال د تلې میاشتې په ۹ نیټه، چې د ۲۰۲۰ زیږدیز کال د سپټمبر میاشتې له ۳۰ سره برابره ده، په بلخ ولایت کې د سلګونو ځوانانو په ګډون جوړه شوه. دا جرګه د سولې لپاره د ځوانانو د اړیکو ګروپ لخوا جوړه شوې وه، چې په کې د دې ولایت د ۱۵ اداري واحدونو د نوي نسل او ځوانانو استازو ګډون کړی وو او خپلې پریکړې او غوښتنې یې د افغانستان له حکومت، د طالبانو له تحریک او نړیوالې ټولنې په ځانګړې ډول د امریکا متحده ایالتونو څخه په لاندې ډول کړې:

۱.موږ د سولې په بهیر کې د ځوانانو د ریښتینو استازو د ګډون غوښتونکي یو؛

۲.موږ د سولې بهیر کې د ښکیلو خواوو څخه د ملي ګټو، اسلامي او انساني ارزښتونو په رڼا کې د وروستیو دوه لسیزو لاسته راوړنو د ساتلو غوښتونکي یو؛

۳.موږ د سراسري، ټل پاتې او با عزته سولې غوښتونکي یوو، چې په کې د اسلامي او انساني ارزښتونو ساتنه او د وګړیو، د ښځو حقونه، قومي، مذهبي توپیرونه او د لږکیو حقونه رعایت شي؛

٤.موږ له ښکیلو اړخونو؛ له افغان حکومت او د طالبانو له تحریک څخه غواړو، څو د سولې په خبرو کې له خانه نرمښت وښیي او ټولیز هوکړې ته د رسیدو لپاره په ریښتیني ډول هڅه وکړي؛

٥.موږ د طالبانو له تحریک څخه غواړو، څو د وګړیو حقونو او مذهبي او قومي توپیرونو ته درناوی وکړي او خپل فردي او بله ایزې غوښتنې پر نورو و نه تپي؛

٦.موږ د طالبانو له تحریک څخه غواړو، څو د افغانستان خلکو د دوه وروستیو لسیزو لاسته راوړنو ته درناوی وکړي او د سولې په خبرو کې خپل نیک نیت څرګند کړي؛

۷.موږ له ښکیلو خواوو څخه غواړو، څو پراخ بنسټه، ګډ او سراسري حکومت د جوړولو لپاره، چې په کې د افغانستان د خلکو مادي او معنوي ارزښتونه خوندي وي، هڅه وکړي؛

۸.موږ د جګړې له ښکیلو خواوو څخه غواړو، څو د اسلام مبارک دین او عام وګړیو څخه د سولې په خبرو کې ناوړه ګټه وا نخلي؛

۹.موږ د طالبانو له تحریک څخه غواړو، څو خپل مرکچي پلاوي ټول شموله جوړ کړي، چې په کې ښځې او ځوانان په فعال او اغیزناکه ډول ګډون ولري؛

۱۰.موږ له نړیوالې ټولنې او د افغانستان د سولې په بهیر کې له ښکیلو هېوادونو په ځانګړې ډول د امریکا له متحده ایالتونو څخه غواړو، څو د سولې بهیر اجرایي تضمین ورکړي؛

۱۱.موږ له خپلو نړیوالو همکارانو څخه غواړو، څو د افغانانو د خپل منځي خبرو پایلې ته رسیدو لپاره، د جګړې پر ښکیلو خواوو ډیپلوماتیک فشار وارد کړي؛

۱۲.موږ د امریکا له متحده ایالتونو او نړیوالو همکارانو څخه غواړو، څو په افغانستان کې قراردادي د سولې هوکړه و نه کړي او ټل پاتې سولې ته د رسیدو لپاره د افغانستان له خلکو سره مرسته وکړي؛

۱۳. موږ له خپلو نړیوالو همکارانو څخه غواړو، څو د جګړې د قربانیانو کورنیو څخه ملاتړ او ښوونیزې مرستې وکړي؛

۱٤. موږ له ګاونډیو هېوادونو څخه غواړو، څو زموږ په کورنیو چارو کې لاسوهنه و نه کړي او پرېږدي، چې افغانان په خپلواک ډول تل پاتې هوکړې ته ورسیږي؛

۱۵. موږ له اسلامي او خپلو ګاونډیو هېوادونو څخه غواړو، څو هغه هوکړې ته درناوی وکړي، چې د افغانانو خپل منځي خبرو کې ترلاسه کیږي او له سیاسي او استخباراتي لاسوهنو څخه ډډه وکړي؛

۱٦. د افغانستان د نوي نسل د همپالني او همغږۍ په موخه د خوانانو د سولې مشورتي جرګو جوړول؛

۱۷. موږ د سولې خبرو څخه د څارنې په موخه د خوانانو د استازو د خپلواک او څانګړي کمیسیون جوړول غواړو؛

۱۸. د سولې نه شتون له امله د افغانستان خلک په ځانګړي ډول د بلخ ولایت خلک د ګڼ شمېر ستونزو لکه: نا امني، وزګاري، نفاق ته لمن وهل، قومي تعصب ته لمن وهل، د غیر مسؤلو وسله والو زیانوالی، په رڼا ورځ کې غلاوې، د ښوونیزو او عام المنفعه ځایونو ورانول، د ملکي او پوځي مرګ ژوبلې زیانوالی، د عشر او زکات په نوم له خلکو څخه باج اخیستل، د لویو لارو نا امني، له زدکړو څخه د خوانانو بې برخه کېدل او ویرې سره مخ دي، چې روحي او رواني ناروغیو د رامنځته کیدو لامل شوی.

۱۹. د افغانانو خپل منځي خبرو څخه د افغانستان خلکو خبرولو په موخه، په بې ساري ډول د رسنیو ګډون.

په درنښت

د بلخ ولایت د نوي نسل او خوانانو جرګه

د۱۳۹۹ د تلې ۹ / د ۲۰۲۰ زیږدیز کال د سپتمبر ۳۰






## د غور ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې پرېکړه لیک

قال الله الحکیم: انما المومنون اخوت فاصلحوا بین اخویکم واتقوا الله لعلکم ترحمون. (حجرات، آیه: ۱۰)

سوله او پخلاینه د اسلام له مهمو اصولو او ارزښتونو څخه ده او هم د انسان فطري او اساسي اړتیا ده، چې بې له شکه د سوله ییز ژوند بنسټ او د بشري ټولنې د سوکالۍ او پرمختګ راز ده.
افغانستان هغه هیواد دی، چې کلونه د جګړو، ناوتریخوالو او ناامنیو ډګر دی، چې له دې ملت او خلکو څخه یې د هوسا ژوند او سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او ټولنیز پرمختګ ټول فرصتونه اخیستي دي. د روانو کورنیو او تپل شویو جګړو په لړ کې ډېرو خلکو قرباني ورکړي او له خان سره یې زیاتې وېجاړې درلودې.
له څو کلنو جګړو، ناوتریخوالي او ناامنیو وروسته په ملي او نړیواله کچه د افغانستان په سوله او جګړه کې د ښکېلو قوتونو په منځګړیتوب د جګړې د دواړو لورو (طالبانو) او د افغانستان اسلامي جمهوریت د حکومت تر منځ د سولې د خبرو دروازه پرانیستل شوې، چې دا د هیواد په معاصر سیاسي تاریخ کې طلایي فرصت ګڼل کېږي.
موږ د غور ولایت ځوانان د سولې د خبرو اترو له بهیر څخه هرکلی او ملاتړ کوو او د سولې د خبرو له دواړو لورو له استازو څخه غواړو، چې د اسلامي لارښوونو او ارزښتونو او د ملت او هېواد د خیر او ښېګڼې په نظر کې نیولو سره په پوره صبر، زغم او مثبت فکر سره یې پر مخ یوسي او له شخصي او تفرقې ډکو غوښتنو او نظریاتو څخه ډډه وکړي او د افغانستان د خلکو لپاره تلپاتې سولې او ارمې ته د رسېدو لپاره وړ او مناسب حل لاره ولټوي او یوې وروستۍ هوکړې ته پرې ورسېږي.
موږ د غور ولایت ځوانانو د غور ولایت د "نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه" تر نامه لاندې، چې د سولې لپاره د ځوانانو د اړیکو ګروې له خوا د ۱۳۹۹ کال د تلې په ۱۷ نېټه جوړه شوې وه، د غور ولایت د خلکو د غوښتنو په توګه یې لاندې موارد تصویب او د افغانستان په جګړه او سوله کې ښکېلو هیوادونو، ملي او نړیوالو بنسټونو او د خبرو اترو لورو ته د یو پرېکړه لیک په توګه وړاندې کوو:

۱- د اسلامي ارزښتونو پر بنسټ د یو داسې نظام ملاتړ او ساتنه، چې په هغه کې د دې خاورې د ټولو اتباعو حقونه پوره او تضمین شوي وي؛
۲- د افغانانو د باور د ترلاسه کولو او د سولې د خبرو اترو د بهیر د اسانه کولو لپاره، موږ د سمدستي او دایمي ټولیز/ کلي اوربند او د وینې تویدنې د سمدستي بندیدو غوښتنه کوو؛

۳- د سیاسي جوړښت، نظامي ځواکونو، د ښوونې او روزنې سیستم، د بیان او مطبوعاتو ازادۍ او د ښځو حقونو، د لاسته راوړنو ساتنه؛
٤- د افغانستان د اتباعو د ټولو مدني، سیاسي، ټولنیزو او کلتوري حقونو په پام کې نیول، په ځانګړې توګه د ژبنې، قومي، دیني او مذهبي لړکیو؛
۵- د اسلامي شریعت او د هېواد د نافذه قوانینو ته په پاملرنې سره د ښځو او ماشومانو د حقونو او حیثیت ساتنه؛
٦- موږ له طالبانو غواړو، چې له دې نیتې وروسته له ټولو ترهګرو ډلو سره اړیکې پرې کړي او د افغانستان د خلکو د ملي ګټو پربنسټ د سولې په بهیر کې برخه واخلي؛

۷- موږ پر نړیوالې ټولنې، د امریکا متحدو ایالتونو، اسلامي هېوادونو، ګاونډیانو او د افغانستان په جګړه او سوله کې ښکېلو نورو هېوادونو غږ کوو، چې د سولې د خبرو په بهیر کې له افغانستان سره صادقانه او بې طرفه همکاري او مرسته وکړي؛

۸- موږ له نړیوالې ټولنې او د امریکا متحدو ایالتونو څخه غواړو، چې د افغان حکومت او طالبانو تر منځ د سولې پروسې له تحقق وروسته افغانستان یوازې پرې نه ږدي او خپلو سیاسي او مالي مرستو ته دوام ورکړي؛

۹- په غور ولایت کې د ټولنیز وضعیت ګډوډي، فقر او وزګارتیا، زده کړو ته نه لاس رسی، کډوالي، د ټولنیزو بنسټونو ویجاړول، داخلي شخړې (ذات البیني منازعات) د وسله والو جګړو له مهمو ستونزو څخه دي؛

۱۰-موږ د خبرو پر دوارو غاړو غږ کوو، چې د افغانستان خلک د خبرو له پرمختګ او د خبرو له نتیجو څخه په دوامداره او سمدستي توګه خبر کړي.

دغه پریکړه لیک د جرګې د ټولو غړو له خوا په یوه سریزه او ۱۰ مادو کې تر لوستلو وروسته تصویب شو.

د غور ولایت د نوي نسل او خوانانو د سولې جرګه
د ۱۳۹۹ د تلې ۱۷ / د ۲۰۲۰ د اکتوبر ۸

**د پکتیا ولایت د نوي نسل او خوانانو د سولې جرگې پریکړه لیک**

د نوي نسل او خوانانو د سولې جرگه د ۱۳۹۹ لمریز کال د تلې ۲۳، چې د ۲۰۲۰ زیږدیز کال د اکتوبر میاشتې له ۱۴ سره برابره ده، د پکتیا ولایت د سلگونو خوانانو په گډون جوړه شوه. دا جرگه د سولې لپاره د خوانانو د اړیکو گروپ لخوا جوړه شوې وه، چې په کې د دې ولایت له ۱۵ اداري واحدونو څخه د نوي نسل او خوانانو استازو گډون کړی وو او د افغانستان له حکومت، د طالبانو له تحریک او نړیوالې ټولنې په ځانگړې ډول د امریکا متحده ایالتونو څخه یې خپلې غوښتنې او پریکړې په لاندې ډول بیان کړې:

۱. افغان خوانانو ته دې په مذاکراتي ډله کې گډون ورکړل شي او د خوانانو تیرو شل کلنو لاسته راوړنې دې قرباني نه کړي؛

۲. اسلامي شریعت باید له نظره و نه غورځول شي او د سولې هوکړه لیک دې د اسلامي اصولو په رڼا کې ترسره شي؛

۳. د سولې بهیر دې همه شموله وي؛

۴. د افغانستان حکومت او طالبان دې په خپلو دریځونو کې نرمښت او انعطاف څرگند کړي او یو بل ته دې د ورور په سترگه وگوري؛

۵. د افغانستان له حکومت څخه غواړو، څو د سولې بهیر کې شهیدانو او د جگړې قربانیانو کورنیو ته دې ونډه ورکړي؛

۶. افغان حکومت دې د هغه کسانو مخه ډب کړي، چې د سولې په بهیر کې شخصي گټو ته ارجحیت ورکوي؛

۷. د جمهوریت پر نظام دې معامله ونشي او ټل پاتې اوربند دې وشي؛

۸. افغان خوانان دې په خپلواک ډول له طالبانو سره مخامخ خبرې وکړي او د طالبانو له تحریک، افغان حکومت او نړیوالې ټولنې څخه غواړو، څو له طالبانو سره د افغان خوانانو د مخامخ خبرو ترسره کولو لپاره زمینه مساعده کړي؛

۹. د سولې بهیر دې له طالبانو سره په ریښتیني ډول پر مخ بوړل شي او ملي گټې دې له پامه و نه غورځول شي؛

۱۱. له طالبانو غواړو، څو ژر تر ژره اوربند وکړي او د جگړې له دوارو ښکیلو خواوو غوښتنه کوو، څو د افغانانو له وژلو، چې د هېواد دښمنان ورڅخه گټه اخلي؛ لاس واخلي.

۱۲. د طالبانو له تحریک څخه غواړو، څو د اسلام له نظره د ښځو حقونه دې د سولې مذاکراتو پر مهال په پام کې ونیسي او اجازه ورکړي، څو هغوی تعلیم او کار وکړي؛

۱۳. د طالبانو له تحریک څخه غواړو، څو د افغانستان ملي شتمنۍ «ښوونیز مرکزونه او ټول گټې پروژې» خرابې نکړي او اجازه ورکړي، څو ټول گټې پروژې بشپړې شي؛





۱۴. له افغان حکومت او طالبانو له تحریک څخه غواړو، څو په ګډه د ملکي وګړیو او افغانانو د وژني او زوروني مخنیوی وکړي؛

۱۵. له طالبانو څخه غواړو، څو د پردیو او ګاونډیو هیوادونو تر فشار لاندې را نشي او خپلې اړیکي دې له ټولو ترهګریزو ډلو سره پرې او په خپلواک ډول دې پریکړې وکړي؛

۱۶. د امریکا متحده ایالتونو، اسلامي هیوادونو او ګاونډیو هیوادونو څخه غواړو، څو د افغانستان د سولې په بهیر کې ریښتیني و اوسي او دا بهیر دې بریالیتوب ته ورسوي او همدارنګه له دوی څخه غواړو، څو خپلو مرستو ته دوام ورکړي؛

۱۷. له نړیوالي ټولني څخه غواړو، څو له هر ډول ګټو پرته دې د افغانستان د سولې له بهیر څخه ملاتړ وکړي او پر افغان حکومت او طالبانو دې فشار راوړوي، څو دا بهیر بریالی شي؛

۱۸. د امریکا متحده ایالتونو څخه غواړو، څو د هر ډول بهرنیو لاسوهنو څخه، چې د افغانستان سولې بهیر له خنډ سره مخ کوي، مخنیوی وکړي؛

۱۹. د سولې په بهیر کې دې ځوانان بیلابیل پروګرامونه په لاره واچوي، او په طالبانو او حکومت دې فشار واچول شي، څو مذاکرات بریالي شي؛

۲۰. نړیواله ټولنه، اسلامي او ګاونډي هیوادونه دې د سولې هوکړې د پلي کولو تضمین وکړي؛

۲۱. پکتیا ولایت د جګړو له امله خپل شوی او د دې ولایت ټولو وګړیو ژوند له ګواښ سره مخ او بیلابیلو اقتصادي، ښوونیزو، کرنیزو او پراختیایي برخو کې زیان لیدلی دی.

۲۲. د افغانستان په کچه د ملي اجماع رامنځته شي، څو د سولې له بهیر څخه څارنه وکړي.

و من الله توفیق
د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه
پکتیا – افغانستان
د ۱۳۹۹ لمریز کال د تلې ۲۳ / د ۲۰۲۰ زیږدیز کال د اکتوبر ۱۴

## د کونړ ولایت د نوي نسل او خوانانو د سولې جرګې پریکړه لیک

د نوي نسل او خوانانو د سولې جرګه د ۱۳۹۹ لمریز کال د تلې په ۲۳، چې د ۲۰۲۰ زیږدیز کال د اکتوبر له ۱۴ سره برابره ده، د کونړ ولایت د سلګونو خوانانو په ګډون جوړه شوه. دا جرګه د سولې لپاره د خوانانو د اړیکو ګروپ لخوا جوړه شوې وه، چې په کې د دې ولایت له ۱۵ اداري واحدونو څخه د نوي نسل او خوانانو استازو ګډون کړی وو او د افغانستان حکومت، د طالبانو تحریک او نړیوالې ټولنې په ځانګړې ډول د امریکا متحده ایالتونو څخه یې خپلې غوښتنې او پریکړې په لاندې ډول بیان کړې.

۱ - موږ د کونړ ولایت خوانان ( نارینه او ښځینه) د سولې روانو خبرو څخه په بشپړه توګه ملاتړ کوو؛

۲ - موږ د کونړ ولایت خوانان له حکومت او طالبانو څخه جدي غوښتنه کوو، چې د بین الافغاني مذاکراتو له لارې سوله وکړي؛

۳ - موږ د سولې په روانو خبرو کې د حکومت او طالبانو څخه جدي غوښتنه کوو، چې اوربند وکړي؛

۴ - موږ له ګاونډیو هېوادونو څخه غوښتنه کوو، چې د سولې په بهیر کې همکاري وکړي؛ څو د سولې روانې خبرې بریالۍ شي؛

۵ - موږ له حکومت او طالبانو څخه غوښتنه کوو، چې د سولې په خبرو کې رښتیني او صادقه و اوسي؛

٦ - موږ له حکومت او طالبانو څخه غوښتنه کوو، چې د سولې په روانو خبرو کې د تیرو دوه لسیزو ارزښتونه او پرمختګونه وساتي؛

۷ - نړیواله ټولنه باید دواړه لورې وهڅوي، څو د سولې روانې خبرې مثبته پایله ورکړي؛

۸ - موږ د طالبانو او حکومت څخه جدي غوښتنه کوو، چې د سولې په بهیر کې د هر ډول خنډ او ځنډ څخه مخنیوی وکړي، څو دا بهیر بریالی شي؛

۹ – نړیواله ټولنه باید د افغانستان د سولې له بهیر څخه په ریښتیني ډول ملاتړ وکړي؛

۱۰ – موږ د کونړ ولایت د ښځو د حقونو فعالان د حکومت او طالبانو څخه غوښتنه کوو، چې د سولې په روانو خبرو کې د ښځو حقونه خوندي او وساتل شي.

و من الله توفیق

د نوي نسل او خوانانو د سولې جرګه

د ۱۳۹۹ د تلې ۲۳ / د ۲۰۲۰ ز د اکتوبر ۱۴

کونړ - افغانستان

**د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې پریکړه لیک - هلمند**

د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه د ۱۳۹۹ لمریز کال د تلې میاشتې په ۲۵، چې د ۲۰۲۰ زیږدیز کال د اکتوبر میاشتې له ۱۶ سره برابره ده، د سلګونو ځوانانو په ګډون په هلمند ولایت کې جوړه شوه. دا جرګه د سولې لپاره د ځوانانو د اړیکو د ګروپ لخوا جوړه شوې وه، چې په کې د دې ولایت له ۱۴ اداري واحدونو څخه د نوي نسل او ځوانانو استازو ګډون کړی وو او د افغانستان له حکومت، د طالبانو له تحریک او نړیوالې ټولنې په ځانګړې ډول د امریکا متحده ایالتونو څخه یې خپلې غوښتنې او پریکړې په لاندې ډول بیان کړې:

۱ـ دایمي اوربند او ټل پاتې سوله، د نظام ساتنه، اسلامي وجایبو ته درناوی، د ملي او لوړو ارزښتونو ساتنه او د ښځو د حقونو درناوی؛

۲ـ دایمي او واقعي اوربند، عام المنفعه ملکیتونو ساتنه، د بشري حقونو ساتنه او د ښځو لاسته راوړنو او پیشرفت ته درناوی کول؛

۳ـ د نړیوالې ټولنې څخه مو غوښتنه دا ده، چې جنګ په ښکیلو غاړو باندې فشار راوړي تر څو سولې ته ژمن او صادقه اووسي او نړیواله ټولنه دې د سولې اړوند خپلې هڅې ګړندۍ کړي او د بن کنفرانس ټولو تعهداتو ته ژمن پاته سي او همدارنګه د نړیوالې ټولنې څخه مو غوښتنه دا ده ترڅو په افغانستان کې د بهرنیو هېوادونو د مداخلې لاس قطعه کړي؛

۴ـ د ښکیلو غاړو څخه غواړو تر څو د خپلمنځي اختلافاتو او د پاروونکو خبرو څخه تېر شي او ملي ګټو ته ترجیح ورکړي او د سمتي، ژبني مذهبي تعصوباتو څخه تېر شي. د سولې په مورد باید یو نړیوال تضمین موجود وي؛

۵ـ د بشري ناورین او انسان وژنه، د کورنیو بې ځایه کېدل، د کونډو او یتیمانو زیاتوالی، فقر، بېوزلي، اقتصادي بحران، د عام المنفعه تاسیساتو ورانېدل، د ځوانانو بې تعلیمه پاته کېدل هغه څه دي، چې د وسلوالو ښتو په ترڅ کې رامنځته شوي دي؛

۶ـ د نړیوالو رسنیو له لارې باید د بین الافغاني مذاکراتو بهیر په ژوندۍ بڼه تر افغان ولسه په ښکاره او څرګند ډول ورسول شي او په ارزښتونو باندې باید معامله ونه شي، دا چې په روانه جګړه کې هلمند زیات ځپل شوی نو باید ورته په روانو خبرو کې مکمله ونډه ورکړل شي.

په درنښت
د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه
هلمند – افغانستان
د ۱۳۹۹ د تلې ۲۵ / د ۲۰۲۰ د اکتوبر ۱۶

**د جوزجان ولایت د نوي نسل او ځوانانو جرګې پریکړه لیک**

د نوي نسل او ځوانانو جرګه د ۱۳۹۹ لمریز کال د لړم په ۲ نیټه د سلګونه ځوانانو په ګډون په جوزجان کې جوړه شوه. دا جرګه چې د سولې لپاره د ځوانانو د اړیکو ګروپ لخوا جوړه شوې وه، چې د دې ولایت د لسو اداري واحدونو څخه د نوي نسل او ځوانانو استازو ګډون کړی وو.

د جرګې ګډونوالو د افغانستان له حکومت، د طالبانو له تحریک او نړیوال ټولنې په ځانګړي ډول د امریکا متحده ایالتونو څخه یې خپلې غوښتنې او پریکړې په لاندې ډول بیان کړې:

۱. د سولې په خبرو کې نرمښت، د دوه لسیزو د لاسته راوړنو ساتنه او ملي ګټو ته دې لومړیتوب ورکړل شي؛

۲. د طالبانو له تحریک څخه غواړو، څو خپله ریښتینولي د اوربند په اعلانولو اوجګړې پایته رسولو سره ثابته کړي؛

۳. موږ له خپلو نړیوالو همکارانو په ځانګړي ډول د امریکا متحده ایالتونو څخه غواړو، څو پر ګاونډیو او د سولې په بهیر کې پر ښکیلو هېوادونو فشار راوړي، څو دې بهیر کې له لاسوهنو څخه ډډه وکړي؛

۴. موږ د ټل پاتې سولې غوښتونکي یوو، چې په کې د ښځو، ځوانانو او د ټولنې د نورو وګړیو بنسټیز حقونه وساتل شي؛

۵. موږ د سولې په بهیر کې د ځوانانو اغیزناکه ګډون غوښتنه کوو؛

۶. نا امنې، روحي او رواني ستونزې، ښوونې او روزنې ته نه لاس رسی، د کورنیو بې ځایه کیدل او اقتصادي کړکیچ هغه ستونزې دي، چې د افغانستان خلک په ځانګړي ډول د جوزجان خلک د وروستیو جګړو له امله ورسره لاس او ګریوان دي؛

۷. موږ ټینګار کوو، چې د افغانستان خلک باید د بین الافغاني مذاکراتو له بهیر څخه د ملي او ځایي رسنیو له لارې خبر او له دې بهیر څخه په کره ډول څارنه وشي.

په درنښت
د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه
جوزجان - افغانستان
د ۱۳۹۹ لمریز کال د لړم ۲ / د ۲۰۲۰ زږدیز کال د اکتوبر ۲۳

## د بادغیس ولایت د نوي نسل او خوانانو د سولې جرگې پریکړه لیک

د نوي نسل او خوانانو د سولې جرگه د ۱۳۹۹ لمریز کال د لړم په ۲۳ نېټه، چې د ۲۰۲۰ زیږدیز کال د نوامبر له ۱۳ سره برابره ده، د بادغیس ولایت د سلگونو خوانانو په گډون جوړه شوه. دا جرگه د سولې لپاره د خوانانو د اړیکو گروپ لخوا جوړه شوې وه، چې په کې د دې ولایت له ۷ اداري واحدونو څخه د نوي نسل او خوانانو استازو گډون کړی وو او د افغانستان حکومت، د طالبانو تحریک او نړیوالې ټولنې په ځانگړې ډول د امریکا متحده ایالتونو څخه یې خپلې غوښتنې او پریکړې په لاندې ډول کړې:

۱. د سولې په بهیر کې خوانانو هم نارینه او ښځینه وو ته د غړیتوب ورکول، د سولې په بهیر کې د خوانانو معقولو غوښتنو او نظرونو ته پام کول او همدارنگه د اسلامي، ټولنیزو او فرهنگي ارزښتونو ساتنه؛

۲. د تلپاتې اوربند اعلانول او پر یوه پراخ بنسټه نظام جوړولو باندې هوکړه، د اسلامي شریعت په ادانه کې د ملي گټو پر بنسټ د اسلامي او فرهنگي ارزښتونو په ساتلو سره همپالنه او همغږي رامنخته کول؛

۳. په افغانستان کې د سولې له خبرو څخه د نړیوالې ټولنې د هر اړخیز او بې پرې ملاتړ؛

۴. د امریکا متحده ایالتونو هر اړخیز او ریښتیني ملاتړ او د افغانستان ملي او اسلامي ارزښتونو سره مل د سولې هوکړې لپاره د جگړې پر ښکیلو خواوو د فشار واردول؛

۵. له ترهگریزو ډلو څخه د اسلامي او گاونډیو هېوادونو نه ملاتړ او د افغانستان خمکنۍ بشپړتیا او ملي حاکمیت ته درناوی؛

۶.د سولې د مرکچیو پلاوو لخوا د نرمښت څرگندول او د قانون حاکمیت، ټولنیز او فرهنگي عدالت او د هېواد وروستیو څو لسیزو لاسته راوړنو ساتلو پر بنسټ ولاړو نظرونو ته درناوی؛

۷. د خلکو د خان، عزت او مال له منخه تلل، د ولایت او ولسوالیو ته د غخیدلو لارو تړل، بې وزلي او بې کارۍ، د بې وزلي او نا امنیو له امله د خلکو کډه کول، موخه ایزې وژنې، قومي اختلافونو زیاتیدل، د ټول گټو بنسټونو ویجاړیدل او له منخه تلل، زدکړو او روغتیایي خدمتونو ته د خوانانو نه لاسرسی، د اقتصادي ودې او پرمختـگ را ټیټیدل هغه زیانونه دي، چې په بادغیس ولایت کې د جگړې له امله خلکو ته رسیږي.

۸. د نوي نسل، خوانانو، ښځو او ملي او مذهبي شخصیتونو څخه د یوې بې پرې کمیټې رامنخته کول، څو د سولې له بهیر څخه څارنه وکړي او همدارنگه د سولې بهیر کې ترلاسه شوې پرمختگونه د ښه ایزو رسنیو له لارې خپاره شي.

په درنښت

د نوي نسل او خوانانو جرگه

بادغیس – افغانستان

د ۱۳۹۹ لمریز کال د لړم ۲۳ / د ۲۰۲۰ زیږدیز کال د نوامبر ۱۳

## د نوي نسل او خوانانو د سولې جرگې پریکړه لیک – هرات

د نوي نسل او خوانانو د سولې جرگه د ۱۳۹۹ لمریز کال د لیندۍ میاشتې په لومړۍ نیټه، چې د ۲۰۲۰ زېږدیز کال د نوومبر میاشتې له ۲۱ سره برابره ده، په هرات ولایت کې د سلگونه خوانانو په گډون جوړه شوه. دا جرگه د سولې لپاره د خوانانو د اړیکو گروپ له لوري جوړه شوې وه، چې په کې د دې ولایت د ۲۰ اداري واحدونو څخه د نوي نسل او خوانانو استازو گډون کړی وو؛ د افغانستان له حکومت، د طالبانو له تحریک او نړیوالې ټولنې په ځانگړې توگه د امریکا له متحده ایالتو څخه یې خپلې غوښتنې او پریکړې په دې ډول بیان کړې:

۱. اوسنۍ ولسواکه او پراخ بنسټه جوړښت دې وساتل شي او د نوي نسل او خوانانو اغېزناکه سیاسي گډون لپاره اسانتیاوې په پام کې ونیول شي.

۲. د قومي، سیمه ییز، ژبني، توکم ایز، گوندي او مذهبي ملحوظاتو په نه پام کې نیولو سره دې د افغان حکومت په مرکچې پلاوي کې د هغه خوانانو گډون، چې سیاسي او حقوقي پوهه ولري او د ټولنې منځ څخه را ولاړ شوي وي.

۳. د دوو لسیزو د لاسته راوړنو لکه د هېواد اساسي قانون، د ښځو حقونو، د وینا د خپلواکۍ، مدني حقونو، د قومونو او مذهبونو ترمنځ د یووالي ساتل،

۴. د هېواد د وگړو د امنیت ساتل د حکومت له دندو او لومړیتوبونو څخه دي.

۵. د تاوتریخوالي د کمیدو او د ملکي وگړو د مرگ ژوبلې د مخنیوي په موخه د طالبانو لخوا د ژر تر ژره اوربند اعلانیدل،

۶. له طالبانو څخه غواړو، څو د سولې د خبرو پر مهال په خپلواک ډول مخ ته لاړ شي او د ملي گټو د ساتلو او رعایت لپاره، د سولې بین الافغاني خبرو لپاره هر اړخیزه او روښانه کړنلاره وړاندې کړي.

۷. د افغانستان له حکومت څخه غواړو، څو د سولې خبرو پر وړاندې خنډونه لرې او له طالبانو څخه هم غواړو، څو له هغو هیوادونو او سازمانو سره، چې د جگړې د پراخوالي لپاره هڅه کوي، خپلې اړیکې پرې کړي.

۸. موږ له طالبانو څخه غواړو، څو د سولې په خبرو کې د ښځو د زده کړې او سیاسي گډون حق په پام کې ونیسي.

۹. موږ له نړیوالې ټولنې څخه غواړو، څو د دایمي سولې او هر اړخیزې پراختیا او ودې پورې د افغانستان د خلکو ترڅنگ ودریږي او د دې هېواد ځلوېښت کلنې جگړې د پایته رسولو لپاره له ټولو ډیپلوماټیکو لارو څخه گټه پورته کړي.

۱۰. د وروستیو دوه لسیزو د لاسته راوړنو او ارزښتونو د ساتنې لپاره د نړیوالې ټولنې تضمین؛

۱۱. د هېواد د سترو او برخلیک ټاکونکو مسائلو په برخه کې د خلکو د رایو او غوښتنو ته د سولې مذاکراتو کې د ښکیلو خواوو مراجعه کول.

۱۲. په هرات ولایت کې د فیزیکي او رواني خوندیتوب نه شتون، د بنسټونو ورانیدل او د بې وزلې کچې لوړېدل، بې کاري او ټولنیزې ستونزې او... د جګړې له امله رامنځته شوي.

۱۳. په هېواد کې د دایمي سولې څخه د څارنې او ټینګښت لپاره د ولسي ګډون بستر چمتو کول او د ولسي دلو رامنځته کولو لپاره د امکاناتو ځانګړې کول.

۱۴. د سولې خبرو په بهیر کې د لا روښتیا په موخه د رسنیو او مدني ټولنې ګډون.

درنښت

د هرات د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه

د ۱۳۹۹ د لیندۍ ۱ نیټه / د ۲۰۲۰ د نوومبر ۲۱

هرات – افغانستان

**د نیمروز ولایت د نوي نسل او خوانانو د سولې جرگې پریکړه لیک**

د نیمروز ولایت د نوي نسل او خوانانو د سولې جرگه د ۱۳۹۹ لمریز کال د لیندۍ میاشتې په ۲۱ نیټه د نیمروز ولایت په مرکز کې د دې ولایت له ۶ اداري واحدونو څخه د سلگونه خوانانو په گډون، جوړه شوه. دا جرگه د سولې لپاره د خوانانو د اړیکو د گروپ لخوا جوړه شوې وه، چې په کې د جرگې گډونوالو د افغانستان له حکومت، د طالبانو له تحریک او نړیوالې ټولنې په ځانگړې دول د امریکا له متحده ایالتونو څخه یې خپلې غوښتنې او پریکړې په لاندې دول بیان کړې:

د سولې په بهیر کې د افغانستان له حکومت څخه د نیمروز د خوانانو غوښتنې:

۱. د فعالې ډیپلوماسۍ کارول؛

۲. د سولې په بهیر کې ښځو او خوانانو ته ونډه؛

۳. د هېواد د لاسته راوړنو ساتل؛

۴. د ښځو حقونو په پام کې نیول؛

۵. د ټولنې ټولو لړکیو او ډلو لپاره د برابرو فرصتونو رامنځته کول؛

۶. ټل پاتې او دوامداره سوله، نه شعاري.

د سولې په بهیر کې د طالبانو له تحریک څخه د نیمروز ولایت د خوانانو غوښتنې؛

۱. ټل پاتې اوربند؛

۲. د سولې خبرو ژمنو ته د طالبانو ژمنتیا کېدل؛

۳. د ښځو د حقونو ساتنه؛

۴. د افغانستان د خلکو د څو کلونو د لاسته راوړنو ساتنه؛

۵. اسلامي امارت دې په منځ کې نه وي، ځکه د افغانستان خلکو دا تجربه تر شاه پرېښې ده.

د سولې په بهیر کې د نړیوالې ټولنې، د امریکا له متحده ایالتونو، اسلامي هېوادونو او گاونډیو هېوادونو څخه د نیمروز د خوانانو غوښتنې:

۱. د افغانستان د سولې په بهیر کې د نړیوالې ټولنې او ملگرو ملتونو جدي مرسته؛

۲. پایلي ته د افغانستان د سولي مذاکراتو رسيدو لپاره پر دوارو خواوو (حکومت او طالبان) باندي د نړیوالي ټولني په ځانګړي ډول د امریکا متحده ایالتونو لخوا د فشار اچول؛

۳.د افغانستان د سولي په بهیر کي د ګاوندیو، د سیمي او نړی هیوادونو ریښتینولي؛

۴. د اسلامي هیوادونو لخوا د افغانستان د کلونو- کلونو ورانونکي جګړي غندل.

پایلي ته د بین الافغاني خبرو رسیدو په موخه د نیمروز ولایت د خوانانو وړاندیزونه او د هغوی مسوولیت:

۱. د سولي په بهیر کي د بی پری او سیاسي پوهي لرونکو خوانانو ګډون؛

۲.د سولي په بهیر کي د نوي نسل او خوانانو ملي اجماع رامنځته کول؛

۳. اسلامي شریعیت دي د سولي د خبرو بنسټیزه منبع وي؛

۴. د سولي په بهیر کي د مذاکراتو اړخونه (حکومت او طالبان) لخوا د نرمښت ځرګندول.

**په نمیروز ولایت کي د جګړي له امله راتوکیدلي خایي ستونزي:**

۱.د نیمروز له ولایت څخه د تکره او پوهه کسانو تیښته؛

۲.د وسله والو جګړو له امله د نیمروز ولایت د خلکو انساني قاچاق او کډوالي؛

۳. د امنیت نه شتون؛

۴. د متوازني پراختیا نه شتون؛

۵. په نیمروز ولایت کي د جنایي جرمونو زیاتوالی.

په خایي او ملي کچه د سولي له بهیر څخه د څارني او په دي برخه کي د نیمروز ولایت د خوانانو مسوولیتونو په موخه دا وړاندیزونو او نظریاتو وړاندي کیدل:

۱. د سولي خبرو د لا ښه والي لپاره په سیاسي مشارکت کي د عالمانو، مخورو، خوانانو او ښځو ګډون؛

۲. د سولي خبرو په تړاو د ولایتونو او په ملي کچه د کمیټو او د دوامدرو ناستو جوړول؛

۳. په دوامداره ډول د ملګرو ملتونو او اسلامي کنفرانسونو سازمان لخوا د سولي د بهیر څارل؛

۴.د سولي او ښیرازي ته د خلکو بلنه او د سولي غوښتلو اړوند مسائلو خپرول؛

۵.د سولي له بهیر څخه څارنه باید بی پری وي او لاسوهونکي دلي باید له دي بهیر څخه ناوره ګټه پورته نکړي؛

۷. د سولي له بهير څخه د څارني په موخه د نوي نسل، خوانانو، رسنيو او مدني ټولني ګډون.

په درنښت
د نيمروز د نوي نسل او خوانانو د سولي جرګه
د ۱۳۹۹ د ليندۍ ۲۱/ د ۲۰۲۰ د ډسمبر ۱۱





## د فراه ولایت د نوي نسل او خوانانو د سولې جرګې پرېکړه لیک

د فراه ولایت د نوي نسل او خوانانو د سولې جرګه د ۱۳۹۹ لمریز کال د لیندۍ میاشتې په ۲۸، چې د ۲۰۲۰ زېږدیز کال د ډسمبر میاشتې له ۱۸ سره سمون خوري، د فراه ولایت په مرکز کې د دې ولایت له ټولو اداري واحدونو څخه د سلګونه خوانانو په ګډون جوړه شوه. دا جرګه د سولې لپاره د خوانانو د اړیکو د ګروپ لخوا جوړه شوې وه، چې د جرګې غړیو د افغانستان له حکومت، د طالبانو له تحریک او نړیوالې ټولنې په ځانګړي ډول د امریکا له متحده ایالتونو څخه خپلې غوښتنې او پرېکړې په لاندې ډول بیان کړې :

**سریزه:** سوله په خپل کلاسیک مفهوم کې د جګړې د نشتون په معنی تعبیر شوې ده، چې نن هغه ته «منفي سوله » هم ویل کېږي. په همدې ډول د ملګرو ملتونو په منشور کې سولې ته درناوی شوی د ملګرو ملتونو اداري مهمه موخه د ۱ مادې په ۱ بند کې د سولې ساتنه او نړی وال امنیت ځای شوی دی او د امنیت شورا هم د دې موخې د لوړو اختیارونو په لرلو سره کم نظیره ده. له بل لوري د دې منشور د ۲ مادې په ۳ بند کې د ملګرو ملتونو له ټولو غړو څخه غواړي، چې خپل اختلافات په سوله ییز ډول حل تر څو نړی واله سوله او امنیت په خطر کې نشي.

له کومه خایه، چې جګړه او کړکېچ د ټولنو د پراختیا، پرمختیا او پیاوړتیا خنډ ګرځېدلي او افغانستان، چې له ۳۰ کالو زیات د جګړې په اور کې هر څه له لاسه ورکړي. په شدت سره د جګړې او کړکېچ له دوام څخه بېزاره ده، چې په پایله کې سوله او امنیت يې خپله لویه ورکه ګڼلې او په شدت سره په خپل هیواد کې د سولې غوښتونکې دي. پدې توګه د افغانستان لپاره د جګړې او تاوتریخوالي دوام لپاره زیاتې منفي پایلې درلودې او لري. څنګه، چې کولای شو ووایو: د اوسنیو جګړو او ناامنیو لویې پایلې زمونږ د هیواد په کورنیو چارو کې د بهرنیو مداخلو زیاتوالی، د ورځې تر ۲۰۰ زیاتو بې ګناه افغانانو شهادت، د اداري فساد زیاتوالی، په نړی والو عمومي افکارو کې د افغانستان د نوم زیانمنېدل، بهرنیو هیوادونو ته د افغانانو کډوالېدل، د نړی په درې نا امنو هېوادونو کې د افغانستان شاملېدل، د نړی په لسو وروسته پاتې هېوادونو کې د افغانستان شاملېدل، د هیواد د زیربنایي سرچینو له منځه وړل او د ملي پانګې؛ د هغې له ډلې د افغانستان د ارزښت وړ کلتوري او لرغونو اثارو غلا ... څخه یادونه کولای شو .

په خواشینۍ تر اوسه د افغانستان کړکېچ سره د ملګرو ملتونو له منشور، د بشر حقونو نړی والې اعلامیې او نړی والو حقونو بنسټیز اصولو، چې د ملګرو ملتونو د سرنوشت ټاکل، د هیوادنو په کورنیو چارو کې نه لاسوهنه او ... ده تر اوسه پورې متناسب چلند ندی شوی. که چېرې دا ستونزې همداسې دوام ومومي او بین الافغاني مذاکراتو ته د حل لارې ونه لټول شي؛ بې له وېرې به د افغانستان، سیمې او حتی نړی لپاره منفي پایلې او نتیجه له ځان سره ولري. زمونږ هیواد به مجدداً د جګړې او تاوتریخوالي په بنسټ به بدل شي او نړی واله سوله او امنیت به په شدت سره زیان ووینې.

د فراه ولایت د نوي نسل او خوانانو جرګې د جوړېدو موخه، چې د لیندۍ میاشتې په ۲۸ (۲۰۲۰ ډسمبر۱۸) جوړه شوې وه، خلکو په ځانګړي توګه خوانانو د سولې او بین الافغاني مذاکراتو کې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او د طالبانو تحریک، له نړی والې ټولنې، د امریکا متحده ایالاتو، اسلامي هیوادونو او ګاونډیو هیوادونو، د بین الافغاني مذاکراتو له طرفینو څخه د دوی د نظر غوښتنه وه.

همدارنګه دا جرګه غواړي پوهه شي، چي د جګړي له دوام او بحران څخه د فراه ولایت د خلکو ستونزي څه دي؟ او د هغوی د حل لارې کومي دي؟ خلک او مدني ټولني، سیاسي حزبونه او تر ټولو مهم د افغانستان ښځې، چي د هیواد نیم نفوس تشکیلوي؛ ایا کولای شي په بین الافغاني مذاکراتو څارنه وکړي او د دي مذاکراتو په سم او د هیواد ملي منافعو په لوري سوق کړي؟

پدي توګه لازمه ده تر څو افغانان په خاکري توګه زمونږ د هیواد خوانان یو بل ته لاس ورکړي او له طالبانو سره د امریکا متحده ایالاتو هوکړه لیک او د بین الافغاني مذاکراتو له راولاړ شوي فرصت څخه ګټه پورته کړي او د هیواد لپاره یې د تلپاتي سولي تینګښت لپاره د تعالیم اسلام، ملي، اغېزمنو او ریښتینو اقداماتو، چي په اوسنیو شرایطو کي تر نورو مسایلو اړین دي، غوره کړي .

پدي توګه د سولي جرګه په هیواد کي د تلپاتي سولي استقرار په موخه لاندې موارد، چي اوه مادې لري د سولي جرګي د پرېکړه لیک په توګه یې غوښتونکي شول:

۱ ماده :د فراه ولایت خلک په خانګړي ډول خوانان، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت څخه غواړي، څو د طالبانو له تحریک سره د سولي او بین الافغاني خبرو کي، د ملي ګټو پر بنسټ عملي اقدامات او غوره پریکړې وکړي. د یوه معتدل اسلامي نظام رامنځته کولو په موخه د هوکړې لپاره خبرې او هڅې، د وروستیو ۱۹ کلونو مهمو لاسته راوړنو ساتنه او ملاتړ، د سولي بهیر کي د اجماع او سولي ته د ژمن او واحد دریځ د رامنځته کولو، د تل پاتي سولي څخه د جامع پیژند وړاندې کول، د واحدې تګلارې او هغه سره متناسبې دیپلوماسي جوړول، د افغانستان له حکومت څخه د فراه ولایت د خوانانو غوښتني دي.

۲ ماده: د فراه ولایت خلک په خانګړي ډول خوانان د طالبانو له تحریک څخه په ډېر درناوي غواړي، څو اوربند د خبرو او تل پاتي سولي د پیلامي په توګه ومني. ځکه له اوربند څخه پرته، د سولي بهیر په شدت سره زیان ویني. د افغانستان د ډېرکیو خلکو غوښتنو ته په پام سره، د ښځو د حقونو رعایت او مشروع لاسته راوړنو ساتل؛ د طالبانو له تحریک څخه د جرګي د غړیو مهمي غوښتني دي .

۳ ماده:له نړیوالي ټولني په خانګړي توګه د امریکا متحده ایالتونو، اسلامي هېوادونو او ګاونډیو هېوادونو څخه د فراه ولایت د خوانانو اساسي غوښتني دا دي، چي د افغانستان ملي ګټي په خپلو ټولو کړنو کي په پام کي ونیسي او د نړیوالو حقوقو د بنسټیز حق په توګه د ملتونو د برخلیک ټاکلو حق په عمل کي پلي کړي او د افغانستان ملت ته اجازه ورکړي، څو خپل برخلیک په خپله وټاکي. د افغانستان په جګړه کي د ښکیلو هېوادونو او اړخونو باندې مثبت فشار او د افغانستان د تل پاتي سولي له بهیر څخه د نړیوالي ټولني هر اړخیز ملاتړ دوام د جرګي د غړیو مهمي غوښتني دي.

۴ ماده: د فره ولایت خوانانو د بین الافغاني مذاکراتو له دواړو اړخونو څخه غوښتنه دا ده، چي ژر تر ژره دي اوربند اعلان او رعایت کړي، څو د هېواد ملي مصالح او ګټي د بنسټیزي غوښتني په توګه په پام کي ونیسي او پر خپلو ګټو، ملي ګټو ته ترجیح ورکړي او له دي لارې د خپل هېواد پر وړاندې خپل مسؤلیت ترسره کړي .

۵ ماده: په سیمه ییزه کچه په فراه ولایت کي له وسلوالو جګړو څخه د راټوکیدلو زیانونو په اړه د فراه ولایت د خوانانو غوښتنه دا ده، څو تر هرڅه وړاندې، د انساني، مالي او خاني تلفاتو، اداري فساد، بوروکرسي، او په






بیلابیلو برخو کې وروسته پاتې کیدل کم او پایته ورسیږي، ځکه فراه ولایت د جګړو او وسلوالو نښتو له امله، زیات ځاني او مالي زیانونه لیدلي او ګالي .

۶ ماده: په ځایي او ملي کچه د سولې له بهیر څخه د څارنې څرنګوالي په تړاو د فراه ولایت د خوانانو ځانګړي وړاندیزونه او نظرونه دا دي، چې د نوي نسل او خوانانو استازي، د هیواد د جیدو عالمانو استازي، د مدني ټولنې استازي، د رسنیو استازي، د هیواد د علمي ټولنې استازي، د افغانستان د ښځو ټاکل شوي استازي او د ولسي جرګې استازي او مشرانو جرګې استازي دې په دې خبرو کې د بین الافغاني مذاکراتو د ښکیلو اړخونو د کړنو څخه د څارلو په موخه ښکیل شي او څارنه د وکړي.

۷ ماده: دا پریکړه لیک یوه سریزه او ۷ مادې لري، چې د فراه ولایت د نوي نسل او خوانانو د سولې جرګې د غړیو لخوا، د لسګونه کمیټو د منشیانو په واسطه، په کاري کمیټو کې د را ټولو شویو نظرونو پر بنسټ جوړ او وړاندې شو.

و من الله توفیق

درنښت

د نوي نسل او خوانانو د سولې جرګه

د ۱۳۹۹ د لیندۍ ۲۸ / د ۲۰۲۰ د دسمبر ۱۸

## د بغلان د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې پریکړه لیک

د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه د ۱۳۹۹ لمریز کال د مرغومي میاشتې په ۸ نیټه، چې د ۲۰۲۰ زیږدیز کال د ډسمبر میاشتې له ۲۸ نیټې سره برابره ده، د بغلان ولایت د سلګونو ځوانانو په ګډون جوړه شوه. دا جرګه د سولې لپاره د ځوانانو د اړیکو ګروپ لخوا جوړه شوې وه، چې د دې ولایت د ټولو اداري واحدونو د نوي نسل او ځوانانو استازو پکې ګډون کړی وو، چې د افغانستان حکومت، د طالبانو تحریک او د نړیوالې ټولنې په ځانګړې ډول د امریکا متحده ایالتونو ته یې خپلې غوښتنې او اندیښنې په لاندې ډول وړاندې کړې.

۱. موږ د افغانستان حکومت او د طالبانو تحریک څخه غواړو، څو د سولې په بهیر کې ځوانانو ته ګډون ورکړي او د سولې په بهیر کې، ځوانان باید په اغیزناکه او ځېلواکه توګه خپل استازیتوب ولري؛

۲. د مذاکراتو له ښکیلو خواوو څخه غواړو، څو له هر ډول ځنډ پرته، په ریښتیني ارادې سره د سولې خبرې پر مخ یوسي؛

۳. سوله د افغانستان د خلکو حق دی او له ټولو اړخونو څخه غواړو، چې د خلکو دې حق ته درناوی وکړي او هڅوی ته په سوله ییزه فضا کې د ژوند اسانتیاوې برابره کړي؛

۴. موږ د افغانستان له حکومت څخه غواړو، څو د ملي اجماع په رامنځته کولو سره، ټول شموله او تل پاتې سولې ته د رسیدو زمینه برابره کړي؛

۵. د جګړې له ښکیلو اړخونو څخه غواړو، څو تاوتریخوالی کم او تل پاتې اوربند ته زمینه برابره کړي؛

۶. د مذاکراتو له ښکیلو خواوو څخه غواړو، څو د وګړیو د امنیت په ټینګښت، د مدني ځېلواکیو او ښېرازۍ لپاره هڅه وکړي؛

۷. د مذاکراتو له ښکیلو خواوو غواړو، چې د سولې خبرې په هېواد کې دننه ترسره او دا بهیر، یو ملي بهیر ته واړوي؛

۸. له طالبانو څخه غواړو، څو په خپل مذاکراتي پلاوي کې ښځو او ځوانانو ته ونډه ورکړي، څو د طالب لورې د ځوانانو او ښځو نظرونه هم پام کې ونیول شي؛

۹. د مذاکراتو له ښکیلو خواوو څخه غواړو، څو د سولې په خبرو کې له نرمښت او انعطاف څخه کار واخلي؛

۱۰. له افغان حکومت او د طالبانو تحریک څخه غواړو، څو د خلکو ارزښتونو، د وګړیو اساسي حقونو په ځانګړې ډول د ښځو حقونو ته درناوی ولري او د سولې په خبرو کې د وروستیو دوه لسیزو لاسته راوړني وساتل شي؛

۱۱. له دواړو خواوو غواړو، څو خپلو ژمنو او تړونونو ته ژمن پاتې شي او په دې بهیر کې د هر ډول نا باورۍ مخه ونیسي؛

افغانستان

۱۲ .له نړیوالې ټولنې او ګاونډیو هېوادونو غواړو، څو د افغانستان خپلواکي او د دې هېواد د خلکو ملي ارزښتونو ته درناوی ولري او سولې ته د رسیدو لپاره د افغانستان له خلکو سره مرسته وکړي؛

۱۳ .موږ له خپلو نړیوالو همکارانو څخه غواړو، څو د ترهګریزو ډلو د ملاتړ مخنیوی وکړي او پر هغو هېوادونو، چې د ترهګرو ملاتړي دي، فشار راوړي؛

۱۴ .موږ د بین الافغاني مذاکراتو پایلو ته د رسیدو لپاره د افغانستان د قومونو د یووالي، له مدني خوځښتونو څخه د ملاتړ، په پریکړو کې د خپلواکۍ د اصل ساتل، د هېواد د ملي حاکمیت او ارزښتونو دفاع، په هېواد کې د جګړې پایته رسیدو لپاره د نړیوالې اجماع رامنځته کولو، د دیني عالمانو او قومي مخورو د ګډون او د جګړې د قربانیانو د حقونو څخه د ملاتړ لپاره د حقوقي متخصصینو د ګډون غوښتنه کوو؛

۱۵ .روغتیایي اسانتیاو ته نه لاسرسی، د ښوونځیو، روغتونونو ورانیدل، د پراختیایي پروژو نه پلي کیدل او له منځه تلل، کډوالې، د خلکو بې ځایه کیدل، امنیتي ګواښونه، په هېواد په ځانګړي ډول په بغلان ولایت کې د جګړې څخه را توکیدلي لاملونه دي؛

۱۶ .د سولې بهیر څخه د څارنې په موخه د بې پرې خلکو، د نړیوالې ټولنې د استازو، د جګړې د ښکیلو اړخونو او رسنیو ګډون او د نوي نسل او ځوانانو د استازو د مشارکت غوښتنه کوو.

په درنښت
د بغلان د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه
د ۱۳۹۹ لمریز کال د مرغومي ۸، / د ۲۰۲۰ زیږدیز کال د ډسمبر ۲۸
پلخمري ښار، بغلان – افغانستان

## د فارياب ولايت د نوي نسل او خوانانو د سولي جرګي پريکړه ليک

د فارياب د نوي نسل او خوانانو د سولي جرګه د ۱۳۹۹ لمريز کال د مرغومي مياشتي په ۲۵ نيته، چي د ۲۰۲۱ زيږديز کال د جنوري مياشتي له ۱۴ سره برابره ده، د دي ولايت د سلګونه خوانانو په ګډون جوړه شوه. دا جرګه د سولي لپاره د خوانانو د اريکو د ګروپ لخوا جوړه شوي وه، چي په کي د دي ولايت د ټولو اداري واحدونو څخه د نوي نسل او خوانانو استازو ګډون کړی وو، خپلي غوښتني او پريکړي يې د افغانستان له حکومت، د طالبانو له تحريک او نړيوالي ټولني په ځانګړي ډول د امريکا متحده ايالتونو څخه په لاندي ډول بيان کړي:

۱. د سولي په بهير کي د افغانستان له حکومت څخه د فارياب ولايت د خوانانو غوښتني:

- انحصار او د قومونو ترمنځ توپيري چلند ته نه ويل، د پراخ بنسټه ټيم جوړول او د سولي په بهير کي د خوانانو، ښځو او د ټولني د ټولو اقشارو ګډون؛
- د هېواد د سياستوالو او مخورو انسجام او يووالی او د ملي يووالي رامنځته کول؛
- د سولي د خبرو په بهير کي د اسلامي تعادل په ادانه کي د نرمښت څرګندول؛
- د هېواد د ملي ګټو په پام کي نيول؛
- له سولي وروسته سياسي جوړښت بايد ملي وي.

۲. د سولي په بهير کي د طالبانو له تحريک څخه د فارياب ولايت د خوانانو غوښتني:

- اوربند بايد د سولي د خبرو بنسټ وي؛
- د افغانستان د خلکو او حکومت د تېرو ۲۰ کلونو لاسته راوړنو ته درناوی؛
- په خبرو کي خپلواکي او له هغو هېوادونو سره دي اړيکي پري کړي، چي په افغانستان کي د جګړي دوام غوښتونکي دي؛
- د اسلام مبارک دين او د هېواد اساسي قانون پر بنسټ د سولي خبرو ښکيلو خواوو لخوا نرمښت.

۳. د سولي په بهير کي له نړيوالي ټولني، د امريکا متحده ايالتونو، اسلامي هېوادونو او ګاونډيو هېوادونو څخه د فارياب ولايت د خوانانو غوښتني:

- د سولي له بهير څخه ملاتړ، د هېوادونو له لاسوهني څخه مخنيوی او د هېواد خمکني بشپړتيا ته درناوی؛
- د سولي بهير لپاره د نړيوالي ټولني د اجماع رامنځته کول؛
- د افغانستان د سولي په خبرو کي د ښکيلو اړخونو ترمنځ ژمنو ته ژمنتيا؛
- د سولي له بهير څخه د نړيوالي ټولني په ځانګړي ډول د امريکا متحده ايالتونو ملاتړ او د نړيوال څارونکي په توګه، د خپل دريځ ساتل؛
- د سولي له بهير څخه د ملاتړ په موخه د اسلامي هېوادونو اجماع او په افغانستان کي د جګړي ناروا ګڼلو په موخه د اسلامي کنفرانس لخوا د پريکړه ليک صادريدل؛
- د افغانستان د سولي له بهير څخه د ملاتړ په موخه د ګاونډيو هېوادونو په کچه سيمه ايزه اجماع.

۴. پایلي ته د بین الافغاني خبرو رسیدو څرنګوالي په موخه وړاندیزونه او په دې اړه د فاریاب ولایت د ځوانانو مسؤلیتونه:

- موږ د فاریاب ځوانان د سولې له خبرو څخه ملاتړ کوو؛
- د ملي ګټو او تېرو ۲۰ کلونو لاسته راوړنو ته درناوی؛
- د نوي او همه شموله کړنلارې جوړول، چې په هغه کې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت له طالبانو او همدارنګه اغېزناکه ګوندونه ګډون ولري او د عبوري حکومت یو جوړښت ولري؛
- د سولې خبرو اړخونه باید د ملي ګټو او نرمښت د اصولو په رڼا کې، خبرې پر مخ یوسي.

۵. په فاریاب ولایت کې د وسله والو جګړو څخه را توکېدلي سیمه ایزو ستونزو وړاندې کېدل:

- د دوامداره جګړو له امله د فاریاب ولایت له ولسوالیو څخه خلک ښار ته کډواله شوي؛
- د ټول ګټو بنسټونو له منځه تلل، روغتیایي او ښوونیزو خدمتونو ته د خلکو نه لاسرسی، د پراختیایي پروګرامونو وروسته پاتې کېدل؛
- د فاریاب ولایت په لویو لارو کې د امنیت نه شتون او په دوامداره ډول د بریښنا د مزو پرې کېدل.

۶. په خاپي او ملي کچه د سولې له بهیر څخه د څارنې په موخه د نظرونو او وړاندیزونو وړاندې کول او د فاریاب ولایت د ځوانانو مسؤلیتونه:

- د افغانستان د دولت او طالبانو لخوا د سولې د بهیر چټکتیا؛
- د سولې خبرو د اجندا خپرول؛
- د ټولیز او همه شموله آدرس لخوا د خبرو پر مخ وړل (د ملي مصالحې عالي شورا)؛
- د سولې د خبرو له بهیر څخه د څارنې په موخه د ټولنې د ټولو اقشارو څخه د پراخ بنسټه کمېټې جوړول؛
- په غوڅ ډول د نړیوالو شریکانو او نړیوالې ټولنې لخوا د سولې د بهیر څارل.

درنښت

د فاریاب ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه

د ۱۳۹۹ د مرغومي ۲۵ / د ۲۰۲۱ د جنوري ۱۴

**د تخار د نوي نسل او خوانانو د سولې جرګې پریکړه لیک**

د نوي نسل او خوانانو د سولې جرګه د ۱۳۹۹ لمریز کال د مرغومي میاشتي په ۲۸ نیټه، چي د ۲۰۲۱ زیږدیز کال د جنوري میاشتي له ۱۷ سره برابره ده، د سلګونو خوانانو په ګډون په تخار ولایت کي جوړه شوه. دا جرګه د سولې لپاره د خوانانو د اړیکو د ګروپ لخوا جوړه شوې وه، چي په کي د دې ولایت د ټولو اداري واحدونو څخه د نوي نسل او خوانانو استازو ګډون کړی وو او خپلې غوښتني او پریکړې یې د افغانستان له حکومت، د طالبانو له تحریک او نړیوالې ټولني په ځانګړي توګه د امریکا متحده ایالتونو څخه په لاندې ډول بیان کړې:

۱. د وروستیو دوه لسیزو د لاسته راوړنو او ارزښتونو ساتنه؛

۲. د جګړې د ښکیلو خواوو ترمنځ په ځانګړي ډول د طالبانو لخوا د سراسري اوربند اعلانول؛

۳. د افغانستان حکومت او سیاستوال دې د واک غوښتل ځنډې ته کړي او پر خپلو شخصي ګټو د هېواد ملي ګټو ته لومړیتوب ورکړي؛

۴. د سولې د خبرو بهیر او له سولې وروسته بهیر کي د ښځو او خوانانو اغیزناکه ګډون؛

۵. موږ د تخار ولایت خوانان د امریکا د متحده ایالتونو، د ملګرو ملتونو، ناټو او د سیمي له هېوادونو څخه غواړو، څو د سولې له بین الافغاني خبرو څخه په جدي ډول ملاتړ وکړي؛

۶. د سولې خبرې دې په افغانستان کي دننه د افغانستان د خوانانو او نوي نسل په پراخه ګډون ترسره شي؛

۷. د پخلاینې ملي عالي شورا کي د خوانانو او ښځو فعاله ګډون.

په درنښت

د تخار ولایت د نوي نسل او خوانانو د سولې جرګه

تخار - افغانستان

د ۱۳۹۹ کال د مرغومي ۲۸ / د ۲۰۲۱ کال د جنوري ۱۷

## د کندهار د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې پریکړه‌لیک

افغانان له تېرو څلوېښتو کلونو راهیسې د کورنۍ جګړې له امله خپل ټول ملي ارزښتونه له لاسه ورکړي، محسوسه خپلواکي نه لري، د وګړيو ډېره برخه یې په بې وزلۍ کې ژوند کوي او د نورې نړۍ د ملتونو په څېر معیاري ژوند نه لري، چې بې‌وزلۍ لامل یې د پردیو هیوادونو لاسوهنې، دلته د کتلیست په توګه د شته عناصرو په مټ د ګاونډیو هیوادونو ګټې د خوندي کولو لپاره هرج و مرج جاري ساتل دي، چې دا دی موږ د یوه ناخپلواکه، په غیر مستقیم ډول اشغال شوي او استثمار شوي ملت په څېر د بې تقدیره مرګ په وهم کې شپې او ورځې تیروو. افغانان په ځانګړي ډول کندهاري ځوانان نور له دې مسلط حالته سخت ستړي شوي دي او نه غواړي دا حالت نور دوام ومومي .

د کندهار د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه د دې ولایت د ځوانانو لخوا د سولې لپاره د ځوانانو د اړیکو ګروپ په مرسته د ۱۳۹۹ لمریز کال د سلواغې میاشتې پر ۲۲ نېټه، چې د ۲۰۲۱ کال د فبروي ۱۰ سره برابره ده، جوړه شوه، په دې جرګه کې د کندهار ښار او ولسوالیو څخه د بېلابېلو بنسټونو استازو، مدني فعالانو، د پوهنتونونو استادانو، خبریالانو، محصلینو، ښځینه او نارینه ځوانانو ګډون کړی وو.

د جرګې لسګونه کمیټو د مشخص شویو موضوګانو په اړه بحث او خبرې وکړې او په ګډه یې د سولې بهیر په اړه؛ د کندهار د ځوانانو نظرونه، وړاندیزونه، غوښتنې او پرېکړې د جرګې د پرېکړه لیک په اډانه کې توحید او په ۱۱ مادو کې تصویب کړې، چې په لاندې ډول دي:

۱ .اوس مهال د افغانستان د سولې بهیر کې امریکا نور د مستقیم اړخ په توګه شتون نه لري، د کندهار ځوانانو بوازینۍ غوښتنه له دولت او طالبانو له تحریک څخه دا ده، چې ژر تر ژره دې اوربند او بالاخره دایمي اوربند اعلان کړي. د جنګ پر ځای دې د خبرو اترو له سیاسته کار واخلي، څو افغان وژنه ودرېږي او دایمي سولې ته ورسیږو.

۲ .اوس مهال افغان سوله یوه نړیواله کشاله بلل کیږي، دا مهال اړتیا ده، چې ټول اسلامي هیوادونه د افغانستان سولې بهیر کې په مستقیم ډول ګډون وکړي، دغه هیوادونه دې د یوه ګډ کمیسیون په جوړولو سره په افغانستان کې د رواني جګړې د ناروا ګټلو ترڅنګ د افغان سولې بهیر سره جدي همکاري وکړي.

۳ .د افغان سولې په بهیر کې پر دواړو اړخونو غږ کوو، چې د ځوانانو حق دې نه تلف کوي او له دې وروسته دې د سولې د مذاکراتو په بهیر کې د کندهاري ځوانانو هر اړخیزه ګډون غواړي.

۴ .لوړ پوړي سیاسي او دولتي چارواکي او د طالبانو تحریک دې په خپلو کې همغږي رامنځته کړي، د سولې د خبرو اترو په بهیر کې د توافق لپاره دې د افغانستان ملي ارزښتونه په ګډه تعریف، تعیین او وساتي. همداسې دې په سوله کې د افغانانو د تېرو دوو لسیزو لاسته راوړنې حفظ کړي.

۵ .موږ د کندهار ځوانان؛ نه غواړو، چې د سولې په بهیر کې زموږ پر حقونو پټې معاملې وشي. د افغان سولې بهیر دواړه اړخونه دې د سولې بهیر روښانه او شفافه کړي، ابهامات او پټ رازونه دې یې افغانانو ته روښانه کړي، نړیوالو او کورنۍ ملي او ځایي رسنیو او څارونکو بنسټونو ته دې اجازه ورکړي، څو د افغان سولې له بهیر څخه افغانان په هر اړخیزه توګه باخبره وساتي.

۶. د سولې په بهیر کې ترسره کېدونکې هر ډول پټ او ښکاره تړونونه دې افغان ملت ته وړاندې شي، افغانان د یوه آزاد او خپلواکه ملت په توګه حق لري، چې ټولو اساسي تړونونو کې بدلون راولي، وې مني او یا یې رد کړي.

۷. د سولې په بهیر کې علمي، اکاډمیکو، دیني او سیاسي، ور، باصلاحیته او په ملي کچه منل شویو او د ټولنې له منځ څخه ولسي او سیمه ایزو داسي اشخاصو ته واک ورکړل شي، چې د شخصي او فردي ګټو پر ځای دې د افغانانو ملي ګټو ته ترجیح ورکړي.

۸. د افغان دولت او طالبانو تحریک څخه غوښتنه کوو، د نظام د له منځه وړلو لپاره نه، بلکې د سمون په موخه دې په جوړښت کې د تغییر رامنځته کولو پر حقوقي صلاحیتونو باندې تمرکز وکړي، د اسلام مقدس دین د اصولو او نصوصو په رڼا کې دې د اساسي قانون او نورو فرعي قوانینو د اصلاح لپاره هڅه وکړي، د ملي او عامه شتمنیو د ورانولو مخه دې ونیسي، د طالبانو تحریک د سولې د یوه طرف په توګه دې خپل بهرنی سیاست واضح کړي، څو د سولې تړون وروسته عامو افغانانو ته د دوی خارجي تګلاره واضح وي.

۹. نړیوال دې د افغان سولې لپاره له طرفینو څخه نړیوال تضمین واخلي، او هغه هیوادونه، چې دلته د افغان جګړې لپاره مخالفینو ته وسلې او تجهزات ورکوي، پر هغوی دې فشار راوړي څو له جنګیالیو سره مالي او د وسلو مرسته بنده کړي.

۱۰. د اسلامي هیوادونو سازمان دې د افغان سولې په بهیر کې خپل مستقیم رول ولوبوي د نړۍ دولتونه دې ته اړ کړي، څو د افغان سولې روان بهیر د افغانانو لپاره ګټور تمام شي، که چیرې دولتونه دا کار ونشو کړای نو، موږ کندهاري ځوانان د نړۍ پر ملتونو غږ کوو، چې د افغان سولې د کړکېچ د حل لپاره زموږ سره همکاري وکړي.

۱۱. د مذاکراتو له دواړو اړخونو څخه غواړو، څو له عقدوي او احساساتي سیاست څخه دې ډډه وشي، د ګذشت او زغم څخه دې کار واخیستل شي، او ټولو افغاني قشرونو دې په سولې کې دخیل کړای شي، په ځانګړې ډول د لوی کندهار ولسونه.کندهار د سولې د خبرو لپاره تر ټولو ښه ځای دی او د کندهار ځوانان او ولسونه چمتو دي، چې په کندهار کې د سولې خبرو کوربتوب وکړي.

ومن الله توفیق
د کندهار د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه
کندهار - افغانستان
د ۱۳۹۹ د سلواغې ۲۲ / د ۲۰۲۱ د فبروري ۱۰

**د کندز ولایت د نوي نسل او خوانانو د سولې جرګې پریکړه لیک**

سوله یو الهي حکم دی، لوی خدای ج په قرآنکریم کې فرمایي: ( وَ الصُّلْحُ خَيْرٌ) ( فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ)

سوله د هر افغان، ځوان، ښځینه او نارینه پاکه او سپیڅلې غوښتنه ده. نن موږ د کندز ولایت ځوانان سره جرګه شوي یو او هیله لرو، څو په هېواد کې باعزته او تل پاتې سوله راشي. د دې فرصت نه په ګټه اخیستلو، د سولې غوښتلو غړ ټولو هغو ډلو، چې په جګړه کې دخیل، د دولت او طالبانو مرکچي پلاوو ته ورسوي، څو د سولې خبرو اترو کې د ځوانانو نظرونه او وړاندیزونه شریک او په پام کې ونیول شي.

په همدې موخه، د کندز ولایت ځوانان د سولې لپاره د ځوانانو د اړیکو ګروپ په مرسته، د ۱۳۹۹ لمریز کال د سلواغې میاشتې په ۲۶ نیټه، چې ۲۰۲۱ کال د فبرورې میاشتې له ۱۴ سره برابره ده، د کندز ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه جوړه کړه، چې په دې جرګه کې د دې ولایت له ټولو اداري واحدونو څخه سلګونه ځوانانو ګډون کړی وو او خپلې غوښتنې او وړاندیزونه یې د پریکړه لیک په چوکاټ کې جوړ او تصویب کړل:

۱ .موږ د کندز ولایت ځوانانو د افغانستان له حکومت او د طالبانو له تحریک څخه غوښتنه لرو، څو د سولې خبرو ته دوام او یوې مثبتې پایلې ته ورسوي. د وروستیو دوه لسیزو لاسته راوړنې، د ښځو، قومي او مذهبي لږکیو حقونه وساتل شي او د جګړې پایته رسیدو او تل پاتې سولې راوستو لپاره له ترلاسه شوي فرصت څخه ګټه واخلي .

۲ .موږ له حکومت او د طالبانو تحریک څخه غواړو، څو پر ملي او ډله ایزو ګټو ټینګار وکړي او له خپلو فردي ګټو باندې له ټینګار څخه تېر شي.

۳ .موږ د کندز خلک له جګړو او نا امنیو څخه زیات زیانمن شوي یو. د طالبانو له تحریک څخه په درنښت غواړو، څو پر خپل مرکچي پلاوي فشار راوړي، څو د سولې په خبرو کې نرمښت څرګند کړي. خبرو ته حاضر او د سولې بهیر چټک کړي.

۴ .موږ له نړیوالې ټولنې په ځانګړي ډول د امریکا له متحده ایالتونو، اسلامي هېوادونو او ګاونډیو هېوادونو څخه غواړو، څو پایلې ته د سولې خبرو د رسیدو لپاره، د افغانستان له خلکو سره مرسته وکړي.

۵ .موږ د امریکا متحده ایالتونو له نوې اداري څخه غواړو، څو د امریکا او طالبانو ترمنځ د هوکړې د بیا کتنې پر ځای، د سولې مذاکراتو د ښکیلو اړخونو باندې فشار راوړي، څو ژر تر ژره بین الافغاني مذاکرات په جدي ډول پیل او پایلې ته ورسوي.

۶ .موږ د کندز ولایت ځوانان په بین الافغاني مذاکراتو کې ټول ښکیل اړخونو باندې غږ کوو، څو د سولې خبرې د الهي احکامو، د قران کریم د لارښوونو، سنت او نبوي سیرت په رڼا کې دوام ورکړي او د افغانستان اوږدمهاله کړکیچ ته د پای ټکی کیږدي.

۷ .موږ ځوانان په هېواد کې د وړانونکیو جګړو څخه، زیات مالي، ځاني زیانونه ګاللي او ګالو. هره ورځ لسګونه ځوانان وژل کیږي او له بلې خوا د ښوونې او روزنې او کاري فرصتونو له نشتون څخه کړیږو، نو په دې ډول د

مذاکراتو له ښکیلو خواوو څخه غواړو، څو تر هرڅه وړاندې روانه جګړه پایته ورسوي او اورکم او تل پاتې اوربند وکړي.

۸. مور. له سیاستوالو څخه غواړو، څو د واحدې اجماع په رامنځته کولو سره، په هېواد کې د تل پاتې سولې ټینګښت په موخه داسې هوکړې ته ورسیږي، چې د ټولو افغانانو لپاره د منلو وړ وي.

۹. د مذاکراتو له ښکیلو اړخونو څخه د کندز ولایت د خوانانو غوښتنه دا ده، چې د سولې خبرو کې باید د افغانستان نظام؛ په ځانګړې ډول امنیتي او دفاعي ځواکونه وساتل شي.

۱۰. مور. د طالبانو تحریک څخه غواړو، څو د تګ را تګ لارې و نه تړي او د ښوونځیو او پوهنځیو بنسټونو دروازې د خلکو هم ښځینه او هم نارینه وو په وړاندې پرانیستلې پریږدي.

۱۱. مور. د کندز ولایت خوانان چمتو یوو، څو پایلې ته د سولې خبرو رسیدو او د دې بهیر څخه د څارنې په موخه، د نظرونو، عدالت غوښتنې او ولسي ناستو په ترسره کولو سره؛ خپل مسوولیت ترسره کړو.

۱۲. مور. د سولې له بهیر څخه د څارنې په موخه غواړو، څو رسنیو، مدني بنسټونو، نړیوال ناپییلې بنسټونو او د نوې نسل او خوانانو فعالانو ته له هر ډول شرط او قید پرته د بین الافغاني خبرو له بهیر څخه د څارنې حق ورکړل شي.

ژوندی دې وي افغانستان / زنده باد افغانستان / پشسن افغانستان

درنښت
د کندز د نوې نسل او خوانانو د سولې جرګه
د ۱۳۹۹ کال د سلواغې ۲۶ / د ۲۰۲۱ کال د فبروري ۱۴
کندز - افغانستان

**د نوي نسل او خوانانو د سولې جرګې پريکړه ليک - خوست**

د خوست د نوي نسل او خوانانو د سولې جرګه د ۱۳۹۹ لمريز کال د کب مياشتي په ۱۴، چي د۲۰۲۱ زيږديز کال د مارچ مياشتي له ۴ سره برابره ده، د خوست ولايت د سلګونو خوانانو په ګډون جوړه شوه. دا جرګه د خوست ولايت د خوانانو لخوا د سولې لپاره د خوانانو د اړيکو ګروپ په مرسته جوړه شوې وه، چي په کي د دې ولايت له ټولو اداري واحدونو څخه د نوي نسل او خوانانو استازو ګډون کړی وو او د افغانستان حکومت، د طالبانو تحريک او نړيوالي ټولني په ځانګړې ډول د امريکا متحده ايالتونو څخه يې خپلې غوښتني او پريکړې په لاندې ډول بيان کړې.

۱ .د خوست ولايت د نوي نسل او خوانانو جرګې په څير نور پروګرامونه، غونډې او مدني حرکتونه زيات او په لاره واچول شي او دا حرکتونه د کليو او بانډو ته ورسول شي او په ناامنو سيمو کي د هم ورته پروګرامونه جوړ شي.

۲ .ټول افغانان له بيلابيلو لارو، په ځانګړې ډول د رسنيو، ملا امامانو، د ټولګې او دوديزو جرګو له اړخه، بايد خپل مسؤليت ادا او سولې ته زمينه برابره کړي او د دې ولايت له بيلابيلو اداري واحدونو څخه ښځې او خوانان په کي ګډون ولري.

۳ .د سولې په بهير کي د خوست خوانانو د ګډون لپاره، ټول شموله، پراخ بنسټه او هر اړخيزه طرحه جوړه او د دې ولايت خوانانو يووالی او همغږي رامنځته شي او د دې ولايت خوانان منسجم او بيلابيلې ټولنيزې شوراګانې همغږي او واحد حرکت رامنځته کړي.

۴ .د خوست ولايت جمعيت ته په کتو، په مصالحې عالي شورا کي د خوست ولايت د خوانانو او د دې ولايت نورو خلکو ته ونډه ورکړل شي او پر حکومت هم فشار وارد شي، څو د دوی غږ واوريدل شي.

۵ .له حکومت څخه د خوست ولايت خوانان غواړي، څو د سولې مذاکراتي پلاوی بيا وارزول شي او هغوی ته د داډ وړ معلومات وړاندې شي.

۶ .د افغانستان مرکچي پلاوی بايد هېواد شموله وي او د سولې مرکچي پلاوي کي امين، ناپيلي خلک ور معرفي شي نه هم د اړيکو پر بنسټ.

۷ .افغان حکومت بايد قرباني ورکړي، په خپلو دريځونو کي نرمښت څرګند کړي، د مرکچي پلاوي ترمنځ ناستي دې افغانستان کي وشي او دواړه اړخونه دې له خانه حسن نيت څرګند کړي، خوستي خوانان او خلک چمتو دي، څو د سولې د خبرو کوربه توب وکړي.

۸ .افغان حکومت بايد د واک انحصار له منځه يوسي او قوم پالنه او سمت پالنه بايد و نه کړي، کورنی اجماع رامنځته او د واک د غځيدو لپاره بايد سوله قرباني نه کړي.

۹ .افغان حکومت دې په ټول هېواد کي امنيت ټينګ او د مصالحې شورا جوړښت کي بايد داسې تغييرات راوړل شي، څو ټولو اړخونو ته د باور او منلو وړ وي.

۱۰ .دايمي اوربند، د ړندو بمباريو پای ته رسيدل، او د خوانانو د ونډې زياتيدل.

۱۱ .موږ د خوست خوانان د اوسني نظام د ساتلو غوښتنه کوو او له قانوني لارو څخه په کې د جدي اصلاحاتو غوښتونکي یوو. موږ همدارنګه له حکومت څخه غواړو، څو د سولې روان بهیر له خلکو سره شریک کړي.

۱۲ .له طالبانو څخه غواړو، څو اوربند وکړي او د آزادو ټاکنو له لارې واک ته ورسیږي.

۱۳ .طالبان دې پر خپل دریځ ټینګار نه کوي او له خانه دې نرمښت څرګند کړي، دوی دې همدارنګه د ولس غوښتنو ته مثبت ځواب ووایي.

۱۴ .له طالبانو څخه غواړو، څو د سولې په بهیر کې ښه نیت ښکاره او ملي ګټو ته ژمن پاتې شي. له دوی څخه همدارنګه غواړو، څو د افغانانو له وژلو څخه لاس په سر شي.

۱۵ .له نړیوالې ټولنې غواړو، څو پر طالبانو او حکومت د افغانستان د خلکو د ګټو پر بنسټ فشار وارد کړي، څو افغانستان کې اوربند او سوله وشي. له دوی همدارنګه غواړو، څو د افغانستان د خلکو ګټې په پام کې ونیسي.

۱۶ .له اسلامي هېوادونو غواړو، څو د افغانستان د سولې په بهیر کې خپل دریځ روښانه کړي او د افغانستان د سولې له بهیر سره مرسته وکړي .

۱۷ .له نړیوالې ټولنې غواړو، څو د افغانستان د سولې بهیر ته د پروژې نوم ورنکړي، په ریښتیني ډول سولې ته ژمن و اوسي، نړیوال تضمین وجود ولري او د افغانستان د سولې بهیر د نړیوالو لخوا حمایت شي او خپل بې پرېتوب وساتي او د امریکا او طالبانو ترمنځ ټول تړونونه دې له افغانانو سره شریک شي. همدارنګه نړیواله ټولنه دې، د جنګي مجرمینو ملاتړ ته د پای ټکی کیږدي .

۱۸ .له ګاونډیو هېوادونو څخه جدي غوښتنه کوو، چې خپلې ټولې هڅې دې د افغانستان د سولې بهیر بریالیتوب لپاره وکاروي.

۱۹ .د سولې خبرو د څارنې په موخه کمیټه جوړه او ټول هغه خنډونه مشخص او حل لارې ورته پیدا کړي، چې د مرکچي پلاوو لخوا را پورته کیږي.

۲۰ .له نړیوالې ټولنې او اروپایي ټولنې څخه غواړو، څو پر پاکستان او ایران فشار راوړي، څو د افغانستان د سولې له بهیر سره ریښتیني مرسته وکړي او د مذاکراتي ډلو له یوه اړخ سره دې د افغانستان د وړانولو لپاره مرسته ونکړي.

۲۱ .د خوست خلک له نا امنۍ، ښوونیزو، پراختیایي، روغتیایي، وزګارۍ او اقتصادي ستونزو سره مخ دي. جګړه د دې لامل شوې، څو د خوست ولایت خلک له روانې ستونزو څخه هم وکړیږي .

۲۲ .د افغانستان د سولې بهیر باید پټ نه وي، له ټولو افغانانو سره شریک شي. د سولې له بهیر څخه علمای کرام، متنفذین او خوانان د یوې کمیټې د جوړولو او اجماع رامنځته کولو له لارې څارنه وکړي .

و من الله توفیق

د ۱۳۹۹ د کب ۱۴ / د ۲۰۲۱ د مارچ ۴

خوست - افغانستان

**د پکتیکا د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې پریکړلیک**

په هېواد کې له تېرو څلورو لسیزو را په دې خوا بدمرغه او پرلې جګړه روانه ده، چې قرباني یې عامو افغانانو ورکړې ده. دا چې دې جګړې زموږ د هېواد زیربنا، اقتصاد، پوهنه، روغتیا، ټولنیزې چارې، کلتور او ټول اړخونه زیات زیانمن کړي او حتی په بشپړ ډول یې له منځه وړي دي.

نړۍ او د نړۍ خواکمنو قدرتونو هم د تاریخ په اوږدو کې زموږ د هېواد له دې حالت نه وخت په وخت په بېلابېلو نومونو سؤ استفادې کړې، خپل شوم اهداف یې پر مخ وړي او موږ یې قرباني کړي یوو.

په هر حال، خو دا چې په اوس وخت کې یو ځل بیا د سولې خبرې ګرمې دي او د سولې فرصت رامنځته شوی، نو دا چې د ورې په اتمه په پکتیکا کې په سلګونو پکتیکاوالو ځوانانو او خوېندو د سولې په اړه غونډه وکړه او خپلې غوښتنې په لاندې ډول د دې پریکړه لیک له لارې په ۸ مادو کې وړاندې کوي:

۱ .د دې لپاره، چې د سولې خبرو ته بشپړه زمینه برابره شي، د جنګ له ټولو ښکېلو اړخونو څخه د قاطع، عاجل سرتاسري او اوږدمهاله اوربند غوښتنه کوو .

۲ .د نړیوالو، ملګرو ملتونو او اسلامي هېوادونو سازمان تر څار لاندې دې په یو بې پرې هېواد کې له ټولو بهرنیو اغېزو پرته د جنګ د ښکېلو غاړو ترمنځ سوچه بین الافغاني خبرې ژر تر ژره پیل شي.

۳ .په هېواد کې دې داسې سوچه اسلامي او ملي نظام رامنځت شي، چې په هېڅ یوه اړخ پورې تړلی نه وي، اسلامي، ملي، کلتوري، سیاسي او نورو ټولو ارزښتونو ته په کې درناوی شوی وي او د هېواد تېرې لاسته راوړنې په کې خوندي وي او د ولسونو په خوښه او اراده رامنځته شوی وي.

۴ .له ښکېلو خواوو څخه غواړو، چې د سولې خبرې په بشپړه توګه په صادقانه او ریښتنې ډول پر مخ یوسي تر هرڅه وړاندې خپل در په در، وران هېواد او بې چاره ولسونه په نظر کې ونیسي، له ټولو بهرنیو فشارونو او د پردیو له اغېزې پرته د اسلامي ارزښتونو او ملي ګټو په نظر کې نیولو سره د سولې پروسه په درست ډول د وخت له ضایع کېدو پرته مخ ته یوسي. یو بل وژغمي، یو بل ته متقابل درناوی وکړي، له شخصي ګټو نه تېر، ملي ګټو ته لومړیتوب ورکړل شي او انعطاف پذیري (تېرېدنه) وکړي.

۵ .دا چې د امریکا متحده ایالتونه او نړیوالې ټولنې زموږ په هېواد کې دغه روانه شل کلنه جګړه پیل کړې او اوس یې د سولې هڅې پیل کړې او غواړي، چې دا جګړه پایته ورسوي، نو باید په بشپړ ډول په مسئولانه ډول یې پایته ورسوي او د افغانستان تېر تاریخ ته په کتو سره موږ ته ناقصه سوله را نه کړي. بلکې امریکا، نړیواله ټولنه، ملګري ملتونه، د اسلامي همکاریو نړیوال سازمان او ورسره ګاونډي هېوادونه، د دوی تر څار لاندې په ګډه سره د افغان سولې لپاره رښتنۍ کار وکړي او د افغانستان معضله د تل لپاره حل کړي او په راتلونکې کې هم خپلې مالي مرستې د افغانستان د پرمختګ لپاره په دوامداره توګه وساتي.

۶ .د سولې په خبرو کې د تېرو لاسته راوړنو په ځانګړې توګه د مدني حقونو ساتنه، د مېرمنو د حقونو خوندیتوب، د بیان آزادۍ حق او یو شمېر نور حقونه باید جدي وګڼل شي او خوندي شي.

۷ .د ټول هېواد په کچه د سولې په بهیر کې د ټولو سیاسي ادرسونو، دیني عالمانو، او قومي مخورو ترڅنګ باید د ځوانانو او میرمنو فعاله ونډه په جدي توګه په پام کې ونیول شي.

۸ .پکتیکا وال ځوانان د سولې اوسنی فرصت یو تاریخي زرین او طلایي چانس ګڼي، له دې فرصت نه باید په هېواد کې د څو لسیزو د بدمرغي جګړې د پایته رسولو لپاره ګټه پورته شي او که هر لوری د دغه فرصت په له منځه وړلو کې ناغیرې وکړي، هغه لوری به ولسونه راتلونکیو نسلونو او د هېواد تاریخ ته پړ او ملامت بولي .

ومن الله التوفیق
د پکتیکا د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه
پکتیکا – افغانستان
یکشنبه، د ۱۴۰۰ لمریز کال د وري ۸ / د ۲۰۲۱ زیږدیز کال د مارچ ۲۸

**د غزني ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګې پرېکړه لیک**

د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه د ۱۴۰۰ لمریز کال د وري میاشتي په ۸، چې د ۲۰۲۱ زیږدیز کال د مارچ میاشتي له ۲۸ سره برابره ده، د سولې لپاره د ځوانانو د اړیکو ګروپ په همکاري د غزني ولایت ځوانانو له لوري جوړه شوه. دا ټول ګډونه جرګه د غزني ولایت د ځوانانو لپاره، چې ټولو ملیتونو، قشرونو ( ښځو او نارینه وو) او د جګړې د قربانیانو په اغېزمن شتون او ګډون درلود، وه.
مونږ د غزني ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه کې د افغانستان حکومت، د طالبانو تحریک او نړیوالي ټولنې په ځانګړې ډول د امریکا متحده ایالتونو ته خپلې غوښتنې په لاندې ډول وړاندې کوو:

۱.مونږ د افغانستان حکومت څخه غواړو څو د سولې په بهیر کې خپله ونډه په سمه توګه تر سره او د جګړې پایته رسولو او د سرتاسري سولې او ثبات د ټینګښت لپاره زیاتې هڅې وکړي.
۲.د طالبانو تحریک څخه غواړو څو د سولې په خبرو کې نرمښت وښیي او د خبرو له لارې حکړې ته پای ورکړي. په هیواد کې جګړې او نا رامي بواخې افغانان متضرره کړي او د هیڅ لوري په ګټه به نه وي.
۳.مونږ په نړیواله کچه د نړیوالې ټولنې او ملګرو ملتونو له لوري د سولې بهیر تضمین او د ټولګډونه او باثباته سولې لپاره په کور دننه د افغانانو له خوا د خبرو اترو پایلې تایید غوښتونکي یو.
٤. مونږ د مذاکراتو له غاړو څخه غواړو، چې د سولې خبرو پایلو ته د رسېدو په موخه روڼ اندو، عالمانو او ځوانانو ته زیات رول ورکړل شي.
٥. مونږ د افغانستان د سولې په بهیر کې ښکېلو هیوادونو څخه غواړو څو د سولې مذاکرات یوې پایلې ته د رسېدو لپاره رېښتیني هڅې وکړي.
۶.مونږ د مذاکراتو له اړخونو څخه غواړو څو هر څه ژر اوربند ته زمینه برابره او دواړه لوري د هوایي بمبارۍ، ماین خښېدو، د بېګناه وګړو وژنې او د تاوتریخوالي زیاتېدو څخه لاس واخلي.
۷. ټیټ سواد، ضعیف اقتصاد، د غیر مسووله وسله والو ډلو شتون، د وګړو حقونو نقض، د نښلېدونکو لارو تړل او همدارنګه په غزني ولایت کې د ژوند اسانتیاوو ته نه لاسرسی په دې ولایت کې د وسله والو جګړو لاملونه دي.
۸.مونږ د بین الافغاني مذاکراتو پایلې ته رسولو لپاره د ځوانانو اغېزمن ګډون او د نوي نسل او ځوانانو د یوې بې طرفه او ټول ګډونه ډلې لخوا د دې بهیر ځارنه غواړو.

په درنښت

د غزني ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه

غزني – افغانستان

د ۱۴۰۰ د وري ۸ یکشنبه د ۲۰۲۱ د مارچ ۲۸

## د ننګرهار د نوي نسل او خوانانو د سولې جرګې پریکړه لیک

د ننګرهار د نوي نسل او خوانانو د سولې جرګه د ۱۴۰۰ لمریز کال د وري په ۱۶، چې د۲۰۲۱ زیږدیز کال د اپریل له ۵ سره برابره ده؛ د ننګرهار ولایت د سلګونو خوانانو په ګډون جوړه شوه .

دا جرګه د ننګرهار ولایت د خوانانو لخوا د سولې لپاره د خوانانو د اړیکو ګروپ په مرسته جوړه شوې وه، چې په کې د دې ولایت له ټولو اداري واحدونو څخه د نوي نسل او خوانانو استازو ګډون کړی وو او د افغانستان حکومت، د طالبانو تحریک او نړیوالې ټولنې په ځانګړې توګه د امریکا متحده ایالتونو څخه یې خپلې غوښتنې او پریکړې په لاندې ډول بیان کړې:

۱ .موږ د افغانستان حکومت او د طالبانو تحریک څخه غواړو، څو جګړه پای ته ورسوي او یا لږ تر لږه تعارضي عملیاتو ته د پای ټکی کېږدي.

۲ .د سولې بهیر باید د زورواکو له انحصار څخه بهر شي او شخصي او ګوندي غوښتنو باندې تینګار و نه کړي. همدارنګه په دې بهیر کې هغه کسانو ته ونډه ورکړي، چې په تېرو کلونو کې یې د جګړې له امله د خپلو کورنیو او وجود غړي له لاسه ورکړي دي.

۳ .موږ د افغانستان حکومت او د طالبانو تحریک څخه غواړو، څو د هېواد ملي ګټې او بنسټونه خوندي وساتي.

۴ .افغان حکومت دې له زغم او صبر څخه کار واخلي، اوربند دې وکړي او خپلې سرې کرښې دې د ملي ګټو قرباني کړي او د افغانستان شته خواوې باید خپل سیاسي، سمتي او ګوندي اختلافات پرېږدي، سولې ته ژمن شي او واحده تګلاره دې غوره کړي.

۵ .موږ د افغانستان حکومت څخه غواړو، څو د سولې په بهیر کې خپلو ټولو ژمنو ته ژمن پاتې شي او د هغه د پلي کېدو لپاره دې هلې ځلې وکړي.

۶ .موږ د افغانستان حکومت او د طالبانوتحریک څخه غواړو، څو صحرایي محاکمې بندې کړي، پرته د محکمې له اجازې څخه دې هیچا ته جزا ورنکړي، او له دواړو خواوو څخه غواړو، څو د هدفي وژنو په ځانګړې ډول د ښځو او خوانانو هدفي وژنو مخنیوی وکړي .

۷ .د افغانستان له حکومت څخه غواړو، څو د سولې بهیر کې بې پرې خوانانو ته ونډه ورکړي. د افغانستان حکومت او د طالبانو تحریک څخه غواړو، څو د ښځو او ټولو افغانانو حقونه خوندي کړي.

۸ .د افغانستان حکومت دې د سولې بهیر کې مدني بنسټونو ته هم ونده ورکړي او ملي اجماع دې رامنځته کړي. له ټولو هغو طرحو څخه دې، چې د خوانانو لخوا وړاندې شوې دي، ګټه واخلي.

۹ .د طالبانو تحریک څخه غواړو، څو د سولې ټینګښت لپاره دې خپله تګلاره وړاندې، له خانه نرمښت څرګند او د افغانستان د ګټو لپاره دې هڅه وکړي.

۱۰ .د جګړې د دوارو اړخونو څخه غواړو، څو د عامه بنسټونو او ملي شتمنیو د ورانولو مخنیوی وکړي. ملي، کلتوري ارزښتونو او اسلامي مقدساتو ته دې درناوی وکړي.

۱۱ .د طالبانو له تحریک څخه غواړو، څو د سولې له هوکړو وروسته، واک ته د رسیدو لپاره دې له سیاسي، مدني او تاکتیزو لارو څخه کټه واخلي.

۱۲ .له نړیوالې ټولنې، د امریکا متحده ایالتونو، ګاونډیو او اسلامي هېوادونو څخه غواړو، څو له افغانستان څخه دې د نیابتي جګړو مرکز نه جوړوي او په دې هېواد کې دې اقتصادي سیالۍ ترسره کړي. د سولې له بهیر څخه دې ملاتړ وکړي او د دې بهیر پایلې ته د رسیدو لپاره دې ژمنتیني و اوسي.

۱۳ .د نړیوالې ټولنې څخه غواړو، څو له افغانستانه دې په مسؤلانه او پایلې ته د سولې خبرو له رسیدو وروسته ووځي. موږ همدارنګه د سیمې هېوادونو، ګاونډیو او نړیوالې ټولنې څخه غواړو، څو د افغانستان د سولې د پریکړو د پلي کولو تضمین وکړي.

۱۴ .د سیمې هېوادونو، ګاونډیو او نورو هېوادونو څخه غواړو، څو په افغانستان کې د ترهګریزو ډلو له تمویل او ملاتړ څخه لاس واخلي .

۱۵ .له اسلامي هېوادونو څخه غواړو، څو په افغانستان کې روانه، بې ګټې، او نامشروع جګړې د پای ته رسیدو لپاره صادقانه هڅې وکړي.

۱۶ .له نړیوالې ټولنې، د امریکا متحده ایالتونو، ګاونډیو هېوادونو او اسلامي هېوادونو څخه غواړو، څو د جګړې د ښکیلو خواوو د دریځ پر خای، د ولس غږ واوري.

۱۷ .موږ د ټل پاتې سولې د ټرون غوښتنه کوو او د سولې راوستو لپاره دې مدني حرکتونه او پروګرامونه زیات شي، څو د جګړې پر ښکیلو خواوو د فشار لامل شي.

۱۸ .موږ د ننګرهار خوانان غواړو، چې خوانان دې د سولې له بهیر څخه ملاتړ او د سولې لپاره دې ذهنیت جوړونه وکړي.

۱۹ .ننګرهار دې د امن سیمې په توګه اعلان او په دې سیمه کې دې اوربند وشي، او د سولې خبرې دې دلته پر مخ بوړل شي.

۲۰ .ویره، غربت، بیکاري، د کادرونو تیښته، ناوړینونه، هدفي وژنې، تعلیم ته نه لاسرسی، روغتیایي خدمتونو ته نه لاسرسی، کډوالي، نا امني، د حکومت او ولس ترمنځ واټن او د مخورو له لاسه ورکول خایي ستونزې دي، چې په ننګرهار کې د جګړو له امله رامنځته شوي او موږ بې ژر تر ژره د پای ته رسیدو غوښتنه کوو.

۲۱ .د سولې بهیر د څارنې په موخه دې د حساب اخیستنې او ټولنیز نظارت یو مرکز رامنځته شي، چې مدیریت یې د خوانانو په لاس کې وي. دا مرکز دې په پوره ژمنتیا له دې بهیر څخه څارنه وکړي.





۲۲ .د سولې بهیر دې د رسنیو له لارې، د ځېرنیزې خبریالۍ پواسطه ولس ته ځرګند شي او د پردې تر شا دې تول پټ مسایل را برسیره شي. رسنۍ دې د جګړې ضد ادبیات وکاروي .

۲۳ .د سولې خبرو کې ښکېل خوانان، د افغانستان د خوانانو استازي نه، بلکې د سیاسي جهتونو استازي دي. موږ غواړو، چې نوي نسل او خوانانو ته دې په راتلونکو غونډو کې ونده ورکړل شي .

۲۴ .تر اوسه د دوحې او مسکو غونډو پایلې نه درلودې او د مذاکراتو له ښکېلو اړخونو څخه غواړو، څو په راتلونکو غونډو کې یوې مثبتې پایلې ته ورسیږي .

و من الله التوفیق
د ننګرهار ولایت د نوي نسل او خوانانو د سولې جرګه
د ۱۴۰۰ ال د وري ۱۶ / د ۲۰۲۱ د اپریل ۵
جلال آباد – ننګرهار؛ افغانستان

## د میدان وردګ ولایت د خلکو او ځوانانو غونډې پرېکړه لیک

د میدان، وردګو او بهسودو خلکو او ځوانانو د پنجشنبې په ورځ د ۱۴۰۰ لمریز کال د وري په ۱۹ نیټه، چې د ۲۰۲۱ زیږدیز کال د اپریل له ۸ سره برابره ده، په میدان وردګو ولایت کې د سولې بهیر او په دې بهیر کې د میدان، وردګو او بهسودو خلکو او ځوانانو غوښتنې، ترسرلیک لاندې په جوړه شوې غونډه کې خپلې غوښتنې په دې ډول بیان کړې:

۱ .که هر نظام وي، خو نظام او پوخ دې وساتل شي.

۲ .د میدان وردګو ولایت ځوانانو ته دې د سولې په بهیر کې رغنده رول ورکړل شي.

۳ .د اسلام مبارک دین په چوکاټ کې دې د ښځو حقونو په ګډون، ټولنیز او بشري حقونه دې خوندي شي.

۴ .د بیان آزادي، په ځانګړي ډول د رسنیو آزادي دې خوندي شي.

۵ .د افرادو تغییر او تبدیل مهم نه دی، خو داسې سوله دې وشي، چې د بلې جګړې د پیل لامل نشي.

۶ .داسې میکانیزم دې جوړ شي، چې ټول خلک په کې خپل ځان ووینې.

۷ .داسې سوله دې وشي، چې مدیران یې د یو ځانګړي قوم او ډلې پورې اړوند نه وي.

۸ .د سرتاسري سولې لپاره باید له ټولو خلکو نظرونه واخیستل شي.

۹ .تېرې لاسته راوړنې دې وساتل شي.

۱۰ .تر هرڅه وړاندې سرتاسري اوربند باید وشي.

۱۱ .دواړه لورې باید نرمښت وښیي.

و من الله التوفیق
د میدان وردګو ولایت د خلکو او ځوانانو غونډه
د ۱۴۰۰ د وري ۱۹ / د ۲۰۲۱ د اپریل ۸
میدان ښار – افغانستان

**د غونډې پرېکړه لیک" د سولې بهیر او د نورستان ولایت د خلکو، عالمانو او ځوانانو غوښتنې"**

د سولې لپاره د ځوانانو د اړیکو ګروپ په همکارۍ مونږ د نورستان ځوانانو «د سولې بهیر او د نورستان ولایت د خلکو، عالمانو او ځوانانو غوښتنې» تر عنوان لاندې غونډه د ۱۴۰۰ د زمري په ۹ ، چې د ۲۰۲۱ د جولای له ۳۱ نېټې سره برابرده، د دې ولایت په مرکز کې جوړه کړه.

مونږ د قران کریم متبرک ایات څخه په اقتباس او الهام (فَاتَّقُوا اللهَ وَأَصْلِحُوا ذَاتَ بَيْنِكُمْ / وَالصُّلْحُ خَيْرٌ/ وَإِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا) د محدثینو، مفسرینو او د اسلامي فقهي عالمانو، چې د مسلمانو ورونو ترمنځ د سولې او پخلاینې بیانوونکي دي، اوربند او د هېواد جګړې پای د خبرو اترو او سیاسي هوکړې له لارې د افغانستان د کړکېچ د حل په توګه پېژنو او د لاندې موارد‌و غوښتونکي یو.

۱. د وروستي څلویښت کلني خونړۍ او بدمرغي جګړې، چې بغیر له ورانۍ، کنډوالې او دربدرۍ یې بل څه مونږ افغانانو او په ځانګړې توګه ځوانانو ته ندي پرېښي، په پرېکنده ډول ودرېږي او یو نظام او سوله بیزه ټولنه د ټولنې د ټولو قشرونو د حقونو ساتنې لپاره رامنځته شي.

۲. له دواړو لورو (حکومت او طالبانو) د بې قید او شرطه تلپاتي اوربند غوښتونکي یو.

۳. د سولې مذاکراتو عاجل پیل؛ مهمو او برخلیک ټاکوونکو مسایلو ته پاملرنه.

۴. مونږ د نورستان ځوانان د مذاکرې له دواړو لورو څخه غواړو، چې ملي شتمنیو ته درناوی ولري او شخصي، فرمایشي او ځان غوښتنې څخه تېر او د سولې په یوې تولیزې هوکړې، هوکړه وکړي.

۵. مونږ د نورستان ځوانان د مذاکرې له دواړو لورو څخه غواړو، چې د دوحې او یا د بل بهرني هېواد پر ځای د افغانستان له ولایتونو څخه یو، چې د جرګو تاریخ ولري غوره او هر څه ژر د سولې مذاکرې پیل او په پرېکنده ډول یې پرمخ بوسي.

۶.ځای، منصب، نفوذ او قدرت د یو افغان د وینې بهېدو ارزښت نلري، دواړه لورې په ځانګړې توګه طالبان باید په عاجل ډول له جګړې څخه لاس واخلي او دې ورور وژنې ته د پای ټکی کېږدي.

۷. د افغانستان اساسي قانون، چې په نړۍ کې یو له غوره اسلامي قوانینو څخه دی، باید له منځه لاړ نشي، تعدیل یې باید د افغانستان د خلکو د ارادې پر بنسټ تر سره شي.

۸. د سولې بهیر کې باید ټول دخیل وي، چې د ټولنې ټول قشرونه باید خپل موجودیت حس کړي او قومي او مذهبي اقلیتونه باید په هغې کې دخیل وي.

۹. مونږ د سولې په هوکړه کې د اسلامي شریعت او نړۍ والو موازینو او قوانینو په رڼا کې د ښځو او ماشومانو د حقونو د تضمین غوښتونکي یو.

۱۰. د جګړې په بګر کې دواړه لورې په ځانګړې توګه طالبان د عامه او شخصي تاسیساتو او له عامه او د خلکو له منقولو او غیر منقولو شتمنیو له ړنګولو څخه ډډه وکړي .

۱۱. مونږ د نورستان خوانان په قضيه کي له ښکېلو لورو څخه د جګړي په بګر کي د اسلامي شريعت ضوابطو د نړی والو بشردوستانه حقونو- د وسله والو مخاصماتو حقونو په پام کي نيولو غوښتونکي يو .

۱۲. مونږ د نورستان خوانان غوارو تر څو د وروستيو دوه لسيزو لاسته راوړنو، چي په هغه کي زمونږ د هيواد افغانستان ارامي وي او د محمدي غرا شريعت سره په ټکر او تضاد کي نه وي ساتل، ملاتړ، تکميل او دوام ومومي.

۱۳.مونږ د نورستان خوانان د سيمي او ګاونديو پياوړو هيوادونو څخه غوارو، چي افغانستان د خپلو نيابتي جګړو په ډګر تر دي څخه زيات بدل نکړي. با ثباته افغانستان کولای شي د سيمه ييز او نړی وال پرمختګ ضامن شي .

درنښت

د نورستان ولايت خلک، عالمان او خوانان

۱۴۰۰ د زمري ۹/ د ۲۰۲۱ د جولای ۳۱

## د سولي جرګې او غونډې






د افغانستان ځوانانو ملي کنفرانس، کابل- د ۱۳۹۰ کال د غبرګولي ۲۸ او ۲۹ / د ۲۰۱۱ کال د جون ۱۸ او ۱۹







د افغانستان ځوانانو د سولې ملي جرګه، کابل – د ۱۳۹۱ کال چنګاښ ۱۲ – ۱۵ / د ۲۰۱۲ کال د جولای ۲-۵






د سولې لپاره داړیکو ګروپ پرانیسته،کابل – د ۱۳۹۸ د زمري ۳۱ / د ۲۰۱۹ د اګست ۲۲




د ارزگان ولایت د سولې او ځوانانو غونډه- د ۱۳۹۸ د وږی ۲۱ / د ۲۰۱۹ د سپتمبر ۱۲




د زابل ولایت د سولې او ځوانانو غونډه ــد ۱۳۹۸ د وږي ۲۹/ د ۲۰۱۹ د سپټمبر ۲۰



د لغمان ولایت د سولې او ځوانانو غونډه- د ۱۳۹۸ د لیندی ۱۵/ د ۲۰۱۹ د ډسمبر ۶



د سرپل ولایت د سولې او ځوانانو غونډه- د ۱۳۹۸ د سلواغې ۲۹/ د ۲۰۲۰ د فبرورۍ ۱۸



«د سولې هوکړه؛ د نوي نسل او ځوانانو اندېښنې او غوښتنې» ناسته، کابل- د ۱۳۹۸ د کب ۱۳/ د ۲۰۲۰ د مارچ ۳



د لوګر ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه- د ۱۳۹۹ د وږی ۶/ د ۲۰۲۰ د اګست ۲۷



د لوګر ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه- د ۱۳۹۹ د وږی ۶/ د ۲۰۲۰ د اګسټ ۲۷



د بدخشان ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه- د ۱۳۹۹ د وږي ۱۶/ د ۲۰۲۰ د سپټمبر ۶



د بدخشان ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه- د ۱۳۹۹ د وری ۱۶/ د ۲۰۲۰ د سپټمبر ۶




د بامیان ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه- د ۱۳۹۹ د وری ۲۵/ د ۲۰۲۰ د سپټمبر ۱۵



د سمنګان ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه- د ۱۳۹۹ د تلې ۳/ د ۲۰۲۰ د سپټمبر ۲۴



د بلخ ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه- د ۱۳۹۹ د تلې ۹ / د ۲۰۲۰ د سپټمبر ۳۰






د غور ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه- د ۱۳۹۹ د تلې ۱۷/ د ۲۰۲۰ د اکتوبر ۸



د پکتیا ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه- د ۱۳۹۹ د تلې ۲۳/ د ۲۰۲۰ د اکتوبر ۱۴



د کونړ ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه- د ۱۳۹۹ د تلې ۲۳/ د ۲۰۲۰ داکتوبر ۱۴



د هلمند ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه- د ۲۰۲۰ د تلې ۲۵/ د ۲۰۲۰ د اکتوبر ۱۶



د جوزجان ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه/ د ۱۳۹۹ د لړم ۲/ د ۲۰۲۰ د اکتوبر ۲۳




د بادغیس ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه- د ۱۳۹۹ د لړم ۲۳/ د ۲۰۲۰ د نوامبر ۱۳



د هرات ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه- د ۱۳۹۹ د لیندۍ ۱/ د ۲۰۲۰ د نوامبر ۲۱



د نیمروز ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه- د ١٣٩٩ د لیندۍ ٢١/ د ٢٠٢٠ د ډسمبر ١١




د فراه ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه – د ١٣٩٩ لیندۍ ٢٨/ د ٢٠٢٠ د ډسمبر ١٨



د فراه ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه – د ۱۳۹۹ لیندۍ ۲۸/ د ۲۰۲۰ د ډسمبر ۱۸



د بغلان ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه – د ۱۳۹۹ د سلواغې ۸/ د ۲۰۲۰ د ډسمبر ۲۸



د بغلان ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه – د ۱۳۹۹ د سلواغې ۸/ د ۲۰۲۰ د ډسمبر ۲۸



د فاریاب ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه – د ۱۳۹۹ مرغومي ۲۵ / د ۲۰۲۱ د جنوري ۱۴



د تخار ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرگه – د ۱۳۹۹ د مرغومي ۲۸/ د ۲۰۲۱ د جنوري ۱۷



د کندهار ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرگه – د ۱۳۹۹ د سلواغي ۲۲/ د ۲۰۲۱ د فبروري ۱۰




د کندز ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه – د ۱۳۹۹ د سلواغې ۲۶/ د ۲۰۲۱ د فبروري ۱۴




د خوست ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه – د ۱۳۹۹ د کب ۱۴/ د ۲۰۲۱ د مارچ ۴



د پکتیکا ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه – د ۱۴۰۰ د وري ۸/ د ۲۰۲۱ د مارچ ۲۸



د غزني ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه – د ۱۴۰۰ د وري ۸/ د ۲۰۲۱ د مارچ ۲۸



د ننګرهار ولایت د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرګه – د ۱۴۰۰ د وري ۱۶/ د ۲۰۲۱ د اپریل ۵



«د سولې بهیر او د میدان وردګ ولایت د خلکو او ځوانانو غوښتنې» ناسته – د ۱۴۰۰ د وري ۱۹/ د ۲۰۲۱ د اپریل ۸






«د سولې بهیر او د نورستان ولایت د خلکو، علماوو او ځوانانو غوښتنې» غونډه- د ۱۴۰۰ د زمري ۹/ د ۲۰۲۱ د جولای ۳۱

# Conflict and Reconciliation of Afghanistan

## (A Case Study of Youths and New Generation Demands)


د سولې لپاره د اړیکو ډله
گروه تماس برای صلح
Contact Group for Peace

د نوي نسل او ځوانانو د سولې جرگه
جرگه صلح نسل نو و جوانان
Youth & New Generation Peace Jirga


**Summer 2022**